# يوې توطئې
# برسېرې خبرې

د روسانو
له وتو
د ائتلافي حکومت
ترنسکوریدو

Ketabton.com

حکمتیار

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د کتاب له متن څخه

لدې نه په مخکې مراحلو کې هم د دوست او دښمن جبهه څرګنده وه او هم د جګړې لاملونه، آرمانونه او شعارونه. د دوست او دښمن په پيژندلو کې ډير کم کسان په مغالطی او اشتباه کې پريوتل، خو پدې پړاو کې چې بهرنی فوځونه زمونږ له هيواد نه ستانه شوی وو او په جګړو کې د دښمن فعال خو نامرئی او له نظره پټ حضور هرچا ته څرګند نه وو، پدې پړاو کې د جګړې دوام ډيرو ته د توجيه وړ نه بريښيدو، پدې نه پوهيدل چې دښمن له دروازی وتلی خوله کړکۍ بيرته راننوتلی، ځيره ئې بدله کړی، په جګړې کې ئې د سابق په شان ونډه ده خو په بدلی ځيری کې، که څه هم کمونست نجيب له پريړو بريتو سره ګوښه شوی، خو د ده د سياستونو وارث له پکول، عبا او قبا سره د ده لوبه کوي او د ده د بادارانو په خدمت کې دی.

هغه کسان چې د پيښو په ماهيت او په پيښو کې د پردې شاته د اصلی لوبغاړو په ونډې دقيقاً نه پوهيدل او د دښمن د تبليغاتی سرچينو له دروغجنو او زهرجنو تبليغاتو نه متأثره شوی وو، ټولي خواوی ئې د استثناء او تفکيك نه پرته محکومول، د جګړې د داخلی او خارجی عواملو له پيژندو نه عاجز وو، نه پوهيدل چې د نجيب له نسکوريدو نه وروسته د ټولو جګړو اصلی عاملين د ببرك طرفداران وو چې غوښتل ئې نجيب په ببرك کارمل تعويض کړی، د شهنواز تنی له کودتا نه وروسته چې خلقيان تصفيه شول، ځينی بنديان او ځينی له هيواد نه وتښتيدل، د چارو واګی د جنرال نبی عظيمی او جنرال آصف دلاور په شان د ببرك د پلويانو لاس ته ورغلی، دوی لا د مخه د کودتا منصوبه جوړه کړی وه، ببرك ئې د همدې لپاره له مسکونه راوغوښت، د کې جی بی موافقه ئې ترلاسه کړه، امريکا او په منطقی کې ځينو نورو مؤثرو هيوادونو دوی ته اطمئنان ورکړ چې د دوی تر مشرۍ لاندې له ځينو جهادی ډلو سره د يوه ائتلافی حکومت ملاتړکوي.

لدی حقايقو نه بې خبره کسان داسې ګمان کوي چې د جبل السراج ننګينه معاهده، له خپلو ټولو خونړيو عواقبو سره، يوه تصادفي پيښه وه چې د ځينو جاه طلبه او قدرت غوښتونکو ځيرو له فرصت طلبی نه راولاړه شوی. نه دا چې د دې خطرناکی او خونړی توطئی اصلی طراحان د کې جی بی او سی آی ای په شان بين المللی جاسوسی شبکی دی چې غوښتل ئې پدې سره د يوه اسلامی حکومت د جوړيدو مخنيوی وکړی، کې جی بی د همدې مقصد لپاره يو ځل بيا د ببرك ډله استخدام کړه، خو دا ځل د روسی فوځونو د رابللو په ځای بايد د يوی داسې ائتلافی جبهی تر پردې شا ته خپل نقش ترسره کړی چې له ځينو غوليدلو قدرت غوښتونکو سره به ئې جوړوی !!

دغو حلقو ته پدې مطلب پوهيدل ګران دی چې ولی مسکو او واشنګټن څنګ په څنګ او په يوه وخت د جبل السراج له معاهدی او د دې معاهدی په بنسټ د جوړې شوی ائتلافی جبهی ملاتړ کولو؟ نه پوهيږي چې واشنګټن ته پدې پړاو کې ترټولو مهمه مسئله دا وه چې څنګه د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامی حکومت د جوړيدو مخنيوی وکړی، امريکا د جهاد د دې تاريخي تجربی بريا او په يوه اسلامی حکومت د هغه منتج کيدل، ټوله اسلامی نړۍ کې دخپلو استعماری ګټو لپاره جدی تهديد ګڼلو، ګمان ئې دا وو چې که دا تاريخي تجربه ناکامه نکړی او د مجاهدينو په لاس د اسلامی حکومت د جوړيدو مخنيوی ونکړی، دا تجربه به په نورو ملکونو کې هم هرو مرو تکراريږي، نور ملتونه مخصوصاً هغه چې په خپلو هيوادونو کې د پرديو له سياسی، اقتصادی او فرهنګی تسلط نه ستومانه شوی، د دوی له سلطی نه د ژغورنی او د استقلال او خپلواکی په لټه کې دی، د افغان مجاهدينو لار به غوره کوي، پدوی پسې به اقتدا کوي او پدې سره به امريکا ته په خپلو مستعمراتوکی هماغه مشکلات راولاړوی چې افغان مجاهدينو شوروی اتحاد ته راولاړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

د ناشر مقدمه ..................................................................................أ
سریزه ...........................................................................................ج
مسکو وتلو ته اړ شو..........................................................................۱۱
با عزته وتل...................................................................................۱۲
د مسکو او واشنګټن موافقه.................................................................۱۹
د پاکستان دریځ ..............................................................................۲۰
په وتونکو فوځونو حملې......................................................................۲۳
د مسکو پیغامونه..............................................................................۲۵
وتل.............................................................................................۲۷
دنجیب د حکومت په نسکورېدوکي ځنډ .................................................۳۰
د بینظیر او عرفات په غونډې کي.........................................................۳۵
د مؤقت حکومت د خارجه وزیر په توګه ................................................۳۷
د رباني او مجددی عکس العمل ...........................................................۳۹
د جلا ل آباد جګړه............................................................................۴۲
روسانو ولې مسعود انتخاب کړ؟!.........................................................۴۷
د مسعود او ۴۰ نمبر فرقې ترمنځ تړون...................................................۵۸
د تړون مسوده ...............................................................................۵۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نجیب پیغامونه.......... ۶۲
رکود او د کودتا هڅه.......... ۶۹
د ځینو حزبیانو مخالفت.......... ۷۵
نجیب څه وکړل.......... ۷۷
د اسلامي شئونو وزارت.......... ۷۸
د خوست فتحه.......... ۸۰
کابل ته د کارمل راستنېدل.......... ۸۰
د بینن سیوان هڅي.......... ۸۴
د نجیب استعفی.......... ۸۸
د حزب اسلامي طرحه.......... ۹۱
پېښې.......... ۹۴
د شمال پېښې او د ببرك د پلویانو لوبه.......... ۹۴
د جبل السراج معاهده.......... ۹۵
په کابل د حملې گوابن.......... ۹۸
د فتحی زیری.......... ۱۰۳
د امریکا عکس العمل.......... ۱۰۹
د گاونډیو دریځ.......... ۱۱۲
له کابل نه تر وتلو وروسته.......... ۱۱۲
د جنرال دوستم د جلبولو هڅي.......... ۱۱۷
د رباني واکمني.......... ۱۲۱
د استاد فرید صدارت.......... ۱۲۴
لویه گډه حمله.......... ۱۲۷
د دې حملې نتائج.......... ۱۲۹
د خنجان عملیات.......... ۱۳۰
ائتلاف او د سولي هڅي.......... ۱۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


مورږ، ائتلاف او پاکستان ........................................................ ۱۳۵
د ائتلافیونو ژمني................................................................ ۱۴۰
د ائتلاف په مقابل کي د نورو ډلو دریځ ........................................ ۱۴۴
حرکت انقلاب اسلامي ........................................................... ۱۴۴
اتحاد اسلامي...................................................................... ۱۴۶
په غرب پوري تړلې کړی.......................................................... ۱۴۹
مائوویستان......................................................................... ۱۴۹
د شینډنډ سقوط ................................................................... ۱۵۳
د اسلام آباد مذاکرات............................................................. ۱۵۷
د اسلام آباد د معاهدې بشپړ متن............................................... ۱۵۹
وظایف او صلاحیتونه ............................................................ ۱۶۲
جمهور رئیس: ..................................................................... ۱۶۲
د جمهور رئیس صلاحیتونه:..................................................... ۱۶۲
د صدراعظم صلاحیتونه:......................................................... ۱۶۴
کابینه او ائتلاف.................................................................... ۱۶۸
د جنرال دوستم کفالت............................................................ ۱۷۱
د شوری هم آهنگي تأسیس...................................................... ۱۷۳
د جنرال مؤمن مرگ.............................................................. ۱۷۹
د مسعود واکمني................................................................... ۱۸۱
زما په کور بمباري................................................................. ۱۸۷
د سولي د هڅو بل دور ............................................................ ۱۹۴
دطالبانو حرکت .................................................................... ۱۹۷
د حزب اسلامي په ضد ............................................................ ۲۱۱
د طالبانو جنگ..................................................................... ۲۱۱
د غزني سقوط ...................................................................... ۲۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چهارآسیاب مجدد سقوط ........................................................ ۲۲۴
له رباني او مسعود سره مذاکرات ................................................. ۲۳۰
د معاهدې متن ....................................................................... ۲۳۲
د جمهور رئیس صلاحیتونه ......................................................... ۲۳۴
د صدراعظم او کابینې صلاحیتونه .................................................. ۲۳۵
په حکومت کې د هرې ډلې موقعیت .................................................. ۲۳۵
کابل ته تگ .......................................................................... ۲۳۹
د تگلاري بشپړ متن ................................................................. ۲۴۲
د امنیت د تأمین په برخه کې ....................................................... ۲۴۸
د دفاعی چارو په برخه کې .......................................................... ۲۴۸
په اداري برخه کې ................................................................... ۲۴۹
په اجتماعي برخه کې ................................................................ ۲۵۰
د ښوونې او روزنې په برخه کې ..................................................... ۲۵۲
د روغتیا په برخه کې ................................................................ ۲۵۳
د کرهنې په برخې کې ............................................................... ۲۵۳
د اقتصاد او تجارت په برخه کې .................................................... ۲۵۳
د بهرني سیاست په برخه کې ........................................................ ۲۵۵
د مات وزرو خېل کې ................................................................ ۲۲۵
بې رحمه گاونډي ..................................................................... ۲۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# د ناشر مقدمه

د میثاق ایثار اداره ویاړي چې د ورور حکمتیار دا له تاریخي اسنادو نه غني اثر، چې لدې نه مخکې په پښتو، دري، اردو او عربي کې د بېلو بېلو نشراتي مؤسسو له خوا چاپ شوی، یو ځل بیا په نوې قطع او صحافت کې د افغانستان د لرغوني تاریخ مینه والو ته وړاندې کوي. چا چې دا کتاب څو کاله د مخه او زموږ په ګران هېواد افغانستان باندې د امریکائي ځواکونو له یرغل نه مخکې لوستلی، ډېرې برخې به ئې په هغه وخت کې ورته داسې وړاندوینې برېښېدلې وي چې نن ئې د خپلو سترګو وړاندې د څرګندو حقایقو په بڼه کې ګوري. څو بېلګې ئې ستاسو مخې ته ږدو:

- د طالبانو حکومت د اوږدې مودې لپاره دوام نشي کولی، د دوی ناکام سیاستونه، د هېواد اجتماعي جوړښت، د دې سیمې وضعیت او د اسلام په ضد د امریکا او روسیې ګډ سازشونه دوی ته په قدرت کې د پاتې کېدو مجال

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورکوي.

- د شمال جبهه د مسکو او واشنګټن د ګډ سازش په نتيجه کي جوړه شوې، هدف ئې دا وو چي له دغي ډلي نه د جګړي د دوام او پدې هېواد کي د اسلامي حکومت د جوړېدو د مخنيوي په کار کي استفاده وکړي.
- امريکا به ظاهر خان راولي، خو د راوستو يوازنۍ لار ئې د دې هېواد نظامي اشغال دی.
- شمالي ټلواله به د روسانو په وينا لدې امريکائي منصوبې سره توافق کوي.
- امريکا د روسانو په څېر افغانستان نيولی شي او خپل کارمل پدې هېواد د لنډې مودې لپاره تپلی شي، خو د دې هېواد دائمي اشغال ورته ممکن ندی.

د دې کتاب ډېري نوري خبري به دې ته ورته او داسي ومومئ چي نن ئې عملاً تحقق موندلی.

موږ نه يوازي د قطع او صحافت له اړخه د دې ارزښتناک کتاب په نوي چاپ کي څه نوښتونه راوستي او مخکني اشتباهات مو تر ډېره حده راکم کړي، بلکي د کتاب په پای کي مو د ورور حکمتيار هغه دوه جالبي ادبي ټوټې هم اضافه کړې چي د هېواد د دغي مرحلې پېښي پکي انځور شوې.

هدف مو دا دی چي خپل ولس له حقايقو خبر کړو، د دښمن توطئو ته ئې متوجه کړو، د دښمنانو د سپکو او ذليلو ملګرو کرغېړني څېرې افشاء کړو او د افغان ولس راتلونکي نسل ته د مجاهدينو هغه ارزښتناکي تجربې انتقال کړو چي هره يوه ئې په ډېر ګران قيمت او د زرهاوو سرتېرو مجاهدينو د وينو په بيه ترلاسه شوې. پدې اميد چي ارحم الراحمين خدای مو د خپلي لاري د مجاهدينو په ډله کي قبول کړي.

اللهم وفقنا لما تحب و ترضی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

# سريزه

د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته پړاو ، مخصوصاً د نجيب حکومت له نسکورېدو راديخوا ، د اسلامي جهاد ترټولو سخت، غامض او کړکېچن پړاو وو چي له مخکنيو مراحلو سره ئې پوره تفاوت درلود. لدې نه په مخکي مراحلو کي هم د دوست او دښمن جبهه څرګنده وه او هم د جګړې لاملونه، آرمانونه او شعارونه. د دوست او دښمن په پېژندلو کي ډېر کم کسان په مغالطې او اشتباه کي پرېوتل، خو پدې پړاو کي چي بهرني فوځونه زموږ له هېواده ستانه شوي وو او په جګړو کي د دښمن فعال خو نامرئي او له نظره پټ حضور هرچا ته څرګند نه وو ، پدې پړاو کي د جګړې دوام ډېرو ته د توجيه وړ نه برېښېدو ، پدې نه پوهېدل چي دښمن له دروازې وتلی خوله کړکۍ بېرته راننوتلی، څېره ئې بدله کړې، په جګړې کي ئې د سابق په شان ونډه ده خو په بدلي څېرې کي، که څه هم کمونست نجيب له پرېړو بريتو سره ګوښه شوی، خو د ده د سياستونو وارث له پکول، عبا او قبا سره د ده لوبه کوي او د ده د بادارانو په خدمت کي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کسان چې د پېښو په ماهیت او په پېښو کې د پردې شاته د اصلي لوبغاړو په ونډې دقیقاً نه پوهېدل او د دښمن د تبلیغاتي سرچینو له درواغجنو او زهرجنو تبلیغاتو نه متأثره شوي وو، ټولي خواوي ئې د استثناء او تفکیك نه پرته محکوموليې، د جګړې د داخلي او خارجي عواملو له پېژندو نه عاجز وو، نه پوهېدل چې د نجیب له نسکورېدو نه وروسته د ټولو جګړو اصلي عاملین د ببرك طرفداران وو چې غوښتل ئې نجیب په ببرك کارمل تعویض کړي، د شهنواز تڼي له کودتا نه وروسته چې خلقیان تصفیه شول، ځیني بندیان او ځیني له هېواد نه وتښتېدل، د چارو واګې د جنرال نبي عظیمي او جنرال آصف دلاور په شان د ببرك د پلویانو لاس ته ورغلې، دوی لا د مخه د کودتا منصوبه جوړه کړې وه، ببرك ئې د همدې لپاره له مسکونه راوغوښت، د کي جي بي موافقه ئې ترلاسه کړه، امریکا او په منطقې کې ځینو نورو مؤثرو هېوادونو دوی ته اطمئنان ورکړ چې د دوی تر مشرۍ لاندې له ځینو جهادي ډلو سره د یوه ائتلافي حکومت ملاتړکوي.

له دې حقایقو نه بې خبره کسان داسې ګمان کوي چې د جبل السراج ننګینه معاهده، له خپلو ټولو خونړیو عواقبو سره، یوه تصادفي پېښه وه چې د ځینو جاه طلبه او قدرت غوښتونکو څېرو له فرصت طلبۍ نه راولاړه شوې. نه دا چې د دې خطرناکې او خونړۍ توطئې اصلي طراحان د کي جی بی او سي آی ای په شان بین المللي جاسوسي شبکې دي چې غوښتل ئې پدې سره د یوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخنیوی وکړي، کي جی بی د همدې مقصد لپاره یو ځل بیا د ببرك ډله استخدام کړه، خو دا ځل د روسي فوځونو د رابللو په ځای باید د یوې داسې ائتلافي جبهې تر پردې شا ته خپل مأموریت ترسره کړي چې له ځینو غولېدلو قدرت غوښتونکو سره به ئې جوړوي !!

دغو حلقو ته پدې مطلب پوهېدل ګران دی چې ولې مسکو او واشنګټن څنګ په څنګ او په یوه وخت د جبل السراج له معاهدې او د دې معاهدې په بنسټ د جوړې شوې ائتلافي جبهې ملاتړ کولو؟ نه پوهېږي چې واشنګټن ته پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پړاو کي ترټولو مهمه مسئله دا وه چي څنګه د مجاهدينو په لاس د يوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخنيوی وکړي، امريکا د جهاد د دې تاريخي تجربې بريا او په يوه اسلامي حکومت د هغه منتج کېدل، ټوله اسلامي نړۍ کي د خپلو استعماري ګټو لپاره جدي تهديد ګڼلو، ګمان ئې دا وو چي که دا تاريخي تجربه ناکامه نکړي او د مجاهدينو په لاس د اسلامي حکومت د جوړېدو مخنيوی ونکړي، دا تجربه به په نورو ملکونو کي هم هرو مرو تکرارېږي، نور ملتونه مخصوصاً هغه چي په خپلو هېوادونوکي د پرديو له سياسي، اقتصادي او فرهنګي تسلط نه ستومانه شوي، د دوی له سلطې نه د ژغورني او د استقلال او خپلواکي په لټه کي دي، د افغان مجاهدينو لار به غوره کوي، پدوی پسې به اقتدا کوي او پدې سره به امريکا ته په خپلو مستعمراتوکي هماغه مشکلات راولاړوي چي افغان مجاهدينو شوروي اتحاد ته راولاړ کړل.

دوی دې ته نه دي متوجه چي د دې مرحلې جګړې په اصل کي د تېرو جګړو تسلسل او د سابق په شان له بهرنه تپل شوې جګړې دي، منطقوي رقابتونه د دې جګړو د ادامې لامل دي، واشنګټن او مسکو او پدوی پوري تړلي محلي ځواکونه پدې جګړو پانګه اچوی او په جګړو لګيا ډلي حمايه کوي.

له هيچا بايد دا حقيقت پټ نه وي چي زموږ هېواد، مخصوصاً د ۱۹ او ۲۰ پېړۍ په بهيرکي د يوه داسي معبر او پله حيثيت درلود چي ښکېلاکګرو ځواکونو غوښتل له هغه نه آخوا تېر شي خپل هغه پراختيا غوښتونکي اهداف ترلاسه کړي چي د دې هېواد دواړو خواوو ته پراته وو، مخکي شوروي اتحاد غوښتل له افغانستان نه تېر شي، تودو اوبو او د خليج د تيلو زېرمو ته ورسېږي، د کرملين واکدارانو د تزار له زمانې نه بيا د کمونستانو تر واکمني پوري تل ويلي چي روسي سرتېري به هرومرو خپلي پښې د هند په سمندرکي وينځی! د همدې لپاره مسکو دا جګړه زموږ په هېواد تحميل کړه، لومړی د کمونستانو په ذريعه او د عسکري کودتاګانو له لاري، چي د کمونستانو له ماتو نه وروسته په خپله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې ډګر ته راوړاندې شول او لس کاله په افغانستان کې وجنګېدل، د مسکو له نظره د افغانستان د نیولو او پدې هېواد کې د یوه خپلواك اسلامي حکومت د جوړېدو د مخنیوي په اهمیت هلته ښه پوهېدی شو چې دې خبرې ته دقیقاً ځیر شو چې مسکو د لسو کلونو جګړې په دوران کې یو ملیون سرتېري په مختلفو ټولګیو کې افغانستان ته ولېږل، هومره ئې پدې جګړې پانګه واچوله چې ملا ئې ورماته کړه او د شوروي اتحاد د وېروونکې امپراطورۍ په نسکورېدو منتج شوه، خو اوس او د شوروي اتحاد له زواله وروسته پداسې حال کې چې مسکو له ملا ماتوونکو اقتصادي ستونزو او سختو داخلي مشکلاتو سره مخامخ دی، د رباني له دولت سره دجګړې د دوام لپاره بې دریغه مالي اونظامي مرستې کوي.

غرب نشوکولی چې د تودو اوبو او د خلیج د تیلو د ځاګانو په لوري د شوروي ځواکونو مخکې تګ وزغمي ، دا ځاګاني عمدتاً د امریکائي کمپنیو په واك کې وې، دوی له شوروي اتحاد سره د ډغرو وهلو توان په خپلو متوکې نه لیدلو ، د زړه ورو افغانانو نه ماتېدونکې مقاومت ئې داسې ومونډو چې له هغه نه د حمایت په صورت کې کولی شي د دې مخکې تګ مانع شي او د خپلو پخوانیو ماتو غچ واخلي او په خلیج او د هند سمندر شا او خوا کې خپلې ګټې خوندي وساتي.

خو د شوروي اتحاد له زواله وروسته، اوس امریکا غواړي چې له افغانستان نه د یوه معبر په حیث استفاده وکړي او د مرکزي آسیا د تیلو زېرمې ترلاسه کړي، د دې سیمې هېوادونه له مسکو نه رابېل کړي او په روسیې د اتکاء او اعتماد په ځای ئې د افغانستان له لاري له ځان سره وصل کړي، پدې سیمې د مسکو د بیا واکمنۍ مخه ونیسي، پرې نږدي چې د دې هېوادونو ترځمکې لاندې پراخې زېرمې او ګټور تجارتي بازارونه د مسکو په ګټه وړیا له لاسه ورکړي. ټولو ته معلومه ده چې د شوروي اتحاد په جنوبي سرحداتو کې پراته هېوادونه، د خپلو زېرمو له پلوه هومره غني دی چې د غربي هېوادونو د کمپنیو پاملرنه ئې ځانته

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلب کړي، له سیاسي او اجتماعي اړخه له مسکو نه د آزادۍ په لټه کي دي، پدې سیمي کي د نفوذ پراخ او مناسب شرائط شته، امریکا غواړي په کابل کي یو مزدور او لاس پوڅی حکومت ولري ترڅو د دوی لاره د مرکزي آسیا په لوري پرانېزي.

حقیقت دا دی چي د افغانستان رواني جګړي په اصل کي د تیلو د کمپنیو جګړي دي، پدې خبري یوازي هغه کسان نشي پوهېدی چي ډېر بې عقله او بې خبره وي، نه د محلي رقابتونو په ماهیت خبر وي او نه د بین المللي توطئو له څرنګوالی نه اطلاع لري، پدې نه پوهېږي چي مسکو د څه لپاره د نجیب او ببرك په ځای رباني او مسعود انتخاب کړل، کله ئې انتخاب کړل؟ کومو لاملونو مسکو دې کار ته اړ کړ؟ څنګه او ولې د نظار شوری له ۱۹۸۲ نه وروسته د یوې پټې معاهدې په ترځ کي له روسانو سره ملګرې شوه او له هماغه نېټې راهیسي له مسکو څخه پیسې او وسلې ترلاسه کوي؟ دا یوه تصادفي پېښه نه وه، بلکي مسکو تل او د خپل استعماري تاریخ په اوږدو کي، په خپلو ټولو مستعمراتو کي وړوکې، التقاطي، دوه مخي او سازشي ډلي د ځواکمنو، انقلابي او سازش نه منونکو ډلو په خلاف انتخاب کړې، هغوی ته ئې وده ورکړې، د مقاومت د ټکولو او په خپلو مستعمراتو د سلطې لپاره ئې له هغوی نه استفاده کړې. دا حقیقت خو اوس د ډېرو سطحی نظر خاوندانو نه هم پټ ندی چي پدې سیمي کي د مسکو ستراتیژیکي ګټې، د افغانستان د جګړي له دوام سره غوټه شوې، د همدې لپاره مسکو داسي یو محور انتخاب کړ او داسي یوه ډلګۍ ئې استخدام کړه چي یوازي د جګړي د دوام باعث شي او په افغانستان کي د سولي او ثبات راتلو مخنیوی وکړي.

متأسفانه ځیني کسان لا تر اوسه له هغو حقایقو ندي خبر چي په افغانستان کي د مېشت روسي قواوو قومندانانو او د کي جی بی لوړ رتبه مأمورینو، د خپلو خاطراتو په کتابونو کي افشاء کړي، دوی په خپلو ضخیمو کتابونو کي د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرحلې ټول انکشافات څېړلي او ټول پټ اسرار ئې افشاء کړي، دا ئې څرګند کړي چې روسانو څنګه د بد ضمیره او جهاد خرڅوونکو قومندانانو د اخستو، د مقاومت په لیکوکي د داخلي جګړو اور بلولو او د دې جګړو او مخصوصاً د حزب اسلامي په خلاف د ګډو عملیاتو لپاره د مسعود په شان د پروتوکولي قومندانانو استخدام په برخه کي څومره پانګه اچولې او څومره پراخي او پرله پسې هڅي ئې کړې؟!

دوی د دښمنانو د اعتراف سره سره او د دغو پټو اسرارو له څرګندېدو نه وروسته هم پدې ندي پوه شوي چې حزب اسلامي د اسلامي مقاومت د ملاتیر او د اسلامي تحریك د باني او مؤسس په حیث د اسلام د دښمنانو له ګډې ستري توطئې سره مخامخ شو، د کمونستانو او غولېدلو څېرو ائتلاف ئې د همدې لپاره جوړ کړ، د طالبانو حرکت ئې د همدې لپاره جوړ او د حزب اسلامي په خلاف د جګړې ډګر ته راوړاندي کړ، د همدې ځواکونو په ایما او اشاره او د دوی په وساطت، طالبانو د پیدابښت په لومړیو مرحلو کي ائتلاف ته د ملګرتیا لاس ورکړ او په ګډه د حزب اسلامي په خلاف وجنګېدل. دا حلقې نه پوهېږي چې اسلام آباد له یوې خوا د امریکا تر سخت فشار لاندي وو او پدې نشو توانېدی چې د امریکا له اغېز نه آزاد، د خپلو ملي مصالحو په رڼا کي خپلواك سیاست غوره کړي او د افغانستان د راتلونکې په اړه د واشنګټن شرائطو ته تسلیم نشي، مجبور وو هماغه څه وکړي چې امریکا ئې ورته خوښوي، له بلي خوا د امریکائیانو او په امریکا پوري د تړلو حلقو د دې تبلیغاتو تر اغېز لاندي تللي وو چې که په کابل کي داسې یو حکومت جوړ شي چې په سرکي ئې کوم پښتون مشر وي او حزب اسلامي په هغه کي فعاله او مؤثره ونډه ولري، دا کار اسلام آباد ته د پښتونستان کشاله راولاړوي او په پاکستان کي د دوی د مخالفو اسلامي ډلو د تقویې او مزید ځواکمن کېدو اسباب برابروي، دهمدې لپاره د ISI د هغه وخت مشر، جاوید ناصر، د حزب اسلامي د مجاهدینو په لاس د کابل د فتح کېدو په ورځ، په پېښور کي له افغاني مشرانو سره د خپلي غونډې په ترځ کي وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان به هيڅکله اجازه ورنکړي چي حزب اسلامي په کابل حکومت وکړي، حتی له قوې نه د استفادی په بيه !!

مگر دا هسي يو تصادف وو چي پاکستان دوه ځله رباني د جمهور رئيس او مسعود د دفاع وزير په توگه په نورو تحميل کړل؟! لدې کار نه د اسلام آباد مقصد څه وو، د دوی په انتخاب کي ئې کومي گټي مضمري وې؟!

دا کسان گمان کوي چي د نجيب له نسکورېدو نه وروسته ټولي جگړي، د اقتدار د لاس ته راوړو جگړي وې چي د جهادي ډلو ترمنځ راولاړي شوې، پداسي حال کي چي دا جگړي، د سابقه جگړو تسلسل او ادامه ده، د دې جگړو واگي او قومنده د همغو افسرانو په لاس کي وه چي مخکي له ټولو مجاهدينو سره جنگېدل، خو اوس يوازې له حزب سره، مخکي له کمونست رژيم نه د دفاع لپاره او اوس له اسلامي دولت نه د دفاع تر غولوونکې پلمې لاندي. د نجيب د حکومت لوی درستيز، د کابل د گارنيزيون قومندان، له کمونست رژيم نه د پاتې قطعاتو قومندانان، د روسانو په لاس جوړي شوې او روزل شوې ملېشې، دا هغه ځواکونه وو چي د دغو جگړو مهار ئې سل په سلو کي په لاس کي وو، د شورای نظار په شان د منحطو ټولگيو نه هغوی فقط د يوې غولوونکې پردې په حيث استفاده کوله.

ځيني بې خبره کسان داسي گمان کوي چي گواکي د نجيب له نسکورېدو وروسته، قدرت مجاهدينوته انتقال شوی، اسلامي حکومت جوړ شوی او جگړه تر يوې مودې متوقف شوې خو وروسته د قدرت د وېش په سر د مجاهدينو ترمنځ نزاع راولاړه شوې او په جگړي منتج شوې !! پداسي حال کي چي نه مخکنۍ جگړه د يوې شېبې لپاره متوقف شوې، نه قدرت مجاهدينوته انتقال شوی او نه په کابل کي د چارو واگي مجاهدينو ته سپارل شوې، جگړه د سابق په شان، د کمونستو افسرانو تر قومندې لاندي روانه وه، په کابل کي د چارو واگي په کامله توگه د کمونستانو په واک کي وې، ارگ، د دفاع وزارت، د دولتي امنيت (خاد) وزارت،

(c) ketabton.com: The Digital Library



راډیو ، تلویزیون، هوایي میدان، د ښار امنیت، د کابل امنیتي کمربند ، په ښار او د ښار شا او خوا حاکم نقاط ټول د کمونستانو او ملیشو په اختیارکې وو. کوم مجاهدین چې کابل ته تللي وو په حقیقت کې مېلمانه وو چې د تصفیې لپاره کابل ته بلل شوي وو ، د کابل په شا او خوا کې د حزب شته والی کمونستانو ته موقع ورنکړه چې دوی تصفیه کړي.

پدی کتاب کې د روسي فوځونو له وتو نه د ائتلافي حکوت تر پرېوتو پورې جریانات څېړل شوي، امید دی لدې نه مخکې او وروسته مراحل هم په بېلابېلو کتابونو کې وڅیړو.

د دې جریاناتو له څېړلو نه مو مقصد دا دی چې زموږ هوشیار او با ایمانه ولس، د دې خونړیو پېښو اصلي لوبغاړی او د پردې شا ته د دښمنانو نامرئې لاسونه درك كړي، هغه ډلې وپېژني چې په پردیو پورې تړلې او د بهرنیو ځواکونو د ګټو لپاره جنګېږي، د جګړو د عواملو ، لاملونو او موخو په پېژندګلوی کې اشتباه ونکړي، د هېواد او منطقې د وضعیت او د دې سیمې په جریاناتو کې د ذیدخله مؤثرو اړخونو په هکله ژور معلومات ترلاسه او د دې په رڼاکې وتوانېږي چې د روان دردوونکي حالت نه د وتو لار تشخیص او مناسب تصمیم ونیسي.

موږ د دې توري شپې په ختمېدو باور لرو ، روښانه راتلونکې ته په طمع یو ، ډاډه یو چې دا پړاو به هم حتماً او ژر پای ته رسېږي، پټې او څرګندې توطئې به یوه په بل پسې شنډېږي، پټ او څرګند دښمنان به زموږ د مؤمن او صبور ولس د عزم او ایمان په وړاندې ماتې خوري او زموږ د شهیدانو آرمان به هرو مرو او په نږدې راتلونکې کې تحقق مومي .

و ما ذلك على الله بعزيز

حکمتیار

۱۳۷۸/۲/۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مسکو وتلو ته اړ شو

برژنف چې په کومې هیلې افغانستان ته د فوځونو د لېږلو فیصله کړې وه، لدې تصور سره چې د دریو میاشتو په ترڅ کې به روسې قطعات په کامله توګه د افغانستان د پېښو بهیر مهار کړي، په اوضاع به مسلط شي، مقاومت به وټکوي او "انقلابي!" رژیم به د "ارتجاعي!" ځواکونو په خلاف هومره مضبوط کړي چې د سقوط وېره به ئې د تل لپاره ختمه شي، خو دا هیله نه یوازې ترسره نه شوه او د ده دا تصور نه یوازې غلط ثابت شو، بلکې برعکس د ده دا اقدام د یوې سترې وېرونکې امپراطورۍ په زوال منتج شو.

برژنف دا فیصله پداسې وخت کې کړې وه چې:

۱ - د دنیا هیڅ نظامي ځواك له مسکو سره د ټکر او تصادم جرأت نشو کولی او د هغه مخې ته د ودرېدو توان ئې په ځان کې نه لیدو، امریکا د دنیا بل دوهم طاقت په ویتنام کې د روسانو په وړاندې داسې شرمناکه او عبرتناکه ماتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خورولې وه چې د دوهم ځل لپاره، د دنیا په بل ځای کې، مخصوصاً په آسیا او روسیې ته نږدې ملکونو کې د روسانو سره د تصادم تصور ئې نشو کولی.

په بین المللي پېښو کې امریکا ورځ په ورځ او په ډېر سریع توګه په شا تمبېده، یو په بل پسې ئې نظامي اډې، د وسلو د خرڅلاو بازارونه او ملګري رژیمونه د مسکو په ګټه له لاسه ورکول، په آسیا، اروپا، افریقا او د لاتیني امریکا په ملکونوکې انقلابي بدلونونه،کودتاګاني اومسلح قیامونه د امریکا پلوه ارتجاعي رژیمونو په خلاف تر سره کېدل او له کمونستي افکارو نه متأثر ځواکونه قدرت ته رسېدل او د مسکو پلوه رژیمونو شمېر ورځ په ورځ په زیاتېدو وو. د دنیا په هر ګوټ کې چې به د کوم انقلاب، عسکري کودتا، مسلحانه قیام، بغاوتونو، مظاهرو، د یوه رژیم د سقوط او د بل د مسلط کېدو خبر خپرېدو نو ډېر ژر به ټولو ته څرګنده شوه چې پدې پېښو کې اصلي لوبغاړي روس پلوه کمونستان دي.

۳ - د کمونستانو په لاس کې پرېوتی ملك او د سرو فوځونو له خوا اشغال شوی کوم هېواد، بیا ندی توانېدلی چې د دوی له منګولو خپله آزادي او استقلال تر لاسه کړي، په نړۍ کې حاکم ذهنیت همدا وو چې د داسي هېواد بیا آزادي امکان نلري.

۴ - په امریکا کې قدرت د دیموکراتانو په لاس کې وو، د امریکا ولس دوی ته پدې خاطر د جمهوري غوښتونکو په خلاف رأیه ورکړې وه چې دوی له مسکو سره د تصادم او جګړې مخالف وو او غوښتل ئې د بهرنیو مسائلو په ځای کورنۍ وضعې ته توجه وکړي او د ویتنام د پېښو په شان د حوادثو د راولاړېدو مخالف وو.

زه د امریکا د هغه وخت، د سیاسي وضعیت او د امریکائي واکمنانو د ذهني کیفیت د توضیح لپاره، د یوه خاص جریان رانقلول دلته ضروري ګڼم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امین رژیم ته د آخري ګوزار ورکولو لپاره موږ د یوه عسکري اقدام ترتیبات نیولي وو، زموږ وفادارو افسرانو احوال راولېږو چې د اقدام لپاره تیار یو، خو معلومات مو دا دی چې روسان حتماً فوځي مداخله کوي، تاسو د ګاونډیو هېوادو، مخصوصاً له امریکائیانو نه معلومه کړئ چې د روسانو د فوځي مداخلې په صورت کې به د دوی عکس العمل څه وي؟

تر دې نه د مخه، موږ له امریکائیانو سره هیڅ ډول بالواسطه یا بلا واسطه تماس نه درلود، ما نه غوښتل چې له امریکائیانو سره او هغه هم د داسې یوې مهمې مسئلې په ارتباط خبره وکړو، خو وروسته مو دا مناسبه وګڼله چې د دوی رأیه د روسانو د عسکري مداخلې د احتمال په هکله او بیا د وقوع په صورت کې د دوی د عکس العمل په اړه ځانته معلومه کړو.

ما استاد امین الله ته وظیفه ورکړه چې په پېښور کې د امریکا له کنسل سره پدې هکله خبره وکړي چې آیا دوی د روسانو د عسکري مداخلې او د فوځونو لېږلو راپورونه دقیق ګڼی که نه؟ او څومره دا کار محتمل ګڼی؟ او که فرضاً روسانو زموږ په هېواد تېری وکړ د دوی عکس العمل به څه وي؟ د امریکا کنسل هغه ته وویل چې زه د ځواب ورکولو نه عاجز یم، واشنګټن سره تماس نیسم، ډېر ژر به د واشنګټن رسمي ځواب درکړم!

په هماغه هفته کې کنسل، استاد امین الله ته وویل چې د واشنګټن رسمي ځواب دا دی: " واشنګټن ګمان نکوي چې روسان به په افغانستان تېری وکړي او دې هېواد ته به خپل فوځونه ولېږي که فرضاً داسې وشول نو واشنګټن به دوه کاره کوي:

الف: له روسانو سره به د (سالټ ټو) مذاکرات متوقف کوي.

ب: او روسانو ته د غنمو مرستې به بندوي".

د دې ځواب معنا څرګنده وه او د روس په وړاندې، د امریکا وضعیت او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتواني له احساس نه د راولاړ شوي پسيف سياست ښه څرگندونه ئې کوله ! څو ورځي وروسته روسي فوځونه د هوا او ځمکي له لاري د کابل په لوري وخوځېدل، امين ئې په قتل ورسولو او ببرك ئې د اقتدار په کرسۍ کښېنولو.

د واشنگټن رسمي عکس العمل د کارتر په ژبه دا وو:

"امريکا، د افغانستان په آزاد هېواد د شوروي اتحاد فوځي تېرى په کلکه غندي،... او دا خبره په ډاگه کوي چي د جنوب په لوري د دوی مزید مخکي تگ نشي زغملی..." د دې رسمي دريځ، مفهوم هم ډېر څرگند وو، يعنې: افغانستان لا د مخه د شوروي اتحاد تر اغېز لاندي کړۍ کي منل شوی، پدې هېواد د مسکو د فوځي تېري په مقابل کي امريکا کوم خاص عکس العمل نه ښيي! خو که د جنوب په لوري مزید مخکي ولاړ شي بيا به امريکا عکس العمل ښيي !!

بريژنف ته د واشنگټن نبض ښه معلوم وو، د همدې لپاره هغه په ډېر ډاډ او جرأت سره، په ډهلي کي د يوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کي وويل:

د افغانستان په سرحداتو کي چي کومي پېښې راولاړي شوې، د دريو راتلونکو مياشتو په منځ منځ کي به کاملاً پای ته ورسېږي او پدې هېواد کي به کامل امنيت تأمين شي. خو داسي و نشول، روسي فوځونو د ۱۳۵۸ کال د جدي له ۶ نه د ۱۳۶۷ کال د دلوی تر ۲۵ نېټې خپل ټول ممکن توان طاقت په کار واچولو، له هيڅ جنايت نه ئې ډډه ونکړه، ټول وسايل ئې وآزمويل، خو نه يوازي دا چي د مقاومت په ختمولو قادر نشو بلکي د هغه د ورځ په ورځ مزيد ځواکمن کېدو مخنيوی ئې ونشو کړی او په پای کي له دې هېواد نه وتلو ته اړ شو.

د روسانو د ناکامي او له افغانستان نه د فوځونو د ايستلو د پرېکړي لاندي اساسي عوامل وو:

۱. په جگړي کي د روسي فوځيانو د مرگ ژوبلي شمېر ورځ په ورځ زياتېدو، دې کار په طبيعي توگه په روسي فوځيانو، د دوی په خپلوانو او ملگرو کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې په خلاف کړکه او نفرت راولاړولو او هغه ئې يوه ناکامه او بې حاصله هڅه شمېرله او همدې احساس د دوی رزمي روحيه ورځ په ورځ کمزورې کوله.

۲. د جګړې مالي مصارف هغه حد ته رسېدلي وو چې نور د شوروي اتحاد، مات ګوډ اقتصاد ته د زغملو نه وو.

۳. پدې ونتوانېدل چې د خلق او پرچم د مختلفو ډلو ترمنځ شديد اختلافات حل کړي او يو قوي افغاني حزب او د هغه له لارې يو ډاډمن افغاني فوځ جوړ کړي، د جګړې ټول بار په خپله د روسانو په غاړه وو، د داسې جګړې، نه ګټل ورته ممکن وو او نه ئې د تلفاتو زغمل.

۴. د مسکو سخت دريځه، زاړه واکداران مخصوصاً هغه چې افغانستان ته ئې د فوځ د لېږلو پرېکړه کړې وه يو په بل پسې يا په طبيعي مرګ مړه شول يا په يوه، بل دليل له صحنې لېرې شول او واک داسې کسانو ته په لاس ورغی چې غوښتل ئې د دې بې نتيجې او بې فايدې جګړې له نه زغمېدونکي مالي او ځاني تاوان نه شوروي اتحاد ډېر ژر وژغوري او د ولس د اقتصادي ستونزو د حل کولو فرصت او کريدت ترلاسه کړي.

۵. روسانو د افغانستان د اشغال په جريان کې تقريباً يو مليو ن فوځيان يو په بل پسې دې هېواد ته لېږلی چې پس له څه مودې پاتې کېدو ئې تعويض کړي، دې فوځيانو له ځان سره د دې جګړې ټول منفي تأثرات شوروي ته انتقال کړل او په ولس کې ئې د جګړې په خلاف حساسيتونه تشديد کړل.

۶. په روسانو باندې، په افغانستان کې د زياتې پاتې کېدو او په جګړې کې د عدم موفقيت په وجه بين المللي فشار ورځ په ورځ زيات شوي وو.

۷. د جګړې په ميدان کې عملاً د دوی ناکامي او د مقاومت په ختمولو او حتی تضعيف کې د دوی پاتې راتلل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## با عزته وتل

مسکو له افغانستان نه د فوځونو د ایستلو فیصله وکړه، خو غوښتل ئې:

- وتل ئې باعزته وي.
- د وتلو په وخت کې پدوی حملې و نشي.
- دا پېغور ئې په برخه نشي چې خپل ملګري ئې د مرګ په پوله یوازې او بې اسرې پرېښودل.
- د ماتې له طبیعي منفي اثراتو نه د خوندي پاتې کېدو تضمین ترلاسه کړي.
- وتل ئې له امریکا سره د یوه توافق په اساس وي او لږ تر لږه د دوی وتل داسې توجیه شي چې د یوې معاهدې په اساس او له سولې سره د مسکو د علاقمندۍ په وجه ترسره شوي نه د یوه نظامي ماتې په وجه.

روسانو پدې ټینګارکولو چې د نجیب د حکومت د بقا ضمانت دې وشي، استدلال ئې دا وو چې که د نجیب حکومت ابقا نشي، یا کمونستان په حکومت کې شریك نه وي، په بل صورت کې د دوی ژوند نشي تضمینېدی او ټول به دې ته مجبورېږي چې هېواد پرېږدي او مسکو د دې توان نلري چې څو لکه کمونستانو او د دوی پلویانو ته په خپل هېواد کې پناه ورکړي، دوی دا هم ویل چې اوس خو د خلق د دیموکراتیك ګوند هم نوم بدل شوی او هم تګلاره، هغه اوس د وطن د ګوند په نامه یادېږي، اسلام ته ئې مخه کړې او په اساسي قانون کې ئې په واضح الفاظو لیکلي چې د هېواد رسمي دین اسلام دی، ملي مصالحه ئې اعلان کړې، د حکومت واګې ئې د حسن شرق په شان بې طرفه کسانو ته سپارلې، له مجاهدینو سره ائتلافي حکومت ته چمتو دی، مجاهدین باید له خپل سخت دریځ نه راکوز شي او د وطن له ګوند سره د ائتلافي حکومت جوړولو ته تیارشي. واشنګټن په لاندې دلائلو د مسکو له دریځ سره اتفاق کولو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱. دوی ته ترټولو مهمه موضوع د روسي فوځونو ماتې، له افغانستان نه وتل او پدې ترتیب د ویتنام د ماتې غچ اخستل وو.

۲. د امریکا جمهوري غوښتونکي ګوند غوښتل چي د دوی د اقتدار په موده کي روسي فوځونه له افغانستان څخه ووځي او پدې ترتیب د خپل کامیاب خارجي سیاست یو نه هیرېدونکی ریکارد قائم کړي او په راتلونکو نږدې انتخاباتو کي یو ځل بیا بری ترلاسه کړي.

۳. امریکایانو غوښتل چي ګورباچوف ته چي د شوروي اتحاد په دړی وړی کولوکي ترې ښه استفاده کېدلی شوی دا امتیاز ورکړي چي د روسي فوځونو وتل په عزت سره ترسره شوي او د مسکو پلوي حکومت په کابل کي په خپل حال پاتې شوي.

۴. امریکا پدې خاطر هم دا نه غوښتل چي د روسي فوځونو له وتلو سره سم دي د نجیب حکومت نسکور او په ځای دې د مجاهدینو اسلامي حکومت جوړ شي چي:

- د نجیب لپاره ئې داسي بدیل نه درلود چي د امریکا د خوښې حکومت په کابل کي جوړکړي.

- د مجاهدینو په لاس دیوه اسلامي حکومت جوړېدل ورته په څو دلیله خطرناك برېښېدو:

- د ایران د تجربې له تکرار نه ئې وېره درلوده او دا تشویش ورسره وو چي که د ایران تر څنګ یو بل انقلابي رژیم په منطقه کي رامنځته شي، په منطقې او مخصوصاً خلیج کي د امریکا ګټې له جدي ګواښ سره مخامخ کېږي.

- د افغانانو اسلامي پاڅون او جهادي شعارونو او د اسلامي جهاد له لاري د یوه استعماري مجهز ځواك مقابلې او پدې نابرابري جګړې کي د دوی بریالیتوبونو په اسلامي امت کي هغه جهادي ولوله راویښه کړه چي په اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملکونو او د دوی په اقتصادي زېرمو مسلط استعماري ځواکونو تل له هغې نه ترهه درلوده او د هغې د ټکولو او له منځه وړلو لپاره ئې ډېرې هڅې او ډېر مصارف کړي وو. اسلامي ملکونه چې د دوی د وسلو د خرڅلاو په بازارونو، د مصنوعاتوپه مارکیټونو او د خامو موادو د لاس ته راوړلو په ذخایرو بدل شوي او په سیاسي او اقتصادي لحاظ په مستقیم او غیرمستقیم توګه په هغوی حکومت کوي، د افغان جهاد له ادامې او برې نه د دې ملکونو په اسلام غوښتونکو او آزادي غوښتونکو کې په طبیعي توګه دا احساس او دا هیله قوت مومي چې کولی شي د افغانانو په شان د جهاد له لارې د خپلو هېوادونو آزادي ترلاسه کړي.

د امریکا استخباراتي شبکو او سیاسي مبصرینو په فلسطین کې نوی جهادي خوځښت، د کشمېر مسلحانه جهاد، د الجزائر پېښې، د مصر جریانات، په سودان او یمن کې د مسلمانو ځواکونو تحرکات او د دنیا په ګوټ ګوټ کې د اسلام او جهاد تر نامه لاندې راولاړ شوي نهضتونه د افغان جهاد طبیعي اثرات ګڼل او په مسلسله توګه ئې سپیني ماڼۍ او د سنا جرګې مربوطه کمیسونونو ته دا راپورونه وړاندې کول چې د افغان جهاد د ادامې له خطرناکو اثراتو نه په اسلامي ملکونوکې د امریکا ګټو ته شدید خطر متوجه دی،که دا جهاد خپل هدف ته ورسېږي او د یوه مستقل اسلامي حکومت په جوړولو وتوانېږي او دا جهادي تجربه ناکامه نکړی شي، د خطرناکو عواقبو مخنیوی به ئې ډېر ګران وي، دغو استخباراتي شبکو په خپلو راپوررونو کې دې ټکي ته هم اشاره کوله چې د ایران له انقلاب نه پداسې حال کې چې د اسلامي امت د یوه وړوکې مذهبي فرقې نمایندګي کوي د امریکا ګټو ته کومه صدمه رسېدلې او دوی ته ئې کوم جنجالونه راولاړ کړي، که افغان مجاهدین د ایران تر څنګ، د دنیا د سني مذهبه مسلمانانو لپاره په یوه محور بدل شي او په کابل کې د مجاهدینو په لاس اسلامي حکومت رامنځته شي، امریکا ته به بیا د دې بهیرمقابله ګرانه وي. دوی په خپلو راپورونو کې په درواغو دا هم لیکل چې د افغان مجاهدینو څخه حزب اسلامي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران د سپاه پاسدارانو سره ژوري اړیکي لري، د نړۍ په سطح ئې د تروریستي فعالیتونو لپاره ګڼ تربیتي او عملیاتي مراکز جوړکړي او په پاکستان کي د حزب اسلامي ترڅنګ د ایران د سپاه پاسدارانو سابقه رئیس او په اسلام آباد کي د ایران زوړ سفیر جناب ابو شریف په او سېدو ئې استناد کولو او هغه ئې د خپلي درواغجني ادعا د ثبوت لپاره د دلیل په حیث وړاندي کولو، حال دا چي ابوشریف په پاکستان کي د یوه مهاجر په حیث ژوند کولو، د ایران له حکومت سره ئې مناسبات ښه نه وو او ایران ته نشو تلی.

## د مسکو او واشنګټن موافقه

واشنګټن او مسکو د افغانستان د کشالې په اړه د خپلو اختلافاتو د کمولو لپاره په لاندي خبرو توافق وکړ:

- روسي فوځونه به د ۱۳۶۷ کال د دلوي تر ۲۵ (د ۱۹۸۹ کال د فبروری تر ۱۵) پوري له افغانستان نه وځي.
- د نجیب حکومت به په خپل حال پاتې وي او د روسانو مالي او نظامي مرستي به لدې حکومت سره ادامه لري.
- له مجاهدینو سره به مرستي متوقف کېږي او دې ته به اړ کېږي چي د وطن له ګوند سره د تفاهم له لاري مشکل حل کړي.
- په ژنیو کي به د داسي مذاکراتو په ترڅ کي د روسي فوځونو د وتلو په مهال وېش او مربوطه معاهدې امضاء کېږي چي د پاکستان او افغانستان د حکومتونو استاځي به هم پکي برخه لري او د معاهدې اصلي طرفونه او امضاء کوونکي به د پاکستان او افغانستان د حکومتونو استاځي وي نه د واشنګټن او مسکو استاځي !!
- امریکائیان به د دې هڅه کوي چي د مجاهدینو استاځي د ناظر په حیث پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذاکراتو کې برخه واخلي، ترڅو د نوموړې معاهدې په مراعات ملزم کړی شي او لږ تر لږه دنیا ته داسي وښودل شي چي د مجاهدینو په سر امریکائیانو له مسکو سره سودا نده کړې، بلکي د دوی په موجودیت کي ئې د دوی د خوښې معاهده امضاء کړې.

## د پاکستان دریځ

پدې وقت کي د پاکستان د حکومت واګي د جونیجو په شان د یوه بې انتهاء نرم مزاج او ضعیف شخص په لاس کي وې، غوښتل ئې له یوې خوا د روسي فوځونو وتل د ده د حکومت په دوران کي ترسره شي او پدې ترتیب شخصاً دی او د ده حزب" مسلم لیګ" په ولس کي خاص اعتبار او حیثیت ترلاسه کړي او له بلي خوا د امریکا غوښتنو ته په مثبت ځواب ویلو سره د خپل ضعیف حکومت لپاره قوي بهرنی تائید او ملاتړ پیدا کړي. د همدې لپاره ئې د ژنیو د مذاکراتو او د مسکو او واشنګټن ترمنځ د شوو موافقو په کلکه ملاتړ کولو او ویل یې: د روسي فوځونو په وتلو باید اکتفاء وشي، د نجیب حکومت دي په رسمیت وپېژندلی شي او له مجاهدینو سره دي نظامي مرستي متوقف شي. ده د امریکائیانو له غوښتني سره سم له مجاهدینو نه په کلکه غوښتنه کوله چي حتماً د ژنیو په مذاکراتو کي شرکت وکړي او د ژنیو د مذاکراتو او معاهدې له هر راز مخالفت نه ډډه وکړي !!

خو موږ په کلکه، صراحت او مکرره توګه د دې مذاکراتو او په هغه کي د ګډون مخالفت وکړ او دا خبره مو د ګڼ شمېر مطبوعاتي کنفرانسونو او اجتماعاتو په ترځ کي اعلان کړه چي:

- د ژنیو په مذاکراتو کي هیڅوك د مجاهدینو او افغان ولس نمایندګي او ترجماني نشي کولی.
- موږ د دې مذاکراتو د نتائجو په اړه هیڅ التزام نه لرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ترڅو چې قدرت د مسکو د لاس پوڅي حکومت څخه یوه مؤقت حکومت ته نه وي انتقال شوی، د افغانستان بحران نشي حل کېدی.
- د افغانستان د بحران په ارتباط د پاکستان او د نجیب د استاځو تر منځ د یوې معاهدې د امضاء معنا دا وه چې د نوموړې کشالې اصلي طرفونه دوی دي، ګواکې دا د پاکستان او افغانستان ترمنځ یوه سرحدي منازعه وه چې د دواړو د استاځو ترمنځ د ژنیو د نوموړې معاهدې د امضاء په نتیجه کې حل شوه.

زموږ او د پاکستان د خارجه وزارت د دریځونو ترمنځ د شدید او څرګند اختلاف د رفع کولو لپاره، د جهادي تنظیمونو د مشرانو او د پاکستان د هغه وخت د خارجه چارو د وزیر ترمنځ د یوې ګډې جلسې ترتیبات ونیول شول، پدې جلسې کې صاحب زاده یعقوب خان، د ژنیو له مذاکراتو نه د دفاع په خاطر څه مات ګوډ استدلالونه وکړل او په پای کې ئې وویل: "پاکستان د خپلو مجبوریتونو په وجه پدې مذاکراتو کې شرکت کوي او له تاسو نه هم دا توقع کوو چې زموږ مجبوریتونه درك کړئ او له نوموړو مذاکراتو سره توافق وکړئ".

ما په ځواب کې ورته وویل: روسي فوځونه حتماً او په هر صورت کې له افغانستان نه وځي که د ژنیو معاهده وشي او که ونشي، مسکو په خپله دا خبره مکرر اعلان کړې چې خپل فوځونه په هر صورت کې له افغانستان نه باسي. پداسې مذاکراتوکې چې د نجیب استاځې برخه ولري نه ستاسو شرکت مناسب دی او نه دافغان مجاهدینو د هیئت ګډون. تاسو له نجیب نه یوه بې طرفه مؤقت حکومت ته د قدرت په انتقال ټینګار وکړې او استدلال وکړې چې د نجیب د پاتې کېدو په صورت کې پدې هېواد کې امنیت نشي راتلای او جګړه پای ته نشي رسېدي. موږ هم خاص مجبوریتونه لرو او د هغه په وجه موږ لدې مذاکراتو سره له توافق نه معذور وګڼې. زما د دې ځواب په مقابل کې صاحب زاده یعقوب خان د دیپلوماتیکې آدابو نه ډېر ډېر لېرې په عصباني لهجې وویل: "پاکستان یو آزاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملك دی، هره پالیسي ئې چې زړه وغواړي غوره کوي به ئې، موږ د خپل هېواد ګټې په خطر کې نشو اچولی او د چا د اقتدار لپاره ئې نشو قرباني کولی...)

ما ورته وویل: بیشکه چې پاکستان یو آزاد ملك دی او کولی شي د خپلې خوښې پالیسي غوره کړي خو د پاکستان په ارتباط نه د افغانستان په اړه. موږ هم دا حق لرو چې د خپل هېواد په هکله د خپلې خوښې سیاست غوره کړو او پرې نږدو چې زموږ برخلیك دې نور وټاکي او زموږ د ولس قرباني دې هدر لاړه شي.

د ISI مشر مداخله وکړه، د مشاجرې د مزید تریخوالي مخه ئې ونیوله، صاحب زاده یعقوب خان ئې په کومه پلمه له جلسې نه د څو شیبو لپاره له ځان سره بهر وایستلو او د بېرته راستنېدو نه وروسته ده او خارجه وزیر غوښتل چې مخکې تریخوالی جبران شي او جلسه په آرامه فضاء کې پای ته ورسېږي.

د پاکستان د هغه وخت جمهور رئیس جنرال ضیاءالحق هم د جونیجو د حکومت د دریځ په هکله اندیښمن وو، جونیجو ته ئې ویل چې روسان حتماً وتونکي دي، باید په خپل پخواني دریځ، "یوه موقت حکومت ته د قدرت په انتقال" ټینګار وکړو او د نجیب حکومت د پاتې کېدو په هکله د مسکو شرط ته تسلیم نشو. ښایي هغه پدې پوهېدو چې د نجیب د پاتې کېدو عواقب به افغانستان او پاکستان ته څومره خطرناك وي. خو جونیجو د ضیاءالحق مشورو ته خاصه توجه ونکړه، هیچا د دې تصور نشو کولی چې جونیجو به د ضیاءالحق مشورو ته نه یوازې دا چې توجه ونکړي بلکې د هغه په خلاف به په ښکاره ګام اوچت کړي، خو همداسې وشول.

ده د ژنیو د معاهدې په هکله د خپل دریځ په ګټه د سیاسي ګوندونو د ملاتړ ترلاسه کولو لپاره، د ټولو ګوندونو ګډ "دګردې میز" کنفرانس دائر کړ، د ولسي تائید ترلاسه کولو لپاره ئې د ټول پاکستان د مهمو ښارونو دوره وکړه او په عامو جلسو کې ئې د دغو مذاکراتو په ګټه پوره تبلیغات وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي د جونيجو د حکومت د انحلال څه نور عوامل هم وي خو زه گمان کوم چې تر ټولو ستر عامل ئې د ژنيو د معاهدې په سر له جنرال ضياءالحق سره د ده اختلاف وو.

د دغو مذاکراتو په دوران کې موږ له جنرال ضياءالحق سره گڼ شمېر اوږدې جلسې درلودې، يو ځل خو زموږ جلسه چې ماښام شروع شوې وه د سحار له لمانځه نه لږ د مخه پای ته ورسېده. د دغو جلساتو د بحث اصلي موضوع دا وه چې د مسکو او واشنگټن ترمنځ د توافق او د ژنيو له معاهدې نه د راولاړ شوي وضعيت له احتمالي ستونزو سره څنگه مقابله کولی شو او د پاکستان او مجاهدينو تر منځ څنگه د سوء تفاهم او اختلاف مخنيوی کولی شو.

د همدغو غونډو په نتيجه کې مرحوم ضياءالحق له ځان سره دا پرېکړه وکړه چې د امريکا فشارونو ته تسليم نشي او پرې نږدې چې پاکستان د داسي فشارونو لاندي د افغانستان د کشالې په اړه داسي کوم گام اوچت کړي چې د مجاهدينو د قربانۍ او ارمان سره د جفا معنا ورکړي.

دا تصميم څه آسان کار نه وو، د مرحوم ضياءالحق دا پرېکړه د ده د ژوند په بيه تمامه شوه، زه په ټول ډاډ او اطمئنان سره دا ويلی شم چې د مرحوم ضياءالحق ترور او د طيارې انفجار د همدې پرېکړې نتيجه وه.

## په وتونکو فوځونو حملې

د روسي فوځونو د مصئون انسحاب په هکله چې په ژنيو کې کومه موافقه شوې وه، موږ د دې موافقې په خلاف اعلان وکړ چې په روسي فوځونو به ترهغه زموږ د مجاهدينو حملې رواني وې چې آخري فوځي ئې له سرحد نه آخوا تېرېږي. هدف مو دا وو چې له يوې خوا نړيوالو ته ثابته کړو چې شوروي فوځونه د ماتې په نتيجه کې وځي نه په افغان ولس د پيرزويني په وجه او يا د ژنيو د موافقې په وجه، له بلې خوا موغوښتل چې مسکو ته عملاً تفهيم کړو چې د افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله له امریکا یا د دې هېواد له ګاونډیو سره د تفاهم او توافق له لارې نه، بلکې په خپله له افغانانو سره د تفاهم له لارې او د افغانستان استقلال او آزادي ته داحترام له لارې حل کېدی شي، همدا راز د ژنیو په مذاکراتو سره چې د مجاهدینو کوم سپکاوی شوی وو، داسې حملې د هغه طبیعي نتیجه وه، موږ باید دا حقیقت ټولو ته څرګند کړی وی چې افغانان د هیچا وصایت او قیمومیت نه مني، هیچا ته د دې حق نه ورکوي چې د دوی په سرله نورو سره سودا وکړي. د روسي فوځونو د وتلو په ارتباط د یوې خاصې پېښې څرګندول مفید ګڼم: ماته د پاکستاني مأمورینو له لارې په پاکستان کې د افغانستان په اړه د یوه موظف عالیرتبه او با صلاحیته امریکایي مأمور سره د تفصیلي خبرو او د سوء تفاهم د رفع کولو وړاندیز وشو چې ما موافقه وکړه، دا هغه وخت وو چې واشنګټن د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته د افغانستان د راتلونکې په هکله دا اندېښنه درلوده چې مبادا د نجیب حکومت مقاومت ونشي کړی، د وضعې له سنبالولو عاجز شي او مجاهدین د کوم غیرمترقبه اقدام په نتیجه کې قدرت ترلاسه نکړي او د ایران ترڅنګ یو بل اسلامي حکومت په منطقې کې رامنځته نشي. د همدې لپاره ئې زما د ترور ګڼ شمېر هڅې وکړې، لدې امریکایي استاځي سره د خبرو په ترڅ کې ما له هغه نه پوښتنه وکړه چې د CIA مأمورینو د څه لپاره دا سروی پیل کړې او له افغانانو نه تپوسونه کوي چې که حکمتیار نه وي نو په مقاومت به د ده د نشتوالی اثرات څه وي؟ لدې سروی نه او د ډېرو نورو دلائلو نه ما ته داسې معلومېږي چېCIA زما د ترور منصوبه لري، ما ته ووایاست چې ولې دا کار کوي؟ هغه په وار خطا لهجه وویل: زه قسم خورم چې موږ دا اراده نلرو برعکس موږ تاسو ته احترام لرو او پدې اعتراف کوو چې تاسو شخصاً او حزب اسلامي د روسانو په خلاف مقاومت کې محوری او ستره ونډه درلوده ...

د خبرو په پای کې هغه ما ته وویل: اجازه راکړې تاسو ته د جمهور رئیس خصوصي پیغام ورسوم چې هغه ستاسو لدې موقف سره شخصاً موافق دی چې په روسي فوځونو دې د وتلو په جریان کې حملې جاري وي !!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي دې امريکايي مأمور، داسې گمان کړی وي چې د امريکا د جمهور رئيس د دې خصوصي او مهم پيغام !! په نتيجه کې به د واشنگټن په هکله زما ټول تشويشونه او بدگماني، په ډاډ او د منني په احساس بدل شوي وي، ځکه هغه به حتماً د آسيايي ملکونو ډېر داسې ستر ستر شخصيتونه ليدلی وي چې د امريکا د سفارت د يوه عادي مأمور په تلفوني (هلو)، تر ډېره وخته له خوشحالی او فخر نه په جامو کې نه ځائېږي !! خو ما چې هغه ورځ او د همدې خبرې له اورېدو نه وروسته په خپل زړه کې د امريکائيانو د دوه مخي او منافقانه سياست په هکله کومه ژوره کرکه احساس کړې، سابقه ئې نه درلوده. امريکائيان په ژنيو کې له روسانو سره د باعزته او مصئون وتلو معاهده امضاءکوي، خو په معاهدې د امضاء رنگ لا نه دئ وچ شوی چې د دې معاهدې جدي مخالف او په روسي قطعاتو د وتلو په وخت کې د حملو طرفدارو ته، د جمهور رئيس لخوا خصوصي پيغام لېږي چې د ده له دريځ سره موافق دی !!

## د مسکو پيغامونه

مسکو د خپلو هيئتونو په ذريعه او له ډېرو نورو لارو نه موږ ته پدې مرحله کې گڼ شمېر پيغامونه ولېږل، يو ځل گرباچوف خپل ډېر اعتمادی مشاور، د خبرو آترو لپاره د مسکو د رسمي پيغام د انتقال لپاره پاکستان ته راولېږو، په اسلام آباد کې د حزب د نمايندگي په دفتر کې مي لده سره ليدنه کتنه وشوه. د هغه دخبرو لنډيز داسې وو:

۱ – گرباچوف په کلکه تصميم نيولی چې شوروي فوځونه حتماً له افغانستان څخه و باسي، پدې کې هيڅ شك مه کوي.

۲ – روسي جنگي اسيران موږ ته وسپاري، دا کار به دگرباچوف دريځ د هغو ځواکونو په خلاف پياوړی کړي چې په افغانستان کې د شوروي فوځونو د پاتې کېدو پلويان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – باید د وطن له ګوند سره چې کافي بدلونونه پکې راغلي او سابقه کمونستي تګلاره ئې پرېښې، ګډ حکومت جوړ کړي، موږ پدې هکله ستاسو ترمنځ وساطت کولی شو.

۴ – که د وطن ګوند په اقتدارکې شریك نه وي څنګه به د دې ګوند د غړو ژوند تضمینوو؟

۵ - موږ نشو کولی د وطن ګوند ټولو غړو او د نجیب د حکومت دومره لوی شمېر پلویانو ته پناه ورکړو، دوی باید په خپل هېواد کې په ډاډ او اطمئنان سره پاتې شي.

۶ – آیا مسکو د شوروي فوځیانو د وتلو نه وروسته له افغانستان سره د خپلې عنعنوي دوستي په دوام حساب کولی شي؟

۷ – آیا په افغانستان کې خو به د شوروي اتحاد په خلاف د دښمني او مخالفت اډه نه جوړېږي؟

۸ – لدې سره ئې زیاته مینه وه چې پوه شي آیا د مسکو ـ کابل ترمنځ دوستانه تعلقات مخصوصاً د وسلو پلورلو په ارتباط به په خپل سابقه حال پاتې وي که نه؟

چې کله ما په خبرو پیل وکړ، پدې پلمه زما خوا ته رانږدې شو چې ګواکې په کومې جګړې کې ئې د غوږ پردې صدمه لیدلې او له لېرې نه خبره نه اوري! زما د ځوابونو خلاصه دا وه:

۱ - دفوځونو وتل تر هرڅا د مخه ستاسو په ګټه ده.

۲ – د فوځونو د وتلو په مهال وېش او د افغانستان د بحران د حل لټولو لپاره باید تاسو له مجاهدینو سره خبرو ته ناست وی نه له هغه چا سره چې د مجاهدینو ترجماني او نمایندګي نشي کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – د وطن له گوند سره ائتلافي حکومت جوړول نه عملي او ممکن کار دی او نه د بحران د حل لار، چا چې تاسو ته د داسې ائتلاف د امکان په هکله اطمئنان درکړی وي، د افغانستان د حاکم ذهني او عيني وضعيت په هکله ئې بې بنياده او غلط راپور درکړی.

۴ – موږ عمومي عفوه اعلان کړې، د وطن گوند دې له همدې عفوی نه استفاده وکړي، د دوی لپاره همدا امتياز کفايت کوي، پدې اړه تفاهم کېدی شي.

۵ - د دې خبرې سل په سلو کې اطمئنان درکوو چې افغانستان به ستاسو په خلاف د امريکا په نظامي اډې نه بدلېږي.

۶ - د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د راتلونکو اړيکو څرنگوالی د مسکو په چلند او دريځ پورې اړه لري، که مسکو په خپل سياست کې تجديد نظر وکړي، تېر اشتباهات جبران کړي، ديوه خاص ټولگي په ځای د ټول افغان ولس سره دوستي وغواړي، پدې صورت کې مسکو د افغانستان په دوستي حساب کولی شي.

۷ – جنگ ځپلي، خوار افغانستان ته د خپلو ټولو زړو وسلو په نوو وسلو بدلول، هغه هم په لنډه موده کې ناشونی کار دی.

۸ – د جنگي اسراوو په هکله به موږ له مشوری نه وروسته تاسو ته د خپل تصميم اطلاع درکړو.

۹ – د افغانستان د بحران د حل يوازنۍ عملي لار دا ده چې قدرت يوه داسې مؤقت غيرائتلافي حکومت ته انتقال شي چې کابينه ئې له غيرمتنازع فيها دريمگړو شخصيتونو نه جوړه شوې وي او بيا انتخابات تر سره شي.

## وتل

بالآخره د روسي فوځونو و تل پيل شول، کابل او نورو مراکزو ته د خورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو قطعاتو د راغونډولو او بیا په لویو لویو قطارونو کې د شمال او سرحد په لوري د هغوی د لېږدولو په دوران کې، دلارو په دواړو خواوو کې د مجاهدینو په مراکزو مسلسلې او درنې بمبارۍ کېدې، خو لدې سره سره مجاهدینو هغوی آرام نه پرېښودل او پرله پسې حملې ئې ورباندې کولې، دې حالت هرستنېدونکې روسي فوځي ته د جګړې د پای د څرنګوالی، د روسي فوځونو د وتلو د لاملونو او د دوی په نسبت د افغان ولس د احساس جامع تصور ورکولو او پدې ئې پوهول چې د روس ملت او واکدارانو ته د افغان ولس پیغام، د ګلونو په هغو آمیلونو کې چې په کابل کې د روسي افسرانو په غاړه کې ولیدل او یا د ګلانو په هغو ګیډیو کې چې افغاني کمونستانو د دوی په ټانکونو اېښودل تمثیل کېده او که د ګولیو په هغه باران کې چې د وتلو په وخت او د لارو په اوږدو کې د مجاهدینو له خوا پدوی ورېدې؟ ښایي د مجاهدینو د دغه واقعي استقبال په وجه وو چې کله د ۱۹۸۸ کال د فبرورۍ په ۱۵ آخري روسي فوځي د افغانستان له پولې نه د شوروي اتحاد په لوري تېرېدو نو شا ته ئې د کتلو شوق نه درلود او د فوځونو قومندان اعلان وکړ چې روسان به بیا افغانستان یا بل پردې هېواد ته د فوځونو د لېږلو غلطي تکرار نکړي!! که د وتلو په وخت کې یوازې د ګلونو په شیندلو او د ګلونو په ګیډیو او آمیلونو استقبال شوي وی او د لارې په اوږدو کې ئې پرله پسې ګولۍ د غوړونو څنګ ته نه وی تېرې شوې، ممکن د دې خبرې د کولو ضرورت ئې نه وی احساس کړي...

په هغه ورځ چې کله دا خبره د دنیا د ټولو راډیوګانو په څپو کې اعلان شوه چې دا دی د روسي فوځونو آخري فرد، د افغانستان له پولې نه واوښت په ما عجیب حالت راغې، د شکرسجده مې په ځای کړه، څو رکعته لمونځ مې وکړ، مسلسل او ټوله ورځ مې له سترګو نه بې اختیاره اوښکې بهېدې، دا نه د خوشحالۍ اوښکې وې نه د خپل شهید پلار، ورونو او همسنګرو شهیدانو د رایادولو اوښکې او نه هم د دې آرمان اوښکې چې کاش زموږ شهیدان ژوندي وی او د برۍ دا صحنه ئې په خپلو سترګو لیدلې وی، بلکې دا د رحمان رب د وسیع

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بې انتهاء پيرزويني له احساس نه راخوټېدونکې د شکر اوښکې وي، ما په خپل ټول وجود سره او د زړه په سلول سلول سره د هغه لوی آرمان د ترسره کېدو ننداره کوله چې هر چا ته ناشونی معلومېدو، خو زما زړه تل گواهی راکوله چې دا آرمان به تر سره کېږي، د زړه دا ډاډمن شهادت به مي تل په غونډو، ويناگانو، ليکونو کې په وار وار څرگندېدو او ويل به مي چې روسي فوځونه به حتماً زموږ له هېواد نه په وتلو مجبورېږي، نن هماغه خبره رښتونې شوې وه.

زه ډېر ماشوم وم، خوکله چې پوه شوم د روم او فارس په شان دوه ستري امپراطورۍ د پيغمبر عليه السلام په لاس نسکورې شوي، ما الله ته دا دعا پيل کړه او تل به مي د هر لمانځه نه وروسته تکراروله چې (خدايه په ما د روس او امريکا زوال وگورې او په زوال کې ئې ما ته لويه ونډه راپه برخه کړې) نن د خپلې هغې زړې مکررې دعا د يوې برخې د تحقق او اجابت شاهد وم. پدې خاطر مي له سترگونه د شکر اوښکې بهېدې، اميد مي دا دی چې، د دعا گانو منونکی رب، زما د دعا هغه دوهمه برخه هم ترسره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجيب د حکومت په نسکورېدو کې ځنډ

د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته، د هر چا انتظار دا وو چي د نجيب حکومت به ډېر ژر رانسکور شي، خو د دې انتظار په خلاف، د نجيب حکومت د څه مودې لپاره دوام وکړ، راشي وګورو چي آيا د دې خلاف انتظار مقاومت وجه هماغه وه چي جنرال ګروموف" په افغانستان کي د روسي فوځ عمومي قومندان" ئې دعوی کوي، که بل څه؟ جنرال ګروموف په خپل کتاب (سری لښکری په افغانستان کي) ليکي: د خوست دفاع او د جلال آباد ساتني، چي يوکال اوږده شوه، د لمر غوندي روښانه کړه چي د څلويښتم لښکر له جزو تامونو سره اوږه په اوږه جنګېدلی حکومتي فوځ رښتينی قوت دی" آيا په رښتيا د نجيب د فوځ پياوړتيا او د شوروي اتحاد پراخو مرستو د دې حکومت د فوری سقوط مخنيوی وکړ که عوامل ئې نور څه وو ؟

د روسي فوځونو د وتلو نه وروسته د نجيب د حکومت په فوری سقوط کي د ځنډ، خاص کورني او بهرني عوامل وو چي ځيني ئې دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱ – جهادي تنظيمونه په هماغو حساسو شپو ورځو کې چې کابل رژیم ته د وروستنی او پرېکنده ګوزار ورکولو تر ټولو مناسب وخت وو، د حکومت د جوړولو په لوبه کې مصروف کړي شول او هغه هم پدې شکل چې د ټولو تنظیمونو ۲۰، ۲۰ تنه مؤثر قوماندانان او مهم شخصیتونه باید په راولپنډۍ کې راغونډ شي او د حکومت د جوړولو په سر د اوږدو مرکو، بحثونو او مشاجرو نه وروسته توافق وکړي.

۲ – امریکائیانو پدې ټینګار کولو چې باید د مجاهدینو د حکومت له څرنګوالی نه پدې شکل مطمئن شي چې پدې حکومت کې باید ملي ګرایان محوری رول ترلاسه کړي. پاکستانیانو د بنسټ پالو له مسلط کېدو نه د واشنګټن د وېرې د ختمولو لپاره د داسي یوې شورى د جوړېدو فیصله له افغاني تنظیمونو نه واخستله چې ستر او واړه تنظیمونه به په هغې کې برابره برخه لري. دې ۴۲۰ کسیزي مشورتي غونډې ته به هر تنظیم ۲۰ غړي معرفي کوي او همدا غونډه به د راتلونکي حکومت د مهمو ادارو د وېش په اړه پدې شکل فیصله کوي چې هر غړی به د دوو رایو ورکولو حق لري. د دې غونډې دوې حتمي او خطرناکي نتیجې وې:

الف: مجاهدین د اساسي عسکري کار په ځای په یوه سیاسي جنجال کې مصروف کړي شول.

ب: د وړو تنظیمونو ترمنځ د ائتلاف په نتیجه کې حساسي ادارې تر ټولو ضعیفو تنظیمونو ته وسپارل شوې، دې کار د مؤثرو او قوي تنظیمونو د مجاهدینو په روحیې منفي اثر وکړ او په اکثرو ځایونوکې د جګړې په سوړوالی منتج شو.

۳ – د کابل رژیم لا د روسي فوځونو د وتلو نه د مخه له اطراف نه خپل ځواکونه مهمو ښارونو او هغو حساسو ځایونو ته راغونډ کړل چې په کوم کې دفاع کول ورته آسان وو، په لویو ښارونو د عملیاتو لاندي ضروري او لازمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتني وې:

الف: د مجاهدینو ترمنځ جدي او ژور یووالی او تنسیق او په یوه وخت ګډ عملیات.

ب: کافي درنې وسلې.

ج: د هوایي بریدونو د مدافعی مؤثر نظام.

د: د داسي عملیاتو کافي تجارب.

هـ: په ډېرو قوي مراکزو د عملیاتو په ځای په ځو نسبتا ضعیفه مراکزو پرله پسې کامیاب عملیات.

مجاهدینو ته له یوې خوا د راولپنډۍ جوړ شوي مؤقت حکومت صدمه ورسوله، له بلي خوا د جلال آباد په شان په یوې ناکامي نښتي کي پداسي حال کي مصروف شول چي د لویو ښارونو د نیولو جنګي تجارب ئې نه درلودل، له بلي خوا ځینو هغو قومندانانو د دې جګړو د مخالفت غږ اوچت کړ چي د کابل له رژیم او روسانو سره ئې اوربندونه او پروتوکولونه درلودل، غربي آژانسونو د دوی مخالفتونه په پراخه پیمانه خورول او د عملیاتو په خلاف ئې خلك راپارول.

۴ – امریکا او پلویانو ئې نه غوښتل چي د روسي فوځونو د وتلو سره سم دي د نجیب حکومت نسکور شي، ځکه د دې په نتیجه کي به په کابل کي د هغو ځواکونو حکومت جوړېدو چي امریکا خطرناك بنسټ پالان ګڼل. دوی د نجیب د حکومت د فوری سقوط او په کابل کي د مجاهدینو په لاس د اسلامي حکومت د جوړېدو د مخنیوی لپاره لاندي کارونه وکړل:

الف: د غربي خبري آژانسونو، اخبارونو، مجلو او راډیو ګانو مخصوصاً بي،بي،سي او امریکا غږ تبلیغاتي لهجه په ناڅاپي ډول بدله شوه، د مجاهدینو په خلاف او د نجیب په ګټه تبلیغات پیل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: په امريکا پوري تړلې ډلې او قومندانان مکلف شول چې د نظامي عملياتو مخالفت او مخنيوی وکړي او لږ تر لږه پداسې عملياتو کې له ګډون نه ډډه وکړي.

د دې مرحلې د نظامي عملياتو په خلاف به د مسعود او د مسعود په شان د ځينو قومندانانو دريغ او تبليغات د ټولو په ياد وي.

ج: له مجاهدينو سره هر راز مرستې بايد په ټپه ودرېږي، د مجاهدينو په خلاف بايد تبليغات هومره تشديد شي چې په اسلامي نړۍ کې د مجاهدينو سره انفرادی مرستې هم متوقف شي.

د – د راولپنډۍ د اوجړی کمپ او ورپسې د نوښار د وسلو لوی سلاح کوټونه ئې په لنډه موده کې يو په بل پسې منفجر کړل، غوښتل ئې له يوې خوا مجاهدينو ته د مهماتو د رسېدو ټول امکانات ختم کړي او له بلې خوا په پاکستاني ولس کې د جنګ په خلاف احساسات راوپاروي.

هـ: خو چې د فشارونو، تهديدونو او اخطارونو سره سره، د پاکستان په دريغ کې تبديلی رانغله، نو مرحوم ضياءالحق ئې له خپلو ګڼ شمېرمهمو ملګرو سره د بهاولپور په فضاء کې د ده د سورلی د طيارې په انفجار کې له منځه يووړ او افغان ولس ئې له يوه رښتوني دوست نه محروم کړ.

ډېر ناپوه او له حالاتو نه بې خبره خلك به دا ګمان کوي چې د نوموړو سلاح کوټونو او بيا د طيارې انفجار به تصادفي پېښې وي، پدې کې هيڅ شك نشته چې دا کارونه د امريکا د هغه پلان برخې وې چې په کابل کې د مجاهدينو په لاس د اسلامي حکومت د جوړېدو د مخنيوی لپاره وضع شوی وو. دغو پېښو وښودله چې امريکا ډېر بې اعتباره، خود غرضه، بې مروته او نامرده دوست او د اسلام او مسلمانانو نه پخلاکېدونکی دښمن دی، يا به ډېر احمق انسان په امريکا باورکوي او يا ډېر بې ايمانه، امريکا مزدور خوښوی نه ملګري، داسې مزدور چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امریکا د ګټو لپاره هره شېبه د ځان او د خپل هېواد او ولس قرباني کولو ته چمتو وي.

**۵.** د ضیاءالحق له ترور نه وروسته، غلام اسحق خان د جمهور رئیس په حیث وټاکل شو، د ده په وخت کې د افغانستان په اړه د پاکستان پالیسي پدې دلیل د سابق په څېر پاتې شوه چې د فوځ لوی درستیز، جنرال اسلم بیګ او د ISI مسئول جنرال حمیدګل وو او د فوځ او نورو حساسو او مهمو ادارو واګې د داسې کسانو په لاس کې وې چې د ضیاءالحق نږدې همفکره او هم مزاجه خلك ګڼل کېدل. د جنرال ضیاءالحق یو د یادونو وړ امتیاز دا وو چې اکثراً ئې هغه افسران راوړاندې کړي وو چې د اسلامي شخصیت په درلودو او په پاکوالی او وطن پالنې مشهور وو.

غلام اسحق خان مجبور وو په دریو میاشتوکې د انتخاباتو تر سره کېدل اعلان کړي، په انتخاباتوکې پیپلزپارتي هومره رایې ترلاسه کړي چې د یوه ائتلافي حکومت په جوړولو قادر شي.

له امریکا سره د دې ګوند د نږدې دوستانه اړیکو په وجه، امریکائیانو دا انتظار درلودو چې د افغانستان په ارتباط به د پاکستان په دریځ کې د دوی د خوښې تبدیلی راشي، خو د جنرال اسلم بیګ، جنرال حمیدګل او ګڼ شمېر نورو مؤثرو شخصیتونو د شته والی په وجه د امریکا دا انتظار تر سره نشو، همدا وجه وه چې د پاکستان د فوځ او ISI په هکله په غربي ورځپاڼو او راډیوګانو کې دا تبلیغات کېدل چې په حساسو ادارو کې لاتراوسه هغه افسران پاتې دي چې بنسټ پاله دي او د افغان مجاهدینو ملاتړ کوي، امریکا د پاکستان په واکمنانو شدید فشار اچولی وو چې دا افسران باید ژر تر ژره تعویض شي.

په همدې اړه د یوه خاص جریان لیکل راته پدې خاطر ضروري برېښي چې ډېر پټ اسرار او حقایق په ګوته کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنرال اسلم بیګ د تقاعد دمودې رانږدې کېدو او د ده په عوض د بل لوی درستیز د ټاکلو په شپو ورځو کې، ما د وقت له جمهور رئیس غلام اسحاق خان سره یوه تفصیلي لیدنه کتنه درلوده، د نورو خبرو په ترڅ کې ما هغه ته د نوي لوی درستیز ټاکلو په ارتباط وویل: زه ګمان کوم چې د پاکستان او د پاکستان د شا او خوا حالات دا تقاضا کوي چې تاسو جنرال حمیدګل د دې دندې لپاره وټاکې ... کاش پاکستان او افغانستان د ده په څېر ډېرشمېر لایق او با احساسه افسران درلودي...

هغه مسکی شو او ما ته ئې وویل: ستاسو خبره صحیح ده، خو پدې کار سره به امریکائیان ډېر حساس او خفه شي!! هغوی وایي چې جنرال حمیدګل بنیادپرست دی!!

## د بینظیر او عرفات په غونډې کې

د افغانستان په اړه د بینظیربوتو دګوند دریځ د هغې غونډې له خبرو آترو نه معلومولی شي چې د یاسرعرفات په افتخار د جوړې شوې مېلمستیا په پای کې ما لدوی سره درلوده. په غونډې کې د بې نظیر په شمول نصرت بوتو، د بهرنیو چارو وزیر، جنرال بابر د کورنیو چارو وزیر او د آی اس آی مسئول او یاسرعرفات او د ده د هیئت غړو برخه درلوده، د یاسر عرفات د غوښتني په اساس ما ته پدې مېلمستیا او غونډې کې بلنه راکړل شوې وه، بې نظیربوتو غوښتل چې د دواړو طرفونو ګډه خبره د یاسرعرفات په ذریعه وشي، هغه ماته مخ کړ او وئی ویل: "ته ځوان ئې او روښانه راتلونکې لرې...په خپلو د غو بچیانو (کمونستانو) رحم وکړه، دوی مؤقتا په خپلي غېږ کې ونیسه، په یوه ګډ ائتلافي حکومت توافق وکړي او پدې ترتیب روانه جګړه پای ته ورسوي، بیا انتخابات وکړي، په انتخاباتو کې طبعاً او له شکه پرته، ملت تا ته رأی درکوي..."

ما ورته وویل: زموږ د هېواد وضعیت داسې دی چې د مجاهدینو او نجیب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ د ائتلافي حکومت د جوړېدو هيڅ امکان نشته، بايد په يوې داسې طرحې فکر وکړو چې عملي وي او واقعاً او د تل لپاره د جګړې عوامل او امکانات پای ته ورسوي. هغه وويل: نو تاسو دواړه ظاهرشاه د مؤقتې مودې لپاره د سمبول په حيث ومنې، اصل قدرت به ستاسو په لاس کې وي.

ما وويل: "د ظاهرشاه د راتلو هيڅ چانس نشته، نه ئې مجاهدين منې او نه هغه د افغانستان په شان د کړکېچنوحالاتو د سمبالولو استعداد او توان لري، په کوم چاچې هيڅ توافق نشي راتلای هغه ظاهرشاه دی. د حل عملي او آسانه لار دا ده چې يوه داسې مؤقت حکومت ته قدرت انتقال شي چې ټولو طرفونو ته د منلو وړ وي او له منل شوو صالح افغاني شخصيتونو نه جوړ شوی وي. د پاکستان په شان مورږ هم يوه مصطفی جتويي ته ضرورت لرو، ټولو وخندل (جتوئی په پاکستان کې د مؤقت حکومت صدر اعظم ټاکل شوی وو): ما علاوه کړه: بيا دې انتخابات تر سره شي. هغه کسان چې ګمان کوي په افغانستان کې انتخابات يا عملي ندي يا سابقه نلري اشتباه کوي، په افغانستان کې د انتخاباتو سلسله د ظاهرشاه په دور کې پيل شوې او څو ځله انتخابات تر سره شوي،که افغانستان ته ورته، د نړۍ د نورو هېوادونو اوږدې داخلي جګړې، لکه د جنوبي افريقا او کمبوديا په څېر منازعات، د انتخاباتو له لارې حل کېدی شي او هلته ائتلافي حکومتونه غيرعملي ګڼل کېږي، ولې د افغانستان بحران په همدې ترتيب حل نشي"؟!

د هغې غونډې په پای کې ياسرعرفات له بينظيربوتو نه وغوښتل چې د ده (ياسرعرفات) او امريکا ترمنځ منځګړيتوب وکړي! داسې معلومېده چې ياسرعرفات په هماغو شپو ورځو کې د خپلې پخوانۍ تګلارې له نتائجو نه مأيوسه شوی وو، د حماس د انقلابي خوځښت وسيع تحرکات او ورځ په ورځ زياتېدونکی نفوذ ئې د الفتح سازمان لپاره جدي خطر ګڼلو او غوښتل ئې د امريکا له لارې له اسرائيلو سره کوم توافق ته ورسېږي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مؤقت حکومت د خارجه وزیر په توګه

ما په مؤقت حکومت کې د خارجه وزیر په توګه خپل کار په جدي توګه پیل کړ، په هغې مرحلې کې زموږ په وړاندې دوه مهم هدفونه پراته وو: په اسلامي کنفرانس کې د افغانستان خالي څوکۍ تر لاسه کول او د اسلامي نړۍ د یو شمېر ملکونو له خوا د مؤقت حکومت په رسمیت پېژندل.

د دې لپاره ما شخصاً د یوه ګډ هیئت په سرکې د ایران، سعودي، لیبیا، عراق، مالیزیا، سنګاپور، بروناي، بنګله دیش، اندونیزیا، آسترالیا او چین دوره وکړه او ډېرو نورو ته مو هیئتونه ولېږل.

ما غوښتل چې تر ټولو د مخه ایران زموږ مؤقت حکومت په رسمیت وپېژني، د همدې لپاره مې لومړی سفر ایران ته وو، ایراني مسئولینو ته مو وویل چې راشي دا تاریخي ګام تاسو اوچت کړي او دا افتخار تاسو تر لاسه کړي چې د مجاهدینو حکومت مو تر ټولو د مخه په رسمیت وپېژندلو، پدې سره به هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي نړۍ کې ستاسو اعتبار ته ګټه ورسېږي او هم به په افغان ولس کې ستاسو په نسبت د مینې او احترام جذبه تقویه شي، هغوی ته مې وویل چې د نجیب حکومت حتماً او ډېر ژر نسکورېږي، د مجاهدینو حکومت به په نږدې راتلونکې کې د هغه ځای نیسي، ښه به دا وي چې په کابل کې تر استقرار نه د مخه هغه په رسمیت وپېژني، پدې سره به مجاهدین د تل لپاره ستاسو مرهون وي. خو ایران پدې ارتباط دوه مشکله درلودل:

الف: په مؤقت حکومت کې، په ایران کې د مستقر شیعه تنظیمونو عدم شمولیت.

ب: له مسکو سره د تهران د نږدې روابطو له خرابېدو نه د دوی تشویش.

ما له یوې خوا هڅه وکړه چې دا تنظیمونه حتماً په یوه ځه راضي کړو او په مؤقت حکومت کې ئې شرکت ته تیار کړو او له بلې خوا د تهران مسئولین پدې قانع کړو چې د مؤقت حکومت په ارتباط خپل دریځ د شیعه تنظیمونو په شمولیت او عدم شمولیت پورې ونه تړي، خو متأسفانه پدې موفق نشوم.

د اسلامي کنفرانس په غونډې کې، مجاهدینو ته د افغانستان د خالی څوکۍ د سپارلو په ارتباط د هغو هېوادونو او هیئتونو د مخالفت د مخنیوی لپاره چې له مسکو سره ئې نږدې روابط درلودل، موږ د لیبیا او عراق د موافقې ترلاسه کول ضروري وګڼل، د همدې لپاره ما شخصاً د دې دواړو ملکونو دوره وکړه، له معمرالقذافی او صدام حسین سره مې تفصیلي لیدنې کتنې وشوې له دواړو څخه مې قطعی اطمئنان ترلاسه کړ، ما د دواړو استقبال او تائید د خپل انتظار نه ډېر ډېر اوچت وموندو.

یوازنی طرف چې د مخالفت وېره مې ترې درلوده د الفتحی هیئت وو، د همدې لپاره مې له یاسرعرفات سره تلفوني خبرې وکړې او له هغه نه مې وغوښتل چې که تائید او ملاتړ نشي کولی لږ تر لږه باید مخالفت ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو هلو ځلو په نتيجه کې مونږ له يوې خوا په اسلامي کنفرانس کې د افغانستان څوکۍ تر لاسه کړه چې ډېر زيات اهميت ئې درلودو او له بلې خوا ځلورو ملکونو زمونږ مؤقت حکومت په رسميت وپېژندو.

متأسفانه د بې نظير بوتو حکومت، پدې خاطر چې واشنګټن ناراضه نشي زمونږ په مؤقت حکومت له اعتراف نه ډډه وکړه، د ډېرو نورو هېوادونو د عدم اعتراف وجه يا د پاکستان عدم اعتراف وو او يا د امريکا مخالفت.

بينظيربوتو ويل چې که مجاهدين ځيني لوی ښارونه ترلاسه کړي او يا د دوی حکومت داخل ته انتقال شي پاکستان به ئې په رسميت وپېژني، پداسې حال کې چې مجاهدينو د کنر، خوست، تخار او پکتيکا په شان مهم ولايتونه نيولی وو.

## د رباني او مجددی عکس العمل

استاد رباني له مؤقت حکومت نه د جوړېدو له لومړۍ ورځې څخه ښه خاطره نه درلوده، ځکه ده او ګيلاني ته تر ټولو کمه رأيه او تر ټولو غير مهم پستونه په لاس ورغلی وو. په همدې خاطر هره شېبه د دې حکومت د ړنګېدو په انتظار کې وو.

مجددی ته د وزارت خارجه زيات فعالېدل او يو په بل پسې مهم موفقيتونه په لاس ورتلل د زغملو وړ نه وو.

دوارو، د امريکا اوسعودی سفارتونو او ISI ته شکايتونه کول، د مجددی حوصله هومره تنګه شوه چې خبره ئې تر اخبارونو ورسوله. مسعود په شمال کې د حزب له ګڼ شمېر جبهاتو سره په جګړو بوخت شو، که څه هم د ده جګړې لا د مخه او له روسانو سره په ۱۹۸۲ کال کې د اوربند د علني او له يوه بل سره د مرستو د مخفی معاهدې له امضاء کولو نه وروسته پيل شوې وې چې په دغو کې د اشکمش، اندراب، لرخاب، کشم، تخار، فرخار، ګلبهار، بولغين او کوهستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



جګړې د يادولو وړ دي. د حزب اسلامي ستر ستر قومندانان، لکه انجنير سليم، انجنير عبدالوهاب، قاضي جاويد، عبدالحی شيدا، ابراهيم بت شکن، سيد ناصر، مولوی عبدالوهاب، محمد عبدالله، ملاحسن ...پداسي حالت کي د شورای نظار په ذريعه په شهادت رسېدلی چي يا ئې مذاکراتو ته دعوت کړي او د تلو راتلو په جريان کي ئې وژلي، يا ئې د معاهدو نه وروسته د نامردانه کمينونو په ترڅ کي په شهادت رسولي. د همدغو جګړو په ترڅ کي د مؤقت حکومت په دوران کي، په تخارکي د حزب اسلامي د قومندان سيدجمال شهيد سره د يوه تکر په نتيجه کي د جمعيت څو تنه داسي قومندانان په قتل ورسېدل چي ټولو له مسعود سره سخت مخالفت درلودو، موږ ته اطلاع ورسېده چي نوموړی قومندانان په اسارت نيولی شوي، فوراً مو سيدجمال او نورو قومندانانو ته د مخابری له لاري هدايت ورکړ چي نوموړی کسان بايد ډېر ژر خوشي کړي شي، خو وروسته معلومه شوه چي دوی په قتل رسېدلي، موږ د دې پېښي په اړه خپل خفګان، د شهداوو له خپلوانو او جمعيت سره غم شريکي او د حادثي غندنه رسماً د يوې اعلاميې په ترڅ کي اعلان کړه، خو رباني او مجددی د نوموړی پېښي په ارتباط زما په خلاف شديد تبليغات وکړل او داسي ئې وښودله چي ګواکي دا کار زما په هدايت ترسره شوي. له بلي خوا جمعيت په شمال کي د مختلفو ولايتونو څخه خپل قوتونه راغونډ کړل او په تخار کي ئې د سيد جمال او د حزب اسلامي د نورو جبهاتو په خلاف وسيع عمليات پيل کړل، سيد جمال د خپلي کورنۍ او جبهې له ګڼ شمېر کسانوسره ونيولی شو او وروسته ټول اعدام شول. د اعدام صحنه ئې د بی بی سي او امريکا غږ له لاري پداسي پارونکي انداز کي منعکس شوه چي د حزب اسلامي ټول غړي ئې غچ اخستلو ته وهڅول. د جمعيت ټولي اکمالاتي لاري چي د حزب له منطقو نه تېرېدي، بندي شوي... موږ هڅه وکړه چي د تشنج له تشديد نه مخنيوی وکړو او پری نږدو چي دښمن له هغه نه استفاده وکړي... دغو پېښو په ګډه حکومت کي د يوځای کار کولو امکانات ختم کړل او موږ ئې دې ته مجبور کړو چي د مؤقت حکومت په کابينې کي خپل عضويت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعلیق په حالت کي اعلان کړو. هسي هم نوموړی حکومت خپل افادیت له لاسه ورکړي وو، د ګټيي په ځای ئې جهاد ته صدمه رسوله، تنظیمونو خپل کارونه ځانته په مستقله توګه پر مخ بیول، نه ئې د افغانانو مشکلات حل کولی شوی او نه ئې د دوی توقعات پوره کولی شوي. امریکائیانو له یوې خوا د حکومت په خلاف شدید تبلیغات کول او غوښتل ئې افغانانو ته دا ثابته کړي چي مجاهدین د حکومت کولو اهلیت نلري، له بلي خوا ئې په داخل کي د قومندانانو شوراګاني جوړولی او د خپلي خوښي قومندانانو سره ئې مخامخ مرستي کولی او هغوی ئې د مؤقت حکومت په خلاف هڅول او د هغوی په خوله ئې د حکومت په خلاف تبلیغات کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جلا ل آباد جګړه

د جلال آباد ناکامې جګړې د کابل رژیم ته له څو پلوه ګټه ورسوله:

۱ – د رژیم د فوځي قطعاتو او پلویانو مړاوی روحیه ئې راژوندۍ کړه او د فوری نسکورېدو تصور ئې د بقا او مقاومت په یوه کاذب ډاډ او اطمئنان بدل کړ.

۲ – د مجاهدینو روحیه ئې تضعیف کړه او په رژیم د عاجل برلاسي په هکله ئې شکمن کړل.

۳ – له نوموړی جګړې سره د مسعود په شان د ځینو قومندانانو مخالفت او د بی بی سي له لارې د دې عملیاتو په خلاف د دوی د ښکاره ګندونو په ملاتړ کې پراخ تبلیغات، مجاهدینو ته د جګړې د افادیت او راتلونکې په هکله تشویشونه راولاړول.

۴ – پدې دوران کې مسعود په سالنګ او نورو ځایونو کې په ښکاره توګه د عملیاتو مخالفت کولو، د دې لپاره چې د نوموړی مخالفت وجه ښکاره شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو ته معلومه شي چي دا له روسانو او د کابل له رژيم سره د مسعود د پروتوکولونو په نتيجه کي وه، زه دلته په افغانستان کي د روسي قطعاتو د عمومي قوماندان جنرال ګروموف له خوا د ليکل شوي کتاب د ځينو برخو رااخستل ضروري ګڼم:

هغه دخپل کتاب په ۲۲۵ مخ کي ليکي: "له همدې امله د محدودو قطعاتو قومنداني سخته علاقه درلوده چي مسعود د همکارۍ لپاره ځانته رامات کړي او پدې توګه په پنجشير او د افغانستان شمال ختيځ په نورو ولايتونو کي د خونړيو جګړو د پېښېدو مخنيوی وکړي. د څلوېښتم لښکر د استخباراتي مرکز هڅو، په پای کي ټاکلې نتيجې ورکړې، په ۱۹۸۲ کال کي موږ خپل لوی مقصد ته ورسېدو، له احمد شاه سره مو داسي ټينګې اړيکي پيدا کړې چي ان له افغانستان څخه د شوروي فوځونو د وتلو تر وخته په خپل حال پاتې شوې. په افغانستان کي زموږ د فوځي حضور په ټولوکلونو کي له مسعود سره زموږ اړيکو بريالی وده وموندله، خو لدې سره سره د محدودو فوځي ټولګيو قومنداني د ده د وسله والو باندونو فعاليت له نظره نه غورزاوو. په ۱۹۸۲ کال کي د څلوېښتم لښکر د استاځو او شخصاً د مسعود له خوا يو تړون لاس ليك شو چي د هغه له مخي مسعود ژمنه کړې وه چي په جنوبي سالنګ کي به چي د ده د بې رقيبه باداری سيمه وه، پر شوروي فوځي قطارونو يرغل ته اجازه نه ورکوي. احمد شاه دخپلو ډلو د وسلو او مهماتو د کمبود له امله مجبور شو چي دغه تړون ته غاړه کښېږدي، د پنجشير درې د کلابندۍ او دغه راز په کاپيسا کي چي پنجشيريانو ته د وسلو د رسولو کاروانې لاري پرې تېرې شوې وې د جمعيت خلاف د حزب اسلامي د باندونو شديد فعاليت د دې سبب شو چي احمدشاه ته د وسلو او مهماتو په رسولو کي کمی راشي. له بلي خوا دسيمه ايزو خلکو ناخوښي چي د احمدشاه د باندونو د فعاليت له امله ورته زيان رسېدلی وو، هم نوموړی د دغسي يوې سولي کولو ته اړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لاس ليك شوي تړون له مخي مسعود خپلو وسله والو باندونو ته امر وکړ چي د حکومتي عسکرو خلاف دي له جگړي نه لاس واخلي او خپل ټول ځواك دي د مخالفی ډلي اسلامي حزب د باندونو خلاف جگړي ته متوجه کړي.

مسعود په بدل کي له موږ نه غوښتل چي شوروي عسکر دي له پنجشير څخه ووځي او له دغي ولسوالی نه دي د افغانستان اردو ته د سرتېرو له جلب نه ډډه وشي."

هغه وروسته په ۲۲۸ صفحی کي داسي ليکي: "د ۱۹۸۲ کال په دسمبر کي چي احمدشاه کومه سوله د شوروي ځواکونو له خوا دهغه د باندونو د بشپړی تباهی له وېری کړې وه، د ۱۹۸۴ تر اپريله اوږده شوه"

بيا ليکي: "روغه جوړه څو مياشتي نوره هم اوږده شوه. د يادولو وړ بولم چي مسعود له ځينو کوچنيو مواردو پرته خپلي ژمني بشپړي سرته رسولې."

گروموف د (کي،جی،بی) د هغو راپورونو په هکله چي د احمدشاه په هکله به ئې مسکو ته لېږل په ۲۲۹ صفحی کي داسي ليکي: "احمدشاه دي د افغانستان له ديموکراتيك جمهوري دولت سره رسمي تماس ټينگولو ته رامات کړي شي، د لومړی گام په توگه دي احمدشاه ته وويل شي چي په زندان کي دخپلو نږدې پلويانو د خوشي کولو په هکله دي د افغانستان ديموکراتيك جمهوريت مشرتابه ته نيغ په نيغه مراجعه وکړي، له احمدشاه سره په اړيکو کي دي زيات زور د هغه له خوا په افغانستان کي د موجوده رژيم د مشروعيت په مستقيمي يا غيرمستقيمي پېژندني واچولی شي"

هغه وروسته په ۲۷۳ مخ کي ليکي: احمدشاه په خپله هم خپل موقعيت ښه پېژاندو او همدې حالت د هغه پرسياست او له شوروي فوځيانو سره د هغه په اړيکو اغېزه شيندله، هغه ښه پوهېدو چي د څه شي د کولو اجازه لري او د کوم شي د کولو له امله به ئې غوږونه تاوېږي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدې کتاب ژباړونکی، پردیس مسافر، د کتاب په پیل کې د "ماشکوفسکي کمسمولیچ" په نامه د مسکو د یوې ډېرې معتبرې ورځپاڼې هغه مرکه رااخلي چې له ایګور باریسوویچ د روسیې د فوځي استخباراتو له مأمور سره ئې کړې او د همدې ورځپاڼې د ۱۹۹۴ کال د اپریل د ۱۳ نېټې په ګڼې کې خپره شوې داسې رااخلي:

خبریال: ایګور بارسوویچ ! په هغو ټولو پېښنو کې څه شي ته د فوځي استخباراتو د ادارې د بریا نوم ورکولی شي؟

ځواب: هره ورځ مو زیار ایستو چې د سر د زیان اندازه تر ډېره حده راکمه کړو. دا نه یوازې ستونزمن کار وو بلکې له ځاني خطره ډك کار وو او ځکه پدې لړ کې د "کوم ستر بري" په ګوته کول آسان نه برېښي... ښه به وي که برې یا ماته په هره ځانګړې پېښنه کې په جلا جلا توګه ولټولی شي.

خبریال: خوله دې ټولو سره سره.

ځواب: زموږ د ادارې کارکونکي کله ناکله پدې بریالی کېدل چې له احمدشاه مسعود سره مخامخ تماس ونیسي.

خبریال: لږ صبر وکړې، لږ صبر وکړې! آیا ستا مقصد دا دی چې ګني احمدشاه مسعود د شوروي فوځي استخباراتو جاسوس وو؟

ځواب: نه، خوکه ټیك خبره رانه غواړې نو هغه زیاته موده په موږ پوري تړلی او زموږ د نفوذ عامل وو، نږدې یو کال زموږ مأمورینو لده سره لیده کاته کول، بېلې بېلې موضوع ګاني ئې ورسره څېړلې او ګډې پرېکړې مو سره کولی او هغه به زیات وخت هغه څه کول چې موږ ورته ویل".

دغه حقایق او دې ته ورته ډېر نور اسرار چې د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته ګڼ شمېر روسي افسرانو او د (کې،جی، بی) غړو او روسي لیکوالانو لیکلي او خپاره شوي او له روسانو سره ئې د مسعود روابط افشاکړي، له حزب

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د ده د جګړو او د کابل رژیم په خلاف د مجاهدینو له عملیاتو سره د ده د مخالفت لاملونه په ښه توګه څرګندوي.

حقیقت دا دی چې د مسکو له پلوه چې تر نن پورې له مسعود سره د پیسو او وسلو کومې مرستې کېږي د دې سلسله د ۱۹۸۲ کال د اوربند له هماغه معاهدې سره سم پیل شوې او تر اوسه ادامه لري.

نجیب په واضح الفاظو دا خبره اعلان کړه چې مونږ د دفاع وزارت څوکۍ مسعود ته خالي پرېښې !!

حسن شرق، د وخت صدراعظم دخپل کتاب " کرباس پوشان برهنه پا ۲۵۲ مخ کې لیکي چې له ګرباچوف سره د لیدنې په وخت کې د مسکو واکمن ده ته وویل: تاسو له مسعود سره په شمال کې د یوې خپلواکې سیمې د جوړولو موافقه وکړې او پدې هکله د ده مرسته وکړې، پدې ترتیب به دی له جګړې نه لاس واخلي، د ده ځینو ملګرو پدې هلکه تمایل ښودلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# روسانو ولې مسعود انتخاب کړ؟!

له ډېرو کسانو سره دا سوال دی چې کې جی بی ولې مسعود انتخاب کړ؟ پداسې حال کې چې هغه د فرانسویانو له خوا مطرح شو او سي آی ای په هغه کارکولو، د یوه منظم فوځ جوړولو لپاره ئې ده ته ځوکاله کافي مالي مرستې ورکولی، پاکستان ئې تل تر فشار لاندې نیولو چې ده ته زیات امتیازات، ډېر وسایل او امکانات ورکړي، اسلام آباد ئې دې ته اړ کړ چې د مجاهدینو په حکومت کې رباني د جمهور رئیس او مسعود د دفاع وزیر په توګه وټاکي او ټول جهادي احزاب د دې خبرې منلو ته اړ کړي !!

هغه کسان چې د غربي آژانسونو، مخصوصاً بی بی سي او امریکا غږ د پراخو تبلیغاتو تر تأثیر لاندې تللي او مسعود د دغو تبلیغاتو په هنداره کې د جهاد د اتلانو په څېره کې ګوري، پدې خبرې پوهېدل ورته ګران برېښي چې څنګه د فرانسې او امریکا د حمایت ترڅنګ، له کې جی بی سره ټینګ روابط جوړوي او د مسکو مرستې ترلاسه کوي. ځیني خو حتی نن هم چې د کې جی بی ګڼ شمېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مأمورینو او په افغانستان کې مستقر، د روسي قطعاتو ګڼ شمېر قومندانانو د خپلو خاطراتو په کتابونو کې دا اسرار افشا کړي او له روسانو سره ئې د مسعود له معاهدو او پټو ارتباطاتو نه پرده اوچته کړې د دې معما له پوهېدو نه عاجز دي.

موږ هم د ۱۹۸۰ـ ۱۹۸۲ کلونو ترمنځ دا راپورونه ترلاسه کول چې مسعود له روسانو نه مالي او نظامي مرستې ترلاسه کوي او د حزب اسلامي په خلاف له روسانو سره ګډ عملیات تر سره کوي، د پنجشیر د شا او خوا جبهاتو قومندانانو له اندراب، ورسج، فرخار، اشکمش، کوهستان، کاپیسا، جبل السراج او غوربند نه موږ ته لیکل چې مسعود په ډېر مقدار کې هغه افغاني خوروی چې روسان ئې نجیب ته ورکوي، په ورته بنډلونو کې او د ورته نمبرونو بانك نوټونه او زموږ په جبهاتو باندې د برید په وخت کې روسي قطعات په هوایي حملو او د توپچی په ډزو سره د ده مرسته کوي او زموږ په ضد ګډ عملیات لري ! ګمان موکولو چې ښایي دا راپورونه د محلي رقابتونو زیږنده وي، نباید جدي وګڼلی شي، خو کله چې موږ ته مؤثق اطلاعات راورسېدل، له روسانو سره د مسعود دتړون کاپی مو ترلاسه کړه، د ده او روسانو د اوربند معاهده د راډیوګانو له لاري اعلان شوه نو د جریان په حقیقت پوه شوو.

روسانو د ضعیف النفسه قومندانانو په اخستلو، د مجاهدینو ترمنځ د شخړو او جګړو راولاړولو، په پوستو او اکمالاتي قطارونو د مجاهدینو د بریدونو په مخنیوی او د پایپ لاین له لاري د تیلو په خوندي انتقال ډېر مصارف کړي، د دې لپاره ئې د مجاهدینو په لیکو کې استخدام شوو ټولګیو ته ضرورت درلود، له ډېرو قومندانانو سره ئې تماسونه نیولي، هغوی ته ئې زړه راښکونکي وړاندیزونه کړي خو له لږو کسانو نه ئې مثبت ځواب اورېدلی، اکثرو منفي ځواب ورکړي. د روسانو سره روغه جوړه او اوربند ئې ملي خیانت ګڼلی او لدې نه ئې په کلکه ډډه کړې، یوازنی معروف قومندان چې له روسانو سره لومړی په پټه او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په څرګنده خبرو آترو ته کښېنستې او د اوربند ننګینه معاهده ئې امضاء کړې مسعود وو. روسانو له مسعود سره د پروتوکول د امضاء او د ده د استخدام لپاره څو محرکات درلودل:

۱ـ ښکېلاکګر غواکونه تل د ملي مقاومتونو د ټکولو لپاره وړې ډلې د لویو په خلاف او اقلیتونه د اکثریتونو په خلاف استعمالوی او د مقاومت په لیکو کې د خپل منځی جګړو لپاره په وړو ډلو پانګه اچوی.

۲ـ له روسانو سره د مسعود څرګند اوربند او له جګړو لاس اخستل، له ټولو هغو پراخو تبلیغاتو سره سره چې غربي آژانسونو د ده لپاره کول د کې جی بی لویه بریا ګڼل کېده چې لږ تر لږه ئې لدې سازش نه پراخه تبلیغاتي استفاده کولی شوی.

۳ ـ په جنوبي سالنګ کې د تونل له خولی نه تر جبل السراج پوري د روسي قطارونو امنیت تأمین کېدو.

۴ـ د حزب اسلامي په خلاف ئې لده نه پراخه استفاده کولی شوی.

۵ـ د پنجشیر جبهه له څلورو خواوو د حزب اسلامي جبهاتو احاطه کړې وه، مسعود له پنجشیر نه د وتلو او په نورو منطقو کې د نفوذ او د پښو ځای موندلو لپاره دې ته ځان اړ ګڼلو چې له حزب سره د جګړې لار غوره کړي، روسانو د ده دا د ضعف نقطه ښه درك کړې وه هیله من وو چې د اوربند، له یوه بل سره د نظامي مرستو او ګډو عملیاتو په اړه به د روسانو وړاندیز ته حتماً مثبت ځواب وایي.

۶ـ حاکم کمونست حزب لا ډېر د مخه خپل مؤثریت له لاسه ورکړي وو، روسان د بدیل په لټه کي وو، د کمونستانو هیڅ ډله د مسکو لپاره بدیل نشوه جوړېدی، غوښتل ئې د مسعود نه د یوه محتمل بدیل په څېر کار واخلي. پدې مطلب هلته ښه پوهېدی شو چې د هغه روسي هیئت د رئیس وینا ته ځیر شو چې په کولاب کې ئې له رباني او ملګري هیئت سره لیده کاته درلودو او هغه ته ئې په خپل خطاب کې وویل: "ښاغلې استاده ! مسکو په خپلو مخکنیو اشتباهاتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراف کوي چې کمونست حزب ئې انتخاب کړ او له نجیب نه ئې ملاتړ وکړ، تاسو تر نجیب نه مسکو ته ډېر غوره او مفید وئ!!"

د دې لپاره چې له روسانو سره د مسعود په ژورو اړیکو او پدې کار د کې جی بی ترکیز او پانګې اچولو له اهدافو نه ښه خبر شو، د یوه امریکایي آزاد او مستقل لیکوال، بروس ریچاردسن له هغه کتاب نه څه اقتباسات کوو چې د افغانستان په هکله ئې لیکلی، د افغان ولس په نامه ئې اهداء کړی، نوم ئې (افغانستان د شوروي وېرونکي تسلط پای ته رسوونکی) دی، دا کتاب په انګلیسي لیکل شوی او په دري ترجمه شوی، د کتاب لیکونکی د کې جی بی او په افغانستان کې د روسي قطعاتو د لوړ رتبه افسرانو په ډېرو لیکنو استناد کوي او ډېر په زړه پوري اسرار ئې افشا کړي. بروس ریچاردسن د خپل کتاب په هکله لیکي: ما د دې کتاب په لیکنې کې د بوریس بی ګروموف (د روسي فوځونو د ۴۰ نمبر قول اردو قومندان) او د لیوند شیبارشین (د کې جی بی د لومړۍ شبکې رئیس) د خاطراتو له کتابونو نه استفاده کړې او د مسعود او په افغانستان کې د مېشت روسي افسرانو ترمنځ د تړون تفصیلات مې ترلاسه کړي. د دوی په کتابونو کې د روسي فوځونو د عملیاتو تفصیلي معلومات موندلی شو، دا معلومات چې د افغان شوروي ټول جنګ احتواء کوي، که د مخابرو راپورونه دي، که پټ اوراق او اسناد او زما د دې کتاب د لیکنې نه څه موده د مخه د اسرارو له دوسیونه راوتلی او منتشر شوی. ما له لاندنیو آثارو نه استفاده کړې:

- "دسپاهیانو کیسه"او "روسي فوځیانو د جګړو خاطرې په یاد دي" د هانیاما، لیپانن او ویور چنګو آثار.
- "په افغانسان کې عام سیاسي قتل" د روزان کلاس اثر.
- "افغان ځواکونه او روسي سپتناتز" د محمد حسن کاکړ، بروس آمستوتز، الکساندربنګسن او ایلی کراکراسکي آثار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او د خاطراتو هغه کتابونه چې د روسي قطعاتو مهمو افسرانو ليکلي لکه د الکساندر فوتودوف او پروفيسور اناتولی سودوپلاتوف خاطرات چې د جګړو په هکله لومړني معلوماتونه ورکوي. خو کوم کتابونه چې "د اسنادو د ساتني مرکز" له خوا په مسکو کې نشر شوی، د پېښو د تفصيلاتو او په هغو کې د بېلابېلو څېرو ونډه او د رسمي ملاقاتونو راپورونه نشر شوي ډېر ارزښتناك دي.

هغه ليکي: پداسي ټولنو کې چې ګڼ مليته دي، پدوی د حکومت کولو لپاره روسانو تل د بېلابېلو قومي، اجتماعي او مذهبي ټولنو ترمنځ اختلافات راولاړ کړي، د ځواکمن په خلاف ئې د ضعيف ټولګي مرسته کړي، لکه چې د ققفاز په جګړو کې د تزاری دولت مشرانو د "کباردی" او "کوميك" له قومونوسره د "آوار" او "چيچين" د ولس پرضد مرسته وکړه او د مسيحي" اوستانيانو" په مقابل کې د "ديګور" د قبايلو او د آذربايجاني مسلمانانو په خلاف ئې د ارمني مسيحيانو ملاتړ وکړ. د تزاری دولت له تجربو نه کمونستو بلشويکيانو استفاده وکړه، په ۱۹۱۸ ميلادی کال کې د "بشکريانو" نه ئې د خپلو ځواکونو او جنګياليو رقيبانو (تاتاريانو) په وړاندي حمايت وکړ، په ۱۹۲۰ کې ئې د ققفاز په شمال کې د"دآلين" په مقابل کې له "آواريانو" او د چيچينيانو" په خلاف له "انګوشيانو" نه دفاع وکړه، د قزاقستان په کورنيو جګړو کې ئې يوه ډله کوچيان اغوا کړل او له هغوی نه ئې د نورو په ضد کارواخيست "وګورئ: بنګسن ۳ مخ"، همدا کار دوی په خوارزم او فرغانه کې وکړ، "اوزبك" او "قره کالپيتك" ئې د ترکمنانو په خلاف استعمال کړل او له تاجيکانو" نه ئې د باسمچی خوځښت د ټکولو لپاره استفاده وکړه، باسمچيان هغه چريکي مبارزين وو چې د خوقند له سقوط نه وروسته دبلشويکيانو په خلاف د مبارزی ډګر ته راووتل.

شورويانو داسي انګېرله چې په افغانستان کې د مختلفو قومي او مذهبي ډلو ترمنځ د شخړو د راولاړولو کافي امکانات شته، کولی شي د پښتنو مختلفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبیلی، یوه د بلې په خلاف، شیعه د سني په ضد، اسماعیلی فرقه د شیعه او سني په خلاف او ښاریان د کلیوالو او بزګرانو په ضد راوپاروی، خو روسان پداسي محیط کي راګیر شوی وو چي د ټولني له فکری او اجتماعي جوړښت سره نابلده وو او د یوې داسي موفقی ستراتیژی په جوړولو ونه توانېدل چي وکولی شي خپل دښمنان تجزیه کړي او د یوه بل په خلاف ئې وجنګوي.

بروس لیکي: خو یوه ډېره جالبه استخباراتي هڅه هغه وه چي په افغانستان کي د شوروي استخباراتي ډلو، د پنجشیر له قومندان، احمد شاه مسعود سره د یوې پټې معاهدې په اړه درلوده او پدې هڅي کي ډېر ژر بریالی شول. مسعود د / ۳۵۰۰۰۰ ډالرو غوښتنه وکړه، چي د ۱۹۸۳ کال د فروری په میاشت کي، په معاهدې د امضاء په مقابل کي ئې ترلاسه کړل "وګورئ د فوتودوف کتاب".

دا دوهم تړون وو چي په یوه بل د عدم تعرض په اړه مسعود له روسي افسرانو سره امضاء کړي وو. لومړی تړون د ۱۹۸۲ کال د جون په میاشت کي ترسره شوی وو، چي د پیسو د ترلاسه کولو نه علاوه د ده درې نوري غوښتني هم منل شوې وې:

- له روسي چارواکو سره مخامخ او مسلسل تماس"د ببرك كارمل د حکومت په ځای".
- له خپلو دښمنانو سره د مقابلې لپاره له روسانو نه مالي او نظامي مرستي ترلاسه کول.
- په پنجشیر د ده سلطه. "وګورئ: امستوتز: ۲۹۲ مخ".

کله چي استخباراتي مأمور، فرانز کلنسوویچ، خپل مافوق نظامي افسر، ډګروال واستروتین ته اطلاع ورکړه چي مسعود د شوروي له فوځ سره د فعال او منظم ارتباط غوښتونکی دی، ده ته وویل شوو: دا یوه مهمه استخباراتي کودتا ده، خاص استراتیژیك اهمیت لري، تا ته ئې د دې کودتا په خاطر د "شجاعت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتلوالی نشان" سپارښتنه کړې!!

کلنسوویچ له مسعود سره د خپلي لیدني په هکله لیکي: خپل منځی اختلافات تل موږ ته ګټور وو، ما هم دې لوري ته پاملرنه وکړه، موږ ( ما او مسعود ) په یوې بې طرفی منطقې کي، په یوې داسي لوړی له یوه بل سره ولیدل چي له هغه ځایه موږ دواړو، ټوله هغه ساحه لیدلی شوه کوم چي مسعود غوښتل د ده تر ولکې لاندي وې. بیا هغه د شپې په تیاره کي زما ځای ته راغلی او تړون مو امضاء کړ. د دې تړون له مخي به هغه په خپلي منطقې کي د روسانو او د کابل حکومت پر فوځونو له حملو نه ډډه کوي، له هر هغه پیلوت سره به مرسته کوي چي طیاره ئې د ده په منطقې کي راپرېوزی او موږ به په پنجشیر کي د ده په چارو کي مداخله نه کوو او له ده سره به د پیسو، وسلو، مهماتو، خوراکي موادو او طبی وسائلو مرسته کوو. دې ته ورته معاهدې د رسمي هدایاتو له مخي له هغو مخالفینو سره تړل کېدی چي له روسي فوځونو سره تړون او ملګرتیا ته چمتو کېدل. هدف ئې دا وو چي د لویو نظامي عملیاتو او بې ځایه تلفاتو مخنیوی وشي. وګورئ: د "شوفیلد کتاب-غوره شورویان ۱۱۳-۱۱۴ مخ".

واستروتین وایي: د شوروي ځواکونو ۳۴۵ فرقې له مسعود سره د اوږدې مودې لپاره ټینګي اړیکي درلودی او د یوه بل مرسته ئې کوله، د ده په ملګرتیا مو ډېري هغه جهادي ډلي وټکولې چي په نورو تنظیمونو پوري تړلې وې او د ده لومړی درجه دښمنان ول. "وګورئ: شوفیلد: غوره شورویان: ۱۱۳-۱۱۴ مخ".

دګروال واستروتین، هغي استخباراتي ټولګي ته چي د فرانز کلینسوویچ تر اشراف لاندي ئې کارکولو د " شاملون" نوم ورکړی وو، دا ټولګی چي له څه مودې کارنه وروسته، د ۳۴۵ فرقې په یوه فعال او قوي متې بدل شوی وو، په اصل کي د شوروي اتحاد له پوهنتونونو او انسټیټونو نه فارغ شوي افراد وو چي عمر ئې اکثراً له ۲۰ کلونو نه زیات او اکثراً تاجیك او اوزبك وو خو په پښتو، دري او هندي ژبو هم بلد وو، د افغانانو له دود دستور سره آشنا وو او پدې هکله تر نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



روسي افسرانو ډېر مخکې وو.

له افغاني ډلو سره دا راز معاهدو پدې خاطر روسانو ته اهمیت درلود چې پدې سره مو لږ تر لږه دا هدف ترلاسه کولی شو چې نظامي اکمالاتي قطارونه، د کابل ـ حیرتان د لویې لارې له ځینو برخونه په پوره ډاډ او اطمینان تېرکړو، دغې لویې لارې موږ ته حیاتي اهمیت درلود.

کلنسوویچ چې افغانانو د کپتان فرانز په نامه پېژندو له مسعود سره د خپل لومړني تماس په اړه لیکي: ما ته ډېره گرانه وه چې داسي څوك پيدا کړو چې مسعود ته زما د پیغام رسولو ته تیار شي، قاصدانو د ده له غبرگون نه او د نورو ډلو له عکس العمل نه تشویش درلودو." وگورئ: شوفیلد ۱۱۲ مخ".

مسعود پداسي موقعیت کې وو چې که دی داسي یوه تړون او معاملې ته تیار شي، نورو ډلو ته لار پرانستل کېږي او د هغوی دې کار ته تشویقول آسان کېږي. واستروتین استدلال کولو چې له مسعود سره داسي یو تړون په حقیقت کې یوه ارزښتناکه او استراتیژیکه سیاسي کودتا ده، پکار ده چې د سپتسپروف استخباراتي ټولگي ته پوره صلاحیت او کافي امکانات ورکړی شي ترڅو له مسعود سره د لازیاتو تعهداتو او مزید منظمو اړیکو شرایط برابر کړي "وگورئ د سودو پلاتوف خاطرات".

کلنسوویچ د خپل هغه پیغام تفصیلات چې مسعود ته ئې لېږلی وو داسي لیکي: غواړم پدې خبره دي خبرکړم چې زه حاضریم هرځای او هرکله چې ته وغواړې له وسلې نه پرته ستا لیدو ته درشم!!

هغه چا ته چې زما دا پیغام ئې مسعود ته ورسولو، شپږ کامازه اوړه، غنم، وریځې او کالی مو ورکړل، جواب ته سترگې په لاري وم، چې ناڅاپې راورسېدو او په هغه کې ده له ملاقات او د یوې معاهدې له عقد سره موافقه کړې وه "وگورئ: شوفیلد: غوره شورویان: ۱۱۳مخ".

(c) ketabton.com: The Digital Library



"شاملون" د مواصلاتي لارو د امنيت په تأمين او کابل ته د کاروانونو په روغ رمټ رسولو کې ډېر مؤفق وو، له ګڼ شمېر پروتوکولی قومندانانو مخصوصاً مسعود سره د نه تعرض له معاهداتو نه ډېر راضی برېښېدو، په حقيقت کي دا يوه لويه او ستراتيژيکه سوبه وه چي په آساني او ارزان قيمت روسانو ته په لاس ورغلی وه او پدې توانېدلی وو چي د پروتوکولی قومندانانو اعتماد او صادقانه ملګرتيا ترلاسه کړي. "وګورئ: شيبارشين: ۱۸۰ مخ".

هغه ليکي: د "ايوان شاملوف" هغه روسي سپاهی چي د جګړي لپاره افغانستان ته لېږل شوی وو، شفاهی شهادت دا حقيقت افشاء کوي چي څنګه د مقاومت په ليکو کي ځينو کسانو، شورويانو ته دا شرايط برابر کړل چي له شمال نه تر کابل پوري د هغې لويې مواصلاتي لاري امنيت تأمين کړي چي نه يوازي اوږده او طولاني وه بلکي له غرنيو سيمو نه تېره شوې وه." شاملوف وايي: زما نوم ايوان شاملوف دی، زه په ۱۹۸۷ کال کي افغانستان ته ولاړم او په ۱۹۸۹ کال کي له وروستی قطعی سره بېرته خپل هېواد ته ستون شوم، زه له لنډې نظامي روزني نه وروسته افغانستان ته ولېږلی شوم، زموږ د روزني موده دوه مياشتي وه، ما ته د ماشينګنې د استعمال روزنه راکړې شوه، له دوو مياشتو نه وروسته زموږ د قطعی مربوط ټولګی د افغانستان په لوري وخوځېدل، لومړی ټولګی بيا دوهم او بيا دريم، ۲۰ نفره پاتې وو، موږ ته وويل شول چي له پاتې کسانو نه يوه نمونه قطعه جوړېږي ترڅو د فوځ جنرالانو ته وښيو چي لېږل شوو فوځيانو ته څنګه روزنه ورکړې شوې. خو ډېر ژر معلومه شوه چي يو بل بلوك هم بايد ولېږلی شي، له پاتو دېرشو کسانو څخه لس کسيز ګروپ انتخاب شو، زه هم پدې ډلګي کي وم، د کاماز په ذريعه مو د ترمز له لاري د افغانستان په لوري سفر پيل کړ، موږ ته ويل شوي نه وو چي چيرته لېږل کېږي، دګمرك په دفتر کي راته معلومه شوه چي کندز ته درومو، خو په پای کي تاشقرغان ته ورسېدو! دا زما د کار لومړی ساحه وه، وروسته څو نورو سيمو ته د کار لپاره ولېږلی شوم... د شوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوځونو له وتلو نه د مخه زموږ قطعه د ۲۰۱ فرقې په ساحه کې چې بغلان او سمنگان ته څېرمه واقع وه په عملیاتو لگیا وه، مسعود دلته ځیني چریکي گروپونه درلودل، لدې ټولگیو سره زموږ اړیکو په زړه پوري بڼه غوره کړې وه، دوی به زموږ مرکز ته راتلل، زغره والو موټرو په سربه د یوه بل خواته کښېنستلو او په گډه به مو سگرټ دودول، حقیقت دا دی چې د مسعود گوریلایانو روسي فوځیانوته هیڅ نه ویل، موږ ئې خپل کارته آرام پرېښودلو خو د کابل حکومت فوځیان به ئې ځورول. "وگورئ د حسیني کتاب"

پدی منطقې کې، دلویې لارې په امتداد کې دوه پایپ لاینونه غزول شوي وو، چې ډیزل او تیل خاك پکې انتقالېدل، موږ د مسعود د ټولگیو سره دا تړون درلودو چې په ښارونو او سړکونو به موږ د پایپ لاین امنیت ساتو او غرنۍ سیموکې به دوی دا کارکوي، د دې کار په مقابل کې به موږ هره میاشت څو ټنه اوړه او یو ټانکر تیل دوی ته ورکول.

تر هغه ځایه چې زما په یاد دي زموږ له خوا زموږ د فرقې قومندان او د مجاهدینو له خوا د دوی قومندان "مسعود" دا تړون امضاءکړي وو، زموږ اړیکي د مسعود له گوریلایانو سره هومره ښې او خوندوري وې چې د دوی آمران به ډله ډله زموږ د قطعې قومنداني ته راتلل، موږ به مجللي مېلمستیاوی ورته برابرولی، مسعود او زموږ د قطعې قومندان په خپلو منځونوکې تعهد کړي وو چې یوه بل ته به تاوان نه رسوی، لدې تړون نه وروسته زموږ ژوند ډېر سوکاله، له جگړو لېري تېرېدو "وگورئ: هایناما، لیپاتین او یورچنگو: له ۱۱۵ تر ۱۳۳ مخ پوري."

د مقاومت په ټکولوکې د روسانو تکتیك دا وو چې له یوې خوا به ئې ستر فوځي عملیات تر سره کول، یوه لویه سیمه به ئې محاصره کړه، کوتلونه، لوړی او د تلو راتلو لارې به ئې ونیولی او د مجاهدینو حامي کلی به ئې محاصره او تر شدید اور لاندې ونیول، کلیوال به ئې هومره وځپل چې بیا څوك له مجاهدینو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرستي او ملګرتیا جرأت ونکړي. له بلي خوا به ئې د رشوت له لاري د مجاهدینو ځیني ټولګي له نورو سره جنګول، د کابل حکومت هم ډېر کسان واخستل او له دوی نه ئې "پلاروطنه جبهه" جوړه کړه، د مجاهدینو ترمنځ به ئې ډېري خونړی جګړي (چی په اصل کي د روسانو د استخباراتي شبکو کار وو) په درواغو ځان ته منسوب کړي... له نورو مجاهدینو سره د مسعود خونړۍ او ستره جګړه پدې منتج شوه چي نوموړی له روسي چارواکو سره سازش ته ملا وتړی او لدوی سره داسي یوه معاهده امضاء کړي چي د هغې له مخي به نورو تنظیمونو ته اجازه نه ورکوي چي په روسي فوځونو او د کابل حکومت په قطعاتو او پوستو حمله وکړي. " وګورئ: شیبارشین: ۱۷۷ـ ۲۱۴ مخ"

شیبارشین د خپل کتاب په همدې برخي کي لیکي: په همدې وخت کي مسعود، د شوروي قواوو د قومندان په غوښتنه د یوه داسي تړون امضاء ته تیار شو چي د ۱۹۸۴ کال د اپریل تر ۲۱ ئې دوام درلود، د دې تړون له مخي مسعود ژمنه کړې وه چي د روسانو په خلاف به له هر راز مخاصمانه تبلیغاتو نه ډډه کوي، د روسي فوځونو او د کابل حکومت د قطعاتو په ضد به خپل عملیات متوقف کوي، نورو جهادي ډلو ته به اجازه نه ورکوي چي د ده په سیمي کي داسي عملیات ترسره کړي، ده دا خبره هم ومنله چي د پنجشیر مهاجرین کولی شي بېرته خپل کورکلی ته راستانه شي او یا د پنجشیر نه کابل او د دولت تر تسلط لاندي نورو ولایاتو ته ولاړ او هلته مېشت شي، ده ژمنه کړې وه چي د پنجشیر په درې کي مستقر د روسانو او کابل حکومت په قطعاتو به هیڅکله حمله نه کوي، خو مسعود د تړون پدې موده کي د کابل له حکومت سره د مخاخ خبرو نه ډډه کوله او دې ته ئې ترجیح ورکوله چي خبري او اړیکي ئې مخامخ له روسي چارواکو سره وي !! د ده لدې دریځ نه په څرګنده معلومېده چي دی او د جمعیت مشرتابه له روسي چارواکو سره د یوه ځانګړي سیاست پلوي کوي او غواړي چي له نورو ډلو نه بېل په مستقل طور تفاهم وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جمعیت چارواکو له روسي فوځونو سره له جګړې او له نظامي مقابلې نه د ځان ساتلو سیاست ته دوام ورکړ او د دې هڅه ئې کوله چې د روسي فوځونو له وتلو نه وروسته مرحلې ته ځان چمتو کړي، د دوی په خلاف د روسي فوځونو عملیات هم متوقف شول، خو کله ناکله به ئې داسي حرکات کول چې دوی ته دا وښيي چې شوروي به د توافقاتو له روحیې نه هیڅ ډول تخطی او انحراف ونه زغمي.

## د مسعود او ۴۰ نمبر فرقې ترمنځ تړون

د شوروي اتحاد استاځو هڅه وکړه چې له مسعود سره اړیکي ټینګیکړي او د شوروي له حکومت سره د ده ملګرتیا ترلاسه کړي، د شوروي فوځ اعلی قومندان، د نجیب له موافقې نه وروسته د اعتدال خوښوونکو له لاري له مسعود سره تماس قایم کړ او د مذاکری لپاره ئې لاندي آجندا چې په کابل کي د شوروي د سفارت مهر ورباندي وهل شوی وو، تیاره کړه:

سند: له مسعود سره د مذاکری آجندا:

۱ـ د تاجك مېشته داسي سیمو تأسیس چي د متحده افغانسان په چوکات کي به نسبی خپلواکي لري، په بدخشان، تخار، کندز او د پروان په ځینو سیمو کي به خپلواکه حکومتونه جوړېږي.

۲ ـ ده ته د تاجك قوم د تمثیل حق ورکول او په دولتي اداراتو او د جمهوري ریاست، پارلمان او کابینې په تشکیلاتو کي دوی ته مناسبه برخه سپارل.

۳ ـ د رباني اسلامي جمعیت د یوه مستقل سیاسي ګوند په حیث په رسمیت پېژندل او هغه ته مساوی حقوق منل.

۴ ـ د تاجك قوم لپاره د جمعیت اسلامي تر اشراف لاندي منظم فوځي ځواك جوړول او په دولتي ادارو کي د هغه شاملول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې نظامي ځواك د جوړېدو اهداف او مقاصد به د ملي ګټو په اړه او د حکومتي اهدافو په ارتباط، د کابل حیرتان لويې لارې د حفاظت په شمول د مذاکراتو په ترڅ کې تعریف کېږي.

**۵.** د تاجك قوم د خپلواکو سیمو په داخل کې د سولې تأمین او د دې سیمو ولس ته د عادي ژوند د اعادې شرایط برابرول.

**۶.** په شمال ختیځ افغانستان کې اقتصادي انکشاف، پدې هکله د دولت له لوري مرستې، همدا راز څو اړخیزه مرستې په مالي، نظامي او نورو برخوکې او همداراز د سرحدي تجارت د انکشاف په اړه.

هغه ټکي چې ما پدې سند کې ځای کړي، د شوروي اتحاد لوی سفیر دا ټکي د افغانستان د جمهوري ریاست له نظره تېر کړي او د هغوی موافقه ئې ترلاسه کړي.

مسعود ما ته په ځواب کې دا پیغام راولېږو چې پدغو موضوعاتو د خبرو لپاره تیار دی او لده سره هم د مذاکراتو لپاره ځیني نور وړاندیزونه شته. د شوروي اړخ استاځي له وسلې او محافظ نه پرته هغه ځای ته لاړل چې د مذاکراتو لپاره ټاکل شوی وو. ورنتسوف او جنرال وی. ای وانیکوف پدې هیئت کې شامل وو، د مذاکراتو په ترڅ کې مسعود ته وویل شو چې یا دې له حکومت سره کوم تړون امضاء کړي او په ګډه دې د کابل ـ حیرتان لویې لارې امنیت وساتي او یا دې یوازې د خپلو قطعاتو په ذریعه د دې لارې امنیت تأمین کړي او تحریری تضمین دې ورکړي چې د اردو قطعاتو او قطارونو ته به پدې ساحه کې هیڅ راز مزاحمت نه راولاړېږي" وګورئ: شیبارشین: ۱۷۷ ـ ۲۱۴ مخونه."

## د تړون مسوده

د هغې معاهدې د مسودی متن چې د شوروي ځواکونو د قومنداني او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنجشیر د مسلح ډلي ترمنځ ورباندي بحث شوی دا وو:

د افغانستان له سولي او ثبات سره د رغبت په وجه او پدې هېواد کې د سولي د تأمین لپاره د ترون دواړه خواوی دا پروتوکول امضاء کوي او د هغې له مخې لاندي مکلفیتونه په غاړه اخلي:

۱- په جنوبي سالنگ او د حیرتان - کابل لويې لاري ته څېرمه سیمو کې د نظامي عملیاتو کامل توقف او د جمعیت اسلامي په لوري پوري مربوطو سیمو او د شوروي اردو ، د کابل حکومت ځواکونو ، سرحدي محافظینو او په څارندوی پوري مربوطو کلو ، پوستو او قطعاتو باندي له هري وسلې نه د هر راز ډزو قطع.

۲- د پنجشیر مسلح قطعات به د لويې لاري د هغې برخې امنیت ساتي چې له تاجکانو (د جبل السراج یوکلی) نه تر چوگنی ( د سالنگ تونل ته نږدې کلی) پوري غزېدلی، پدې ساحی کې به د شوروي فوځونو او کابل حکومت په خلاف د ډزو ، برید ، غلا ، شوکو او هر راز خصمانه عملیاتو د مخنیوی تضمین کوي.

۳- د شورویانو اړخ تعهد کوي چې د دې ترون له مخې به لازم مقدار وسائل او تجهیزات او د اړتیا وړ مواد د همدې ترون د مودې په جریان کې سپاری ترڅو د پنجشیر او د سالنگ مشخص شوو سیمو اړتیاوي رفع کړي.

۴- د نورو تنظیمونو مجاهدینو ته به اجازه نه ورکول کېږي چې پدې ترون کې ټاکل شوو سیمو ته ننوځي او د شوروي ځواکونو او کابل حکومت په خلاف عملیات وکړي او یا پایپ لاین تخریب کړي، که د نورو ډلو له خوا د داسي عملیاتو هڅه وشي د شوروي ځواکونه به دې ته تیاروی چې د پنجشیر د مسلح قطعاتو له غوښتني سره سم په توپچی او هوایي بریدونو د دوی مرسته وکړي.

۵- د هغو روسي اتباعو د موندلو لپاره گډې هڅې او د معلوماتو تبادله کوم چې پدې ترون کې ټاکل شوو سیمو کې ورك شوي.

۶- د دې ترون ساحه له تاجکانو نه تر چوگنی پوري د لويې لاري دواړو خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو تر ۳۰ کیلومتری پوري اعتبار لري. لدې ساحې نه آخوا، روسي ځواکونه او د پنجشیر مسلح ډله دا حق لري چې د هغو قطعاتو او وسله والو ډلو د ختمولو لپاره نظامي عملیات تر سره کړي چې د روسي فوځونو او د پنجشیری قطعاتو په خلاف ئې خپل نظامي عملیات ندي متوقف کړي.

۸ـ دا تړون له امضاء نه وروسته فوراً عملي کېږي.

د اطلاعاتو منبع: په افغانستان کې دشوروي قواوو د نظامي عملیاتو گروپ ـ د ۱۹۸۸ کال د دسمبر میاشت.

دا سند جنرال وی بی گروموف، د شوروي اتحاد د دفاع وزیر، شهنواز تنی او احمد شاه مسعود- امضاء کړي. شیبارشین: ۱۷۷ـ ۲۱۴ مخ.

د وروستي تحلیل له مخې، شاملون (د ۴۰ نمبر قول اردو استخباراتي مرکز) لدې توافقاتو نه ځیني خاص نتایج ترلاسه کړل، په ۱۹۸۲ کال کې مونږ پدې بریالی شوو چې له مسعود سره تماس ونیسو او یوه توافق ته ورسېږو، دا توافق د شوروي فوځونو تر وتلو پوري په خپل حال پاتې شو. وگورئ: گروموف:محدود قطعات: ۱۸۸ ـ ۱۹۷ مخ

هغه لیکي: بیا هم د توجه وړ بریاوی د روسانو په برخه شوې، د شوروي تهاجم د لس کلن جنگ په بهیرکې، د اوربند تر ټولو مهمه موافقه هغه وه چې د ۱۹۸۲ کال د فبروری په میاشت کې له مسعود سره تر سره شوه. د دې موافقې له مخې د پنجشیر مجاهدینو د مسعود تر قوماندې لاندې دا ژمنه کړې وه چې په روسي او د کابل حکومت په قطارونو به ډزې او حمله نه کوي او د نورو جهادي ډلو د حملو مخه به نیسي. له روسانو سره د مسعود همدې معاهدې، د حکمتیار له حزب اسلامي سره د مسعود اختلاف راوپاراوو چې تر نن پوري دوام لري، مسعود د ۴۰ نمبر قول اردو د وسائلو په حمایت او مرسته په مسلسله توگه د حزب اسلامي په سپاهیانو بریدونه کړي او مرگ ژوبله ئې وراړولی. "وگورئ: د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسيني کتاب "

دا معاهده دواړو خواوو ته گټوره وه، شوروي قواوو ته د سالنگ لويه او حياتي لار، چې ډېر ژر او په آساني تاوان منونکې وه، د دې معاهدې له مخې خوندي شوه او مسعود ته ئې د دې امکان ميسر کړ چې خپل ځواکونه اکمال او منظم کړي او له هغو وسلو او پيسو نه په استفادی سره چې روسانو ده ته ورکولی د خپل نظامي قدرت بنسټ مزيد ټينگ کړي، ... روسانو دا ژمنه کړې وه چې د هغه تجارتي اموالو د ټولي بيې د پنځمي برخي برابر پيسې به ده ته ورکوي پدې شرط چې دا اموال د سالنگ له لاري کابل ته خوندي ورسېږي. "وگورئ: روبين: ۱۵۹ مخ".

د دولت هڅې د قومندانانو او سرحدي قبايلو د اخستلو په لارکې تل بريالی نه وې، د مثال په توگه په ۱۹۸۰ کال کې د سرحداتو وزير فيض محمد د دې لپاره چې د ځدراڼو قبېله له دولت سره ملگرتيا ته چمتو کړي اته ويشت زره ډالر ئې د دې قبېلی مشرانو ته د رشوت ورکولو لپاره له ځان سره يوووړل، پدې هکله له نوموړو مشرانو سره مخکنۍ موافقه شوې وه، خو د دې قبېلی سرتېرو نوموړی وزير او د ده دوه ملگري ووژل او پيسې دوی ته په لاس ورغلی.

د سياف د ډلي يوه قومندان له کابل نه رشوت ترلاسه کړ او له رژيم سره ملگری شو خو د ده د جبهې اکثر مجاهدين لده نه بېل او له بلې ډلي سره ملگري شول.

پروفيسور روبين (د امريکا او سېدونکی) د ۱۹۸۸ کال د فبروری په مياشت کې د ننگرهار ديوه قومندان له خولی ليکي چې د خاد مأمورينو ده ته د ډېرو پيسو وړانديز وکړ ترڅو د روسانو ملگرتيا وکړي خو هغه وايي چې ما د دوی په مخ تو کړل، دوی گمان کوي چې جهاد يو تجارت دی !! " وگورئ: روبين: ۳۳۲ مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګروموف پدې هکله چې د دوی استخباراتي اداره څنګه وتوانېده چې د رشوت له لاري ضعيف النفسه قومندانان استخدام کړي او په ځينو سيمو کي مقاومت تضعيف او د مجاهدينو عمليات په تپه و دروی ليکي: د دې تکتيك د برياوو خاصي بېلګي په دوو ستراتيژيکو سيمو، بغلان او پروان کي ليدلی شو، له کومو نه چې د کابل او شوروي اتحاد تر منځ غزېدلی حياتي لار تېرېده، په پروان کي د تعجيز او اغوا (د ځپلو او په پيسو اخستلو) سياست هومره برياوی درلودی چې يوه غربي خبريال په ۱۹۸۳ کي د دې ولايت په هکله راپور ورکړ چې دلته مقاومت کاملاً فلج شوی. وګورئ: ګروموف: ۱۱۸ـ۱۹۷ مخ"

پروفيسور الکزاندر فيدوتوف له راډيو پيام آزادي سره په خپلي مرکې کي وايي: روسان لا تر اوسه په افغانسان کي خپلو مخفی عواملو نه ګټې اخستو ته دوام ورکوي ترڅو په خپلي بربنډی لاس وهني پرده واچوی.

بروس ريچارد سن ليکي: له جګړې نه د مخه، پښتانه د افغاني ټولني، ۴۰ـ ۵۰ په سلوکي وو، دوی توريالي، جنګيالي او آزادي غوښتونکي دي، له تاريخي لحاظه هيڅکله د پرديو سلطې ته ندي تسليم شوی، د بل چا سلطه ئې نده منلی، دوی پدې هېواد حکومت کولو، د سکندر له زمانې نه ترنن پوري دوی پدې هېواد خپل خاص هويت او سليقه تحميل کړي. "وګورئ: کارو ۱۳۴ ـ ۱۳۵ مخ"

پښتانه د آمو دريا شمال ته مېشت قومونو سره قومي او ژبني اړيکي نه درلودی، د همدې لپاره روسانو ته غير قابل هضم پاته شوي. روسانو د افغانستان د نيولو لپاره د پښتنو مهاجر کول او لدې هېواده ايستل ضروري ګڼل، همداراز پاکستان ته د دغو پښتنو هجرت په هغه هېواد کي د عدم استقرار باعث کېدو، ځکه هلته د پښتنو يوه لويه برخه، له کلونو کلونو راديخوا، د بېلېدو او استقلال هڅه کوي، روسان ئې تشويقوي او د کابل حکومت ورسره مرسته کوي: "وګورئ: کلاس: ۱۳۰ ـ ۱۳۱ مخ"

که څه هم د افغانستان د ټولو سيمو اوسېدونکي د روسانو له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځورېدلی خو د روسانو معامله له پښتنو او غیر پښتنو سره ډېر توپیر درلودو، که څه هم د وېرې اچوني نظامي عملیات د ځینو نورو سیمود تخلیې لپاره هم تر سره شوي خو د روسانو عمومي ستراتیژی دا وه چې پښتون مېشته سیمې تخلیه کړي او لدې لارې د افغانستان اجتماعي جوړښت تبدیل کړي، چې پدې سره ئې په آساني کولی شوی دا مهمه او ستراتیژیکه سیمه د مرکزي آسیا له اشغال شوو جمهوریتونو سره یو ځای کړي، دا ځکه چه افغاني تاجکان، ازبکان او ترکمنان د پولی آخوا خلکو سره قومي او ژبني اړیکي لري او په آساني له هغوی سره یو ځای کېدی شي، دا کار د مسعود په لاس چې له یوې خوا تاجك وو او له بلې خوا د روسانو یو پروتوکولی قومندان، په آساني تر سره کېدی شو. "وگورئ: فودوتوف خاطرات"

د هغې احصایې له مخې چې پاکستاني او ایراني حکومتونو ترسره کړې د افغاني مهاجرینو شمېر شپږ ملیونو ته رسېدو چه مطلق اکثریت ئې پښتانه وو. وگورئ: د کلاس اثر: ۱۳۰-۱۳۳ مخ

د دوی د مهاجر کولو لپاره له مختلفو لارو چارو نه استفاده کېده، په کلو ئې بمونه ورول، د تیښتي په حال کي کلیوال به ئې د هلیکوپترو په ذریعه تعقیبول او وژل، فصلونو ته ئې د ریبلو په وخت کي اور اچولو، باغونه ئې له بیخه ایستل، رمې ئې ورته وژلې او د دې لپاره چې خواره شوي کلیوال بېرته خپلو کلیو ته راستانه نشي نهرونه، څاگاني او کاریزونه به ئې ورانول، دا د دوی پرېکړه وه، پدې پوهېدل چې د کلیوالو ژوند په زراعت متکي دی د اوبو نه پرته پدغو سیمو کي ژوند نشي کولی. وگورئ: کلاس: ۱۳۰-۱۳۳ مخ

د ۱۹۹۰ کال تر نیمایي پورې د افغاني مهاجرینو شمېر هومره وو چې د دنیا د ټولو مهاجرینو نیمایي دوی وو. افغانستان تقریباً له نیمایي نفوس نه محروم شوی وو خو د روسانو حملې لاهماغسې رواني وې ترڅو د یو شمېر پاتې کلیو اوسېدونکي هم وتلو ته اړ کړي. په جنوب کي د پښتنو تقریباً ټولې سیمې تخیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا تخریب شوې وې. د مثال په توګه د کندهار نفوس چې د هېواد دوهم ستر ښار وو او اکثریت اوسېدونکي ئې پښتانه دي، له ۲۵۰۰۰۰ نه ۳۵۰۰۰۰ کسانو ته راکوز شو، اکثره سیمې ئې تخلیه شوې. همدا راز هغه غربي سیاحان چې د لوګر دره ئې په ۱۹۸۵ کې لیدلې وه، په ۱۹۸۶ کې ئې همدا دره له اوسېدونکو خالي وموندله.

ننۍ روسیه د پروني شوروي اتحاد وارث، لاتر اوسه د مسعود مرسته کوي چې د سره جنګ په دوران کې د دوی له خوا استخدام شوی وو، دوی غواړي د افغانانو ملي یووالی ختم کړي، قومي تعصبات راوپاروی او افغانان په خپلو منځونو کې وجنګوي، دا هماغه کار دی چې بلشویکیانو مخکې کولو، د دوی هڅه دا ده چې له یوې خوا د مرکزي آسیا هېوادونه د دوی په ولګیکي پاتې شي، د افغانستان له لارې له نوري نړۍ سره وصل نشي او د هغې تجارتي لارې د پرانستلو پروژه ویجاړه کړي چې له کندهار، لشکرګاه، هرات او تورغونډۍ نه تېرېږي او کویټه له ترکمنستان سره وصل کوي، ترڅو د دې هېوادونو بازارونو باندې د روسیې سلطه خوندي پاتې شي. پدې سربېره په افغانستان کې د جګړو دوام، له روسیې نه د تحمیل شوې جګړې د تاوان موضوع شا ته غورزوی او افغانانو ته د دې مجال نه ورکوي چې پدې هکله مؤثر ګام اوچت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نجیب پیغامونه

پدې موده کې له مختلفو لارو، له موږ سره پدې هکله تماسونه ونیول شول چې له نجیب سره په یوه ائتلافي حکومت توافق وکړو.

د پاکستان، سعودي، ایران، عراق، لیبیا او د الفتحی تنظیم له ګڼ شمېر هیئتونو سره د لیدنو کتنو په جریان کې دا جوته کېده چې مسکو او کابل دواړه د افغانستان د بحران د حل لپاره د مذاکراتو او ائتلافي حکومت غوښتونکي دي. د مختلفو چینلو په ذریعه د نجیب شخصي پیغامونه راورسېدل. ولي خان د نشنل پارټي مشر په همدې سلسله کي زما د لیدلو لپاره کورته راغی او پدې ئې ټینګار کولو چې له نجیب سره د ده په وساطت مذاکرات پیل کړو. د ځینو قاصدانو او منځګړو په لاس لېږل شوي پیغامونه داسي وو چې ګواکي نجیب پدې راضي دی چې د یوه مؤقت حکومت لپاره له قدرت نه لاس واخلي، خو دا کار به هله کوي چې مخامخ له ماسره وګوري، یو ځل ئې پیغام داسي وو چې: حکمتیار د مشر ورور په حیث منو، د کابینې لس مهم وزارتونه دې دی انتخاب کړي. له خپلې استعفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پنځه ورځې د مخه ئې دا احوال راولېږو چې که تاسو له ائتلافي حکومت سره توافق و نکړ نو وبه گورئ چې موږ قدرت چا ته سپارو!! دا ئې هم ويلي وو چې که له ائتلافي حکومت سره د مخالفت په نتيجه کې ظاهرشاه راغی مسئوليت به ئې د حکمتيار په غاړه وي. د نجيب له هيئتونو سره په بغداد او ليبيا کې ليدنې کتنې وشوې، زموږ له خوا کرياب او داکتر بهير او د دوی له خوا د بغداد په مذاکراتو کې، يعقوبي، سليمان لايق، وطن جار او کاوياني نمايندگي کوله او د ترابلس په مذاکراتو کې سليمان لايق او کاوياني.

پدی ټولو ليدنو کتنو او د پيغامونو وړلو راوړلو کې د دوی صرف يوه خبره وه او هغه، د حزب اسلامي او دوی ترمنځ ائتلافي حکومت او طبعاً زموږ هم يوازې يو ځواب وو او هغه دا چې: قدرت دې يوه مؤقت غير ائتلافي حکومت ته انتقال شي، بيا دې انتخابات ترسره شي او د وطن گوند ټول غړي دې فقط د عمومي عفوی په امتياز اکتفاء وکړي. پداسې حال کې چې نجيب له نورو ډلو سره هم تماسونه درلودل خو موږ ته ئې مسلسل ويل چې مسئله يوازې د حزب اسلامي او وطن گوند د روغې جوړې له لارې حل کېدی شي، که حزب توافق وکړي د نورو ډلو مخالفت هيڅ اهميت نلري. خو موږ له يوې خوا د اسلامي اصولو په حکم لدوی سره په ائتلافي حکومت توافق نشو کولی او له بلې خوا پدې هم ښه پوهېدو چې د ائتلافي حکومت نتائج به دا وي:

- د نورو ډلو د تصفيې لپاره به د هغوی په خلاف د جگړې لار غوره کوو، يعنی له کمونست سره ائتلاف او له مجاهد سره جگړه.
- پداسې حال کې چې د سياسي احزابو ائتلافي حکومتونه ناکام وي او دوام نشي کولی، د دوو داسې مسلح ډلو ائتلافي حکومت به څنگه ادامه وکړي چې کلونه کلونه د يوه بل په خلاف جنگېدلی دي، يو په اسلام باور لري او بل کمونست وي، يو د خپل هېواد کامل استقلال غواړي او بل سل په سلو کې د پرديو گوډاگی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په حقیقت کې پداسي یوه ائتلافي حکومت کې شاملېدل د کابل واکمنانو ته د تسلمېدو په معنا وه چي فوځ، خاد، د کابل او لویو ښارونو امنیتي کمربندونه او د لویو لارو امنیت د دوی په لاس کې وي، طبعاً به ائتلاف سل په سلو کې د دوی په ګټه وي.
- که خلقیان او پرچمیان پداسي حال کې چي عقیده ئې یوه او حامي او پالونکی ئې یو دی، دواړه له مسکو نه توجیه کېږي، نشي کولی په ګډې اداري کې د قدرت په وېش توافق وکړي، د قدرت په سر ئې د یوه بل له وژلو ، بندي کولو او له هېواد نه شړلو نه ډډه ونکړه او روسان تر پایه ونشو توانېدی چي دوی په ډاډمنه توګه خپلو منځونو کې متحد وساتي، نو د مجاهدینو او د دوی ائتلاف به څنګه عملي وي. پدې هم ښه پوهېدو چي د کمونستانو له شر نه د هېواد د ژغورني تر ټولو ډاډمنه او آسانه لار دا ده چي قدرت یوه غیر ائتلافي مؤقت حکومت ته انتقال شي او بیا انتخابات ترسره شي. دا ځکه چي:

الف: پدې سره د وطن ګوند متلاشي کېږي.

ب: کابل ته د مسلح ننوتلو او د قدرت په سر د مجاهدینو تر منځ د جګړو مخنیوی کېږي.

ج: د سازشونو او کودتاګانو له لاري او د پردیو په مرسته قدرت ته د رسېدو سلسله به د تل لپاره پای ته رسېږي او انتخابات به د حکومت د جوړولو د یوازنۍ اصولی لاري په حیث منل کېږي.

د: د ملي اردو د وسائلو او د ملي شتمنیو د ضایع کېدو مخنیوی به کېږي.

نو موږ ی مذاکرات پدې دلیل بې نتیجې پاتې شول چي موږ ائتلافي حکومت نشو منلی او دوی له غیر ائتلافي مؤقت حکومت سره توافق نه کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# رکود او د کودتا هڅه

د جلال آباد د عملیاتو ناکامي، د نجیب د حکومت دوام او له هغه سره د ځینو ډلو ټپلو اوربندونه، له خاد سره د ځینو تش په نامه نفوذي قومندانانو یوځای کېدل، د رژیم له خوا د کابل ګردیز لویه لار پرانستل، تر لوګر او میدانشهر پوري د کابل د امنیتي کمربند پراخېدل، د سالنګ په لوی لاري د رژیم د اکمالاتي کاروانونو مصئون تګ راتګ، د مجاهدینو د مؤقت حکومت انحلال، په شمال کي د حزب اسلامي په خلاف د مسعود جګړې چي ورو ورو نورو سیمو ته خوربدي، د کابل رژیم په ګټه او د مجاهدینو په خلاف د غربي آژانسونو شدید تبلیغات، د پاکستان له خوا د مجاهدینو په مؤقت حکومت عدم اعتراف او... په یوه داسي خطرناك حالت او وروسته پداسي رکود منتج شو چي د ماتولو لپاره ئې یوه جدي ابتکار ته ضرورت وو. دا ابتکار باید د تل په شان حزب اسلامي کړي وي، په بلې ډلي کي د دې توان او استعداد نه وو.

په فوځ کي د کارکولو، د ناراضی افسرانو له لاري رژیم ته له داخل نه د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخت ګوزار ورکولو فیصله مو وکړه، چې پدې سره یا رژیم رانسکور شي او یا لږ تر لږه موجود رکود ختم شي.

له جنرال آصف شور سره چې په حربی ښوونځی کې زما همصنفی وو او د کمونستانو د اقتدار په دوران کې یوه موده په ننګرهار کې او څه موده په ګردیز کې د دولت د قطعاتو قومندان وو، تماس ونیولی شو، که څه هم پدې وخت کې دی په کورس (آ) کې استاد وو، خو د یوه با اعتباره افسر په حیث ئې په فوځ کې د کار کولو ښه چانس درلودو، هغه دې ته چمتو شو چې له خپل اعتبار نه په استفادی سره هغه افسران تنظیم کړي چې د روان وضعیت له دوام سره موافق نه وو او له بحران نه د هېواد د ایستلو په لټه کې وو.

دلته باید دا خبره توضیح کړم چې ما له شپږم نه تر نهم پوري په حربی ښوونځی کې سبق ویلې، په شپږم اوم او اتم صنفونو کې زه اول نمره وم او آصف شور به کله دریم او کله دوهم نمره شو، خو له اتم نه نهم ته هغه اول نمره او زه دوهم نمره کامیاب شوم، ما ته د دې ناڅاپي تبدیلی وجه، حربی ښوونځی ته د آصف شور د تره راتګ بربښېدو او دا ګمان مې وکړو چې په استادانو د هغه نفوذ باعث شو چې زما په هکله بې انصافی وشي، په همدې خاطر ما د حربی ښوونځی د پرېښودو فیصله وکړه، خو په حربی ښوونځی کې د درې کاله پاتې کېدو نتیجه دا وه چې اوس ګڼ شمېر زما هم دوره افسران په فوځ کې د جنرالی رتبی ته رسېدلی وو او ما ته ئې د دې امکان راپه برخه کولو چې د دوی ترمنځ کار وکړي شم.

جنرال آصف شور له لنډې مودې نه وروسته ما ته د یوه تفصیلي لیك په ذریعه اطلاع راکړه چې تر ډېره حده په خپل کار کې موفق شوي یو او زیات شمېر افسران مو لیدلي، اکثرو راسره موافقه کړې، په نورو کار روان دی. وروسته له څه مودې د ده کار داسې پړاو ته ورسېدو چې له مانه ئې د راډیویي او تلویزیوني وینا متن او کسټې وغوښتې، ما لیکلی متن ورولېږو، د وینا اساسي ټکي دا وو:

- ملت ته د پخواني کړغیرن رژیم د نسکورېدو مبارکي وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د جګړې له شرنه د هېواد د ژغورنې لپاره د افسرانو د دې عسکري اقدام نه پرته بله لار نه وه، موږ د اقتدار لاس ته راوړو لپاره نه بلکې د جګړې د پای ته رسولو لپاره دا اقدام کړې.
- موږ هغه افسران یو چې د خپل هېواد په استقلال او اسلامي هویت باور لرو او غواړو چې د ملت د خوښې منتخب اسلامي حکومت ته اقتدار انتقال شي.
- د ټولو جهادي تنظیمونو مشرانو ته بلنه ورکوو چې په یوه مؤقت بې طرفه حکومت او بیا د همدې حکومت تر نظارت لاندې په انتخاباتو توافق وکړي.

ځینو افسرانو دا نظر وړاندې کولو چې په کار ده د اقدام نه د مخه د ټولو یا ځینو مؤثرو تنظیمونو توافق تر لاسه شي. که څه هم موږ ته معلومه وه چې تنظیمونه لدې کار سره په څو دلائلو توافق نکوي:

الف: ځیني له عبوری حکومت او انتخاباتو سره پدې خاطر مخالفت کوي چې نه یوازې لدې لارې قدرت ته د رسېدو کوم چانس نلري بلکې پدې کار سره له صحنې نه وځي.

ب: ځیني په بهرنیو قوتونو مخصوصاً غرب پورې هومره تړلي دي چې د هر هغه پلان او اقدام به حتماً مخالفت کوي چې د دغو ځواکونو له مداخلې او موافقې نه پرته تر سره کېږي.

له دې سره سره ما د تنظیمونو د مشرانو په یوې غونډې کې دا خبره په مجمل انداز کې وکړه چې ځیني عسکري صاحب منصبان پدې نظر دي او موږ ته ئې احوالونه لېږلی چې که ټول مشران له یوه مؤقت حکومت او انتخاباتو سره موافقه وکړي، دوی د نجیب راپرزولو ته تیار دي. عکس العمل هماغه وو چې موږ ئې اټکل کولو، پدغو مشرانو کې دوو کسانو د کابل رژیم ته اطلاع ورکړه چې پام کوي، حزب اسلامي د کومې کودتا پلان لري او موږ ته ئې په یوې غونډې کې دا او دا ویلي !! موږ فیصله وکړه چې دا کار باید په هر صورت کې تر سره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدغه وخت کې، د نجیب او د ده د دفاع وزیر، شهنواز تنی ترمنځ اختلافات هومره تشدید شوي وو چې د روسانو سفیر او ګڼ شمېر لوړ رتبه هیئتونه د دوی په روغې جوړې موفق نشول.

شیوارډناډزې، د شوروي اتحاد د خارجه چارو وزیر او ورنتسوف، په کابل کې د دوی ځواکمن سفیر د نجیب ملاتړ کولو او په همدې خاطر مسکو پدې اختلافاتو کې د نجیب مرسته کوله، په خلقیانو مخصوصاً د امین په پلویانو شکمن وو، چې ګواکې دوی د روسانو له ګټو سره خاصه علاقه نلري او نشنلستي روحیه ورباندې غالبه ده ! تاسو ته به حتماً معلومه وي چې د کابل رژیم اصلي ځواك له خلقیانو نه جوړ شو ی وو، د خلق د ګوند غړي اکثراً د پښتنو له غریبو او نیستمنو کورنیو څخه او د پرچم غړي اکثراً د تاجکو له شتمنو کورنیو څخه راولاړ شوي وو. په جګړې کې اصلي ونډه د خلقیانو وه. خو په واکمنې کې د دوی برخه په جګړې کې د دوی د برخې په اندول نه وه.

آصف شور وتوانېدو چې لدې وضعیت نه پوره ګټه اوچته کړي، د اوږدې جګړې نه د فوځ ستومانه کېدل، د جګړې د مستقبل په هکله بې باوري، د افغاني فوځ له افسرانو سره د روسي مشاورینو له غروره ډك او سپکونکی چلند، دا هغه عوامل وو چې اکثر افسران مخصوصاً هغه افسران چې یا کمونستان نه وو یا له کمونیزم نه بیزاره شوي او غوښتل ئې د ملت غېږې ته راوګرځي، دې ته هڅول چې د دغسې یوه عسکري بدلون بلنې ته مثبت ځواب ووایي.

جنرال آصف شور په خپلو وروستیو لیکونو کې ماته اطلاع راکړه چې "د دفاع وزارت په قرارګاه او د شهنواز تنی په ما حول کې مو کار ډېر مخکې تللی دی، قرارګاه او د ده دفتر، ټول زموږ په کنټرول کې دی، خو دی مو له جریان څخه ندی خبر کړی، د اقدام په وخت کې به د قوتونو د سوق او ادارې کار کاملاً زموږ په لاس کې وي"

دوی غوښتل چې خپل اقدام پداسې وخت کې پیل کړي چې د نجیب او تنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمنځ شخړه په مخامخ تصادم بدله شي، خو دا تصمیم د دې باعث شو چې اقدام وځنډېږي او نجیب ته له خطر سره د مقابلې لپاره د تیارى کولو فرصت په لاس ورشي.

له نجیب سره د وزارت دفاع په مقابل کې د خاد مسلح ځواکونه او د هوایي قواوو په مقابل کې د مزار هوایي ځواکونه ملګري وو، نجیب خپل اقدام مخکې کړ، د خاد د پنځم ریاست ځواکونو په واسطه ئې د وزارت دفاع قرارګاه محاصره کړه، عملي تصادم پیل شو، جنرال آصف شور، د قوتونو د سوق او ادارې مهار په لاس کې واخیست، شهنواز تنی د دې په ځای چې په خپلې قرارګاه کې پاتې شي، د یوه جیپ په سورلۍ، ځان د بګرام هوایي میدان ته ورسولو، د بګرام میدان د نجیب له پلویانو نه تصفیه شوی او عملاً د مخالفو ځواکونو په لاس کې وو، په ارګ ئې مسلسل بمباري پیل کړه، خو د بګرام هوایي ډګر له مزار شریف نه په پرله پسې توګه تر بمبارۍ لاندې ونیولی شو، پدې بمبارۍ کې د جنرال مصطفی لویه ونډه وه، د بګرام هوایي ډګر فلج شو، د جنرال تنی ارتباطات له خپلې قرارګاه سره قطع شول، غوښتل ئې د جنرال قادر اکا، د هوایي قواوو قومندان او ځینو نورو ملګرو سره د کوم هلیکوپټر په ذریعه د مجاهدینو کومې جبهې ته پناه یوسي، خو وروسته، دی او ملګري ئې په یوه هلیکوپټر او یوه ان-۱۲ کې سواره شول او د پاکستان په لوري ئې حرکت وکړ چې هلیکوپټر په جمرود کې او ان ۱۲ د پاره چنار په هوایي ډګر کې راکوز شوه.

جنرال آصف شور، جنرال کبیرکاروانی او جنرال جعفر سرتېر چې د اقدام لارښوونه ئې کوله، یو په ریشخور کې او نور د وزارت دفاع په قرارګاه کې د جګړې په جریان کې ووژلی شول او پدې ترتیب نجیب د خاد په مرسته په هغه اقدام کې بریالی شو.

موږ د تصادم له پیل سره سم، خپل ملاتړ اعلان کړ او له ټولو مجاهدینو نه مو وغوښتل چې د نجیب د حکومت د پرزولو لپاره لدې فرصت نه اعظمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



استفاده وکړي او د هغوځواکونو مرسته وکړي چې د نجیب په خلاف راپورته شوي..

د تنظیمونو یو مشر له بی بی سي سره په خپلې یوې مرکې کې نه یوازې د دې اقدام مخالفت وکړ بلکې وئې ویل: ان شاء الله د نجیب ځواکونه د برلاسي په حالت کې دي !!

که څه هم نجیب لدې خطرناکې پېښې نه روغ رمټ ووتو او په ظاهر کې ئې بریا په برخه شوه، خو په حقیقت کې د ده د زوال ستر عامل همدا اقدام وو. د فوځ زیات شمېر افسران وتښتېدل، په سلګونو بندیان شول، ډېر ووژلی شول، په فوځ او وطن ګوند کې بې باوری انتهاء ته ورسېده، د رژیم اعتبار په داخل او خارج کې سخته جټکه وخوړله، رکود مات شو، د مجاهدینو ضعیفه روحیه لوړه او مړاوی هیلې ئې راژوندۍ شوې. خو د پاکستان ISI نه غوښتل دا اقدام کامیاب شي، ښایي د نوموړې ادارې د مخالفت دوه اساسي وجهی په ګوته کړې شو:

- د اقدام په هکله مخکنی راپور نه درلودل او په ناڅاپې ډول له یوې ستري پېښې سره مخامخ کېدل. دې کار د پاکستان د لوړو مقاماتو په وړاندې، د دې ادارې د هغه وخت د مسئولینو بې کفایتي په ګوته کوله، نو ځکه ئې له موږ نه د غچ اخستلو په خاطر د دې اقدام د ناکامولو هڅه وکړه.
- دوی او امریکائیان په ګډه دې نتیجې ته رسېدلی وو چې پدې ترتیب او د دې اقدام په نتیجه کې د کابل د رژیم نسکورېدل دوی ته ګټور کار ندي.

زه باید دا ټکي واضح کړم چې موږ د دې اقدام په وخت کې د قوي نشراتو لپاره د ۵۰ کیلو واته MW ترانسمیټر په بهرکې اخیستی وو او د پاکستان له لارې مو داخل ته انتقالولو، خو آی اس آی د هغه له سپارلونه ډډه وکړه او نږدې یوکال ئې له ځان سره وساتو او له اقدام نه ډېر وروسته ئې موږ ته تسلیم کړ. د اقدام د شنډولو لپاره، ISI شهنواز تنی د خپلو ملګرو سره، په هماغه حساسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیبو کې چې جګړه روانه وه، په اسلام آباد کې، په مخفی ځای کې، تر نظارت لاندې وساتو او د ده رابطه ئې له موږ سره قطع کړه، چې کله اقدام کاملاً شنډ شو، جګړه پای ته ورسېده او نجیب په اوضاع مسلط شو، هغه ته ئې اجازه ورکړه چې له ما سره وګوري!!

## د ځینو حزبیانو مخالفت

په فوځ کې د کار کولو په اړه، د حزب اسلامي اجرائیه شورى ته وقت په وقت، لازم معلومات ورکړى شوي او پدې ارتباط ګڼ شمېر تفصیلي غونډې او بحثونه شوي وو، د اقدام په جریان کې د اجرائیه شورى مسلسلى غونډې رواني وې، ټول بلااستثناء خوشحاله او له اقدام سره موافق وو او په اتفاق سره یې، پدې اصرار کولو چې حزب باید له خپلو ټولو امکاناتو نه په استفادى سره د دې اقدام د کامیابولو هڅه وکړي، یو هم داسې نه وو چې له اقدام نه د مخه یا د اقدام په جریان کې ئې څه مخالفت کړي وي، یائې کومه ملاحظه وړاندې کړې وي. خو وروسته مخصوصاً د اقدام د شنډېدو نه پس، ځینو کسانو په ابتدا کې پټ پټ او په خصوصي غونډوکې او وروسته لږ په ښکاره توګه، دلته، هلته پدې هکله تبلیغات پیل کړل، موږ ګمان کولو چې دا به یو عادي او طبیعي بهیر وي او د هر اقدام له ناکامې نه وروسته د هغه د عدم افادیت په هکله د راولاړېدونکى ذهنیت په شان به یو طبیعي او د معمول مطابق عکس العمل وي، خو وروسته وروسته متوجه شوو چې خاصې حلقې په جدې توګه لګیا دي او د دې هڅه کوي چې لدې فرصت نه په استفادى سره، په حزب کې اختلافات راولاړ کړي، خو د ګوتو په شمېرکسانو نه پرته، هیڅوك د دغو حلقو د هلو ځلو او تبلیغاتو تر تأثیر لاندې رانغلل.

په حزب اسلامي کې دوه ځله داسې حالات راپیدا شوي چې د سیاسي دریځونو په اړه، د رأیې اختلاف، د دې په ځای چې د اکثریت رأی ته د احترام له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاري حل شوي وي، د غیر اصولی اختلاف رنګ ئې غوره کړي، یو ځل د همدې اقدام په اړه او بیا د خلیج په جګړي کي د غربي ځواکونو د تېری غندنه او د عراق د ولس په نسبت د خوا خوږی څرګندونه. پدې مورد کي هم خاصو بهرنیو حلقو د اختلاف راولاړولو هڅه کړي او دا وظیفه ئې هغو مؤسسوته سپارلی چي له افغاني شخصیتونو سره ئې په بېلوبېلو نومونو مالي مرستي کولي. خو هر ځل د مرکزي شوری غونډه دایره شوې او په قاطع اکثریت سره ئې د اصولی موقف ملاتړ کړي او نوي مناسب تصمیمونه ئې نیولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نجیب څه وکړل

د نوموړي عسکري اقدام د ناکامۍ په نتیجه کې اکثر غیر پرچمي پښتانه غړي، په ګوند او دولت کې، مخصوصاً له فوځ نه تجرید شول او ځای ئې پرچمیانو یا پرچمیانو ته وفادارو افرادو ته تخلیه شو.

نجیب دې ته اړ کړې شو چې د قومي او ژبنیو اړیکو پر بنسټ په ولس کې پراخ کار پیل او پرهمدې بنیاد مسلح قطعات جوړکړي، د دې پرېکړې لاندې لاملونه وو:

- فوځ عملاً ختم شوی وو، د مکلفیت د دورې پر اساس د فوځ جوړول نه ممکن وو او نه مؤثر، د دې په پرتله پر قومي بنیاد او د امتیازاتو په مقابل کې د مسلح ټولګیو جوړول مفید اومؤثر وو.
- دوی پدې مرحلې کې د دعوت لپاره بل مضمون نه درلود، کمونیزم نور په مسکو کې د ختمېدو په حال کې وو، په افغانستان کې خو دوی لا د مخه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمونیزم نه خپل برائت اعلان کړي وو او نجیب خو به ویل چې یوازې رڼېره ئې نده پرېښې نور نو په مسلمانۍ کې تر ملایانو هم مخکې دئ، دا دی د اسلامي شئونو وزارت ئې جوړکړی او درویشت زره امامانو ته معاش ورکوي...!!

- دوی د مختلفو قومونو د جنګولو او لدې لارې په قدرت کې د پاتې کېدو او یا لږ ترلږه د قوم تر حمایې او سیورې لاندې د ژوندي پاتې کېدو هیله درلوده.

نوموړی قومي قطعات په اوزبکو، پښتنو، هزاره وو او تاجکو کې جوړ شول، پدوی کې تر ټولو مؤثر قوت چې په جګړو کې ئې زیاته ونډه وه د جوزجانیانو او ګلم جمانو په نامه د اوزبکو قطعات وو.

په پښتنو کې جوړ شوي قطعات د شمېر له پلوه کم ا وپه جګړو کې د برخې له پلوه ډېر ضعیف او غیر مؤثر وو. چې وجه ئې یا د امکاناتو کموالی او یا پدوی د رژیم بې باوری او یا په جهاد کې د پښتنو زیاته ونډه وه.

په ملي مصالحی زور اچول، یو اړخیز اوربندونه اعلانول، بې طرفانو ته په قدرت کې د فعالی او په زړه پوري برخې ورکولو ډنډورې غږول، د روسي فوځونو په ایستلو کې د نجیب جدي او صمیمانه ونډې ته د خلکو پام رااړول، اسلام ته د وطن د ګوند د وفاداری لپاره تبلیغات کول، مجاهدین په نه پخلاکېدونکو او معتدل ډلو وېشل او له پخلاکېدونکو معتدلو ډلو سره تماسونو او حتی توافقاتو ته مسلسل ګوته نیول، د نجیب د دې مرحلې د تکراری وینا ګانو اساسي ټکي وو.

## د اسلامي شئونو وزارت

تاریخ دا خبره ثابته کړې چې د دین او مذهب په خلاف د دین د دښمنانو جګړه په پای کې د دین او مذهب تر نامه لاندې ترسره شوې او د هر مذهبي انقلابي پاڅون د مقابلې لپاره، دین خرڅوونکي ملایان او مکار پیران د الله د لارې د مجاهدینو او واقعی علماوو په خلاف استخدام شوي. فرعون د خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دين په حامي او له تباهی نه د ټولني په ژغورونكي بدل شوی او موسی د ولس د مذهب دښمن او د فساد عامل ګڼل شوي. د موسی مقابلې ته جادو ګران راغونډ كړی شوي او فرعون ويلي:

وقَالَ فِرْعَوْنُ ذَرُونى أَقْتُلْ مُوسى وَ لْيَدْعُ رَبَّهُ إِنى أَخَاف أن يُبَدِّلَ دِينَكمْ أَوْ أن يُظهِرَ فى الأَرْضِ الْفَسادَ*

غافر: ۲۶

او فرعون وويل: ما پرېږدی چي موسی ووژنم، هغه دي خپل رب مرستي ته راوبلی، وېرېږم چي ستاسو دين بدل نكړي او يا په ځمكه كي فساد خور نشي.

د شئون اسلامي په وزارت كي د مولوی عبدالولی او مولوی عبدالعزيز په څېر په سلها وو ملايان استخدامول او (۲۳۰۰۰) امامانو ته معاش وركول هماغه كار وو چي فرعون د موسی عليه السلام په مقابل كي وكړ او نجيب د واقعی مجاهدينو او مجاهدو علماوو په خلاف. په شئون اسلامي كي تنظيم شوي دين خرڅوونكي ملايان هماغه وو چي د ظاهرشاه په وخت كي به ئې ويل: خدايه ! د ده ملك او سلطنت دائمي كړي ... د داؤد په وخت كي به ئې د هغه جمهوريت سل په سلو كي اسلامي نظام ګڼلو، د تره كي په هكله به ئې ويل چي عمری عدالت ئې راووست، د نجيب دسر دعا ئې كوله، استاد رباني ئې د اسلامي دولت هغه رئيس شمېرلو چي د اهل حل او عقد له خوا غوره شوی او اوس د طالبانو مشر ملامحمدعمر، اميرالمؤمنين ګڼی اود مجاهدينو په خلاف د جګړي فتواګاني وركوي.

د اسلامي انقلاب څپانده او مواج بهير هومره قوي او جرړی ئې په ملت كي هومره ژوري وې او ولس ئې د آرمانونو او شعارونو په حقانيت او د شخصيتونو په ايمان او تقوی هومره پوه شوی وو چي د شئون اسلامي په وزارت كي د څو

(c) ketabton.com: The Digital Library



استخدام شوو مزدورانو او بې شخصيته دين خرڅوونکو په تبليغاتو د هغه مخه نيول او ملت ترې بېلول ممکن نه وو.

## د خوست فتحه

د مجاهدينو په لاس د خوست فتحه، د رژيم لپاره دوهم سخت ګوزار وو، خوست په څو لحاظه اهميت درلود:

الف: يو داسې سرحدي ښار وو چې د مجاهدينو لاس ته د هغه په ورتلو سره د جنوب ډېره پراخه ساحه د دولت له کنټرول نه ووته.

ب: د خوست جګړه له رواني لحاظه په يوې داسې جګړې بدله شوې وه چې د کابل رژيم او ټولو پلويانو ئې خپل برخليك په هغې پورې تړلی ګڼلو.

ج: د کمونست رژيم زيات شمېر مهم افسران او د ګوند غړي په همدې ساحې پورې مربوط وو. په خپله نجيب، د ده د دفاع مخکنی او وروستنی وزير او... د همدې ولايت او سېدونکي وو.

د خوست په سقوط سره د رژيم د ملا تير مات شو. که مجاهدينو د جلال آباد په ځای د روسانو له وتلو سره سم د خوست د نيولو هڅه کړې وی او همداسې د دوی په لاس فتحه شوی وي، نو د کابل رژيم به هيڅکله دومره دوام نه ووکړی.

## کابل ته د کارمل راستنېدل

د ۱۳۷۰ کال د سرطان په مياشتې کې په ناڅاپي ډول، له مسکو نه افغانستان ته د ببرك کارمل د ستنېدو خبر خپور شو، ځينو دا ګمان کولو چې ښايي مسکو پدې توانېدلی وی چې د نجيب او کارمل ترمنځ اختلاف ختم کړي او له حالاتو سره د مقابلې لپاره د دوی پلويان په يوه صف کې سره ودروي. ځينو نورو ګمان کولو چې د سرطان د بيماری په وجه، هغه له خپل ژوند نه مأيوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی او د همدې لپاره هېواد ته راستون شوی. خو په حقیقت کې د ده د راستنېدو اصلي وجه دا وه چې:

- د نجيب په خلاف په ګوند کي مخالفت خپل اعظمي حد ته رسېدلی وو.

- روسانو چې د ۱۹۸۶ کال د مي په مياشتي کي د کومي کودتا يا انقلاب نه پرته، فقط له مسکو نه په کابل کي د روسي قواوو عمومي قومندان ته د يوه سری هدايت په نتيجه کي، کارمل له ارګ نه د تورو شيشو په موټر کي وايست او تر ډېرو ورځو، هيڅوك، حتی د مرکزي کميټی غړي نه وو خبر چي ببرك چيرته دی!! او د ده په ځای ئې نجيب د واکمنۍ په تخت کښېنولو او ارګ ته له داخلېدو نه وروسته ئې د مرکزي کميټی غړي پدې خبرکړل چي لدې وروسته، نجيب جمهور رئيس او د حزب منشي دی، وجه ئې دا وه چي مسکو ګمان کولو ببرك کارمل پدې خاطر ناکام او د مقاومت له مقابلې نه عاجز دی چي د ګوند او فوځ پښتانه غړي لده سره مرسته نکوي او د افغانستان ټولنيز جوړښت د دې اجازه نه ورکوي چي د ده په شان کوم کس د هېواد جمهور رئيس وي، په کار ده نجيب راوړاندي کړو او پدې ترتيب د افغاني ټولني اکثريت قانع کړو، خو اوس ټول هغه ګوندي غړي او د فوځ افسران، يا شړل شوي او يا بنديان شوي چي د دوی په خاطرکارمل په نجيب بدل شوی وو.

- د دولت، ګوند او فوځ ټول حساس پستونه، په مرکز او ولاياتو کي د ببرك د پلويانو په لاس کي وو، دوی غوښتل چي په مناسب وخت کي نجيب له صحنې لرې او د ګوند اصلي مشر راوړاندي کړي. دا د دوی ډېره مخکنۍ پرېکړه وه.

نبي عظيمي د خپل کتاب په ۱۵۸ مخ کي هغې ته داسي اشاره کوي: "ده (عبدالوکيل) وويل: زه غواړم چي د اردو د مسلحانه قيام په اړه ستاسو او د ۱۴ فرقې د ملګرو لخوا، ملګري ببرك کارمل ته اطلاع ورکړم. څه فکرکوې؟ آيا کولی شې هلته د خپلې فرقې استقلال اعلان کړې او زموږ له غوښتني سره سم د کابل په لور وخوځېږې؟ څو شېبې مي له ځان سره فکر وکړ دا ځکه چي د لومړی ځل لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې په حزب کې د انشعاب او له خلقیانو سره د عدم روغې جوړې سندره اوربېده، د هغې شېبې احساسات هیڅکله نشم هیرولی، خو چاره نه وه، یو تریخ حقیقت وو چې باید قبول کړې مو وی... زموږ ترمنځ رمز او شفر وټاکل شو او پرېکړه مو وکړه چې د تلفون او یا قاصد په لاس باید دا شفر ماته ورسېږي ترڅو خپل کار پیل کړم."

د دوی پلان دا وو چې له اقدام نه د مخه باید د ځینو ډلو او قوماندانانو سره داسې خبرې وکړي چې ګواکې د دوی اقدام به د دغو ډلو په نفع وي او راتلونکی حکومت به د دوی په مشوره جوړوي، ترڅو د اقدام په وخت کې د دغو ډلو له خوا، نه یوازې مخالفت ونشي بلکې نتائجو ته ئې هیلمند وي.

خو د هېواد سیاسي او نظامي وضعیت او یو بل پسې خاصې پېښې د دې باعث شوې چې د نجیب تر استعفی پورې، د مؤثر اقدام موقع ترلاسه نکړي، جنرال نبي عظیمي د خپل کتاب "اردو و سیاست" په **۵۲۵** مخ کې لیکي: "عبدالوکیل د خارجه چارو وزیر د مخکنیو تماسونو نه وروسته په **۱۳۷۱/۱/۲۷** د داکتر نجیب "چې تر دې نېټې لا جمهور رئیس وو" په مشوره او اجازه پروان ته ولاړ او له مسعود سره ئې ولیدل مسعود د ده درووند استقبال وکړ. پدې وخت کې د وکیل او د اجرائیه بیورو طرحه ورته او د رأیو په اتفاق داسې وه:

له مجاهدینو خاصتاً مسعود سره د ائتلافي حکومت تشکیلول. که نور له ائتلافي حکومت سره موافق نه وو د ګلبدین حکمتیار په خلاف ګډه جبهه جوړول او د کابل ښار له شا او خوا نه د هغه ایستل او د قدرت مساویانه وېش"

هغه په **۵۲۲** مخ کې لیکي: "عبدالوکیل له تلویزیون سره د خپلې مرکې له لارې وویل: ټول تنظیمونه حاضر دي چې د کابل له دولت سره ائتلاف وکړي او یو پراخ بنسټه ائتلافي دولت جوړ کړي، لدې کبله د ده په ګمان د ملل متحد د پلان د تطبیق ضرورت نشته. هغه وویل: یوازې حکمتیار لاتراوسه له دولت سره د ائتلاف مخالف دی" هغه وروسته په همدې مخ کې لیکي: "مزدك، کاویاني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکيل راتلونکې ته په اميدوارۍ سره کتل او مسعود ئې قهرمان ګڼلو، ما پوښتنه وکړه: څومره په مسعود اعتماد کولی شو؟ کاوياني او مزدك جواب راکړ: مسعود خپل رقيب حکمتيار ته د ماتې ورکولو لپاره هر راز سازش او روغې جوړې ته تيار دی!! او پدې هکله هيڅ تشويش ندی پکار!!"

په ۲۳۰ مخ کې ليکي: پدې وخت کې يوازې لوی درستيز آصف دلاور وو چې د جګړو سوق او اداره ئې په لاس کې وه، نور د رباني او مسعود په شمول په کاريز مير او خيرخانې کې اوسېدل، ويل کېږي چې رباني په شپو ورځو د دکو په يوه تاکوې کې اوسېدو. شورای نظار بې روحيې وه، يوازې د جنرال دوستم افرادو او سابقه نظامي قطعاتو اوچته روحيه درلوده او مقاومت ئې کولو. دلاور وايي: له حکمتيار سره د يوې پرېکندې جګړې لپاره عمليات پيل شول، حکمتيار مقاومت کولو او زموږ د قطعاتو مخکې تګ کم وو خو بلآخره د ده مقاومت مات شو او موږ بری ته نږدې شوو، د ده افرادو د لومړی خط مورچلی پرېښودی، حکمتيار خپله ماته احساس کړه او بيا ئې د اوربند وړانديز وکړ، دلاور ووېل: مجبور شوم له رباني سره وګورم او هغه ته ووايم چې عمليات بايد ادامه وکړي ترڅو حکمتيار تسليم شي خو رباني ووېل: لوی درستيز صاحب! زه اختيار نلرم، د بهرنيو دوستانو تر فشار لاندې يم! او پدې ترتيب يو ځل بيا حکمتيار روغ رمټ خلاص شو. دلاور ووېل: که يوه ورځ نور هم عملياتو ادامه کړې وی زموږ ځواکونو چهارآسياب نيولو او د کابل په شا او خوا کې جګړه د تل لپاره پای ته رسېدله"

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د بینن سیوان هڅې

له یوې خوا د ملل متحد د سرمنشي د خاص استازي بینن سیوان په ذریعه، د غیرمستقیمو خبروآترو له لارې د مجاهدینو او کابل رژیم ترمنځ د توافق لپاره هڅه کېده، هغه په لومړی سرکې په ائتلافي حکومت ټینګار کولو، خو زموږ د عدم توافق په نتیجه کې، هغه نجیب پدې قانع کړو چې مجاهدین ائتلافي حکومت نه مني باید په غیرائتلافي مؤقت حکومت توافق وشي، زموږ طرحه دا وه:

- د مخامخ خبروآترو نه پرته دې نجیب د خپلې استعفی له اعلان سره توافق وکړي.

۲ – د غیر متنازع فیها شخصیتونو څخه دې یومؤقت حکومت جوړ شي.

۳ – له فوځ او پولیس نه پرته دې ټول مسلح قطعات منحل شي.

۴ – د مؤقت حکومت په دوران کې دې د یوه مستقل انتخاباتي کمیسیون په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذريعه په شپږو مياشتو کې انتخابات ترسره شي.

له دې طرحې څخه زموږ اهداف دا وو:

الف: د نجيب له استعفى سره سم کمونستي نظام او د وطن گوند متلاشي کېږي او کمونستانو ته د يوه منظم قوت په توگه پاتې کېدل گرانېږي.

ب: د کمونست رژيم اصلي جنگي ځواک، ملېشې او د خاد قطعات وو، فوځ عملاً ختم شوی وو، د دغو قطعاتو د انحلال په نتيجه کې د کمونستانو وروستی منظم جنگي قوت ختمېږي.

ج – عبوری حکومت ته د قدرت د انتقال په وجه هم د مجاهدينو تر منځ د جگړې احتمال پای ته رسېږي او هم د سازشونو مخنيوی کېږي.

د: په انتخاباتو سره به قوي مرکزي حکومت جوړېږي او په قومونو، مذهبي فرقو او سياسي ډلو د قدرت د وېش نزاع به پای ته رسېږي.

غربي ځواکونو او په دوی پورې تړلو حلقو په ظاهر کې لدې طرحې سره توافق ښودو، خو په پټه ئې له مسکو سره د يوه ائتلافي حکومت د جوړولو هڅه کوله، داسې ائتلافي حکومت چې د ببرك پلويان به ئې د دوی د خوښې ډلو سره جوړوي، مسکو او واشنگټن، ايران، پاکستان، سعودی اوهند به د دې حکومت ملاتړ کوي او کومه افغاني ډله چې لدې حکومت سره مخالفت وکړي بايد تر شديد فشار لاندې ونيولی شي، د هېواد د ننه او بهر، د داسې ائتلافي جبهې د جوړولو او د سياسي ډلو او گاونډيو هېوادونو د اقناع لپاره، جدي ليدني کتنې رواني وې، ځينو ډلو په آگاهانه توگه او د بهرنيو هېوادونو د فشار په وجه او ځينو په بې خبري کې لدې بهير سره مرسته او ملگرتيا وکړه.

رباني ناڅاپه سعودی ته د سفر په نامه بهرته ولاړ او په همدې سفر کې ئې له روسانو سره وليدل او د مسعود معاهدې ئې توثيق کړې، پاکستان ته له راستنېدو وروسته، په يوې گډې جلسې کې يوه پاکستاني مسئول ترې پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه چې " استاده مور خبر کړه چې چیرته تللی وې؟" هغه وارخطا شو ، شونډې ئې ورپېږدې او فقط دومره ئې وویل چې په مور شك مه کوئ !"

له روسانو سره د رباني او مسعود توافقات په لاندي خبرو وو:

- د وطن گوند ټول موجود غړي به په خپلو خپلو رسمي دندو کي پاتې کېږي.
- د افغان فوځ د افسرانو روزنه به د پخوا په څېر په روسیه کي ترسره کېږي او د فوځ وسله به روسي وي.
- د افغاني بانك نوټونو د چاپ کار به د مخکني معاهدې سره سم د تل لپاره په مسکو کي ترسره کېږي.
- د اتحاد جماهیر شوروي سرحدات به محترم گڼل کېږي.
- پدی سیمي کي به د مسکو له دوستانو سره د دوستي او له مخالفینو سره د مخالفت سیاست اعمالېږي "یعنی له هند سره دوستي او له پاکستان سره مخالفت "

داسي معلومېږي چي خوارکی بینن سیوان پدې نه وو پوه چي اصلي خبره څه ده او څنگه دی د مجاهدینو د اغفال لپاره استعمالېږي. بینن سیوان ته د امریکا او روسيې لخوا دا وظیفه ورکړې شوې وه چي که مجاهدینو له ائتلافي حکومت سره موافقه ونکړه نو د مؤقت حکومت تر څنگ باید په پټه داسي نظامي شوری جوړه شي چي رئیس به ئې د نجیب د ځواکونو قومندان جنرال نبي عظیمي وي. د جمعیت په شمول ځینو ډلو دا طرحه منلی وه، نجیب هم لدې طرحی سره موافقه کړې وه. جنرال نبي عظیمي په خپل کتاب (اردو و سیاست ) کي دا خبره په ډاگه کړې.

د مؤقت حکومت په سر اکثرو افغاني ډلو موافقه وکړه او د کابینې د غړو لست ئې جوړ او بینن سیوان ته ئې وسپارو. دوو ډلو چي یا له اصل توطئې نه بې خبره وو او یا وظیفه ورکړې شوې وه، لدې طرحی سره مخالفت اعلان کړ، خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی مخالفت ته خاص اهميت ورنکړې شو.

رباني چې له پټ جريان نه واقف وو په ظاهر کې ئې لدې طرحی او د مؤقت حکومت د کابينې د غړو له لست سره خپله موافقه اعلان کړه. د کابينې غړو ته بلنه ورکړې شوه چې له بينن سيوان سره يو ځای کابل ته د تلو لپاره ځانونه اسلام آباد ته راورسوي. که څه هم نجيب د خپلو ځينو ملګرو په شمول لدې سره موافقه کړې وه چې قدرت دغه مؤقت حکومت ته انتقال کړي، خو د وطن ګوند د مرکزي کميټې، په هغې وروستۍ غونډې کې چې د بينن سيوان په موجوديت کې دائره شوه، پدې هکله جدي مشاجره راولاړه شوه. محمود بريالي، نبي عظيمي، وکيل، آصف دلاور، کاوياني، مزدك او د ببرك نورو پلويانو د بينن سيوان له طرحی سره مخالفت وکړ، جنرال نبي عظيمي په ډېرې تندې لهجې، نجيب تهديدکړ او وئی ويل: غير ائتلافي حکومت ته د قدرت انتقال، د وطن له ګوند سره خيانت دی، زموږ موجوديت او ژوند به څوك تضمينوي؟ که موږ په قدرت کې شريك نه وو هيڅ څوك، د ملل متحد په شمول د وطن د ګوند د غړو ژوند نشي تضمينولی، د مزار تجربې وښوده چې ائتلاف هم ممکن دی او هم زموږ په ګټه.

د غونډې وضعه هومره متشنجه شوه چې بينن سيوان له نجيب نه وغوښتل چې لده سره يو ځای مجلس ترك کړي، نجيب له غونډې نه ووت، په وضعيت پوه شوی وو، په کابل کې پاتې کېدل ئې ځانته خطرناك ګڼل، غوښتل ئې له بينن سيوان سره د ملل متحد په طيارې کې له هېواد نه ووځي، خو د کابل له هوايي ډګر نه راستون کړې شو، چانس ورسره ياری وکړه او پدې وتوانېدو چې د ملل متحد دفتر ته پناه يوسي. د ببرك پلويانو عملاً د قدرت واګې په لاس کې ونيولې، يعقوبی د خاد وزير، د نجيب له محدود شمېر نورو پلويانو سره په قتل ورسېدو، د کابل د ادارې لپاره داسې څلور کسيز هيئت اعلان شو چې‌جنرال نبي عظمي، جنرال آصف دلاور، د خاد د وزارت معين يارمحمد او د کورنيو چارو د وزارت معين عظيم زرمتي ئې غړې وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې وخت کي په اسلام آباد کي د تنظیمونو د مشرانو او نمایندګانو غونډه وه، زه لا دمخه د کابل په لوري خوځېدلی وم، زما په ځای هلال صاحب، پدې غونډي کي برخه اخیستې وه، د غونډې په منځ کي رباني ته د خط په ذریعه اطلاع ورکړې شوه چي په کابل کي داسي بدلون راغلي، هغه له غونډې نه ووت، څو شېبې وروسته بېرته غونډې ته راستون شو او وئې ویل: نور نو جلسې ته ضرورت نشته، په کابل کي قدرت مجاهدینو ته په لاس ورغلی او نجیب بندي شوی، په همدې وینا ئې غونډه پرېښوده او د غونډې له ځای نه په منډه ووت، خو یو ساعت وروسته پداسي حال کي بېرته راستون شو چي په څېرې کي ئې د خفګان او شدید تشویش نښې له ورایه څرګندي وې، وجه ئې داوه چي ده ته ویل شوي وو چي د ده ائتلافي ملګري به قدرت تر لاسه کوي او مخامخ او له کوم ځنډ نه پرته به ئې‌ده ته سپاری خو د کابل د ادارې لپاره د څلورکسیز هیئت اعلان مشوش کړي وو.

## د نجیب استعفی

د نجیب د اقتدار په وروستیو شپو ورځو کي د هېواد حالات داسي وو:

کابل د مجاهدینو تر محاصری لاندي وو، د روسانو مالي مرستي متوقف او نظامي مرستي ئې محدودي شوې وې، د خوراکي او سوند موادو بیه خپلي لوړی پوري ته اوچته شوې وه، رژیم حتی د نظامي پرسونل د معاش له ورکړې نه عاجز وو، د نظامي وسائطو لپاره ئې‌کافي تیل نلرل، اردو عملاً متلاشي شوی وو او ځای ئې د ملیشو هغو ځواکونو ته تخلیه شوی وو چي اجیر جګړه ماران وو او د غارت او تالان لپاره جنګېدل او د جګړو له لاري اکمالېدل، کارئی دا وو چي په مفتوحه سیموکي تالان ګډ کړي او له همدې لاري تغذیه او اکمال شي. د دولت د جنګي پرسونل روحیه ډېره مړاوی او د وطن ګوند د ملکي او نظامي غړو په لیکوکي شدید اختلافات راولاړ شوي وو، د حاکم حزب یوې ډلي غوښتل چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت يوه داسي مؤقت حکومت ته انتقال شي چي د ملل متحد له لاري له مجاهدينو سره د تفاهم په نتيجه کي جوړېږي، بلي ډلي له ځينو جهادي تنظيمونو سره د ائتلافي حکومت په جوړولو ټينګار کولو.

نجيب هم په لومړی سرکي په ائتلافي حکومت اصرارکولو خو کله چي د ائتلافي حکومت په اړه ټولي هڅي ناکامي شوې نو ناچار شو چي مؤقت حکومت ته د قدرت د انتقال له طرحی سره موافقه وکړي. هغه په ۱۳۷۰ / ۱۲ /۲۸ د چهارشنبې په ورځ دا موافقه اعلان کړه، خو د ببرک پلويانو لکه عبدالوکيل، جنرال نبي عظيمي، محمود بريالی، جنرال آصف دلاور او نورو لدې مفکوری سره مخالفت وکړ او د يوه داسي ائتلافي حکومت په جوړولو ئې ټينګار وکړ چي له جمعيت اسلامي او نورو منځ لارو ډلو سره به ئې جوړوي. په نظامي او ملکي اداراتو کي د چارو واګي عملاً د همدې دوهمي ډلي په واک کي وې، ملېشې هم لدوی سره ملګري وې.

نجيب چي د خپلو مخالفينو په ټکولو او له صحنې نه په لېري کولو کي ناکام شو، د جنرال دوستم د ترور منصوبه ئې هم شنډه شوه، نو مجبور شو چي د سه شنبې په ورځ ۱۳۷۱ / ۱ / ۲۵ خپله استعفی اعلان کړي.

د نجيب په استعفی سره د دولت ټول واك د ببرك د پلويانو په لاس کي پرېووت. دوی د احتمالي پېښو سره د مقابلې په خاطر او د دې لپاره چي د دولت تر تسلط لاندي منطقو مخصوصاً په کابل باندي د دوی سلطه قايم پاتې شي او د نظام د کامل متلاشي کېدو مخنيوی وکړي، د هغو ډلو سرتېري ئې‌کابل ته راانتقال کړل چي په يوې ائتلافي جبهې کي لدوی سره ملګري شوي وو. کابل ته د دغو سرتېرو د انتقال کار په ۱۳۷۰/۱۲/۲۵ عملاً پيل شوی وو او اکثره ئې د کابل د جنوبي کمربند په هغو پوستو کي ځای په ځای شوي وو چي د حزب اسلامي د ځواکونو د مخنيوی لپاره احداث شوې وې. په ولاياتوکي ټولو ملکي او نظامي مسئولينو ته ويل شوي وو چي د ائتلافي جبهې ملاتړ وکړي، که په

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازي سر د ښارونو له ساتني نه عاجز شول نو له خپلو ائتلافي انډیوالانو نه دي مرسته وغواړي. د حزب اسلامي له جبهاتو نه پرته د هري ډلي افراد له ځان سره ملګري کولی شي. پدې ائتلافي جبهې کي د ببرك له پلویانو سره د دوستم، سید منصور نادري د اسماعلیانو مشر، د وحدت حزب او شورای نظار ملګري وو، په ائتلاف کي د جنګي قوت له لحاظ د شورای نظار ونډه ترټولو کمه وه.

د کمونستانو پلان دا وو چي نظامي ځواك او د ښارونو امنیت او اداره د دوی د ځواکونو په لاس کي پاتې شي او ائتلافي انډیوالان یوازي په ځینو سیاسي او اداري دندو کي مصروف کړي. د ائتلاف د دې خطرناکي توطئې اصلي لوبغاړو د ایران اسلامي جمهوریت ته دا ډاډینه ورکړې وه چي دوی د پاکستان د جدي مخالفت او له ایران سره د کلکي دوستي او ملګرتیا اراده لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حزب اسلامي طرحه

حزب اسلامي غوښتل چې په یوه داسې مؤقت حکومت توافق وشي چې ټولو جهادي ډلو ته د منلو وړ وي او دې حکومت ته په سوله ایز شکل قدرت انتقال او بیا په شپږو میاشتو کې انتخابات ترسره شي او دا هڅه ئې کوله چې ټولې ډلې پدې قانع کړي چې اقتدار ته د رسېدو لپاره د کودتاګانو، سازشونو او له کمونستانو سره د ائتلاف لار غوره نکړي او د کمونستانو ترخې تجربې ونه آزمويي او په مؤقت حکومت کې دې د خاصې برخې لاس ته راوړو هڅه ونکړي بلکې دا دې ومني چې مؤقت حکومت دې لداسې شخصیتونو نه جوړ شي چې ټولو ډلو ته د منلو وړ وي او دا خبره دې د یوه اصل په حیث قبول کړي چې د تنظیمونو برخه او د شخصیتونو وزن او حیثیت دې د انتخاباتو له لارې او د ولس لخوا وټاکل شي، مشران دې تر انتخاباتو انتظار وکړي او د انتخاباتو له لارې دې په حکومت کې داخل شي. موږ پدې باور وو چې یوازې پدې ترتیب د خپل منځی جګړو، کودتاګانو، سازشونو او د بهرنیو په مرسته قدرت ته د رسېدو د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروا هڅو مخنیوی کولی شو. خو هغه کورني او بهرني ځواکونه چې د مجاهدینو په لاس د یوه اسلامي حکومت له جوړېدو نه وېرېدل، پدې هلوځلو بوخت وو چې لومړی دي له کمونستانو سره یوه ائتلافي اداره جوړه شي، داسي چې واگي به د کمونستانو په لاس کي وي که دا کار میسر نشو نو په یوه داسي حکومت دي توافق وشي چې له غرب پلوه بې طرفانو او منځ لارو نه جوړ شوی وي، حزب اسلامي د دې توطئې د شنډولو لپاره دا طرحه وړاندي کړه:

- نجیب دي استعفی وکړي.
- جهادي ډلي دي په یوه داسي مؤقت حکومت توافق وکړي چې له غیر متنازع فیها شخصیتونو نه جوړ شوی وي او ټولو ته د منلو وړ وي، دا شخصیتونه کولی شي احزابو ته منسوب وي خو مشروط پدې چې د نورو په خلاف تعصب ونلري، د دوی د سوابقو، اسلام ته د تعهد او له کمونستانو سره د عدم ملگرتیا په اړه هیڅ ډله پدوی اعتراض ونلري.
- ملېشې چې د کمونست رژیم اصلي جنگي ځواك دی باید منحل شي او د دوی وسلې دي اردو ته انتقال شي.
- د کابل ښار امنیت دي د پولیسو ځواك ته وسپارلی شي.
- قدرت دي په سوله ایز ډول دې حکومت ته انتقال شي.
- په شپږو میاشتو کي دي عمومي انتخابات تر سره شي.

له مولوی خالص او استاد سیاف نه پرته ټولو ډلو لدې طرحی سره توافق وکړ، د کابینې د غړو لست جوړ شو، کاپی ئې بینن سیوان د ملل متحد د سرمنشي خاص استاځي ته وسپارلی شوه، نجیب له خپلي استعفی او مؤقت حکومت ته د قدرت له انتقال سره توافق وکړ، د کابینې غړي په اسلام آباد کي راغونډ شول، ترڅو له بینن سیوان سره یو ځای کابل ته ولاړ شي، خو دا پروسه د ببرك پلویانو د کي جی بی په اشاره مختل کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباني په لومړی سر کي دا طرحه ومنله او د کابينې د غړو لست ئې په ۱۳۷۱/۱/۲۷نېټې امضاء کړ، خو څو ورځې وروسته او پس له هغه چي د ببرك پلويانو ډاډه کړ چي دوی د نجيب په خلاف د اقدام اراده لري، له خپلې ژمني په شا شو او پدې ئې اصرار پيل کړ چي په مؤقت حکومت کي بايد مشران برخه واخلي، مقصد ئې دا وو چي په کابل کي د ائتلافي جبهې له خوا کودتا کېږي، دوي ته په حکومت کي په زړه پوري برخه ورکول کېږي، پکار ده دا برخه د جهادي تنظيمونو د ګډي پرېکړي په نامه ترلاسه کړي نه د ائتلافي جبهې لخوا د کودتا تر نامه لاندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پېښې

## د شمال پېښې او د ببرک د پلویانو لوبه

په شمال کې د نجیب او د ده د ګوندي مخالفینو ترمنځ اختلاف، ورځ په ورځ زیاتېدو، نجیب غوښتل جمعه اڅک د دوستم په مقابل کې تقویه کړي، د ببرک پلویانو دا هڅه کوله چې جمعه اڅک او د نجیب نور پلویان له مزار نه لېرې کړي او د ټول شمال واګې د دوی په لاس کې پرېوځي، د مزار ستراتیژیک اهمیت هومره وو چې په ټول هېواد د تسلط لپاره باید مزار د دوی په واک کې وي، د دوستم تهدیدونو، له مجاهدینو سره د ده ارتباطاتو اوپه کابل کې د ببرک د پلویانو ټینګار، نجیب دې ته اړ کړ چې جمعه اڅک او د ده ټیم، له مزار نه کابل ته راوغواړي او مزار جنرال دوستم ته پرېږدي. جنرال دوستم پدې قانع شو او له مجاهدینو سره د ده ارتباطات ساړه شول.

د مخالفت په وخت کې هغه تر ټولو د مخه د حزب وحدت له مشر عبدالعلی مزاری سره تماس ونیولو، بیا ئې مونږ ته هیئتونه راولېږل او وروسته ئې له مسعود سره خبرې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه پيغامونو ته زموږ لیکلی او شفاهی ځواب دا وو چې نجیب د جګړې په دوام اصرار کوي، د دې پروا نلري چې د ده د اقتدار لپاره به تر کله ویني توئېږي، ترڅو نجیب له اقدار نه لېرې نشي او ځای ئې یوه مؤقت حکومت ته تخلیه نشي جګړه به دوام کوي. هغه ځواکونه چې نه غواړي د افغان ولس د وینو په مزید تویولو کې د نجیب ملګرتیا ته دوام ورکړي باید له دولت نه رابېل شي، له جګړې نه لاس واخلي، د خپل ملت په خواکې ودرېږي او له مجاهدینو سره ملګري شي، که څوك دا کار وکړي یا ئې ونکړي دا رژیم به حتماً نسکورېږي، د رژیم د بقا ټول امکانات ختم شوي.

له مزار نه د جمعه اڅك او د ده د ملګرو له لېرې کولو نه وروسته، نجیب خپلې غلطی ته متوجه شو، پس له لنډې مودې ئې هغوی بېرته مزار ته له پوره صلاحیت او امکاناتو سره ولېږل. جنرال دوستم ته د مجاهدینو په ګډون د یوه مسلحانه قیام نه پرته بله لار نه وه پاتې، په مزار د حملې لپاره تیاری ونیولی شو، په حملې کې د دوستم، منصورنادري او د حزب وحدت د ځواکونو په څنګ کې د جمعیت محدود شمېرکسانو برخه واخستله، مزار د دوی په لاس کې پرېوتو، جمعه اڅك له خپلو ځینو ملګرو سره اسیر شو، له یوې خوا د وحدت حزب او له بلې خوا جمعیت، بی بی سي ته وویل چې مزار دوی نیولی او جنرال دوستم لدوی سره یوځای شوي، خو په حقیقت کې دواړه له دوستم سره ملګري شوي وو او مزار عملاً د دوستم او د ببرك د پلویانو په لاس کې وو.

له کابل نه جنرال نبي عظیمي د یوه هیئت په سرکې مزار ته ورسېدو د سخی د جنډې د پورته کولو مراسم د نوموړی هیئت په وړاندې تر سره شول او راپور ئې کابل راډیو خپورکړ او پدې ترتیب د مزار د فتحې حقیقت، هرچا ته ښه معلوم شو، مخصوصاً د مزار د نیولو مدعی غولول شوو فاتحینو ته !!

## د جبل السراج معاهده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مزار تجربه، د جنرال نبي عظیمي او د "ملګرو" له نظره کامیابه تجربه وه! د ائتلاف تجربه، داسي ائتلاف چي هر څه ئې دوي ته سپارلي، واکمني، وسائل، په قوم کي اعتبار او په ائتلاف کي جهادي انډیوالانو ته د یوه لوی ښار د نیولو داسي تش په نامه افتخار په لاس ورغلی چي پنځمه ورځ هر څوك د هغه په حقیقت پوه شوي.

دا کامیابه تجربه باید په کابل کي هم تکرار شي، جنرال نبي عظیمي حق لري چي د مرکزي کمیټې په غونډې کي د نجیب د هغه نظر مخالفت وکړي چي ویل ئې "قدرت دي مؤقت حکومت ته انتقال شي" او په ډاډ او اطمئنان سره ووایي چي د مزار د تجربې مطابق ائتلافي حکومت د حل لاره ده !!!

د جبل السراج د معاهدې ترشا، اساسي هڅوونکی عامل همدا وو، د دې معاهدې لپاره په جبل السراج کي مسعود، دوستم، د حزب وحدت هیئت او د ببرك د پلویانو هیئت راغونډ شول او په لاندي ټکو ئې توافق وکړ:

- د نجیب واکمني پای ته رسول.
- د یوې داسي شل کسیزی شوری تشکیل چي مسعود به ئې رئیس او سیدمنصور نادري به ئې معاون او په ائتلاف کي شامل ډلي به د تساوی په بنیاد په هغې کي غړیتوب لري.
- د راتلونکي حکومت صدراعظم به عبدالعلی مزاري، د دفاع وزیر به جنرال دوستم او د خارجه چارو وزیر به عبدالوکیل وي، د فوځ ټول قطعات به په خپل حال پاتې وي.
- لومړی به په شمال کي ګډي اداري جوړېږي، وروسته به د کابل لپاره وروستی اقدام کېږي.
- په کابل کي په د شورای نظار او حزب وحدت یو شمېر مسلح کسان د دوستم د قطعاتو تر څنګ او د هغوی په جامه کي ځای په ځای کېږي. د غونډې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پای کې، یو ځل بیا یوه بل ته د دوستي لاسونه او په خپلو ژمنو د ودرېدو اطمئنان ورکړي شو.

د دې مرحلې د جریاناتو په حقایقو د پوهېدو لپاره ښایي له هغو خبرونه خبرېدل به ډېر حقایق تاسو ته روښانه کړي چې ۱۳۷۵ کال د سنبلې په میاشت کې زما او مسعود تر منځ، زما په موټرکې تر سروبي پورې د سفر په جریان کې شوې:

ما ورته وویل: په یوه وخت، په دوو جبهو کې جګړه، نه موږ ته مفید ده او نه ممکن، باید له یوه طرف سره حتماً روغه جوړه وکړو.

مسعود: دوستم ډېر خود غرضه اوبې اعتباره انسان دی.

ما ورته وویل: له موږ سره ئې تر اوسه په خپلو ژمنو عمل کړي.

مسعود: زه به د یوه جریان په هکله معلومات درکړم ترڅو درته څرګنده شي چې دوستم څومره بې اعتباره انسان دی: موږ توافق کړي وو چې په شمال کې به زموږ افراد د ولایاتو په مراکزو کې ځای په ځای‌کېږي او ګډې ادارې به جوړوو، ما د بدخشان قومندانانو ته وویل چې د جنرال دوستم له قومندان سره، چې نوم ئې رانه هېر شوی، تماس ونیسي.

ما وویل: جنرال همایون فوزي؟

مسعود: هو جنرال فوزي، خوکله چې زموږ قومندانانو له هغه سره خبره وکړه، ځواب ئې ورکړ چې ماته تر اوسه پدې هکله خاص هدایت ندی راکړي شوي، له دوستم سره مې د مخابرې له لارې خبره وکړه، هغه راته اطمئنان راکړ چې زه جنرال فوزی ته همدا اوس هدایت ورکوم، خو ما ته د مخابرې د کشف شبکې اطلاع راکړه چې دوستم، فوزی ته هدایت ورکړ چې د مسعود قومندانان په خبروآترو مصروف وساته، خپل استحکامات ونیسه، هیڅاته اجازه مه ورکوه چې فیض آباد ته داخل شي. همدا راز له جمعه اڅك سره د ده د اختلاف د تشدید په وخت کې ده له موږ سره د ګډ کار تعهد وکړ، خوکله چې نجیب، جمعه اڅك له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مزار نه تبدیل کړ، رابطه ئې له موږ سره قطع شوه، بیا د مزار له نیولو نه وروسته هغه یوځل بیا له کابل سره روغه جوړه وکړه او د جنرال نبي عظیمي په مشری له کابل نه هیئت ورغی او د سخی جنډه د همدې هیئت په لاس اوچته شوه!!

د همدې سفر د خبروآترو په یوه بل پړاو کي هغه غوښتل د کابل د سقوط په پېښه کي خپل رول توضیح او توجیه کړي، وئی ویل: د نجیب له سقوط نه مخکي موږ ته د فوځ د افسرانو مراجعه دومره زیاته شوه چي ما به له جنرالانو نه پرته له بل چا سره نه کتل !! ماترې پوښتنه وکړه: لکه څوك؟

هغه په خپل ذهن فشار راوور، له څه ځنډ نه وروسته ئې د جنرال عیسی خان (د لسمي فرقې قومندان) په شمول د دریو جنرالانو نومونه واخستل.

ما ورته وویل: باور وکړه چي د دغو جنرالانو، ډېر د مخه له موږ سره ارتباطات ټینګ او د نجیب تر سقوط پوري ئې له موږ سره تماس درلود، خو موږ پوهېدو چي دوی د ببرك پلویان دي او غواړي د هغه لپاره څه وکړي.. ببرك د همدې لپاره له مسکو نه په ناڅاپي ډول وطن ته راستون شوی وو.

مسعود، نابېره په یوې داسي خبري اعتراف وکړ چي زه ګمان نکوم بل چاته به ئې افشا کړې وي، وئې ویل: په آخر کي زه هم دې خبري ته متوجه شوی وم، د همدې لپاره په هغې غونډې کي چي جنرال دوستم له ګڼ شمېر جنرالانو او ځینو جهادي قومندانانو سره، پداسي حال کي، په پروان کي زما قرارګاه ته راغلي وو چي زه ئې نه ووم خبرکړي، ما ټولو ته وویل: پدې غونډې کي باید ټول دا خبره په څرګندو الفاظو وکړو چي ببرك یو ملي خائن دی، ټولو سرونه کوز واچول، هیچا څه ونه ویل، په پای کي ستاسو یوه قومندان، انجنیرمهدی وویل: آمرصاحب اوس د دې خبرو وخت ندي، ډېر مهم مهم ملیتي مسائل په مخ کي لرو، د ملیتونو د حقوقو د ټاکلو وخت دی، دا مسئله باید د هرڅه نه زیات په پام کي ولرو !!

## په کابل د حملې ګواښ

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جهاد او اسلام په خلاف، د دغې خطر ناکې توطئې له اسرارو څخه له خبرېدو وروسته، د پاکستان غونډې راته عبث او غولوونکې بربښېدې، د سپینې شګې له لارې مې د لوګر په لورې حرکت وکړ، دوه کاره مو وکړل:

- ټولو جبهاتو ته مو لارښوونه وکړه چې د ولایاتو د پاتې مراکزو د نیولو لپاره باید له صالح مجاهدینو سره له تفاهم نه وروسته ګډ اقدام وکړي او مجاهدین د ائتلاف په خطر ناکو عزائمو او عواقبو پوه کړي.
- کمونستانو ته مو دا خبره اعلان کړه چې یا به د ثور له اوومې نه د مخه له قدرت نه بلاقید او شرط لاس اخلي او د کابل امنیت به د کابل د شا او خوا مهمو قومندانانو هغې شورى ته سپارى چې لست ئې اعلان شوي، یا دې پر کابل د لویې حملې انتظار وکړي.

مخکې له هغه چې ولایتونه، ائتلافي جبهې ته په لاس ورشي د مجاهدینو د عملیاتو په نتیجه کې د هېواد په جنوب او شرق کې، ګڼ شمېر مراکز د مجاهدینو په لاس فتحه شول، خو متأسفانه په شمال او غرب کې، د مجاهدینو د غفلت په وجه ځینې ولایات د ائتلاف په لمن کې پرېوتل، هرات، غزني، کندهار او میدان ښار هم پدې جمله کې وو. ننګرهار، لغمان، لوګر، پکتیا، هلمند، فراه، نیمروز، غور، بادغیس، کاپیسا، بغلان، کندز، زابل او ارزګان د مجاهدینو په لاس فتحه شول پکتیکا، خوست، کنړ او تخار لا د مخه فتحه شوي وو.

ښایي د هغه مخابروی هدایت له متن نه خبرېدل به په حقایقو د لا ښه پوهېدو په لاره کې له تاسو سره مرسته وکړي چې د ببرك له خوا د ننګرهار د والی افضل لودین په نامه جلال آباد ته مخابره شوی وو: ببرك هغه ته لیکلي وو: "حتماً مقاومت وکړي او مه پرېږدی چې جلال آباد د مجاهدینو په لاس کې پرېوځي، تر دریو ورځو پورې به ۲۰۰۰ جوزجاني سرتېري ستاسو مرستې ته درورسېږي". د مخابرى دا متن د جلال آباد له فتحې نه وروسته د مجاهدینو لاس ته ورغې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ ځواکونه د کابل په لوري و خوځېدل اول او دوهم امنیتي کمربندونه ئې له کوم جدي مقاومت سره له مخامخ کېدونه پرته مات کړل او ترقلعه چې پوري ورسېدل، زه پدې وخت کې د لوګرولایت په سرخاب کې وم. سرخاب ته پاکستاني هیئت راورسېد، له مانه ئې غوښتل چې یو ځل د څو ساعتو لپاره تر پېښور پوري ولاړ شم او د مشرانو په وروستۍ غونډې کې برخه واخلم. غونډې د پېښور په ګورنر هاوس کې دائرېدې، د سعودی د استخباراتو مشر ترکي الفیصل او د پاکستان صدراعظم نوازشریف هم پدې غونډو کې برخه اخسته.

د پاکستان صدرعظم او ترکي الفیصل څو ځله د مخابرې له لاري له ما نه وغوښتل چې پېښور ته ورشم، ما ته ئې ویل چې په حکومت کې ستا او ستا د حزب د موقعیت په ارتباط به ټول مشکلات حل شي. خو ما ورته وویل: زه په حکومت کې د حزب د موقعیت په اړه نه کومه خاصه غوښتنه لرم او نه اعتراض، زه د مسئلی اصولی او معقول حل غواړم، په کابل کې د کمونستانو له خوا خطرناکه توطئه روانه ده، د دې توطئې د شنډولو لپاره زما موجودیت د کابل په شا او خوا کې ضروري دی. د حکومت په هکله د بحث لپاره زموږ با صلاحیته استاځي هلته شته او په غونډو کې برخه اخلي.

پدی وخت کې د سعودی له خوا د مشایخو او علماوو یوه لویه ډله د دې لپاره پېښور ته رااستول شوې وه چې د دوی په ذریعه د داسې یوه حکومت په سر د ټولو تنظیمونو توافق ترلاسه کړي چې:

- تر دوو میاشتو پوري به د هغه ریاست صبغة الله مجددی کوي.
- وروسته به د څلورو میاشتو لپاره رباني د دولت رئیس وي.
- مسعود به د دفاع وزیر وي.
- صدارت به حزب اسلامي ته سپارل کېږي.

آی اس آی پدې ټینګار کولو چې که مسعود د دفاع وزیر نشي او رباني او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجددی ته د جمهوري ریاست مقام ورنکړي شي بحران نه حل کېږي او په کابل مسلط ځواکونه بل چاته قدرت نه سپاري. وروسته وروسته دا خبره کاملاً په ډاګه شوه چې په اصل کې مسکو او واشنګټن د دې فیصله کړې وه چې په قدرت کې د کمونستانو ګډون یوازې لدې لارې تضمین کېدی شي چې جمهوري ریاست او دفاع وزارت هغه چا ته وسپارلی شي چې له کمونستانو سره ئې ائتلاف کړي او په خپلو پستونو کې د دوی له پاتې کېدو سره موافق وي، دا خبره د یادولو وړ ده چې ځینو خاصو حلقو اود آی اس آی مسئول جنرال جاویدناصر حکومت ته دا مشوره په مکرر ډول ورکړې وه چې: د پاکستان ملي مصالح دا غوښتنه کوي چې په کابل کې د یوه ځواکمن پښتون مشر په ځای باید یو غیر پښتون مشر د حکومت واګې په لاس کې ولري چې پدې ترتیب به د افغانستان له لوري پاکستان ته د پښتنو تر نامه لاندې د کومې ستونزې د راولاړېدو احتمال پای ته ورسېږي.

د کابل له لوري هم یوځل سلیمان لایق د مخابرې له لارې تماس ونیوو او بیا ئې د جنرال رفیع د دفاع سابقه وزیر په مشری هیئتونه سر خاب ته راغلل. د سلیمان لایق یوه خبره په خاصه توګه د یادولو وړ ده چې لما نه ئې پوښتنه وکړه: تاسو په ائتلاف څه اعتراض لرې، پداسې حال کې چې نور ورسره موافق دي او ستونزه یوازې له همدې لارې حل کېدی شي.

جنرال رفیع پدې تأکید کولو چې په کابل د حملې له ګواښ نه منصرف شو او د خبرو له لارې په یوې ګډې ادارې توافق وکړو. ما ورته وویل: که غواړئ په کابل حمله ونشي نو تاسو بلاقید او شرط له قدرت نه لاس واخلئ. ده وویل: قدرت چاته انتقال شي؟ تر اوسه خو مجاهدینو په کومې ادارې توافق ندی کړی. ما ورته وویل: تاسو درې خبرې اعلان کړئ:

- موږ له قدرت نه لاس اخلو او مجاهدینو ته د قدرت له لېږدولو سره موافق یو.
- که مجاهدین په خپلو منځونو کې په کوم حکومت توافق وکړي قدرت به هماغه حکومت ته انتقالوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- او که داسې ونشول موږ به د کابل د ادارې واګې هغې شورى ته سپارو چې د کابل د ښا او خوا له مؤثرو قومندانانو نه جوړه شوې وي.

پدې صورت کې موږ اطمئنان درکوو چې په کابل به حمله نه کېږي.

دې کابل ته ستون شو ، خو د کابل واکداران د دې په ځای چې له دغو خبرو سره توافق وکړي له یوې خوا ئې کابل ته له شمال نه د ائتلافي جبهې قوتونه راانتقال کړل او له بلې خوا عبدالوکیل د نجیب د وخت خارجه وزیر، اعلان وکړ چې که حزب اسلامي په کابل حمله وکړي نو غاښ ماتونکى ځواب به ورکړي شي.

جنرال رفیع هم راغی او ماته ئې دوه خبرې، یوه رسمي او یوه شخصي وکړه: رسمي خبره ئې دا وه چې د دولت عالي شورى ستاسو له طرحى سره موافق نده، پدې ټینګار کوي چې باید ګډه اداره جوړه شي، په کابل له حملې نه ډډه وشي او زموږ او ستاسو ترمنځ دې مذاکرات ادامه وکړي.

غیر رسمي خبره ئې دا وه چې ځیني ستاسو له طرحې سره موافق دي خو ځیني مخصوصاً د ببرك پلویان له ائتلافي او ګډ حکومت نه پرته په بل څه نه راضي کېږي، ما په غونډې کي ستا هغه اعتراض هم وړاندې کړ چې: تاسو د شمال د ائتلاف ځواکونه د څه لپاره کابل ته راانتقال کړي؟ آیا د دې خبرې معنا دا نده چې تاسو په زور په قدرت کې د پاتې کېدو اراده لرې؟ د غونډې ځیني غړي لدې نه خبر نه وو، ځینو نورو وویل چې دا کار د کومې پرېکړې په اساس ندې شوى او شمېر ئې هم دومره ندى چې د تشویش وړ وي.

بالآخره د ثور په پنځمې نېټې له مختلفو خواوو ګڼ شمېر مجاهدین کابل ته راکوز شول، ارګ، صدرات، داخله وزارت، خارجه وزارت او ګڼ شمېر نور مهم مراکز د حزب د مجاهدینو لاس ته ورغلل، د دغو مراکزو په نیولو کې د یادونې وړ مقاومت او جګړه نده شوې، که په هماغه ورځ د خواجه رواش هوایي ډګر نیول شوى وى او پدې ترتیب د کابل او مزار ترمنځ هوایي رابطه قطعه شوې وى نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوم ائتلاف توطئه به کاملاً شنډه او د کابل بحران به د تل لپاره ختم شوی وو.

## د فتحې زيری

ما په همدې ورځ ۵/ ۲/ ۷۱ د مازديگر له خوا د مخابری له لارې په پېښور کې، د افغان نيوز ايجنسي په دفتر کې له راغونډ شوو خبرنگارانو سره مرکه وکړه، پدې مطبوعاتي کنفرانس کې زما د وينا بشپړمتن دا وو:

ټول افغان ولس او گرد اسلامي امت ته د اسلامي انقلاب د بریالیتوب مبارکي وایم. دا بری د ټولو جهادي ځواکونو او د افغان ولس د فرد، فرد د نه هېرېدونکو قربانيو محصول دی، د دې عظيم جهاد د برياليتوب په افتخار کې ټول افغان ولس شريك دی، هغه ولس چې د اسلام لپاره ئې د ټولو ستونزو او کړاوونو په وړاندې په مېړانه صبر وکړ او يونيم مليون شهيدان ئې ورکړل. زموږ ټول ولس په تېره بيا د کابل با ايمانه خلکو، پدې جهاد کې ستره ونډه درلوده، د جهاد په دوران کې د کابل د ښاريانو قرباني که تر نورو ولاياتو زياته نه وه، کمه په هيڅ صورت کې نه وه.

جگړه پای ته رسېدلې او د جگړې ضرورت منتفي گڼو، ټولو ته بلنه ورکوو چې راځي يوه بل ته د وروری لاسونه ورکړو او د تلپاتې سولې د ټينگښت لپاره په گډه هڅه وکړو.

د کابل اوسېدونکو ته اطمئنان ورکوو چې مجاهدين د دوی په خدمت کې دي، هيچا ته به لدوی نه زيان ونه رسېږي او عمومي عفوه به د ټولو په هکله مراعات شي.

زموږ په هېواد کې به راتلونکي حکومتونه د خلکو په خوښه، د انتخاباتو او د ولس رأيي ته د رجوع له لارې ټاکل کېږي، تردې وروسته د کودتايي او تحميلی حکومتونو د واکمنې ټول امکانات پای ته رسېدلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عجالتاً به د ټولو جهادي تنظیمونو په اتفاق جوړ شوي مؤقت حکومت ته واګې سپارل کېږي او د شپږو میاشتو په منځ منځ کې به انتخابات تر سره کېږي. هغه توافقات چې پدې اړه د حزب اسلامي د استاځو او نورو تنظیمونو د مشرانو ترمنځ شوي زموږ له نظره تائید دي او موږ د هغوی په نسبت التزام کوو. فقط د هغه کمیسیون ضرورت منتفی ګڼو چې د کابل له سابقه واکدارانو نه مجاهدینو ته د قدرت د انتقال لپاره جوړ شوي، ځکه قدرت عملاً د هغوی له لاسه وتلی او د مجاهدینو په لاس کې دی.

موږ هیڅکله د یوه حزب مطلقه واکمني، هغه هم له قوې نه د استفادی له لارې نه غواړو او نه ئې د خپلو اسلامي اصولو مطابق ګڼو.

موږ ټولو ته بلنه ورکوو چې راځی صادقانه تعهد وکړو چې لدې وروسته به زموږ په هېواد کې له یوه لاس نه بل ته د قدرت د انتقال په کار کې، د یوه څاڅکي وینې توئېدو او د پخوانیو ترخو او خونړیو تجربو تکرار ته اجازه نه ورکوو.

باید دا ومنو چې اسلام د حکومت د جوړولو حق ولس ته ورکړي، یوازې هغه څوک په اسلامي نظام کې د حکومت کولو حق لري چې د ملت اکثریت ورباندې اعتماد وکړي.

له مؤمنو مجاهدینو، د کابل له ښاریانو او د اردو او څارندوی له هغو منسوبینو نه چې د رژیم په نسکورولو کې ئې فعاله ونډه وه ستاینه کوو او لدوی نه غواړو چې یوبل ته لاس ورکړي، په ښارکې کامل امنیت تأمین کړي او پرې نږدی چې ماجراغوښتونکي مفسد عناصر د بد نظمي او د ولس د آزار او اذیت سبب شي.

له ګاونډیو او دوستو هېوادونو، پاکستان، ایران او سعودی عربستان او ټولو هغو هېوادونو نه چې د جهاد په دوران کې ئې زموږ د ولس د اسلامي مقاومت په یوه بله بنه ملاتړ کړي مننه کوو..."

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال جاوید ناصر د آی اس آی مشر ته د کابل د رژیم د نسکورېدو او ښار ته د مجاهدینو د ننوتو خبر پداسې وخت کې ورسېدو چې د تنظیمونو مشرانو د نواز شریف او ترکي الفیصل په شمول د پېښور په گورنر هاوس کې غونډه درلوده، ماته د یوه افغان مشر ( چې نوم اخستل ئې ضرور نه گڼم) یوه عربي ملگري، د دې غونډې په هکله قصه کوله چې: زه هم د دې مشر د افرادو په ډله کې د غونډې ځای ته داخل شوم، نوموړی افغاني مشر، د خپل یوه ملگري او جنرال جاوید ناصر سره، له غونډې نه راووتل او یوه اطاق ته داخل شول، ماته هم موقع په لاس راغله چې دې اطاق ته ننوځم، دغه افغاني مشر، پاکستاني جنرال ته مخ واړاوو او له الحاح نه ډك غږ سره ئې هغه ته وویل: د حکمتیار د اقدام عواقب ډېر وخیم دي، په هر قیمت چې کېدی شي باید مخه ئې ونیول شي.

جنرال ورته وویل: تا ته ډاډ درکوم چې په هر صورت کې به دا اقدام شنډوو، حتی که د قوې د استعمال په بیه وي !! افغاني مشر ورته وویل: جنرال صاحب پلیز (لطفاً داکار وکړي) هغه عرب وویل چې لدې ورځې وروسته ما خپله رابطه د تل لپاره له نوموړی مشر سره قطع کړه.

متأسفانه مجاهدین پدې ونتوانېدل چې د خواجه رواش هوایي ډگر فلج او د کابل مزار تر منځ رابطه قطع کړي، له همدې هوایي ډگر نه په استفادی سره، د جبل السراج ائتلاف وتوانېدو چې د هوا له لاري له مزار نه کافي شمېر مسلح ملېشې د ثور په شپږمه شپه کابل ته راورسوی او په کابل کې جگړه پیل کړي، جگړه د کمونست رژیم لوی درستیز جنرال آصف دلاور، د کابل د گارنیزیون قومندان جنرال نبي عظیمي، د **۰۵۵** فرقې قومندان جنرال بابه جان او د جنرال دوستم معاون جنرال مجید روزی تر قومندې لاندې، د حزب اسلامي په خلاف پیل شوې وه. پدې جگړې کې اصلي ونډه د کمونست رژیم نه د پاتې قطعاتو وه، د نظار شوری ونډه ډېره ضعیفه وه، ډېر محدود شمېر کسان ئې کابل ته، هغه هم اکثراً د هوا له لارې راانتقال شوي وو، چې ځیني ئې د کابل په جنوب کې او ځیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې له برګو دریشیو سره پدې خاطر د سفارتونو شا او خوا ته ځای په ځای شوي وو چې خبرنګاران او د بهرنیو هېوادونو استاځي ئې وګوري او د جګړې په هکله داسې راپورونه ورکړي چې دا د کمونستانو او مجاهدینو تر منځ نه، بلکه په خپله د مجاهدینو ترمنځ ده.

مسعود په جبل السراج کې وو، د ده او کابل ترمنځ ټوله لاره د حزب اسلامي د مجاهدینو په لاس کې وه، له یوه پلوه کابل ته له داخلېدو وېرېدو، له بله پلوه مطمئن نه وو چې کمونست جنرالان دې مقاومت وکړي شي، که څه هم داکتر عبدالرحمن د جنرالانو د اخلاص په هکله او د مقاومت د امکان په اړه ډاډ ورکاوو خو ده جرأت نشو کولې. دوه اونۍ وروسته چې کله کمونست جنرالان د کابل په اوضاع نسبتاً مسلط شول او د حزب اسلامي ځواکونه له ښار څخه ووتل او صبغةالله مجددی هم کابل ته راورسېدو، نو هله مسعود د جنرال مؤمن په ټانکونوکې د هغه د حمایې تر سیوری لاندې په ۱۳۷۱/۲/۱۹کابل ته د ننوتلو جرأت وکړ، ده تر ټولو زیات په جنرال مؤمن باور او اعتماد درلود.

پدی جګړې کې، د حزب وحدت ونډه تر شورای نظار، ډېره زیاته او مؤثره وه. هم له شمال نه د جنرال دوستم له قطعاتو سره د دوی د راغلو کسانو شمېر تر شورای نظار نه زیات وو او هم د کابل په اوسېدونکو کې د هزاره وو او پنجشیریانو د شمېر تناسب داسې وو چې د حزب وحدت تله ئې په شورای نظار درنه کوله.

موږ ته د کابل په کوڅو کې، کور په کور جګړه هم ګرانه وه او هم د ښار د تالا کېدو او ورانېدو باعث معلومېده، پدې خاطر مو مجاهدینو ته هدایت ورکړ چې له ښار نه ووځي او په څلورو خواوو کې ئې مستقر شي.

په ظاهر کې او په سطحی لیدنې سره خو ښایې دا ننوتل او ژر وتل زموږ د ځواکونو ماتې تلقی شي، خو په حقیقت کې په همدې اقدام سره د کمونستانو ټول پلان شنډ کړې شو. د دوی پلان دا وو چې د جهادي تنظیمونو مشران او مؤثر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخصیتونه پداسي حال کي کابل ته ننوځي چي د کابل او ټولو سترو ښارونو او لویو لارو کنټرول کاملاً د کمونست رژیم نه د پاتې مسلح قطعاتو او خاد په لاس کي وي چي بیا به له دغو بې وزله لاس پښو تړلو مېلمنو سره هرڅه کول آسانه وي، په کابل کي له راغونډېدو سره سم به له منځه وړل کېږي او قدرت به د تل لپاره د ائتلافي جبهې په واك کي پاتې کېږي. په همدې اړه امید دی د څو پېښو وضاحت به لوستونکو سره مرسته وکړي چي په حقایقو ښه پوه شي:

۱ - د نجیب له استعفی نه د مخه او د جبل السراج د ائتلاف له جوړېدو وروسته، ماته په غیرمترقبه ډول، د یوه هېواد له خوا (چي نوم اخستل ئې اوس ضروري نه گڼم) په پرله پسې توگه بلنه راکول کېده چي د دوی ملك ته سفر وکړم، پوښتنه مو وکړه چي د دعوت هدف څه دی؟ د نوموړی هېواد سفارت په اسلام آباد کي زموږ استاځو ته وویل چي"زموږ حکومت حاضر دی حکمتیار د افغان ولس د لارښود په حیث استقبال کړي، دی به زموږ د جمهور رئیس خاص مېلمه وي او په هوایي ډگر کي به ئې د جمهور رئیس معاون هرکلی کوي" پداس حال کي چي لدې نه د مخه د نوموړی هېواد په ورځپاڼو کي د حزب اسلامي په خلاف شدید تبلیغات کېدل، د لومړی ځل لپاره، داسي بلنې، لداسي عجیبو وعدو سره او د نوموړی هېواد په دریځ کي داسي حیرانونکې او ناڅاپي تبدیلي، موږ ته سئوالونه او تشویشونه راپیدا کړل، طبیعي وه چي باور ونکړو او سفر ترسره نشي، ډېر وروسته مو معلومات تر لاسه کړل چي په اصل کي د نوموړی هېواد استخباراتي اداري زموږ د وژلو لپاره خاص پلان جوړکړي وو ترڅو پدې ترتیب د ائتلافي جبهې د برې او په قدرت کي د تل لپاره د پاتې کېدو یوازنی خنډ او مانع له منځه یوسي.

۲ – سیاف چي د رباني په حکومت کي شریك وو او په کلکه ئې د هغه ملاتړ کولو، کابل ته له ننوتو دوه کاله وروسته، هیئتونو ته ویل چي" په خدای قسم ما په تېرو دوو کلونو کي یوازي دوه شپې په کابل کي تېرې کړي، د دې لپاره چي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل ښار امنیت د کمونستانو په لاس کې دی او په ځان وېرېږم" ده د ځان د امنیت په هکله دا تشویش پداسې حالت کې درلود چې په همدې تېرو دوو کلونو کې ده د ائتلاف او کمونستانو په خلاف د یوې خبرې کول هم مناسب نه ګڼل او پوره پوره احتیاط ئې کولو. موږ په همدې مودې کې یو ځل د مرکې لپاره خبرنګاران ورولېږل، هغه ورته وویل چې پدې شرط مرکه کوم چې د ملیشو او کمونستانو په هکله به له مانه تپوس نکوي!

۳ – د جګړې په یوه پړاو کې چې د سولې او روغې جوړې لپاره هڅې پیل شوې وې، مولوی محمدي، مولوی خالص او استاد سیاف بتخاك ته راغلل او د میا محمد آغا په مرکز کې مو غونډه درلوده، د خبروآترو په جریان کې مولوی محمدی موږ ته وویل: له مجددی سره مې مناقشه وه، هغه ته مې وویل: حزب اسلامې خو له کمونستانو څخه قدرت تر لاسه کړ، تاسو ولې او د کوم شرعی مجوز له مخې له کمونستانو سره ملګرې شوئ او د حزب اسلامې په خلاف مو جګړه پیل کړه؟ مجددی راته وویل: حزب اسلامي پرکابل راکټونه ویشتل!! په ځواب کې مې ورته وویل: خدای خبر که حزب اسلامي نه وای په کابل کې به کمونستانو له موږ سره څه کړي وو؟! بیا ئې سیاف ته مخ کړ او ورته وئې ویل: ته او خدای دې که به له حکمتیار سره ملګرتیا نه کوي!! ما مولوی صاحب ته وویل: مولوی صاحب! دا خبره باید په ډاګه او ټول ولس ته وکړې، نه یوازې مشرانو ته او په پټو غونډو کې!! مولوی صاحب راته وویل: حکمتیارصاحب ! ته ښه پوهېږې چې زه دا خبره په ډاګه نشم کولی!!

حقیقت دادی چې که د حزب اسلامي مقاومت او د دې خطر ناکې توطئې په وړاندې په هوشیارتیا سره ودرېدل نه وای، نو په هماغه لومړیو ورځو کې به د کمونستانو پلان عملي کېدو او له مجاهدینو سره به هماغه څه کېدل چې تاجکستاني کمونستانو په دوشنبې کې وکړل، لومړی ئې له مسلمانانو او دیموکراتانو سره ائتلافي حکومت جوړکړ، بیا ئې دیوه عسکري اقدام له لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ائتلافي حکومت ختم او دوشنبه ئې اشغال کړه او د اسلامي نهضت غړې ئې هجرت ته مجبور کړل.

## د امریکا عکس العمل

غربي آژانسونو په کلکه د حزب په خلاف او د ائتلافي جبهې په ګټه هومره وسیع او دروا غجن تبلیغات کول چې د کابل راډیو د تبلیغاتو ضرورت ئې منتفی کړې وو او کابل راډیو ته هم هغوی تبلیغاتي مواد په لاس ورکول. پدغو تبلیغاتو کي په لاندي ټکو ترکیز کېدو:

- باید وښیي چي جګړه د مجاهدینو ترمنځ روانه ده او کمونستان پدې جګړې کي هیڅ ونډه نلري.
- مسعود او د ده ملګري ئې پداسي حال کي د کابل فاتحین او مدافعین معرفي کول چي: دوی پدې جګړې کي فقط د کمونستانو د جګړې لپاره د یوه پوشش حیثیت درلود، مسعود په خپله له کابل نه ۸۰ کیلومتره لېرې په جبل السراج کي وو او کابل ته ئې هم د داخلېدو لار نه درلوده او هم په کابل کي په ځان وېرېدو، خو بی بی سي به ویل چي مسعود د کابل په دروازوکي کابل ته د ننوتلو لپاره تیاری نیسي!! دوی په کابل کي دفاع نه، بلکه جګړه او تېری پیل کړي وو، ټوله جګړه په هغو منطقو کي شوې چي د دوی د مخالفینو په لاس کي وې او دوی د هغوی د نیولو هڅه کړې، که جګړه په خیرخانه، کارته پروان او وزیر اکبر خان مینه کي روانه وی او دا سیمي وراني شوې وی نو په رشتیا، دوی مدافعین او مورږ تېری کوونکي وو، خو که جګړه د کابل په جنوب او غرب کي په هغو منطقو کي شوې وي چي یا هزاره او یا پښتانه پکي مېشت وو لکه: خوشحال مینه، رحمن مینه، پکتیا کوټ، قلعه چه، چهل ستون،کارته ۳، کارته ۴ او کارته سخي او فقط همدا منطقې په هغو حملو کي وراني شوې او خلك ئې هجرت ته مجبور شوي چي شورای نظار او

(c) ketabton.com: The Digital Library



انډیوالانو ئې په لومړي سرکې له حزب اسلامي سره او بیا له حزب وحدت سره درلودي، نو متعرض څوك او مدافع څوك دی؟

غربي آژانسونو، ورځپاڼو او راډیوګانو، د غربي هېوادونو مخصوصاً د امریکا د خارجه وزارت او سناتورانو او کانګرس مینانو، هغه ویناګاني او تبصری خورولی چي ویل ئي، امریکا به پری نږدي او یا باید پری نږدي چي کابل، د حزب اسلامي په لاس کي پرېوځي.

ما ته د پاکستان د آی اس آی پخوانی مسئول جنرال حمیدګل، چي کابل ته د رباني په بلنه راغلی وو، په چهار آسیاب کي، د یوې لیدني په دوران کي وویل: امریکا ته مي سفرکړي وو، د ستیټ ډیپارټمنټ (خارجه وزارت) او د پنتاګون (دفاع وزارت) له مسئولینو سره مي تفصیلي خبري درلودي، په ټولو لیدنوکتنو کي ماته امریکایي مسئولینو وویل چي موږ حکمتیار پری نښود چي کابل ته داخل شي او هیڅکله به ئې پری نږدو چي په کابل حکومت وکړي!!

همدا راز د پاکستان د صوبه سرحد پخوانی ګورنر جنرال فضل حق راته وویل: هغه وخت چي بوش لا د ریګن مرستیال وو او پاکستان ته ئې دوره کړې وه، په ګورنر هاوس کي ئې د یوې خاصي غونډې په ترځ کي، ستا(حکمتیار) په باره کي وویل: Eliminate this fanatic یعنی دا متعصب او لجوج( حکمتیار) ختم کړي" باید له ځان سره پام وکړي"

امریکا په څو دلیلونو د حزب اسلامي حکومت نشو زغملای:

- په اسلامي اصولو د حزب تأکېد.
- د حزب نظم، قوت او په ولس کي قوي نفوذ او ژوري ریښې.
- په اسلامي نړۍ کي د حزب پراخ محبوبیت.
- د افغانستان په داخلي چارو کي د امریکا د لاس وهنو مخالفت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- په عراق باندې د امریکا د حملې غندنه.
- د امریکا له جمهور رئیس ریګن سره له ملاقات نه زما ډډه.
- له هغه ائتلاف سره د حزب مخالفت چې د واشنګټن او مسکو په اشاره او موافقه جوړ شوی وو.
- د ظاهرخان د راوستلو امریکائي پلان شنډول.

باید دا ټکي توضیح کړم چې امریکا او پلویانو ئې تل دا هڅه کړې چې د ظاهرخان د بیا مسلط کولو لپاره لار اواره شي، دوی د ظاهرخان په راوستلو سره هغه خاصه طبقه په افغانستان مسلط کول غوښتل چې:

- د دین په نسبت التزام نلري، په غرب پورې تړلي دي، غربي اخلاق او غربي افکار لري.
- د جهاد په دوران کې په اروپا او امریکا کې پاتې شوي، قبله ئې واشنګټن ده او هماغه څه به په افغانستان او منطقې کې کوي چې امریکا ئې غواړي.

دوی پدې کار سره غواړي دنیا ته وښیي چې د افغانستان کشاله نه په کمونیزم حل شوه او نه په اسلام، بلکې په سلطنتي او شاهي نظام حل شوه، لږ تر لږه پدې سره دوی د جهاد د تجربې ناکامول غواړي. همدا راز دوي، پدې کار سره په ایران کې دې ته د ورته تحول راوستلو لپاره لار آواروی، که په افغانستان کې پس لدومره قربانیو، شهادتونو، هجرتونو، د اسلامي نظام په ځای، زوړ شاهي نظام راتلای شي ولې باید دا تجربه په ایران کې هم پلی نشي.

مګر نګورئ کله چې د امریکا د غوښتني او اصرار په نتیجه کې، د بې نظیربوتو حکومت، سردار ولې ته بلنه ورکوي چې د پاکستان دوره وکړي، له افغاني خانانو او قبایلي ملکانو سره د لیدني کتني غونډې ورته جوړوي او مزار، کندهار او ننګرهار ته ئې دلېږلو ناکامه هڅه کوي، په همدې وخت کې، په غیر مترقبه توګه، د امریکا جمهور رئیس، بل کلنتن، د ایران د پخواني پاچا رضاشاه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوي، رضا پهلوي سره ګوري، دا جریان ښیي چې امریکا د افغانستان او ایران لپاره ورته پروګرام لري، دا ځکه چې غرب پرسته عناصر، پدې دواړو هېوادونو کې، په کوم منظم سیاسي حزب کې ندي راغونډ شوي، د دوی لپاره د شاهي کورنۍ د غړو نه پرته بل محور نشته. په افغانستان کې له هرې ډلې سره د امریکا مرستې پدې پورې مشروط وې چې د ظاهرشاه د راوستلو له امریکائي پلان سره توافق وکړي. شورای نظار، شعلهٔ جاوید ، افغان ملت، ملي جنبش او د طالبانو د جنبش له یوې ډلې سره دوی هلته خواخوږي ښودلې چې د دې پلان په هکله ئې امریکا ئیانو ته اطمئنان ورکړي.

ځیني کسان داسې ګمان کوي چې زه یوازې پدې خاطر د ظاهرخان د پلان سره مخالفت کوم چې د ده په وخت کې په بند محکوم او محبس ته لېږدول شوی وم، خو حقیقت دا دی چې زموږ د هېواد لپاره څومره چې‌کارمل خطرناك وو همدومره ظاهر خطرناك دی، که کارمل د روسانو د غلامۍ نښه وه، ظاهر د امریکا د غلامۍ نښه ده، له بیدینه وطن خرڅوونکو نه پرته بل څوك لدې پلان سره موافقه نشي کولی.

## د ګاونډیو دریځ

په پاکستان کې د افغانستان په هکله څو نظره وو:

- ځینو په کابل کې د مجاهدینو یو قوي حکومت، هم له سیاسي پلوه او هم له اقتصادي پلوه ګټور ګڼلو، د مرکزي آسیا نووو بازارونو ته لار موندل او له هند سره په شخړه کې له خپلې شانه مطمئن کېدل ئې په کابل کې له یوه قوي مرکزي حکومت سره مرتبط ګڼل.
- ځینو حلقو دا رأیه درلوده چې باید په کابل کې دولتي قدرت یوه ضعیف غیرپښتون مشر ته وسپارلی شي، یو پیاوړی پښتون مشر دوي ته د پښتونستان مسئله راولاړولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ځيني بیا داسي دي چي مستقل ملي نظر نلري، په ټولو کورنیو او بهرنیو قضایاوو کي د امریکا نظر مقدس، محترم او واجب التعمیل ګڼي او د امریکا له پرېکړي نه د مخالفت تصورهم نشي کولی، دغي حلقې هم پدې خاطر د ائتلاف ملاتړ کولو چي امریکا همدا خوښوی او هم پدې خاطر چي ګمان ئې کولو پدې سره د هغو کمونستانو خواخوږي جلبولی شي چي د شوروي اتحاد له زواله وروسته، د بلي پناګاه په لټه کي دي.

په ایران کي یوه حلقه داسي وه چي په کابل کي ئې یو قوي اسلامي حکومت د دې لپاره د ایران په ګټه ګڼلو چي پدې سره به د ایران متې پیاوړی شي، افغانستان به د امریکا په اډې نه بدلېږي او له ختیځ لوري به ایران ته هیڅکله ګواښ نه متوجه کېږي، دوی د افغانستان قضیې ته د مذهبي او ملي تعصب په ځای د اسلامي زاویې نه کتل.

خو په ایران کي یوه حلقه داسي وه چي په کابل کي ئې یو قوي مرکزي حکومت، هغه هم د سنیانو او پښتنو تر قیادت لاندي، د ایران د ملي ګټو لپاره مفید نه ګڼلو، دې ته ئې ترجیح ورکوله چي شیعه، تاجك او نوري پرګنې د پښتنو په خلاف متحد شي او پدې سره یا هغوی ته په واکمني کي په زړه پوري برخه په لاس ورشي او یا لږ ترلږه د یوه ځواکمن حکومت د جوړېدو مخنیوی وشي، د غې ډلي په افغانستان کي د ملي اومذهبي تعصب په اساس، حتی د هغو ډلو ملاتړ کولو چي په غرب پوري کاملاً تړلې دي او تل ئې د امریکا د خوشحالولو لپاره ایران ته بد او رد ویلي!

همدا راز د خلیج په جګړي کي د حزب دریځ چي هم ئې پدې منطقې کي د امریکایي فوځونو ځای په ځای کېدل محکومول او هم ئې په عراق حمله غندله له یوې خوا ایران او له بله پلوه سعودی عربستان خوابدی کړي وو.

ډهلي ته داسي راپورونه ورکړي شوي وو چي ګواکي، اکثر کشمېری مجاهدین د حزب له خوا روزل شوي، په کابل کي د حزب اسلامي واکمني او یا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت کي فعاله او مؤثره ونډه، ډهلي ته داسي بربنښېده چي پدې سره به په منطقې کي انډول د ډهلي په ضرر تغییر مومي، پدې سربېره په ائتلاف کي د کمونستانو برخه او په ډهلي کي د کمونست حزب د زیات شمېر غړو اوسېدل، د ډهلي واکداران دې ته هڅول چي د کابل له ائتلافي ادارې سره پوره خواخوږي ولري.

ځیني ښایي داسي گمان وکړي چي دا د حزب اسلامي د ناکام بهرني سیاست نتیجه وه چي ندی توانېدلی د گاونډیو یا د منطقې له هېوادونو څخه د کوم یوه ملاتړ ترلاسه کړي، خو هغوی ښایي دې ته متوجه نه وي چي دا د ټولو هغو سیاسي احزابو گډ مسیر دی چي د خپلواکۍ لار ئې غوره کړې، د خپل هېواد په استقلال او د خپل ولس په آزادۍ او سرلوړۍ باور لري او نه غواړي چي د نورو دگټو لپاره د ده ولس قرباني شي. د دې ذهنیت له خاوندانو نه تپوس کوم چي: زموږ په وړاندي له پرتو دریو لارو څخه د کومي یوې غوره کول، گټور اود اسلامي اصولو مطابق وو:

- له امریکایي کمپ سره ملگرتیا، چي د ظاهرشاه له مسلط کولو نه پرته په بل شي نه راضی کېدل.
- د هغه کمپ ملگرتیا چي د مسکو تر مشرتابه لاندي جوړ شوی او له کمونستانو سره د ائتلافي حکومت غوښتونکی وو.
- خپلواکه او مستقل پاتې کېدل اود خپلواکه پاتې کېدو کړاوونه گالل.

ښایي د سطحی رأیي خاوندان داسي وگڼي چي دوې لومړنۍ لاري، قدرت ته د رسېدو لنډي او آسانه لاري دي، خو د افغانستان د پېښو بهیر ثابته کړه چي دا یو غلط او خطا تصور دی، چا چي دا لار غوره کړي د نورو دگټو لپاره قرباني شوي او په پای کي له رسوایي او ندامت نه پرته بل څه په لاس ندي ورغلي.

زه له زړه نه پدې خبري باور لرم چي وروستۍ فتح به د هغه چا په برخه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دریمه لار ئې غوره کړي. چې نتائج هرڅه وي موږ په همدې دریمې لارې د تلو کلك او پوخ عزم کړي. موږ سل ځله د اسلام د حاکمیت او د اسلامي امت د سر لوړی لپاره قرباني کېدو ته چمتو یو ، هر څه منلی او زغملی شو ، خو له الله نه پرته بل بادار او آقا ته سر نشو ټیټولي، له هر چا سره د خپلې عقیدې په چوکاټ کې پتمنه ملګرتیا کولی شو ، خو د هیچا غلامي نه منو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له کابل نه تر وتلو وروسته

که څه هم زموږ ځواکونه، پدې طمع له کابل نه ووتل چې پدې ترتیب به جګړه متوقف شي، خو داسي ونشول، زموږ په مرکزونو د ائتلافي جبهې حملې په مسلسل ډول رواني وي، حملې د کمونست رژیم نه پاتې قطعاتو کولی خو له اسلامي دولت نه د دفاع تر نامه لاندي!! موږ مجاهدینو ته د صبر او زغم توصیه کوله، پدې مرحلې کي موږ ته د صبر او انتظار سیاست له هره پلوه غوره او ګټور وو، جګړه د کمونستانو په ګټه وه، دا ځکه چي پدې ترتیب خلکو ته حقایق ښه څرګندېدل او په وضعیت د پوهېدو ښه فرصت په لاس ورتلو، مخصوصاً هغو مجاهدینو ته چي کابل ته داخلېدل او په خپلو سترګو ئې لیدل چي د کابل واك په بشپړه توګه د کمونستانو په لاس کي دی او په ائتلاف کي شامل شوي مجاهد ډوله، په حقیقت کي د څو ورځو لپاره د کمونستانو مېلمانه دي، امنیت ئې د هغوی په لاس کي دی، حتی د دوی مشران، د کمونستو جنرالانو له کارت نه پرته د کابل په ښار کي تګ راتګ نشي کولي. راډیو او تلویزیون د هغوی په واك کي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ارگ په دروازو کې هغوی ولاړ دي، هوايي ډگر دوی اداره کوي، د ښار د منځ او ښار ته د ورتلو راتلو لويو لارو امنيتي پوستې ټولې د کمونستانو په لاس کې! خو له جگړې نه زموږ ځان ساتنه او اجتناب کافي نه وو، کمونستو جنرالانو ته وظيفه ورکړې شوې وه چې حتماً د جگړې اور بل کړي، له يوې خوا حزب وحدت او اتحاد په جگړه اخته کړي او له بلې خوا، له اسلامي دولت نه د دفاع ترنامه لاندې د دولت ځواکونه د اتحاد او وحدت په شمول د حزب په خلاف وجنگوي.

پدې مرحلې کې د ائتلافي جبهې شعارونه، چې کله به جنرال مجيد روزی او کله مسعود او د ده نورو انډيوالانو تکرارول دا وو: حزب اسلامي به تر سپينې شگې زغلوو، پښتنو دوه نيم سوه کاله حکومت کړی، نه پرېږدو چې بيا په افغانستان حکومت وکړي.

زموږ شعار دا وو: موږ له جمعيت سره هيڅ جگړه نلرو، که جمعيت له کمونستانو نه رابېل شي، له کمونست رژيم نه پاتې قطعات منحل کړي او د دولت له حساسو مناصبو نه کمونستان لېرې کړي، موږ د مؤقتې مرحلې حکومت په کامله توگه دوی ته سپارو.

موږ مجاهدينو ته ويل: دکمونستانو هڅونکو بريدونو او حملو ته عکس العمل مه ښيي، صبر وکړي، د مخامخ جگړې په ځای بايد هغه کمونست جنرالان ستاسو د حملو هدف وي چې دا جگړه ئې پيل کړې او واگې ئې سل په سلو کې د دوی په لاس کې دي. د دغو جنرالانو په خلاف، ښه ډېر کارونه تر سره شول، ځينې ئې په قتل ورسېدل، ځينې د انفجاراتو په ترڅ کې ټپيان شول، په ځينو نورو يو په بل پسې گڼ شمېر حملې وشوې او له وېرې د هېواد پرېښودو ته اړ شول، جنرال آصف دلاور د همدغې ډلې په جملې کې وو، چې د کور مخې ته، د دفتر اوکور ترمنځ او په دفتر کې ئې ورته انفجارات وشول.

## د جنرال دوستم د جلبولو هڅې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبغة الله مجددی له يوې خوا او رباني له بلې خوا هڅه کوله چې د جنرال دوستم حمايت ترلاسه کړي، دواړه يو په بل پسې له دوستم سره د ملاقات لپاره مزار ته سفر کوي، مجددی ورته د ستر جنرالی رتبه منظوروی او په خپلې وينا کې د هغه ښه ډېره ستاينه کوي. مولوی منصور ئې له خالد بن وليد سره تشبيه کوي. رباني ورته وايي چې تر خپل ځويه زيات راباندي گران يې، څو ځله مزار او شبرغان ته د زيارت لپاره ورځي. د دې په ځای چې د تش په نامه جمهور رئيسانو په وړاندي د احترام په ځای کولو لپاره د دوی يو جنرال کابل ته راشي، دوی د هغه په حضور د مشرف کېدو لپاره يو په بل پسې مزار او شبرغان ته ورځي، لدينه هرچا ته جوته کېده چې په کابل کې د دغو مشرانو حيثيت څومره دی او د کمونست رژيم نه پاتې جنرالانو په وړاندي د دوی د حقارت، ضعف او احتياج احساس څومره؟؟

د مجددی او رباني تر منځ د جنرال دوستم د حمايې ترلاسه کولو په سر رقابت ورځ په ورځ زياتېدو، د مجددی د دوه مياشتني رياست په وروستيو شپو ورځو کې دا رقابت خپل اوج ته ورسېدو. له وضعيت نه د رباني انتباه دا وه چې مجددی حتماً په قدرت کې پاتې کېدل غواړي او کمونستان به ئې حمايت کوي، سخت لالهانده او وارخطا وو، سعودی ته ئې سفر وکړ، ترڅو رياض، له مجددی نه ده ته د قدرت په انتقال کې مرسته وکړي، خو د سفر له نتائجو نه زيات ډاډمن نه وو او گمان ئې کولو چې د مجددی مؤقت راوستل اصلاً د دې لپاره وو چې د کمونستانو په مرسته تل په قدرت کې پاتې شي.

مجددی له مسعود نه هم دا هيله درلوده چې پدې کار کې به د ده مرسته کوي. دا ځکه چې د جهاد په دوران کې د امريکايانو ځيني فوق العاده مرستې د ده له لاري مسعود ته رسېدلې وي، خو دا هيله نه يوازې تر سره نشوه بلکې مسعود تهديد کړ چې که قدرت پری نږدې په زور به دی له ارگ نه وباسو.

رباني او مسعود مسکو او ډهلي ته هيئتونه ولېږل ترڅو لدې لاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمونستان پدې متقاعد کړي چې د قدرت له انتقال سره توافق وکړي، روسي هیئت د کابل او مزار ترمنځ دوره وکړه، جنرال دوستم ئې پدې قانع کړو چې پدې هکله خپله بې طرفی اعلان کړي.

دواړو زموږ لوري ته مخه کړه، غوښتل ئې موږ د یوه په مقابل کې د بل مرسته وکړو، رباني د استاد سیاف په شمول ریشخورو ته راغلل، دواړو پدې ټینګار کولو چې د پېښور د معاهدې مطابق باید قدرت رباني ته انتقال شي. ما ورته وویل: که تاسو دا خبري ومني چې ملېشې به له کابل نه ایستل کېږي، کمونستان به له حساسو ادارو نه ایستل کېږي او د څلورو میاشتو په پای کې به انتخابات تر سره کېږي، پدې صورت کې زه له مجددی نه رباني ته د قدرت له انتقال سره موافق یم او که دا کار نشي کولی نو ته او مجددی ماته برابر یاست، تاسو پوهېږئ او مجددی.

مجددی پداسي حال کې زموږ د مرستي ترلاسه کول غوښتل چې زموږ په خلاف ئې د کمونستانو د جګړې په کلکه ملاتړ کولو، په شوری او حکومت کې زموږ د غړو د شمولیت سخت مخالف وو او غوښتل ئې کمونستانو او امریکایانو ته وښیي چې د بنسټپالو د ټکولو لپاره تر ټولو غوره کار، په ریاست جمهوري کې د ده پاتې کېدل دي، د خپلې سورلی په طیارې د راکټ حمله ئې هم د حزب کار ګڼلو. خو اوس لدې مخالفتونو نه نادم وو او په طیارې د حملې خبره ئې بېرته واخستله او هغه ئې د مسعود کار وګڼلو، زموږ له استاځو سره ئې ډېري خوږې خوږې خبري کولې او ویل ئې چې زه په ملګرتیاکې ډېر کلك یم اوس به حکمتیار صاحب ته ثابته کړم چې څومره مې د ده مخالفت کولو تر دینه به زیات د ده ملاتړ او تائیدکوم، موږ ورته وویل: که ته په قدرت کې پاتې کېږې موږ ورباندې اعتراض نلرو او که رباني ته ئې سپاری موږ ئې مخالفت نه کوو. موږ ته اصلي خبره د ملیشو انحلال او د انتخاباتو ترسره کېدل دي. هغه ویل چې زه پدې هکله د حکمتیارصاحب سره مخامخ خبري کوم. خو د دوستم بې طرفی او د مسعود

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخطارونو مجددی مجبور کړ چي له قدرت نه لاس واخلي خو اعلان ئې وکړ چي زه قدرت رباني ته نه، بلکه شوری ته سپارم، غوښتل ئې داسي وښيي چي رباني ته د قدرت سپارل داسي لویه گناه ده چي دی ترې ځان ساتل غواړي. بالآخره مجددی له ارگ نه ووت، خپل ځای ئې رباني ته خالی کړ او پېښور ته ولاړ، څو ورځي وروسته، ده ته سپارل شوی کور هم د شورای نظار غړو محاصره او فرش او ظرف ئې تالان کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د رباني واکمني

رباني که څه هم د يوه بين المللي سازش او له کمونستانو سره د ائتلاف له لاري قدرت ترلاسه کړ، خو له مجددی څخه ئې د اقتدار د انتقال غوښتنه د پېښور د معاهدې له مخې کوله، پداسي حال کي چي د پېښور په معاهدې کي ليکل شوي اصلي ټکي دا وو:

- رباني به فقط د څلورو مياشتو لپاره د دولت رئيس وي او دا موده به د يوې ورځې لپاره هم نه اضافه کېږي.
- پدی موده کي به يوه متفق عليه شوری (داسي شوری چي ټول ورباندي اتفاق وکړي) جوړېږي.
- د صدارت مقام ته به حزب اسلامي له خپلي خوا صدراعظم معرفي کوي.
- د دولت له حساسو ادارو نه به کمونستان لېري کېږي.

راشئ وګورئ چي د دې معاهدې په هکله رباني څنګه التزام وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د څلورو میاشتو په ځای ئې څلور کاله څلور میاشتې حکومت وکړ، داسې حکومت چې پدې **۵۲** میاشتوکې داسې یوه میاشت نده تېره شوې چې د هېواد په مرکز یا ولایاتو کې کومه لویه او سخته جګړه نه وي شوې، توپونه، ټانکونه اوجهازونه نه وي استعمال شوي او د لسهاوو کسانو وینې نه وی توی شوې، وړی نښتې، د ولسوالی یا دوو جبهو په سطحه، که ووایو چې هره ورځ بلاناغه شوې مبالغه مو نده کړې.

ده ګمان کولو چې په دغو حملو سره به د کابل په شا او خوا کې د حزب اسلامي مراکز ختم کړي، په اوضاع به مسلط شي، د شوری د جوړولو ضرورت به منتفی شي او بل ته د قدرت د سپارلو غوښتنه به پای ته ورسېږي، خو په جګړو سره ئې څه ترلاسه نکړل، څلور میاشتې پوره شوي، متفق علیه شوری جوړه نشوه، د معاهدې مطابق دا موده باید د یوې ورځې لپاره نه وی تمدید شوې، ټولو ډلو حتی هغو چې ده ورته هره میاشت د تنظیم په نامه په بوجیو بوجیو پیسې ورکولې، دا مطالبه وکړه چې قدرت دې د مشرانو شوری ته وسپارلی شي، خو هغه دې ته نه وو تیار، پدې ترتیب ئې د معاهدې دا بند هم نقض کړ، نور دې ته اړ شول چې د رباني د ټینګار په وجه د ده موده د **۴۵** ورځو لپاره پدې شرط تمدید کړي چې په همدې مودې کې به په لاندې ډول یوه شوری جوړېږي:

لومړی به د هري ولسوالی د مؤثرو قومندانانو او مخورو مشرانو د ګډې غونډې له خوا د ولسوالۍ شوری جوړېږي، بیا به همدا شوری، مرکزي شوری ته خپل دوه استازي معرفي کوي. تنظیمونه به هم محدود شمېر غړي دې شوری ته لېږي، لدې لارې به راتلونکی حکومت جوړېږي. دا د جګړو د ختمولو او په هېواد کې د یوه شورایي نظام د راوستلو ښه فرصت وو. که څه هم پنځه څلویښت ورځې د دې کار لپاره کافي نه وې، خو که رباني او اندېوالانو ئې په اخلاص او صداقت سره، د پرېکړو مطابق، د داسې شوراګانو د جوړولو په کار کې مرسته کړې وې، مشکل حل کېدو، خو هغوی په یوه بله پلمه کار ځنډولو، ورو ورو ټولو تنظیمونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د رباني عزایم معلوم شول او پدې پوه شول چې هغه لدې پرېکړې نه د غلطی استفادی اراده لري، په پای کې غواړي د خپلي خوښي څو کسان راغونډ کړي او خپل ریاست یو ځل بیا تمدید کړي، د همدې لپاره له (۹) تنظیمونو نه (۷) د یوه مطبوعاتي کنفرانس او یوې ګډي اعلامیې په ترځ کې خپله مقاطعه اعلان کړه، رباني او سیاف یوازي پاتې شول.

رباني ته د تنظیمونو مخالفت مهم نه وو، هغه د ځینو تنظیمونو د افرادو اخستلو په چم ښه بلد وو. له ولایاتو نه ئې د هلیکوپترو په ذریعه د خپلي خوښي کسان راغونډ کړل، د جنرال دوستم ۲۰ کسان ئې غونډې ته راوبلل، سیاف ویل چې زه له دوستم نه په څه کې کم یم، په شورى کې به له شمال نه زما هم ۲۰ کسان منل کېږي. د حرکت انقلاب مشر مولوی محمدنبي اشتراك ونکړ او د مقاطعې په پرېکړې ټینګ ودرېدو، خو معاونینو ئې شرکت وکړ. شیخ آصف محسني له شرکت نه ډډه وکړه خو د حرکت په نامه ځیني کسانو برخه واخیسته، مجددی او ګیلاني نوموړی غونډه تقلبی او جعلی وګڼله، حزب وحدت په کلکه محکوم کړه، مولوی خالص هم مخالفت وکړ. خو سیاف او رباني تر پایه حتی د غونډې د شروع کېدو نه وروسته، راغلو کسانو ته ویل چې مشران راروان دي، یو ساعت وروسته رارسېږي ! د مازدیګر په غونډې کې شرکت کوي ! نن ونشو سبا راځی !! د سیاف د جنوب او جنوب لوېدیځ له خوا معرفي شوو غړو په غونډې کې له شرکت نه ډډه وکړه، په ګډه ئې له سیاف نه وغوښتل چې په غونډې کې به د اتحاد اسلامي غړي برخه نه اخلي، سیاف دوی ټول په مسجد کې پرېښودل او ورته وئې ویل: د نیم ساعت لپاره ځم، بېرته راځم. غونډه دایره شوه، دوه ثلثه رابلل شوي کسان له غونډې ووتل، پداسي حال کې چې په دروازو کې ئې مسلح کسان ودرولی وو او له غونډې نه د وتلو مخنیوی ئې کولو، د پاتې کسانو اکثریت پدې ټینګار کولو چې دا غونډه دي معطل شي، له مشرانو سره دي خبره وشي، لږ ترلږه د مشرانو څو کسان خو باید پدې غونډې کې حاضر وي او کم تر کمه د ریاست لپاره خو د رباني تر څنګ باید کوم بل کاندید موجود وي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دوی ته وويل شو چې دا آخري ورځ ده، که غونډه وځنډېږي، د راکټي حملې احتمال شته، بايد حتماً او همدا نن په همدې وروستۍ غونډې کې رأيه واخستلی شي. بيا هم له يوې خوا بلې خوا د مخالفت غږونه اوچت شول، خو د برچې په زور کنېنولی شول، کاغذونه وويشلی شول او بېرته راغونډ شول او اعلان وشو چې استاد رباني د آراوو په اکثريت سره د دوو کلونو لپاره د دولت د رئيس په حيث وټاکل شو.

ماته د دې غونډې ځينو برخه والو وويل: په خدای قسم که په همدې غونډې کې چې د رابلل شوو کسانو دريمي برخې پکې برخه اخيستې وه، که د رباني تر څنگ هرڅوك ودرېدلی وی نو هغه به اکثريت تر لاسه کولو. ځکه د شورای نظار له خوا له غږو سره له اهانت او سپکاوی نه ډك وضعيت، د مشرانو د اشتراك په هکله دروغجنې وعدې، د غونډې شرمناك حالت او د کمونستانو شرکت، ټول کسان حتی متعصب جمعيتيان په کلکه ناراضه کړي وو.

موږ د غونډې په دوران کې هيڅ عکس العمل ونه ښودو، غوښتل مو ټول ولس ته د دې خلکو ماهيت څرگند شي او پدې پوه شي چې څوك د چل، فريب، رشوت، درواغو او هري ناجائزی وسيلی نه په استفادی سره په قدرت کې پاتې کېدل غواړي؟ لدې غونډې نه وروسته، په کابل او ټول هېواد کې د دې شوری په هکله چې رباني او پلويانو ئې د شوری حل و عقد نوم ورکړي وو، ويل کېدل چې، شوری پول نقد او د رباني په هکله دا شعار د فرد فرد په ژبه وو: يا ارگ يا مرگ.

عام ولس تر ټولو زيات په استاد سياف غصه ول اود اتحاد د شوری او اجرائيه اکثر غړي له همدې غونډې نه وروسته هم له کابل نه ووتل او هم له اتحاد نه.

## د استاد فريد صدارت

موږ د صدارت لپاره استاد فريد معرفي کړ، پدې هکله د حزب اجرائيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوري، کابل ته د مجددی له راتلو نه د مخه خپله پرېکړه اعلان کړه. استاد فريد په قوم تاجك، د کاپيسا د ولايت اوسېدونکی او په هغه ولايت کي د حزب اسلامي د جهاد امير وو، مسعود ځو ځو ځله مخصوصاً له روسانو سره له اوربند نه وروسته، د ده په هغو سيمو بريدونه کړي وو چي پنجشير ته څېرمه پرتې وې. خو هرځل ئې ماتې خوړلې وه، ده هم په فکری لحاظ او هم په عملي او جهادي لحاظ د استاد فريد په نسبت د حقارت احساس کولو او د صدر اعظم په حيث د ده منلو ته تيار نه وو، کابل ته د ده له راتلو سره مخالف وو. موږ استاد فريد پدې خاطر د صدراعظم په حيث وټاکو چي پدې سره د کمونستانو هغه خطرناکه توطئه شنډه کړو چي د پښتنو اوغير پښتنو تر منځ، قومي او ژبنيو تعصباتو ته لمن وهل او په همدې اساس د جګړو اور بلول وو.

مقابل طرف دجګړو له نتائجو نه له مأيوس کېدو وروسته، کابل ته د استاد فريد له ننوتلو سره موافقه وکړه، خوله استادفريد نه د کابل د ولس او په لاري کي د پروان د خلکو شانداره او بې سابقی استقبال، ائتلافيون سخت وارخطا کړل، په کابل کي د حزب نفوذ په همدې ورځ دوي ته ښه معلوم شو، عقدی ئې تحريك شوې او حسادتونه ئې راوپارېدل، خو په هر صورت، استاد فريد د صدارت ماڼۍ کي مستقر شو.

د استاد رباني له خوا د ده ځو ځله مېلمستيا او بيا په يوې خاصي غونډې کي ده ته يوه پټه وينا ښايي له تاسو سره د رباني په نظرياتو د ښه پوهېدلو مرسته وکړي:

استاد فريد وائي: يو ځل ئې ماته خاصه مېلمستيا وکړه، خوله ما سره د جرير په شمول داسي ورونه وو چي رباني نه غوښتل د هغوی په وړاندي خپله خبره ماته وکړي، مېلمستيا په عادي او عامو خبرو پای ته ورسېده، دوهم ځل ئې احوال راولېږو چي زما خاص مېلمه يې، ما له ځان سره جرير صاحب ملګری کړ، له ډوډۍ نه وروسته ئې راته وويل چي له تا سره ځو خاصي خبري لرم، ما جرير له ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره واخیست او د استاد خاص اطاق ته ورغلم، ماته ئې کومه خاصه خبره ونکړه او په عامو څو لنډو خبرو ئې اکتفاء وکړه. دریم ځل ئې بیا احوال راولېږو، د ډوډۍ نه وروسته، لده سره یوازې خاص اطاق ته ولاړم او هغه راته وویل: موږ ته یوه خاصه تاریخي موقع په لاس راغلې، زه جمهور رئیس، ته صدراعظم او مسعود د دفاع وزیر دی. لدې تاریخي موقع نه باید اعظمي استفاده وکړو، محرومو قومونو ته داسې فرصتونه ډېر کم په لاس ورځي، استاد فرید وایي: ما ګمان نه کولو چې یو مسلمان، بیا د شرعیاتو یو استاد دی، داسې غیر اسلامي ذهنیت ولري، ما د احزابو د یووالی او د افغان ولس د ملي وحدت او د کمونستانو په خلاف د ګډ موقف په ارتباط له جناب رباني نه د کومې خاصې او مهمې خبرې اورېدلو انتظار درلود، هغه ته مې وویل: استاده دا د حل لاره نده، نه اسلام دا د حل لارګڼي او نه د هېواد اجتماعي جوړښت داسې دی چې لدې نه موږ ته کومه خاصه ګټه ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لویه ګډه حمله

ائتلافیونو د یوې لویې حملې لپاره تیاری نیولو، غوښتل ئې د کابل په ختیځ او جنوب کې د حزب مراکز اشغال کړي. د کابل څلور لویې لارې د حزب په واك کې وې، دا د محاصرې حالت باید ختم کړي، د حملې لپاره له شمال نه کافي شمېر د دوستم، جنرال مؤمن او حزب وحدت مسلح افراد کابل ته راانتقال شول، اصلي حمله باید په دوو استقامتونو، د بالاحصار نه د چهار آسیاب په لوري او له چهل ستون او دارالامان نه د ریشخور په لوري ترسره شي، له هوايي بمبارد نه باید په پراخه پیمانه استفاده وشي.

موږ یوه ورځ د مخه د دوی د تجمع مراکز تر اور لاندې ونیول، پدې سره که څه هم د دوی د وسیع حملې پروګرام مختل شو، خو د سختې بمبارۍ په وجه او له خوشه ئې بمونو نه په پراخه پیمانه د کار اخستلو په وجه، دوی وتوانېدل له بالاحصار نه د سیاه سنګ په لوري پرمخ ولاړ شي او زموږ ځینې سنګرونه ونیسي، په یوې مرحلې کې زموږ د مجاهدینو روحیه هومره مړاوې او د شپې ورځې مسلسل بمبارۍ هومره ستومانه کړي وو چې د مقاومت له دوام نه مأیوسه شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وضعیت د څېړني لپاره مو د شپې لخوا یوه غونډه راوبلله، حاجی صاحب کشمېرخان، انجنیر صاحب فیض محمد ، خوږمن صاحب، ارغندیوال صاحب، ابوبکر صاحب او حاجی صاحب شیریندل په غونډې کي شرکت وکړ، د ټولو رأیه دا وه چي لږ په شا کېږو د سقاوی په دشتي کي دفاعی خط جوړوو. په هغې غونډې کي چي ما د دغو وروڼو په څېروکي کومه پرېشاني او د سختي ستړیا او ستوماني کومي نښی لیدلی هیڅکله به مي له یاده ونه وځي. تقریباً درې اونۍ مسلسل د شپې ورځي جګړه وه، زیات شمېرمجاهدین مو شهیدان او ژوبل شوي وو، د شهداوو او ټپیانو د انتقال په وجه د مجاهدینو شمېرکم شوی وو. موږ په ولایاتو کي منظم عسکري قطعات نه درلودل چي فوراً ئې لومړی خط ته سوق کړو او ستړی ستومانه مجاهدین تعویض کړو، له ولایاتو نه د داوطلب مجاهدینو راغونډول فرصت غوښتو ، موږ ناڅاپي لداسي لوئی جګړې سره مخامخ شوي وو. ما وروڼو ته اطمئنان ورکړ، غونډه مي ختمه کړه او وروڼو ته مي وویل چي ان شاء الله سبا به د حالاتو په رڼا کي مناسب تصمیم نیسو. په خدای باور وکړې چي د جګړې له پیل نه تر همدې شپې پوري زما تر ټولو ډاډمنه شپه چي هم مي په اطمئنان او آرام زړه، ډوډۍ خوړلې او هم مي پوره خوب کړې، همدا شپه وه، ما له ځان سره فیصله وکړه چي سبا په خپله لومړی خط ته ځم او تر بری یا شهادت پوري به جنګېږم.

سبا سهار بیا جګړه پیل شوه، خو په ډېرسریع ډول د جګړې تعادل او انډول داسي د مجاهدینو په ګټه بدلېدو چي هیچا د هغه تصور نشوکولی، تر لسو بجو پوري موږ ټول اشغال شوي سنګرونه بېرته ونیول، ز موږ ځواکونه د بالاحصار خولی ته ورسېدل، دښمن ښه ډېر تلفات لیدلی وو، په تیښته وو او سنګرونه ئې یو په بل پسې پرېښودل.

دا جګړه د ننګرهار د سولي د یوه هیئت په منځګړیتوب پای ته ورسېده، د سولي د هیئت پرېکړه چي دواړو خواوو ورباندي امضاء وکړه، د اوربند، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندیانو د تبادلي، له کابل نه د ملیشو د ایستلو او د لویو لارو د خلاصون غوښتنه کوله. موږ د معاهدې مطابق جګړه متوقف کړه، بندیان مو خوشي کړل، لویې لاري مو د تل په شان خلاصی پرېښودي، خو مقابل طرف څو کاره وکړل:

- د ملیشو د ایستلو په ځای ئې کابل ته د ملیشو تازه نفس قوتونه راانتقال کړل.
- د شینډنډ په هوایي ډګر، چې د حزب اسلامي د مجاهدینو په واک کي وو، بمباري پیل کړه، دا بمباري تر دوو میاشتوپوري جاري وه.

د ننګرهار د سولي هئیت چې په خپلي پرېکړي کي ئې په واضح الفاظو لیکلي وو: کوم طرف چې لدې معاهدې نه تخلف وکړي، د ننګرهار قوتونه به د بل طرف په خوا کي، د متخلف په خلاف جنګېږي، خو په عمل کي ئې یوازي د مقابل طرف د سرغړونو په هکله په یوې راډیویي اعلامیې اکتفاء وکړه او هغه ئې له معاهدې نه د متخلف په حیث وغندلو.

## د دې حملې نتائج

پدې جګړي کي د ائتلافیونو د ماتې څو ستر ستر نتائج وو:

الف: د دوی غرور مات شو، پدې پوه شول چې ترسپیني شګې د مجاهدینو زغلول او د نادرشاه د واکمنۍ په دوران کي په پروان د حملې غچ اخستل، یعنی څه؟ لدې ماتې نه وروسته زموږ په سنګرونو د دوی مخکنۍ د توپونومسلسل ډزی متوقف شوي.

ب: د دې جګړي په وجه د دوی ترمنځ اختلافات تشدید شول، که څه هم جنرال دوستم او حزب وحدت لادمخه پدې ناراض وو چې د جبل السراج د معاهدې مطابق دوي ته خپل منل شوي امتیازات ونسپارلی شول، خو پدې ستري جګړي کي د مسعود ضعیف شته والي، هغوی مزید ناراضه کړل، دوی پدې کار د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعتراض حق درلود چې د دفاع وزير دي مسعود وي او په جګړې کې تلفات دي د جنرال دوستم قطعات ګالي. د جګړې په دوران کې يوځل دوستم، مسعود ته په مخابرې کې وويل: نامرد کجاستی؟ ما کشته مې شويم و تو آرام نشسته ای !! نامرده چيرته يې؟ موږ وژل کېږو او ته آرام ناست يې !!

ج: د حزب وحدت او جنرال دوستم په افرادوکې دا ذهنيت راولاړ شو چې ولې بايد د نورو د اقتدار لپاره دوی د حزب اسلامي په خلاف وجنګېږي او مرګ ژوبله وزغمي؟ لدې جګړې نه د دوی حاصل څه دی؟ دې ذهنيت د دواړوطرفونو مشرتابه باندې فشار راووړ چې په خپل دريځ کې تجديد نظر وکړي، په حقيقت کې د دې ائتلاف د رنګېدو سلسله له همدې ماتې نه وروسته پيل شوه او د هم آهنګۍ شورې په جوړېدو سره د هغه جنازه واخستلی شوه او ټغر ئې ټول شو او پدې ترتيب زموږ هېواد له يوې خطرناکې توطئې نه وژغورلی شو.

## د خنجان عمليات

له مزار نه د ځمکې له لارې د ائتلافيونو يو قطار د کابل په لورې پدې نيت راخوځېږي چې په کابل کې د دوی متزلزل موقعيت مستحکم او مړاوی روحيه پياوړې کړي. پدې لوی قطار د خنجانو په تنګۍ کې د اتل قومندان، صوفي پاينده محمد مجاهدينو، بريالی عمليات ترسره کړل، قطار ته د سر لوی زيان ورسېدو، د ډېرګاډې ئې له سړك نه لاندې کولی شول، کافي تعداد مړی او ټپيان ئې ورکړل، برید ناڅاپي وو. دا مؤثره حمله د ائتلافيونو په روحيې يوبل سخت ګوزار وو، هم د دوی شعارونو ته ښه په ځای او په وخت ګوزار وو او هم د دوی جنګي عزايمو ته.

صوفي پاينده محمد، تاجك او د شمال اوسېدونکی وو، د ده د مجاهدينو دغه عملياتو، ټولو ته جوته کړه چې په کابل کې روانه جګړه، د سمتونو او قومونو ترمنځ نه، بلکې د کمونستانو او مجاهدينو ترمنځ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورډ له پروان څخه هم د همداسي یوه اقدام هیله درلوده، په پروان، کاپیسا او د کابل په شمال کي د حزب اسلامي تقریبا پنځه ویشت زره مسلح مجاهدین وو، چي په روسي قطارونو د دوی بریدونه بې ساری وو. په جهاد کي د دوی ستره برخه وه او روسانو تر هر چا زیات له همدغو مجاهدینو نه شکایت درلود چي له قلعه مرادبیګ نه تر پل متك پوري د سړك دواړو خواوو ته ئې کلك او نه ماتېدونکي سنګرونه او له نظامي لحاظه دقیق خندقونه درلودل او په روسي قطارونو ئې پر له پسې حملې کولی او د دغو سنګرونو او خندقونو د ختمولو لپاره د روسانو ټولي هلي ځلي ناکامه پاتې شوې وې. خو متأسفانه د خاصو عواملو په وجه دا هیله ترسره نه شوه، لویه وجه ئې دا وه چي ائتلاف وتوانېدو یو شمېر ضعیف النفسه افراد په پیسو واخلي، ځینو نورو بې اعتنایي وکړه او د کابل د لومړنیو پېښو په اړه ئې یا پدې دلیل څه ونکړل چي د اکمالاتو لاري ئې بندي وې او یا پدې دلیل چي غوښتل ئې د دوی منطقې ته جګړه راانتقال نشي. زه باور لرم چي که په شمالي کي د حزب اسلامي ځینو قومندانانو دا اشتباه نه وی کړې او له لومړۍ ورځې ئې پرېکنده او جدي دریځ غوره کړی وی نو نه یوازي دا چي دوی به له خپلې منطقې څخه نه ایستل کېدل او د ائتلافي ځواکونو په لاس به له سپکاوی سره نه مخامخ کېدل، بلکي د ټول ائتلاف د مقابلې لپاره یوازي د دوی ځواکونه کافي وو، هم به کابل له جګړو نه ژغورل شوی وو او هم به پروان لدې دردناك عاقبت سره نه مخامخ کېدو.

## ائتلاف او د سولي هڅې

متأسفانه کمونستانو نه یوازي زموږ هېواد له مادی او اقتصادي لحاظه وران کړ، بلکي له اخلاقی پلوه ئې هم زموږ ټولني ته سخته صدمه ورسوله، هغه افغانان چي خبره ئې خبره وه، دهوکه، درواغ، بې وفایي، په دوستي کي دښمني، ژمني تر پښو لاندي کول، له معاهدې نه د مقابل طرف د اغفالولو په لار کي کار اخستل ئې نه یوازي ګناه ګڼله بلکي هغه ئې د خپل عزت النفس او مروت منافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېرله. خو د کمونستانو تسلط پدوی کې دا اوچت د مېړاني او مروت نښې وټکولې، د اسلامي اخلاقو په ځای ئې دوي ته کمونستي اخلاق ورپه برخه کړل، داسې چې دروغ او دهوکه کمال وګڼي، په دوستۍ کې دښمني، د مقابل طرف غولول، ژمنې تر پښو لاندې کول او له معاهدو نه د مقابل طرف د اغفال لپاره کار اخستل د هوشيارتيا اوسياست مدارۍ نښه او لازمي غوښتنه وشمېري.

ائتلاف هم چې له کمونستانو او له کمونستانو نه متأثر ه شوو التقاطي عناصرو نه جوړ شوی وو، د ضعف او ماتې په وخت کې به ئې يوه بل ته عذرکولو، چې د روغې جوړې لپاره راوړاندي شي، خو نه يوازې دا چې له اضطرارۍ حالت نه له وتلو نه وروسته به ئې د سولې د هيئتونو پرېکړې تر پښو لاندې او خپلې ژمنې هېرې کړې، بلکې د سولې د هلوځلو په جريان کې به يې، داسې شرارتونه کول چې مسلمان خو پرېږده د يوه عادي بامروته افغان له شأن نه ډېر ډېر لېرې وې، د مثال په توګه:

د ننګرهار له قومندانانو نه ئې وغوښتل چې منځګړيتوب وکړي، له هغوی سره ئې د مليشو ايستل هم ومنل او د هيئت پرېکړه ئې امضاء کړه، خوکله چې هيئت د همدې پرېکړې د امضاء لپاره له کابل نه زموږ په لوري خوځېدو، ائتلافيونو په هغې غونډې د بمبارۍ پلان جوړکړ چې ما به د سولې له هيئت سره درلوده، له هيئت سره ئې يوکس په پټه راولېږو، هغه ته ئې مخابره ورکړې وه چې زموږ د غونډې د ځای په هکله معلومات ورکړي، موږ د موسيي خوا ته د تيلو د ذخيرې په نامه، دلشکر ايثار په مرکز کې په يوې څمڅې کې له هيئت سره غونډه درلوده، چې ناڅاپې د ائتلافيونو جهازونه راورسېدل، يو په بل پسې ئې بمونه وورول، دوه بمونه د همدې څمڅې شمال او جنوب ته د ۳۰_ ۴۰ مترو په فاصله راپرېوتل، په همدې ځای کې د هيئت موټرې، د دوی ډريوران او امنيتي ملګري ولاړ وو او ښه ګڼه ګونه ئې جوړه کړې وه. زموږ څمڅه له ګردونو داسې ډکه شوه چې يو بل مونه ليدو. خو الحمد لله پدې بمبارۍ کې هيڅوک ژوبل نه شو. يوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه دریو موټرو شیشې ماتې شوې. د هیئت غړو له رباني نه پوښتنه وکړه چې ولې مو له موږ سره داسې معامله وکړه؟ رباني نه دا ویل شوي چې دا کار جنرال دوستم کړي او زه ئې محکوموم او نه دا چې نه یم خبر دا کار چاکړي! فقط دومره ئې وویل چې زه سخت متأسف یم ! او له تاسو نه هیله کوم چې خپل کارته ادامه ورکړي!!

بل ځل ئې شیخ آصف محسني د حرکت اسلامي مشر د حرکت له زیاتو غړو سره چهار آسیاب ته راولیږو، د حرکت یوه قومندان ته ئې "چې اوس له حرکت نه ایستل شوی" وظیفه ورکړې وه چې د غونډې د ځای په هکله به د مخابرې په ذریعه دوی ته اطلاع ورکوي او چې کله غونډه پای ته ورسېده د غونډې له ځای نه د دوی د خوځېدو سره سم به تماس نیسي، ترڅو د غونډې ځای پدې طمع بمبارد کړي چې زه به هلته، د هیئت له تلو نه وروسته، کم ترکمه د څو شیبو لپاره پاتې وم.

همداسې وشول، له محسني سره مې د غره ډډې ته، د یوې غونډې په سر، په یوه داسې کور کې غونډه وه چې شا او خوا ته ئې کوم بل کور نه وو، چې کله دوی رخصت شول، په هوا کې جهازونه راڅرګند شول او زما د فامیل د اوسېدو په هغه کور ئې بمونه وورول چې د همدې غره په بل اړخ کې د همداسې یوې غونډې په سر ئې موقعیت درلود، د کور شا او خوا ته بمونه راپرېوتل، شیشې ئې ماتې کړې، خو چا ته صدمه ونرسېده، وروسته معلومه شوه چې د راپورچي او راپور اخستونکي ترمنځ د غره د دې یا هغه اړخ په هکله غلط فهمي شوې وه.

همدا راز د پاکستاني علماوو یو لوی هیئت چې ګڼ شمېر ډېر مشهور علماء پکې وو، د مولوی صاحب خالص په شمول، د سولې او روغې جوړې لپاره له پاکستان نه راوخوځېدو، رباني ورته اطمئنان ورکړی وو چې د روغې جوړې غوښتونکی دی او لدوی سره به پدې هکله صادقانه مرسته کوي، هیئت چهار آسیاب ته راغي، له موږ نه ئې د کامل واك غوښتنه وکړه، ما ورته وویل: زه یوازې یو شرط لرم او هغه دا چې په افغانستان کې د یوه واقعی اسلامي نظام تأسیس او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلامي شریعت نفاذ تضمین شي او د دولت مشر، د اسلامي اصولو سره سم د ملت په خوښه وټاکل شي او د دولت له حساسو ادارو څخه کمونستان لېرې شي، د ځان لپاره هیڅ نه غوارم، تاسو ته په همدې شرط کامل واک درکوم.

هیئت له موږ نه خوشحاله رخصت شو، خو کله چې زموږ له ساحی نه ووت او پلچرخي ته نږدې شو، د حربی پوهنتون له غونډیو نه د دوی د ګاډو په کاروان د (زی یو) مسلسل ډزې پیل شوي، په کاروان باندي ئې ډېره بده ورخ راوستله، ټول له ګاډو نه یوې خوا بلې خوا ته کوز شول او په ځمکې ئې پروت وکړ، د څو دقیقو لپاره ډزې رواني وي!! دا ډزی پداسي حال کي وشوې چي هیئت ته له کابل نه اطمئنان وکړي شوی وو چي په پلچرخي کي د دوی د استقبال لپاره کافي ترتیبات نیولی شوي!! په همدې ډزو ئې دوی ته ښه راغلاست وویلو.

همداسي یوه معامله د مولوی حقاني د سولي له هیئت سره وشوه: هغوی د دهمزنګ له لاري د پغمان په لوري روان وو چي د دریمي کارتې په ساحه کي د ډزو تر سخت برید لاندي راغلو، چي ځیني موټرې او ملګري ئې ولګېدل او په ډېره رسوایي له منطقې نه ووتلو، لدې نه وروسته مولوی صاحب هم په کابل کي اوسېدل پرېښودل او هم ئې د روغي جوړي هڅي متوقف کړي!!

د ننګرهار له یوه هیئت سره، له کابل نه دبېرته ستنېدو په و خت کي د کابل او پلچرخي ترمنځ دې ته ورته معامله وشوه چي په هغي حملې کي هم څو کسان مړه او ژوبل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مونږ، ائتلاف او پاکستان

پداسي حال کي چي ائتلاف په مجموع کي او رباني او مسعود په خاص طور، د پاکستان د پيروزينو پوروړي وو، د پاکستان د آی اس آی د فشار په نتيجه کي رباني د جمهور رئيس او مسعود د دفاع وزير په حيث وټاکل شول، نواز شريف په خپله کابل ته د ترکي الفيصل په ګډون په ۱۳۷۱/۲/۹ سفر وکړ او د لس مليونه ډالرو چك ئې مجددی ته وسپارو، زمونږ د فترونه ئې په پاکستان کي وتړل، ميزونه، څوکۍ او د دفتر سامانونه مو هم داخل ته انتقال کړل، حتی ما خپله کورنۍ هم د جګړي په سختو شرائطو کي د مجبوريت په وجه داخل ته ولېږدوله، د پاکستان حکومت له رباني او کمونستانو نه دا توقع درلوده چي د دوی له ائتلاف نه د ملاتړ په خاطر به له پاکستان سره د دوستي يا لږ ترلږه د دښمني نکولو سياست غوره کړي، خو دې ته نه وو متوجه چي دا ډېره بې ځايه هيله وه، دوی د وضعيت د تشخيص په ارتباط سخته اشتباه کوله، ګمان ئې دا وو چي کمونستان به د شوروي اتحاد له ختمېدو وروسته، چي وروستۍ پناه ګاه ئې له لاسه ورکړې، د پاکستان لدې احسان نه هومره ممنون وي چي خامخا به له

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان سره د دوستۍ لار غوره کوي، ځکه پاکستان د دوی ژوند او په قدرت کې اشتراک تضمین کړ، خو ائتلافیونو له هماغه لومړیو ورځو نه د پاکستان په خلاف له دښمنۍ نه ډك تبلیغات پیل کړل. د پاکستان نه د وارد شوو خوراکي موادو په هکله ئې ویل چې دا مسموم شوي، پاکستانیان به ئې نیول او د سخت تعذیب نه وروسته به ئې بندیانول او د دوی په هکله به ئې دا تبلیغات کول چې دا دی پاکستاني جاسوسان ونیول شول. په لومړۍ سرکې دا کارونه یوازې کمونستانو کول، خو پدې لویې جګړې کې د ماتې نه وروسته، رباني په خپله په سختو الفاظو په پاکستان نیوکې وکړې، هغه ئې د افغانستان په کورنیو چارو کې په مداخلت متهم کړ، غوښتل ئې پدې ترتیب خپله ماتې توجیه کړي او مسکو او ډهلي خوشحاله کړي. په اندونیزیا کې د اسلامي هېوادونو د مشرانو په کنفرانس کې د شرکت په خاطر ئې، د تګ راتګ لپاره د ډهلي لار انتخاب کړه او په خپلو مرکو کې ئې په پاکستان نیوکې وکړې. له هند سره دوستۍ او له پاکستان سره مخالفت، د هغې معاهدې یوه برخه وه چې له روسانو سره ئې امضاء کړې وه د همدې لپاره د کابل او ډهلي ترمنځ روابط په هماغه شکل دوستانه پاتې شول چې د کمونستانو په وخت کې وو. د هند استخباراتي ادارې RAW او د خاد ترمنځ، پخوانۍ ژورې اړیکې نه یوازې په خپل حال پاتې شوې بلکې مزید ټینګې شوې د(راو) د متخصصینو له خوا د خاد د پرسونل روزنه، د معلوماتو تبادله او د پاکستان په خلاف مشترك فعالیتونه د همدې اړیکو اهداف وو. ډهلي له کابل سره د وسائلو د پرزو، مهماتو او دارو درمل په ارتباط مسلسل او پراخې مرستې کولې. ډهلي اعلان کوي چې په دریو کلونو کې ئې یوازې د اندراګاندي له روغتون سره د پنځلس ملیونه ډالره معادل مرسته کړې، د ائتلافي ادارې د ژوبلو قوماندانانو او د مهمو شخصیتونو تداوی په ډهلي کې او د RAW په مصرف ترسره کېږي.

له یوه پلوه سره دوستۍ او له بل پلو سره دښمنۍ، ورو ورو دې حدته ورسېده چې خاد او راو په پاکستان کې د پېښور د یوه ابتدایي مکتب واړه ماشومان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل سرویس کې یرغمل نیسي، بیا ئې د پراخو تبلیغاتو لپاره تر اسلام آباد پورې انتقالوی او هلته د افغانستان په سفارت کې ساتل کېږي او د څو میلیونه ډالره او تر افغانستان پورې د یرغمل نیونکو د انتقال لپاره د هلیکوپټر مطالبه کوي، خو بالآخره د پاکستاني کوماندوګانو د حملې او د یرغمل نیونکو په وژلو دا ډرامه پای ته رسېږي.

همدا راز په کابل کې د پاکستان پر سفارت پداسې وخت کې حمله کوي چې د پاکستان خارجه وزیر، سردار آصف احمد علي، د مذاکراتو لپاره کابل ته بلل شوی وو او د کابل د ائتلافي ادارې مېلمه وو!! پدې حملې کې یو نفر په قتل رسېږي، سفیر ترهغه په چاقوګانو وهل کېږي چې حمله کوونکي ګمان کوي هغه وژل شوی او پورته مقاماتو ته د هغه د وژل کېدو راپور ورکوي، د سفارت نور کارکوونکي هم په چړو او قونداغونو وهل کېږي او په پای کې سفارت ته اور اچول کېږي.

پدې کې هیڅ شك نشته چې دا کارونه د خاد او راو، د ګډ پلان له مخې تر سره شوي، چې هدف ئې د پاکستان او افغانستان ترمنځ، روابط تر هغه حده خرابول وو چې د بېرته روغې جوړې ټول امکانات د تل لپاره ختم شي. سادګي به وي که څوك ګمان وکړي دا کارونه یوازې کمونستانو کړي او یا تصادفي پېښې وې!! تاسو ولیدل چې د کابل د ائتلافي ادارې واکداران دې ته تیار نشول چې دا حمله وغندي!! او یا له پاکستاني ولس نه د دې غیراسلامي، غیر اخلاقی او له مروت نه لېرې اقدام بخښنه وغواړي.

د افغانستان په ارتباط که څوك د پاکستان د تېرو حکومتونو په غلط سیاست د اعتراض حق لري نو هغه یوازې حزب اسلامي دی، داځکه چې:

- پداسې حال کې چې په افغانستان کې اسلامي نهضت او بیا مسلحانه جهاد د حزب اسلامي په لاس پیل شوی وو او پاکستان ته دا خبره جوته وه چې د مهاجرینو ۷۸% په حزب اسلامي پورې تړلي وو او د جګړې ټول فشار د حزب

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوږو وو ، پدې هم پوهېدو چې په حزب کې دا استعداد شته چې مقاومت په یوازې توګه مخکې بوځي، خو پاکستان د امریکا تر فشار لاندې په پېښور کې یو په بل پسې ګڼ شمېر ډلې د حزب په خلاف جوړې کړې. افغانان ټول پدې پوهېږي چې له حزب اسلامي نه پرته ټولې جهادي ډلې په بهرکې جوړې شوې، د امریکایانو هدف دا وو چې د روسانو په خلاف روان اسلامي مقاومت باید یوازې د حزب اسلامي په لاس تنظیم او اداره نشي او تر آزادۍ وروسته په کابل کې یو قوي اسلامي حکومت جوړ نشي، د همدې لپاره ئې پاکستان دې ته اړ کولو چې د متعددو ډلو له جوړېدو سره موافقه وکړي، پاکستان په لومړی سرکې لدې سره مخالفت کولو چې د بهرنیو لاس وهنو په نتیجه کې دې متعددی ډلې جوړې شي، خو د امریکا د زیات فشار په وړاندې ئې مقاومت ونشو کړې، موافقه ئې وکړه او پدې ترتیب پېښور په بهر کې د جوړ شوو افغاني ډلو کوربه شو ، دا کار ئې پداسې حال کې کړې چې له موږ سره ئې کلکه وعده کړې وه چې نه به بهرنیو لاس وهنو ته اجازه ورکوي او نه په پاکستان کې د نورو ډلو جوړېدو ته!!

- افغاني ډلې ئې دې ته مجبوری کړې چې رباني د جمهور رئیس او مسعود د دفاع وزیر په حیث و مني.
- د هغه ائتلاف ملاتړئی وکړ چې زموږ په خلاف ئې جګړه اعلان کړې وه، د همدې ائتلاف د ملاتړ لپاره ئې موږ دې ته مجبور کړو چې په پاکستان کې خپل دفترونه وتړو ، خو موږ پدې خاطر د پاکستان په خلاف له څه ویلونه ډډه کړې چې:

۱ – د دې کار ګټه د اسلام دښمنانو ته رسېده.

۲ – پاکستان درې نیم ملیونه افغاني مهاجرینو ته پناه ورکړې او د افغان ولس د مقاومت ملاتړ ئې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ - له بل نه دا توقع کول چي زمونږ ستونزی حل کړي او یا د خپلو ګټو د تأمین لپاره، یا د خپلو مجبوریتونو په وجه دي داسي څه ونکړي چي زمونږ ملي مصالحو ته زیان رسوي، بې ځایه توقع ده، مونږ باید خپلي ستونزی په خپله حل کړو ، افغانان په خپله باید د نورو د لاس آله نشي او خپلي ملي ګټې د نورو دګټو لپاره قرباني نکړي. که افغانان د نورو غلامي ته چمتو کېږي، د څو پیسو په مقابل کي ځان، ایمان، وطن او خپله دنیا او عقبی خرڅوي، له بل نه د شکایت په ځای باید په خپله افغانان ملامت کړو او د دوی د اصلاح او لدې حالت نه د ژغورني هڅه وکړو. د پاکستان په خلاف او د نورو هغو اسلامي هېوادونو په خلاف چي له یوې خوا ئې زمونږ د اسلامي مقاومت ملاتړ کړی خو له بلي خوا ئې زمونږ د هېواد په ارتباط داسي سیاست غوره کړی چي مونږ ترې صدمه لیدلې، له څه ویلو نه د اجتناب اصلي وجه همدا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ائتلافیونو ژمني

ائتلافیونو به په لومړۍ سرکې زموږ د شرائطو په وړاندې ویل:

- که ملېشې وباسو څوك د دې تضمین کوي چې حزب اسلامي به په کابل حمله نکوي؟
- د حملې په صورت کې به څوك د حملې د دفع کولو تضمین کوي؟
- که ملېشې له کابل نه وایستلی شي په شمال کې مستقل حکومت جوړوي او هېواد د تجزیې له خطر سره مخامخ کېږي!!
- کمونستان پدې دلیل له خپلو پستونو څخه نشو لېري کولی چې: دوي ته عمومي عفوه اعلان شوي، د نجیب د حکومت په پرزولو کې ئې د مجاهدینو مرسته کړې او مجددی دوی په خپلو مناصبو کې ابقا کړي.
- د انتخاباتو په هکله به ئې کله ویل چې: په اسلام کې انتخابات نشته !! کله به ئې ویل: په افغانستان کې د انتخاباتو تر سره کول ممکن ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- زموږ ځواب دا وو:

- تاسو ملېشې وباسئ، کمونستان له حساسو مناصبو نه لېرې کړئ، موږ نه يوازې په کابل د عدم حملې هر تضمين چې تاسو و غواړئ درکوو بلکې په مؤقت حکومت کې د حزب اسلامي برخه هم تاسو ته سپارو او تر انتخاباتو پورې ستاسو کامله واکمني منو.

- موږ دې ته تيار يو چې خپل قوتونه له کابل نه په څومره فاصله چې تاسو وغواړئ لېرې کړو.

- ملېشې د دې توان نلري چې په شمال کې مستقل حکومت جوړکړي، که دا کار ئې وکړ، زموږ مجاهدين به ستاسو تر قومندې لاندې د هغوی په خلاف جنګېږي.

- دا منو چې دوی ته عمومي عفو شوې خو د عمومي عفوی معنا دا نده چې موږ دوی ته تسليم شو، د دولت حساسې او مهمې ادارې لکه خاد، د فوځ د لوی درستيز مقام، د فرقو قومنداني، راډيو، تلويزيون، د کابل د ګارنيزيون قومنداني، د ښار امنيت، دلارو امنيت، هوايي ډګر او ... د دوی په لاس کې وي، مګر زموږ جهاد يوازې له نجيب او يعقوبي سره وو او د دوی له وژلو وروسته زموږ هدف تر سره شوی دی، که څه هم د نجيب حکومت سل په سلوکې په خپل حال پاتې وي؟!

- مليشو خو د نجيب په خلاف هلته اقدام وکړ چې نجيب عملاً خپله استعفی اعلان کړې وه !! اصلاً دوی د نجيب له استعفی سره د مخالفت په وجه او له مجاهدينو سره په يوه ائتلافي حکومت د ټينګار په خاطر دا اقدام وکړ. د پېښور د ګورنرهاوس د معاهدې له مخې خو مجددی جمهور رئيس نه وو ټاکل شوی هغه خو د يوه داسې کميسيون د رئيس په توګه کابل ته لېږل شوی وو چې قدرت به له کمونستانو نه مجاهدينو ته انتقالوی نه د دې لپاره چې کمونستان په قدرت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابقاکړي. لدې نه علاوه، د پېښور معاهده صریحاً حکم کوي چې کمونستان به له حساسو مناصبو څخه لېرې کېږي.

- دا تاسو په کوم اسلام او د اسلام په کوم اصل استناد کوي چې د هغې له مخې، انتخابات ناجائز ګڼې، خو له کمونستانو سره ائتلافي اداره جوړول، کمونستانو ته تسلیمېدل او د کمونستو جنرالانو تر قومندې لاندې د مجاهدینو سره جنګېدل، درته جائز او روا برېښي. پداسې حال کې چې د بشریت په اوږده تاریخ کې د لومړی ځل لپاره د ولس په رأیې د ټولنې د مشر انتخاب په اسلام کې تر سره شوي، داسې چې د مشر د ټاکلو ټول مخکني ظالمانه روایات ئې منسوخ کړي او د مشر د ټاکلو صرف یوه لار ئې جایز ګڼلې او هغه د ولس په خوښه او له فشار او تهدید نه پرته د څرګند بیعت په نتیجه کې د امیر ټاکل، لدې نه د مخه به د ټولنې واکمني یا د میراث په شکل له پلار نه اولاد ته، د حاکمې کورنۍ په چوکاټ کې انتقالېده، یا به په زور تر لاسه کېده، یا به د ټولنې د بېلو بېلو پرګنو د واکمنانو ترمنځ د سازش له لارې له یوه نه بل ته انتقالېده او عام ولس به پدې هکله د څه ویلو او کولو توان او حق نه درلود، اسلام د جاهلیت د دور دا اسلوبونه او طریقې لغوه کړې او د مشر او امیر د انتخاب حق ئې عامو مسلمانانو ته وسپارو، چې د څرګندې او آزادې غونډې په ترځ کې به خپل مشر انتخابوي او په خپله خوښه به ورسره بیعت کوي، د جبر او زور واکمني او د خلکو له آزاد انتخاب او بیعت نه پرته د سازشونو واکمني ئې حرام او ناجایز اعلان کړه. آیا د حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر(رض) او مخصوصاً د حضرت عثمان(رض) ټاکنه چې د مدینې له عام ولس نه د یوه هیئت په ذریعه د استفتاء او رأی اخستنې له لارې تر سره شوه او همداسې د حضرت علی(رض) انتخاب، د دې لپاره کافي دلیل ندی چې د انسانیت په اوږده تاریخ کې د لومړی ځل لپاره د امیر او مشر د ټاکنې لپاره د ولس رأیې ته په اسلام کې رجوع شوې او د انتخاباتو اساس د مسلمانانو په لاس ایښودل شوی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په حقيقت کې مجاهد ډوله ائتلافيون، پدې نه توانېدل چې کمونستانو ته ځواب ورکړي او له کمونست رژيم نه پاتې مسلح قطعات يا منحل کړي، يا ئې له کابل نه وباسي، دوی پدې پوهېدل چې په کابل کې د کمونستانو مېلمانه دي، د هغوی د خوښې خلاف د څه ويلو او مخصوصاً د دوی د مخالفت توان نلري، هغوی په قدرت کې د شريك کېدو او ائتلاف لار غوره کړې وه او له روسانو سره ئې د همدې خبرې ژمنه کړې وه. دوی له انتخاباتو سره فقط پدې دليل مخالفت کولو چې لدې لارې ئې د قدرت د ترلاسه کولو چانس نه وو.

کله چې ائتلافيون د جګړې له نتائجو نه مأيوس شوي او روغې جوړې ته اړ شوي په ظاهرکې ئې دا شرائط منلی خو په خفا کې ئې په قدرت کې د پاتې کېدو لپاره د ناروا سازشونو لار غوره کړې او د هرې معاهدې بند بند ئې نقض کړې. دوی يوازې له مسکو او ډهلې سره په خپلو ژمنو صادقانه عمل کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ائتلاف په مقابل کي د نورو ډلو دريځ

## حرکت انقلاب اسلامي

ائتلاف غوښتل چي د حرکت له مذهبي صبغی او د پښتنو په سيمو کي د حرکت له نفوذ نه د حزب په خلاف اعظمي استفاده وکړي. له حرکت سره ئې هره مياشت پنځه سوه مليونه افغاني مرسته کوله، چي ورو ورو ئې دا مقدار زيات کړ. د حرکت د هر معاون له ډلي سره ئې مستقلی مرستي کولي. د هلمند، پکتيا، غزني او پکتيکا مقيم واليان او د لغمان او وردگ ـ ميدان مهاجر واليان د حرکت له غړو نه غوره شوي وو. د حرکت د قومندانانو لپاره په مرکز او د جنوب په مختلفو ولاياتو کي قطعات منظور شوي وو چي ځينو ئې د حزب په خلاف په جگړو کي برخه اخستله او ځينو يوازي مرستي ترلاسه کولی او د حزب په خلاف له جگړو ئې ډډه کوله.

د حرکت اکثر غړي د کمونستانو له ملگرتيا او د حزب اسلامي په خلاف له جگړو سره مخالف وو او دا ئې غوښتل چي حرکت له حزب اسلامي سره گډ دريځ غوره کړي، خو رشوت خورو حرکتيانو د دې کار مخالفت کولو، مولوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمدنبي تر پایه له جنرال دوستم سره له ملاقات نه ډډه وکړه، خو له کمونستانو سره د رباني په ملګرتیا ئې په څرګندو الفاظو له اعتراض نه ځان ساتو.

یوځل مولوی محمدنبي ته وویل شو چي له استاد سره یو ځای د اسلام آباد په لوري سفر لري، تیار شو، طیارې ته وخوت، د الوتني په پای کي ناڅاپي ګوري چي په یوه ناآشنا هوایي ډګرکي کوز شوي، پوښتنه ئې وکړه چي داکوم ځای دی، ورته وویل شو چي مولوی صاحب دا د مزار شریف هوایي میدان دی! استاد مختصر تم کېږي، له جنرال دوستم سره ملاقات لري، امید دی تاسو هم پدې ملاقات کي برخه واخلي، خو ده له ملاقات نه ډډه وکړه او تر هغه په طیارې کي پاتې شو چي له مزار نه بېرته والوته.

که زه ووایم چي ائتلاف له ټول حرکت انقلاب نه، په همدې پورتني شکل استفاده کړې، ښایي مبالغه مي نه وي کړې. له ځان سره ئې خوځولو، پرته لدې چي د تلو له هدف او مسیر نه ئې خبرکړي.

حرکت انقلاب، فقط هلته له ائتلاف نه ووت چي طالبان چهارآسیاب ته راورسېدل، لدې نه وروسته د حرکت د هماغه غړو مرسته له طالبانو سره پیل شوه چي تر پرونه ئې د رباني ملګرتیا کوله. د حرکت ځیني غړي خو د رباني په حکومت دومره کلك ولاړ وو چي تر متعصبو جمعیتیانو نه هم زیات!! چي کله به رباني د داخل نه د مخلصو جمعیتیانو د فشار او له بهر نه د مخالفو ځواکونو د مسلسل بریاوو په وجه استعفی ته اړ کېدو، دوی به د ده د استعفی مخالفت کولو. یو ځل چي د سکاد غنډ او د کابل په غرب او جنوب کي ډېري ساحي، د حزب مجاهدینو ونیولی او د ائتلافیونو وضعیت هومره پرېشانه شو چي هر چا دا ګڼله چي نن سبا به دولت سقوط کوي، نو د دولت د عالی شوری اکثر غړو په واضح الفاظو د رباني په استعفی تأکېد کولو او دا ئې د بحران د حل یوازنۍ لار ګڼله، خو د حرکت یوه وزیر او د عالی شوری غړي سترجنرال مولوی جلیل الله رباني ته مخ کړ او وئې ویل: استاده! حضرت عثمان (رض) حتی په هغه وخت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له استعفی نه ډډه وکړه چي مخالفين د ده د کور په دېوالونو راواوښتل، ته څنګه پداسي حال کي استعفی کوي چي ستا او مخالفينو ترمنځ لا غرونه حايل دي!! استاد په ډېر غمجن غږ ورته وويل: کاش ټولو همدا نظر درلودي!!

د ائتلافي دولت په عالی شوری کي د حرکت غړي او د قطعاتو اکثر قومندانان ئې اوس له طالبانو سره ملګري دي.

## اتحاد اسلامي

اتحاد اسلامي له لومړۍ ورځي نه تر پايه په ائتلاف کي د رباني او مسعود ملګرتيا کړې خو د اتحا د ملګرتيا دوه بېل بېل اثرات درلودل: له يوې خوا په ائتلافي حکوت کي د اتحاد غړيتوب د ائتلافيونو ترمنځ د اختلاف عامل وو، د وحدت له حزب سره د اتحاد مسلسل نښتي، له ائتلاف نه د وحدت په وتلو منتج شوې او په شيرخان بندر کي د اتحاد او جنبش جګړه، له ائتلاف نه د جنبش د جلاکېدو باعث شوه. د ائتلاف په بهرني سياست هم د اتحاد غړيتوب خپل اثرات درلودل، په يوې مرحلې کي له ائتلاف نه د ځينو عربانو د ملاتړ لامل وو، خو په همدې مرحلې کي د ايران د خفګان وسيله شو، ايران دا غوښتل چي مسعود د جبل السراج د معاهدې په نسبت التزام وکړي او د وحدت او اتحاد تر منځ په نښتو کي حتماً له وحدت سره مرسته وکړي، خو مسعود به داسي عذرونه وړاندي کول چي ايران ورباندي نه قانع کېدو، خبره دې حد ته ورسېده چي ايران ناراضه شي، پدې ترتيب ائتلاف د څه مودې لپاره يو داسي مؤثر حامي له لاسه ورکړ چي د ائتلاف د تأسيس له لومړۍ ورځي ئې د هغه حمايت کړې. له بلي خوا ائتلاف غوښتل چي له اتحاد نه په لاندي مواردوکي استفاده وکړي:

الف: ملت ته وښيي چي دا ائتلاف د ژبني تعصب په بنياد او د پښتنو په خلاف ندی جوړ شوی او د يوه خاص قوم او مليت سلطه نه غواړي، که داسي وی نو د پښتنو يوې ډلي به د دوی په حکومت کي برخه نه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: د ائتلافي رژيم په خلاف د مجاهدينو دګډې جبهې د جوړېدو مخنيوی وکړي، که اتحاد د ائتلاف ملګرتيا نه وی کړې نو نه به مولوی محمدنبي او نه مولوی خالص د ائتلاف په څنګ کې ودرېدلی وو.

ج: په مشرقی او جنوبي ولاياتو کې له حزب اسلامي سره د مجاهدينو د يوځای کېدو مانع شي او دلته د ائتلاف په ګټه مسلح قطعات جوړکړي چې د همدې مقصد لپاره استاد سياف يو ځل د مشرقی زون او بيا د جنوبي زون مسئول و ټاکل شو.

د اتحاد تقريباً ټولو غړو دا غوښتل چې اتحاد له ائتلاف نه ووځي او له حزب اسلامي سره ګډه جبهه جوړه او ګډ دريځ غوره کړي. خو استاد سياف، د رباني او مسعود په څنګ کې پاتې کېدل غوره او مفيد وګڼل او په پوره اخلاص سره ئې حتی د خپلو ډېرو مؤثرو غړو د خفګان او له اتحاد نه د وتلو په قيمت د هغوی ملګرتيا وکړه.

خو ائتلافي انډيوالانو ئې د ده د اخلاص په اندازه د ده سره جفا کړې، د اتحاد په خلاف به ئې تبليغات کول، د اتحاد مجاهدين به ئې په اخلاقی فساد او تالان متهم کول، په هري جګړې کې د خپلې ماتې عامل به ئې اتحاد ګڼلو، له ټول کابل نه ئې وايستل، حتی د پغمان پوستې ئې هم له اتحاد نه واخستلی او خپلو افرادو ته ئې وسپارلې. د بګرام له هوايي ډګر نه د اتحاد د افرادو د ايستلو قصه ډېره جالبه ده:

د خواجه رواش د هوايي ډګر له فلجېدو نه وروسته ائتلاف دې ته اړ شو چې له روسيې نه د پيسو او مهماتو د انتقال لپاره د بګرام له هوايي ډګر نه استفاده وکړي، خو هلته دوه خنډونه په مخې کې وو: د ميدان شا او خوا ته د حزب جبهات او د هوايي ميدان په يوې مهمې برخې کې د اتحاد د مجاهدينو شته والي. دهمدې لپاره، ائتلافي ځواکونو په پروان کاپيسا د لويې حملې او د بګرام د هوايي ډګر د تصفيې پلان جوړکړ، په کومه ورځ چې عمليات تر سره کېدل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اتحاد اسلامي د بګرام قومندان پغمان کي له استاد سیاف سره ملاقات درلود، عملیات تر سره شول، بګرام تصفیه شو، د اتحاد افراد خلع سلاح او له بګرام نه و ایستلی شو. د دې پېښې په هکله استاد سیاف ما ته قصه کوله چي سبا ته مسعود د مخابری له لاري تماس ونیولو او د بګرام په هکله ئې راته وویل: استاد مبارك باشه، الحمدلله توطئه خنثی شد. اګر اقدام به وخت نمی کردیم دګه قومندانان شما چند ساعت بعد تر بګرام را به حزب اسلامي تسلیم مي کردند!!

داکتر عبدالرحمن به په هر مجلس کي ویل چي زموږ د اختلافاتو اصلي عامل استاد سیاف دی. د ده په وجه ائتلاف لدې حالت سره مخامخ شو او سیاف به ویل: ما استاد رباني ته مکرر ویلي چي ستا پاچایي منم خو د فهیم، قانوني او داکتر عبدالرحمن په شان کسانو پاچایي نشم منلي، لدې نه معلومېږي چي ائتلاف له سیاف سره د ده د ټول اخلاص په مقابل کي څه معامله کړي.

ما ته په پېښور کي د نجیب له استعفی نه څه موده دمخه، د یوې غونډې په دوران کي، استاد سیاف وویل: تاسو ته یوه مهمه خبره لرم، چي سره ګوښه شوو نو په ټيټ غږ ئې راته وویل: "کي جی بی او سي آی ای په ګډه د افغانستان په هکله خطرناکه منصوبه لري چي د مسعود په ذریعه ئې عملي کول غواړي، ما څه بند و بست کړي، تاسو هم خاصه توجه وکړي" ما او هغه تعهد وکړ چي په ګډه به د دې توطئې د شنډولو هڅه کوو، خو متأسفانه هغه د دې توطئې په وړاندي زه یوازي پرېښودم او د هماغه ائتلاف ملګرتیا ئې وکړه چي کي جی بی او سي آی ای جوړ کړي وو.

د سیاف رول له یوه بله پلوه هم ځانګړتیا درلوده: چي کله به رباني له فشارونو او تهدیدونو سره مخامخ شو او ټولو ډلو به یوازي پرېښود، نو سیاف ته به ئې وویل: زه استعفی ته تیاریم، تاسو له نورو سره خبره وکړي، چي قدرت چاته وسپارم، هغه به باور وکړ او له مولوی خالص او مولوی محمدنبي سره به ئې تماس ونیولو، کله یوه او کله بل ته به ئې وویل چي تا راوړاندي کوو! د دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



رياست تا ته سپارو! ووايه: نظر دې څه دی؟ او شرائط دې کوم دي؟ هغوی به باور وکړ کابل ته به ولاړل، څه موده به په همدې تګ راتګ کې تېره شوه، دوی به هم هیلمند وو او د ائتلاف په هکله به ئې مخالفت راکم شو، د ائتلاف په خلاف د مشترکې جبهې جوړېدو کار به متوقف شو او فشارونه به تخفیف شول، بیا به هم وعدی هیری شوې او هم تماسونه او تګ راتګ پای ته ورسېدو.

## په غرب پورې تړلې کړۍ

په غرب پورې تړلو ډلو او په غرب کې مېشت د غرب پلویانو، که څه هم کوم مؤثرحزب نه درلود، خو امریکا غوښتل چې دوی د ظاهرشاه په محور راغونډ کړي. دوی د کابل له رواني جګړې نه د ټولو مجاهدينو په خلاف د تبليغاتي وسيلې په حيث استفاده کوله، د مجاهدينو په خلاف به ئې دا شديد او زهرجن تبليغات کول چې دوی د جګړې عامل، د ملك د ورانۍ او د کابل د مظلوم ولس د هجرت باعث شول، د قدرت ليوال دي او د هېواد له اداري نه عاجز. امريکا غږ او بی بی سي ته وظيفه ورکړی شوې وه چې د دغو څېرو تبليغات په پراخه پيمانه او په مسلسله توګه منعکس کړي، د دوی د تبليغاتو غشي يوازي د مجاهدينو لوري ته خوشي کېدل، د کمونستانو په خلاف به ئې نه يوازي له څه ويلونه ډډه کوله بلکې هغوی به ئې تر مجاهدينو غوره ګڼل، هدف دا وو چې په يوې مرحلې کې دوی دواړه د مجاهدينو په خلاف متحد او د يوه بل په څنګ کې ودروي.

## مائوويستان

په افغانستان کې د سياسي مبارزاتو د پيل کېدونه وروسته، په يوې مرحلې کې د مائوتستون د نظرياتو پلوي کمونست ډله، چې د شعله جاويد په نامه مشهوره شوه، په ځوانانو کې د خلق او پرچم نه زيات پلويان درلودل، دوی له دښمنانو سره د نه پخلا کېدونکې او په قهر او تشدد د مبتني مبارزی شعارونه ورکول. له جوانان مسلمان سره د يوې نښتې نه وروسته دا ډله په ګڼ شمېر ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړو ټولګيو وويشلی شوه. د دوی د مبارزی ډګر، د اهل تشيع ټولنه وه، د دوی ځينو ټولګيو د کموړم ترځنګ د"ملي ستم" په قومي تعصب مبتني افکار خپل کړل، د جهاد په دوران کي دوي ته د يوه حزب په څېر د هېواد د ننه او په ګاونډيو هېوادونو کي د کار کولو مناسب شرائط برابر نشول، خو په پېښنو کي ئې پدې شکل خاصه ونډه درلوده:

- ځيني اروپا او امريکا ته وتښتېدل او هلته ئې سياسي او فرهنګي فعاليتونه پيل کړل.
- ځينو د پيپلز پارتي له يوې جناح سره چي يو وخت ئې کمونستي افکار لرل، د تماس په وجه و توانېدل چي د ښځو د انقلابي سازمان (راوا) ترنامه لاندي په پاکستان کي د فعاليت لپاره امکانات ترلاسه کړي.
- ځينو په هغو جهادي ډلو کي ځانته د پښو ځای پيدا کړ چي يا ئې کمونستي ډلي نه پېژندلی او د منظمي سياسي مبارزی تجربه ئې نه درلوده او يا د هر راز خلکو او د هر مزاج او سليقی خاوندانو په راغونډولو ئې باور درلود. دوی په جنوب غرب، فراه، نيمروز او هرات کي د ملي ګرا ډلو په ليکو کي منظم شول او په پروان، مزار، تخار او بدخشان کي د شورای نظار په څنګ کي ودرېدل.
- د دوی يو شمېرکسان په هغو غربي خيريه مؤسساتو کي ځای په ځای شول چي په اصل کي د غربي هېوادونو د جاسوسي شبکو خطرناکي ځالی وي. پدغو مؤسساتو کي د شعله جاويد د غړو د پراخ استخدام دوه اساسي وجهی وي: دوی له سي آی ای سره رسماً تعهد کړي وو چي په افغانستان کي به د دوی د پلان مطابق کارکوي، په خپلو نشراتو کي ئې له يوې خوا د ظاهرشاه او له بلي خوا د مسعود ملاتړ کولو او په ټولو جهادي تنظيمونو ئې سختي نيوکي کولي. د دوی اخلاقی او فکری حالت داسي وو چي غربي جاسوسي شبکو ته، د اسلام په خلاف د کارکولو لپاره ئې لدوی نه غوره عناصر جوړ کړي وو. د اخلاقی فساد خورولو او د افغانانو د اسلامي هويت په خلاف هڅو کي دغو د چين له مرستو نه مأيوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو کمونستانو، له دغو شبکو سره، د خیریه مؤسساتو د کارکوونکو تر نامه لاندې هر راز تعاون کولی شو، که فرانسوی مؤسساتو، د خبریال او نرس په نامه د ښایسته فرانسوی پیغلو په ذریعه د مجاهدینو د بې لارې کولو او د جاسوسي شبکو په لوموکې د ترلو هڅه کوله، د (راوا) غړو په آساني او کم مصرف سره دوی ته همدا کارکولی شو. فرانسوی خبریالو پیغلو چې د ځینو قومندانانو په باب کوم کتابونه لیکلي او پدې کتابونوکې ئې کوم رازونه افشاکړې، د دغو استخباراتي شبکو پلانونه په ښه توگه څرگندوي.

د هېواد په وروستیو پېښنو کې د ستم ملي او شعله جاوید مختلفو ډلو د سازا، سزا، کجا ... تر نامه لاندې ډېر خبیث رول ادا کړې، د دې وجه دا وه چې: کې جی بی د خلق او پرچم ډلو ته وظیفه ورکړه چې په افغانستان کې د قوم، ژبې، سمت، اقلیت او اکثریت تر نامه لاندې د افغانانو د ملي وحدت ختمولو او د اسلامي روحیې ټکولو لپاره پراخ کار پیل کړې، پدې کار کې نوموړو وړو وړو ډلو پوره تجربه او سابقه درلوده. په شورای نظار او نورو تنظیمونو کې د دوی له نفوذ نه په استفادی سره کمونستان پدې وتوانېدل چې د قومي او سمتي تعصباتو اور ته لمن ووهی او په یو شمېر بې شعوره تش په نامه مجاهدینو کې همدا تعصبات راولاړکړې. هغو جاه طلبه عناصرو چې د ټول ملت په سطح د ملي شخصیت په توگه د مطرح کېدو چانس ئې ضعیف وو، د کمونستانو همدا شعارونه بدرگه کړل او د اقلیتونو له حقوقو نه د دفاع او د پښتنو په خلاف د یوه گډ محاذ د پرانستلو له بهیر سره یوځای شول.

د ببرك په پلویانو کې فرید مزدك، نجم الدین کاویاني، عبدالحمید محتاط او جنرال مؤمن تر ټولو زیات، د داسي جبهې د جوړولو په کار کې فعاله ونډه درلوده. طاهربدخشي او بحرالدین باعث له ستمیانو څخه، مجید کلکاني او ورور ئې قیوم رهبر له شعله یانو څخه د دې کار مخکښان وو. د دوی له جملې نه داکتر عبدالرحمن وتوانېدو چې د شورای نظار تر نامه لاندې په ائتلافي جبهې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي د مسعود د معاون په حیث ځای ونیسي او له همدې لاري د کمونستانو او مجاهدینو د یو ځای کېدو یوه ډاډ منه هسته جوړه کړي، دی وتوانېدو چي د شعله جاوید او ستم ملي وړی وړی ډلي چي په بدخشان او د هغه شا او خوا ولایاتو کي مصروفی وې او د پښتنو په خلاف د نورو ملیتونو د یووالی شعار ئې ورکاوو، له شورای نظار سره نږدې کړي، د وطن له حزب سره د مسعود د ارتباطاتو د تنظیم کار هم د ده په غاړه وو، چي د همدې ارتباطاتو لپاره به په میاشتو میاشتو په کابل کي اوسېدو او د کابل او پنجشیر تر منځ به ئې تګ راتګ کاوو. مولوی افضل نورستاني په یوه لیک کي داکتر عبدالرحمن ته د کابل د فاتح خطاب کوي او لیکي: "د نورستان ولس پدې فخر کوي چي کابل ستا په شان د یوه نورستاني په لاس فتحه شو"!! واقعاً چي عبدالرحمن له هغو کسانو څخه وو چي د ائتلاف په جوړولو کي او کابل ته د شورای نظار په داخلولو کي ئې لویه ونډه وه، هغه تر مسعود نه زیات زرنګ او زیات فعال وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شینډنډ سقوط

د شینډنډ ستراتیژیك هوایي ډګر چې تر بل هر میدان نه ئې زیاتې جنګي او نظامي باروړونکې الوتکې درلودې، د نجیب د سقوط په وخت کې د حزب اسلامي قومندانانو تصرف کړ، د فراه اکثره ولسوالۍ هم د حزب په لاس کې پرېوتې. خو موږ د شینډنډ له هوایي ډګر نه په څو دلائلو سمه استفاده نشوی کولی:

- نه ایران له موږ سره د طیارو د تیلو د راوړلو په اړه مرسته کوله نه پاکستان، دواړو هېوادونو دائتلاف ملاتړ کولو.
- د هوایي میدان د ټول تخنیکي پرسونل تمویل او له میدان نه د دفاع په خاطر د کافي مجاهدینو ځای په ځای کول او د هغوی مستمر اکمال موږ ته ګران وو.
- له کابل نه ئې فاصله هومره وه چې نه هلیکوپترو تګ راتګ کولی شو او نه جنګي طیارو له خپلې لازمي محمولې سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هرات کي د حزب د مجاهدينو په خلاف د اسمعيل خان له عملياتو نه وروسته، موږ غوښتل ځيني الوتکي خوست ته راانتقال کړو، له مولوی جلال الدين حقاني او مولوی نظام الدين حقاني سره مو خبره وکړه، دواړو موافقه وکړه. د دې موافقې نه وروسته موږ د خوست هوايي ميدان د الوتکو د کوزېدو لپاره ترميم کړ او د ميدان د تنوير بندوبست مو وکړ، خو په کومه ورځ چي موږ د الوتکو د انتقال لپاره تياری نيولو، د مولوی حقاني ورور ابراهيم حقاني، د ميدان په منځ کي ټانك ودرولو او وئی ويل چي: موږ نه غواړو خوست ته جنگ راانتقال شي!! زموږ نمايندگانو ورته وويل: طيارې د جنگ لپاره نه بلکي د دې لپاره خوست ته راانتقالوو چي د ضايع کېدو مخنيوی ئې وشي او دا کار له مولوی حقاني سره د مخکني توافق په اساس کوو، خو هغه په هيڅ دليل نه قانع کېدو. ابراهيم حقاني د همدې خدمت په بدله کي د رباني له خوا د پکتيا د قول اردو قومندان وټاکل شو او په گرديز د طالبانو د ناڅاپي حملې په ورځ محاصره شو او په خورا بد حالت له گرديز نه ووت او اوس دی او مولوی حقاني له طالبانو سره ملگري دي او په لومړی خط کي جنگېږي. متأسفانه د ځينو قومندانانو په هکله د هغه خان او نوکر کيسه صدق کوي چي يوه ورځ ئې د خان په خاطر د کچالوستاينه کوله او تر ټولو خوراکو ئې غوره گڼلو او بله ورځ د بادنجان !! خان ورته وويل: دا ته څه کوې چي يوه ورځ کچالو ستايې او بله ورځ بادنجان؟ خپل خان ته ئې په ځواب کي وويل: زه خو د خان نوکر يم نه د بادنجان. دا قومندانان هم کله د سي آی ای او آی اس آی په خاطر له مسعود سره ملگري شوي او د هغه نوکری ئې کړي او کله د طالبانو په څنگ کي ودرېدلی او د هغه چا په خلاف جنگېدلی چي پرون ئې هغه ته د وفاداری تېږه په سينه وهله. د داسي دوه مخي سياست انتظار که له هر چا کېدو له درنو پکتياوالو نه ډېر بعيد او لېري بربښېدو، خو متأسفانه نن په پکتياوالو کي هم داسي کسان گورو.

موږ ونشو توانېدی چي د شينډنډ ټولي الوتکي انتقال کړو. په شينډنډ له هوا نه د جنرال دوستم الوتکو مسلسل بمبارد کولو او له ځمکي نه د تورن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمعیل او حزب وحدت ځواکونو په ګډه حمله وکړه، له خونړۍ جګړې او ډېر مرګ ژوبلې نه وروسته، میدان د دوی په لاس کې پرېوتو او زموږ مجاهدین خپلو سابقه جهادي سنګرنو ته وختل، خو د اسمعیل خان او د حزب د مجاهدینو تر منځ جګړې تر هغې ورځې رواني وې چې د شینډنډ ټول سابقه مجاهدین له طالبانو سره د ده په خلاف یوځای شول، فراه، شینډنډ او ورپسې هرات د طالبانو په لاس کې پرېوتل. د هرات د سقوط اصلي عامل هماغه جګړې وې چې تورن اسمعیل د نورو په خلاف پیل کړې وې، ځورېدلی قومندانان مجبور شول د غچ اخستلو لپاره د طالبانو ملګرتیا وکړي او تورن اسمعیل هماغسې له منطقې نه وباسي چې دوی ئې ایستلی وو.

په هرات او شینډنډ د اسمعیل خان له تسلط نه وروسته، هغه دومره مغرور شوی وو چې د ټول جنوب لوېدیځ ولایاتو د تصفیې او اشغال اراده وکړي، په غور ئې څو ځله حملې وکړې، وروسته له مسلسل ماتو د چغچران په نیولو قادر شو، خو په اصطلاح له منطقې لا وتلی نه وو چې نوموړی مرکز بېرته مجاهدینو ونیوو. همداسې څو ځله چغچران د ده او د حزب اسلامي مجاهدینو تر منځ لاس په لاس شو.

د بادغیس په لوري ئې بریدونه پیل کړل، د طولاني جګړو نه وروسته د بادغیس د مرکز په نیولو موفق شو. خو بالآخره د هم آهنګۍ شورى د جوړېدو نه وروسته، د بادغیس ټولو قومندانانو د جمعیت د قومندانانو په شمول، په ګډه فیصله وکړه چې د اسمعیل خان ځواکونه به له ټول ولایت نه باسي، مشروط پدې چې د جنبش ځواکونه بادغیس ته داخل نشي، موږ ورسره موافقه وکړه او پدې ترتیب د بادغیس ولایت د اسمعیل خان له تسلط نه آزاد شو.

د فراه او نیمروز په لوري ئې خپل فوځونه وزغلول او له جګړونه وروسته ئې د نوموړو ولایاتو مراکز اشغال کړل. د اسمعیل خان پر له پسې بریاوو په خپله جمعیت کې ده ته ښې ډېرې ستونزې راولاړې کړې. د مسعود حسادت او مخالفت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئې د ده په خلاف تشديد کړ، غوښتل ئې د ده په ضد تورن علاؤالدين تقويه کړي، د دوى ترمنځ د اختلاف او کرکي عمق او حدت، هلته ښه راڅرګند شو چي د هرات د سقوط د عواملو په هکله د مسعود نطاق وويل: "اسمعيل خان له پاکستانيانو سره پټې اړيکي درلودي، د هغوى په وينا ئې هرات طالبانو ته تسليم کړ، هغه د پرديو جاسوس وو، د ډالرو په بدله کي ئې هرات طالبانو ته پرېښود" مسعود له ايرانيانو نه وغوښتل چي اسمعيل خان تر نظارت لاندي ونيسي او کورئى تلاشي کړي، ويل کېږي چي هغه د اوږدې مودې لپاره تر نظارت لاندي وو او د اوسېدو ځاى ئې تلاشي شو.

له اسمعيل خان سره د جمعيتيانو سلوك، د سختي جفا او له مروت نه لېري سلوك وو، د برياوو او د قدرت په وخت کي په راز راز القابو د هغه ستاينه او د ماتې او له قدرت نه د خلع کېدو په وخت کي هغه ته د جاسوس خطاب کول، له شکه پرته لويه جفا وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اسلام آباد مذاکرات

د حل او عقد قلابی شوری د ائتلاف ستونزی زیاتې کړې، د ائتلاف په منځ کې ئې مخالفتونه راولاړ کړل او د ائتلاف نه بهر ئې د مخالفینو شمېر زیات او ضدیت ئې تشدید کړ. ائتلاف ته له جګړو نه هم په زړه پوري نتیجه په لاس ورنغله، یو ځل بیا ئې د مذاکراتو او روغې جوړې په نامه، د څه فرصت تر لاسه کول ګټور وګڼلو، له جماعت اسلامي او د پاکستان او سعودی له سفیرانو نه ئې وغوښتل چې وساطت وکړې. قاضی حسین احمد د جماعت اسلامي له یوه هیئت سره کابل ته راغی او زیاته موده ئې دلته د دواړو طرفونو ترمنځ تګ راتګ وکړ، ورپسې د نواز شریف د حکومت استاځو د ټولو افغاني ډلو سره، په اسلام آباد کې د تنظیمونو د مشرانو په سطح د یوې غونډې د رابللو په اړه تفاهم وکړ، ټولو لدې غونډې سره موافقه وکړه.

د ۱۳۷۱ کال د حوت په میاشتې کې، مذاکرات پیل شول، پاکستان غوښتل چې د جنرال دوستم جنبش ته هم پدې مذاکراتو کې د ګډون بلنه ورکړې شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال دوستم لادمخه د جنبش ملي اسلامي په نامه بېل حزب اعلان کړي وو او له رباني نه ئې د خپل حزب د رسميت په هکله ليکلې موافقه تر لاسه کړې وه.

سياف او مولوی خالص د هغه له ګډون سره موافق نه وو، خو لدې سره سره د اسلام آباد نظر دا وو چې که حزب اسلامي توافق وکړي نو هغه ته په مذاکراتو کي د ګډون بلنه ورکوو، زموږ ځواب دا وو چې جنرال دوستم د رباني د فوځ يو جنرال دی د هغه مستقل ګډون منطقي نه برېښي.

زه پداسي وقت کي د غونډې ځای ته ورسېدم چي نواز شريف او ترکي الفيصل له نورو مشرانو سره خبري پيل کړي وې، د غونډي له وضعيت نه معلومېده چي دوی دواړه، رباني ته په مهلت ورکولو تأکېد کوي خو له اتحاد نه پرته د پاتې تنظيمونو مشران او استاځي لدې کار سره موافق نه وو. پدې غونډي کي د رباني دوی غوښتني وي:

١ – د دوو کلونو لپاره بايد دی د جمهور رئيس په حيث ومنلی شي!!

٢ – د دفاع وزارت بايد مسعود ته وسپارلی شي!!

هيڅوك دې ته تيار نه وو چي د رباني دا غوښتني ومني. زموږ دريځ دا وو:

- جمهوري رياست او دفاع وزارت يوه تنظيم ته نشو سپارلی، د هېواد د تېرو خونړيو پېښو يوه وجه همدا وه چي دا دواړه پستونه يوه تنظيم ته وسپارلی شول.
- په مؤقته موده کي دي د انتخاباتو تر سره کېدل تضمين شي.

رباني داسي ښودله چي دی له دغو دواړو خبرو سره توافق کولی شي خو مسعود پدې خبره نشي قانع کولی چي دی به د دفاع وزير نه وي!! له هغه نه وغوښتلی شو چي يا د مخکني وعدی مطابق، مسعود غونډې ته حاضر کړي او يا دي هغه خپل واك تاسو ته وسپاري. خو رباني د څو ځله مخابروی او تلفوني تماسونو سره سره پدې موفق نشو چي يا مسعود غونډې ته حاضر کړي او يا ده ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکالت ورکړي.

نږدې وه چې غونډه بې نتيجې پای ته ورسېږي خو موږ نه غوښتل دا غونډه بې نتيجې وې او يو ځل بيا د جګړو يو بل دور پيل شي. که څه هم د خبرو په دوران کې ائتلافيونو څو ځايه جګړه پيل کړې وه. موږ دا طرحه وړاندې کړه چې په لاندې خبرو شامل يوې اعلاميې باندې توافق وکړو:

- اوربند.
- د اسراوو تبادله.
- د مذاکراتو دوام.

نواز شريف او ترکي الفيصل پدې ټينګار کولو چې رباني د څه نوري مودې لپاره جمهور رئيس پاتې شي. د دوی د زياد تأکېد او ټينګار په وجه لومړی موږ او بيا نورو دا خبره ومنله چې کېدی شي رباني د ۱۸ مياشتو لپاره د دولت رئيس پاتې شي پدې شرط چې:

۱ – د معاهدې مطابق به انتخابات تر سره کېږي.

۲ – د جمهور رئيس او صدر اعظم صلاحيتونه به همدا اوس ټاکل کېږي.

بلآخره ټولو خواوو له همدې طرحی سره موافقه وکړه او لاندې اسناد ترتيب او امضاء شول:

د اسلام آباد د معاهدې بشپړ متن

موږ پداسې حال کې چې د الله حکم ته منقاد يو، قرآن او سنت مو لارښود دی، د هغه جهاد درانوی او يادونه کوو چې زموږ مجاهد او زړه ور ملت د هېواد د ژغورنې او خپلواکې لپاره پدې اميد پيل کړې وو چې دا لرغونی جهاد به په هېواد کې ډاډمنه سوله تأمين کړي او افغان ولس ته به سعادت او ترقی ورپه برخه کړي او پدې حقيقت باور لرو چې د يوه داسې پراخ بنسټه حکومت جوړول د وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ضرورت دی چې په ټولو جهادي ډلو شامل وي، د یوه داسې حکومت جوړول چې د ټولو پرګنو او ملیتونو آرمانونه تمثیل کړي، په آرامه او سوله ایزه توګه د قدرت د انتقال عملیه میسرکوي. د هېواد یووالی، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا د ساتنې او حفاظت په اړه متعهد یو، د هېواد مجدد اعمار او د مهاجرینو بېرته ستنېدو ته د مساعدو شرائطو برابرولو ته توجه لرو، دا دی د سعودی پاچا خادم الحرمین الشریفین هغې بلنې ته مثبت ځواب وایو چې د افغانانو خپل منځی اختلافات دې په سوله ایزه توګه حل شي او د ښاغلی نوازشریف د پاکستان د اسلامي جمهوریت صدراعظم او د سعودی او ایران له استاځو نه مننه کوو چې د دې هڅو ملاتړ ئې کړي، دا مطلب اعلانوو چې د افغانانو ترمنځ بېل بېل او په ګډه روان مذاکرات د دې لپاره پیل شوي چې د جهاد ثمرات خوندي پاتې شي. موږ په دغو موادو توافق وکړ:

- د ۱۸ میاشتو لپاره د یو مؤقت حکومت تشکیل چې په هغه کې استاد برهان الدین رباني جمهور رئیس او انجنیرحکمتیار یا د ده استاځی به د صدراعظم په حیث وظیفه ترسره کوي.
- د معاهدې له امضاء نه وروسته به د دوو اونیو په منځ منځ کې د دې حکومت کابینه، د جمهور رئیس او د تنظیمونو د مشرانو په مشوره جوړېږي.
- پداسې یوې انتخاباتي عملیې توافق وشو چې:
- په ۱۸ میاشتوکې به ترسره کېږي، دا نېټه د ۱۹۹۲ کال د دسمبر د میاشتې له ۲۹ نه پیل کېږي.
- د انتخاباتوکمیسیون مکلف دی د معاهدې له امضاءسره سم د ۲ـ۸ میاشتو په ترڅ کې د یوې لویې قانون جوړونکې شوری لپاره انتخابات ترسره کړي.
- د همدې شوری له خوا به د هېواد اساسي قانون تصویب کېږي او بیا به د اساسي قانون په رڼا کې د جمهور رئیس او پار لمان لپاره د همدې ۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتو په بهیر کې انتخابات سرته رسي.

- د لاندي اجراءاتو لپاره به یو داسي دفاعی کمیسیون جوړېږي چي د هر تنظیم دوه غړي به پکي عضویت لري:
- الف: د ملي اردو جوړول.
- ب: له ټولو ډلو نه درنې وسلې راغونډول او د لزوم په صورت کي هغه د کابل له ښار او نورو ښارونو نه بهرځای په ځای کول ترڅو لدې لاري د ښارونو امنیت تأمین شي.
- ج: د لویو لارو امنیت تأمینول.
- د: د دولت له امکاناتو نه دشخصی قطعاتو او مسلح ډلگیو د اکمال مخنیوی.
- هـ: د دې خبري تضمین چي د دولت د وسله والو ځواکونو سوق او اداره به د همدې دفاعی کمیسیون په لاس کي وي.
- و: د ټولو هغو اسراوو فوری او بې قید او شرط آزادول چي د شخړو په جریان کي حکومت یا مختلفو ډلو بندیان کړي.
- ټول هغه شخصی او دولتي تأسیسات، املاك، کورونه او مسکوني مناطق چي د جگړو په دوران کي متحاربو ډلو اشغال کړي باید اصلي خاوندانوته مسترد شي، باید ټولي بې ځایه شوې کورنۍ خپلو سیمو ته ستنې شي.
- داسي کمیټه به جوړېږي چي د هېواد مالي سیستم او د دولت مالي اجراءات ترنظارت لاندي وساتي او د پیسو چلند د قوانینو مطابق تنظیم کړي.
- د غذایي او سوند موادو وېشلو لپاره به د ټولو تنظیمونو په استاځو مشتمل کمیسیون جوړېږي.
- په اوربند باندي د نظارت لپاره به داسي یو کمیسیون جوړېږي چي د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنظیمونو استازې به پکې غړیتوب لري.

## وظایف او صلاحیتونه

### جمهور رئیس:

د دولت رئیس د ملي یووالی نښه ده چي د دولت چارې به د قرآن او سنت او اسلامي شریعت له غوښتنو سره سم سمبالوی.

صدراعظم به کابینه جوړوي بیا به ئې جمهور رئیس ته د اعلان لپاره او د لوړې د مراسمو اجراء په خاطر وړاندي کوي.

۱ـ کابینه به د یوه متحد تشکل په څېر د صدراعظم په هدایت وظایف ترسره کوي.

۲ـ صدر اعظم او کابینه به په ټولو مهمو قضایاوو کي د جمهور رئیس سره په منظم او نږدې توگه تفاهم کوي.

۳ ـ جمهور رئیس او صدر اعظم باید په خپلو منځونوکي د تفاهم له مخي عمل وکړي که چیرته په کومي قضیې کي د رأی اختلاف راولاړ شو د مناقشې له لاري به هغه حل او فصل کوي، که قضیه لاینحل پاتې شوه باید د کابینې او جمهور رئیس گډې غونډې ته محول شي.

۴ـ د دولت تگلاري پوري تړلي ټول امور باید د صدر اعظم تر ریاست لاندي د کابینې په غونډوکي فیصله شي. ټول وزیران او معینان په انفرادی او اجتماعي ډول د حکومت د تصامیمو په هکله مسئولیت لري.

۵ـ د مسلح قواوو قومندانان به له تعامل سره سم د خپل منځی تفاهم له لاري ټاکل کېږي.

### د جمهور رئیس صلاحیتونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۷ـ جمهور رئيس لاندني وظايف او صلاحيتونه لري:**

الف: د جمهوري رياست د معاون ټاکنه.

ب: د قانون مطابق او د صدراعظم په مشوره د قاضی القضات او د ستري محکمې د قاضيانو ټاکنه.

ج: د هېواد د مسلح ځواکونو اعلی قومنداني د دې ځواکو د موازينو او اهدافو په رڼا کي.

د: د کابينې او پارلمان په مشوره د جنگ او سولي حالت اعلانول.

هـ: له مقرراتو سره سم د پارلمان د غونډو پيل او پای اعلانول.

و: د ملي وحدت استحکام، د خپلواکي او استقلال ساتنه او د افغان ولس د گټو په رڼا کي د هېواد د بې طرفی او اسلامي هويت تمثيل.

ز: د شريعت مطابق او له مقرراتو سره سم د محاکمو د پرېکړو تأئيد او لغو.

ح: په بهرنيو هېوادونو کي د افغانستان د سياسي هيئتونو رئيسان او په بين المللي ټولنو کي د افغانستان دائمي استاځي ټاکل او د نورو هېوادونو د سياسي هيئتونو د رؤساوو اعتبار ليك منل.

ط: د قوانينو او مقرراتو توشيح او د بين المللي معاهدو امضاء د هېواد له قوانينو سره سم.

ی: جمهور رئيس کولی شي د خپلو صلاحيتونو ځيني برخي خپل معاون يا صدراعظم ته انتقال کړي.

ك: د جمهور رئيس د وفات يا استعفی په صورت کي به د جمهوري رياست دندي د جمهور رئيس معاون ته سپارل کېږي چي د نوي جمهور رئيس تر ټاکني به د چارو نيابت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ل: د بانك نوټونو د چاپ رسمي اجازه.

م: جمهور رئيس کولی شي چې د کابينې فوق العاده غونډه د هغو حياتي او مهمو چارو په اړه راوبلی چې د هېواد د ورځيني او عادي اجراءاتو په محدوده کې نه راځی.

## د صدراعظم صلاحيتونه:

۷ـصدراعظم او کابينه لاندې صلاحيتونه لري:

الف: د هېواد د داخلي او خارجي سياست وضع او تطبيق د دې معاهدې د نص او روحيې مطابق د قوانينو په رڼا کې.

ب: د وزيرانو او نورو اداري او اجتماعي مؤسساتو د چارو اداره او سنبالول او د دوی ترمنځ تنسيق او يووالی.

ج: له مقرارتو سره سم اداري او اجرايي تصاميم نيول او د هغوی د پلی کولو چاری سنبالول.

د: د قوانينو تسويد او د لوايحو او مقرراتو جوړول.

هـ: د دولت د بودجې تنظيم او کنټرول او د هېواد د بيا ودانولو او د يوه ارزښتناك بانکي او مالي سيستم د پلی کولو لپاره مناسب تدابيرنيول.

و: د هېواد اقتصادي، ټولنيز او تعليمي پروګرامونه برابرول او د دې پروګرامونو د تنفيذ په چارو نظارت کول او يو مرفه، په خپلو پښو ولاړ اسلامي هېواد جوړول.

ز: په نړيواله سطحه د هېواد د ګټو او آرمانونو ساتنه او ارتقا او د بهرنيو تعهداتو او نړيوالو پروتوکولونو او معاهداتو څېړنه او لازم سياسي او اقتصادي تدابير نيول.

ح: د سولې او امنيت د تأمين او په ټولني کې د اسلامي اخلاقو د تعميم او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه خاص او مستقل ارګان په ذریعه اداراتو کې د عدالت او انصاف د مراعات لپاره لازم اجراءات کول.

د پورتنیو موادو د تائید لپاره، لاندې شخصیتونو د ۱۹۹۳ کال د مارچ په ۷ نېټه په اسلام آباد کې د دې معاهدې په پای کې امضاء ګانې وکړې.

مولوی محمد یونس خالص، مولوی محمد نبي محمدی، عبد رب رسول سیاف، سید احمد ګیلاني، صبغة الله مجددی، برهان الدین رباني، محمد آصف محسني، حکمتیار

د اسنادو د امضاء په غونډې کې د ایران هیئت ته هم د ګډون بلنه ورکړې شوه. او فیصله وشوه چې د دعا لپاره به لومړی مکې ته ځو، د سعودی پاچا شاه فهد او د ایران رئیس جمهور هاشمي رفسنجاني به د نواز شریف په شمول د همدې معاهدې په پای کې د شاهد او ضامن په توګه امضاء کوي. ټول مشران په ګډه له نوازشریف سره یو ځای سعودی ته ولاړو عمره مو ادا کړه، له عمرې نه وروسته نومړی معاهده په مکه کې له شاه فهد سره د یوې علني غونډې په ترڅ کې یو ځل بیا امضاء شوه. له هغه ځایه تهران ته راغلو، رفسنجاني د معاهدې په پای کې د شاهد په حیث امضاء وکړه. د ایران له جمهور رئیس سره د ملاقات نه وروسته، رباني په تهران کې پاتې شو او د مشهد له لارې هرات ته ولاړ. د هرات په جامع جومات کې ئې وینا وکړه، خو وینائی داسي وه لکه چې اصلاً ئې کومه معاهده نه وي امضاء کړې، په ډېره تنده لهجه ئې په موږ نیوکې وکړې او له خلکونه ئې وغوښتل چې "د اسلامي دولت" د مخالفینو په ضد جهاد ته ادامه ورکړي!!

کابل ته له رارسېدو سره سم ئې د داکتر عبدالرحمن په مشری خپل هیئت مزار ته ولېږو. موږ ګمان کولو چې دا هیئت به د جنرال دوستم د اقناع او د هغه د تشویشونو رفع کولو لپاره مزار ته لېږل شوی وي. خو جنرال دوستم ما ته د دې هیئت د مأموریت په هکله وویل: "هیئت د خبرو د پیل سره سم له کابل نه راوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خریطه په میز خوره کړه او د حزب اسلامي په خلاف د عملیاتو د پلان په هکله ئې وویل: په سروبی باید له دریوخواوو عملیات ترسره شي، د نجراب او ماهی پر له لاري به د جعمیت او شورای نظار ځواکونه او د لته بند له لاري به د جنبش قطعات په سروبی عملیات ترسره کوي...ماو رته وویل: " آبله ورځ خو تاسو له حزب اسلامي سره معاهد امضاءکړه، پر دې معاهدې د امضاء رنګ لاندي وچ شوی او تاسو د عملیاتو پلان جوړکړي؟! څه شوي او په کومه پلمه دا عملیات پیل کړو، لږ ترلږه څو ورځې خو باید تېرې شي ترڅو داسې کومه پلمه تر لاسه کړو چې خپل افراد ورباندي قانع کړو.. ما لدې عملیاتو سره موافقه ونکړه".

د اسلام آباد د موافقاتو په اساس باید له سفر نه د راستنېدو متصل، ټول مشران په جلا ل آباد کې راغونډ شوي وی او د کابینې په هکله وروستۍ فیصله شوې وی خو غونډې ته د مشرانو په ځای د دوی استاځي حاضر شول، د جمعیت استاځو په غونډې کې وویل چې موږ ته د کابینې په اړه د څه ویلو واك ندی راکړي شوي، مجبور یو بېرته کابل ته ستانه شو. ټولو تعهد وکړ چې خپل مشران به د غونډې لپاره چهار آسیاب ته حاضروی.

کمونست جنرالان په کمین کې وو، غوښتل ئې دا هڅې ناکامې کړي، شورای نظار ئې وسوسه کړ چې موږ کولی شو سروبی ونیسو، تاسو جنرال دوستم پدې قانع کړي چې د سروبی د نیولو په عملیاتو کې برخه واخلي، خو د شورای نظار هیئت له مزار نه خالی لاس بېرته راوګرځېدو. شورای نظار ته د سروبی یا چهارآسیاب په لوري د جنرال دوستم له مرستې نه پرته عملیات ممکن نه وو، نو ځکه دوی د پروان کاپیسا د تصفیې پلان جوړ کړ، چې په دوو مرحلو کې باید ترسره شي: لومړی باید د حزب په افرادوکې کار وکړي او ضعیف النفسه عناصر په پیسو واخلي، وروسته د همدغو افرادو په مرسته عملیات ترسره شي. لدې عملیاتو نه د مخه د ننګرهار د یوه هیئت د منځګړیتوب په نتیجه کې په جلال آباد کې. د مشرانو په غونډې توافق وشو. د حزب وحدت له مشر نه پرته ټولو پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مذاکراتو کې برخه واخسته.

د ننګرهار له شورى سره مو پدې خبرې توافق وکړ چې ترڅو ټولو مشرانو په همدې غونډې کې د کابینې په سر موافقه نه وى کړې باید د غونډې له ځاى نه هیچا ته د وتلو اجازه ورنکړې شي. مذاکرات پیل شول، رباني بیاهم د جمهورى ریاست ترڅنګ د دفاع وزارت غوښتلو او تردې په کم شي نه راضى کېدو. مذاکرات طولاني شول، له ورځو نه خبره هفتو ته ورسېده، سیاف غوښتل د محاصرى لدې حالت نه په کومه پلمه ووځي، د ننګرهار شورى ته ئې وویل: ما ته اجازه راکړې کابل ته ولاړ شم او انجنیر مسعود له ځان سره راولم، تاسو پوهېږئ چې رباني لده نه پرته تصمیم نشي نیولى!! هغوى د ده تګ د مشرانو په موافقې پورې مربوط کړ،څو ځله ماته راغې، ما موافقه وکړه، خو زړه مې ګواهى راکوله چې استاد به بېرته نه راځي، همداسې وشول. لده سره ملګرى د ننګرهار هیئت بېرته راستون شو، خو دى په پغمان کې پاتې شو.

د همدې مذاکراتو په دوران کې کمونستو جنرالانو د سابقه پلان مطابق د پروان په لورې عملیات پیل کړل. له درنو جګړو نه وروسته د چهاریکار، بګرام، جبل السراج، د کاپیسا ولایت په مرکز او اطراف کې د حزب د مراکزو په نیولو موفق شول او د نجراب او تګاب په لور ئې مخکې تګ پیل کړ.

زموږ د معلوماتو له مخې پدې جګړې کې د جنرال فقیر اوجنرال پهلوان رحیم قطعاتو هم برخه اخیستې وه، که څه هم جنرال دوستم له شرکت نه انکار کولو.

زموږ مجاهدین مجبور شول د دارالامان په لورې عملیات وکړې، چهل ستون او دارالامان د همدې عملیاتو په ترڅ کې فتحه شول، پدې کار سره د سروبى په لورې د دوى مخکې تګ متوقف شو. رباني د پروان او کاپیسا د فتوحاتو په راپورونو هومره مغرور شوى وو چې د روغې جوړې هیئت ته ئې وویل: نور نو مزید خبرو ته ضرورت نشته، سبا بله ورځ به سروبى نیولى کېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورپسې به چهار آسیاب فتحه کېږي!! خو د دارالامان او چهل ستون په لوري د حزب د مجاهدینو مخکې تګ ببرته نااميده کړ.

بالآخره د کابينې په سر توافق وشو. د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو لپاره ګډ کميسيونونه وټاکل شو، چې کفالت به ئې د جمهور رئيس او صدراعظم په غاړه وي، د پاتې وزارتونو لپاره د هر تنظيم نه دوه دوه وزيران واخستلی شول، توافقات د يوې غونډې په ترځ کې اعلان شول او غونډه پای ته ورسېده. رباني د کابل په ځای د پېښور په لوري وخوځېدو، خو کابل ته له رسېدو وروسته، د دې په ځای چې د معاهدې مطابق د زړې کابينې وزيران رخصت کړي برعکس هغوی ته ئې ترهغه په خپلو دندوکې د پاتې کېدو فرمان صادرکړ چې نوې کابينه د تحليف مراسم تر سره کړي، دا يوه نوې خبره، نوی شرط او د معاهدې د فوری انفاذ په لاره کې ځنډ او خنډ راپيداکول وو.

په اصل کې رباني او مسعود خاصتاً کمونستو جنرالانو دا نه غوښتل چې موږ کابل ته ولاړ شو، نه د صدارت تخليه کولو ته چمتو وو او نه زموږ د تګ راتګ له لاري د کمونستانو د پوستو لېري کولو ته.

تنظيمونو اومخصوصاً د تنظيمونو له خوا معرفي شوو نوو وزيرانو په رباني فشار اچولو چې نوې کابينه بايد خپل کار پيل کړي، پس له اوږدې مودې او ځو نښتو رباني دې ته اړ شو چې په قلعه حيدرخان کې د تحليف مراسم ترسره او د نوې کابينې د کار پيل سره موافقه وکړي.

## کابينه او ائتلاف

موږ مجبور شوو د کابينې غونډې په چهارآسياب کې دائرې کړو، د ائتلافيونو کمونستو انډيوالانو خپل ملګري دې ته هڅول چې دا بهير حتماً مختل کړي، پدې اړه ئې لاندې کارونه وکړل:

- د کابينې هغو غړو ته چې په کابل کې د دوی تر ولګې لاندې سيموکې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدل، د دې اجازه نه ورکوله چې د بالاحصار یا چهل ستون له لارې چهار آسیاب ته راشي، دوی مجبور وو په صدارت کې راغونډ شي او بیا ټول یوځای د پل څرخي له لارې چهارآسیاب ته راشي، په وار وار د کابینې هیئتونو پدې هکله له رباني او مسعود سره خبرې وکړې ترڅو دا دوه لنډې لارې پرانېزي خونتیجه ئې ورنکړه.

- یو ځل ئې د ۱۳۷۲ کال دعقرب د میاشتې په ۱۸ نېټه، پل څرخي ته څېرمه، د کابینې ټول غړې متوقف کړل، د حربی پوهنتون د قومندانی مخې ته ئې څو ساعته لمر ته ودرول، هومره ئې سپك کړل چې ما گمان کولو بیا به دوی د کابینې په غونډو کې برخه وانخلي، خو یا دا چې وزارت ترعزت نه زیاد ارزښت درلود او یا دا چې دې ته متوجه شول چې دا د کمونستانو او د دوی مجاهد ډوله التقاطي ملگرو کار دی، باید پری نږدې چې هغوی په آسانۍ خپل هدف ترلاسه کړي.

- خاد د کابینې د غونډې په ورځ، د موټرو په تم ځای کې، پداسې فرصت کې د انفجار پلان جوړکړې وو چې د کابینې د غونډې په پای کې او د وزیرانو د رخصت کېدو په وخت به ترسره کېږي، انفجار کوونکې ته لازمې روزنه ورکړې شوه، انجنیر عارف د خاد معاون د دې چاودنې د پروگرام نظارت کولو، انفجارکوونکی له موادو سره د غونډې په ورځ، د انجنیر عارف په ملگرتیا او د هغه په موټرکې له بم سره یو ځای له بالاحصار نه تېرکړې شو او د لوگر د تیلو ټانك سره له موټر نه کوز او د بس په ذریعه د چهارآسیاب په لوري راولېږلی شو، موږ له ټول جریان نه خبر وو، پوره ترتیبات مو ورته نیولی وو، انفجار کوونکی د انفجار ځای ته نږدې ونیولی شو، د تحقیقاتو لپاره د کابینې له منځ نه هیئت وټاکل شو، هیئت د تحقیقاتو راپور او د مجرم اعترافات د کابینې هماغی غونډې ته واورول. پورتنۍ خبرې د همدې کس د اعترافاتو برخه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- کابینې د هېواد کلنۍ بودجه تصویب کړه. د معاهدې مطابق به جمهور رئیس یا د تصویب شوې بودجې منظوری ورکوله او یا به ئې خپل ملاحظات په لیکلې توګه کابینې ته لېږل، خو جناب جمهور رئیس نه بودجه منظور کړه او نه ئې خپل ملاحظات کابینې ته وړاندې کړل، برعکس تر پایه ئې د خپلې خوښې سره سم، له روسیې نه په بادراوړو پیسو کې تصرف کولو.
- کابینې فیصله وکړه چې لدې نه وروسته به افغانې بانک نوټونه، د مسکو په ځای، په کوم بل داسې هېواد کې چاپ کېږي چې:

الف: د افغانستان په هکله یا استعماري عزائم ونلري یا ئې زموږ په کورنیو چارو کې د لاس وهنو امکانات ضعیف وي.

ب: تر مسکو نه ئې په نازله بیه موږ ته چاپ کړي.

د معاهدې مطابق باید د کابینې دغه فیصله پرته له کوم ځنډ نه عملي شوې وي، د همدې لپاره د مالیې وزارت، د جرمنې او انګلستان له دوو کمپنیو سره خبرې وکړې. د آلمان له یوې کمپنۍ سره، د ټولو زړو بانك نوټونو د تعویض او د نوو مصئونو بانك نوټونو د عرضې لپاره د اوه ملیونه ډالره په بدله کې، د ۱۵۰۰ ملیارده افغانیو د چاپ توافق وشو، خو رباني له خپلې خوا د شخصی هیئت په ذریعه، د کابینې د پرېکړې او د معاهدې د حکم خلاف، له مسکو سره د خپلو خصوصې ژمنو مطابق داسې نوی قرارداد امضاءکړ چې د ۷۰۰ ملیارده افغانیو زړو بانك نوټونو د چاپ په مقابل کې به ئې روسانو ته څوارلس ملیونه ډالره سپارل!! افغانستان ته دا قرارداد د آلماني کمپنۍ په پرتله پنځه برابره ګران تمامېدو.

- د معاهدې مطابق باید د پیسو د چاپ قرارداد، د پیسو انتقال او ساتنه او د بودجې مطابق د دولت د اداراتو تمویل، د مالیې وزارت له لارې تر سره شوی وی خو له مسکو سره د شورای نظار د خصوصې اړیکو په اساس، چاپ شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بانك نوټونه، له مسكو نه مستقيما بگرام ته لېږدول كېدل او مسعود ته سپارل كېدل، چې بيا به د دوی په خوښه، يو مقدار پنجشير ته، يو مقدار خاد ته، يو مقدار د دفاع وزارت ته او پاتې برخه بانك ته انتقال كېده.

## د جنرال دوستم كفالت

رباني تركيې ته سفر درلود ، تركيې ته د ده د سفر څو وجوهات وو ، تركيې د امريكا په اشاره د ائتلاف ملاتړ كولو ، دوستم ئې دې ته تشويقولو چې له رباني نه بېل نشي، د رباني او ايران ترمنځ مناسبات (وحدت سره د خونړيو جگړو په وجه) خړ پړ وو ، تركانو غوښتل دا مناسبات مزيد كړكېچن شي، د تركيې لائيك حكومت د افغانستان د داخلي جگړو په اړه هماغه سياست درلود چې امريكائيانو غوره كړي وو: د رباني د تائيد او تشويق له لارې د جگړو دوام او د يوه اسلامي حكومت د جوړېدو مخنيوی. رباني له خپل سفرنه مخكې د جنرال دوستم د ليدو لپاره مزار ته ولاړ، دا مزار ته د ده پنځم سفر وو ، غوښتل ئې جنرال دوستم ته بلنه وركړي چې د ده په غياب كې د جمهوري رياست د كفالت لپاره كابل ته راشي، جنرال دوستم دا بلنه ومنله، كابل ته راغي، د خواجه رواش هوايي ډگر د ده د افرادو په لاس كې وو ، هلته د ده تود هركلی وشو ، له هوايي ډگر نه تر ارگ پورې د ده خپلو قطعاتو امنيت نيولی وو ، د ارگ يوه دروازه لا د مخه د ده د افرادو په لاس كې وه او په دېوالونو ئې د ده عكسونه لگېدلی وو. رباني په سفر ولاړ او جنرال دوستم د ده د كفيل په حيث په ارگ كې مستقرشو. راډيو او تلويزيون هره ورځ په ارگ كې د ده د ملاقاتونو راپورونه وركول، پدې وخت كې د كابل وضعيت دا سې وو: جمهور رئيس چې د دفاع د تش په نامه كميسيون رئيس هم وو خارج ته سفر كړي وو. صدر اعظم چې د داخله چارو د وزارت د تش په نامه كميسيون رياست ئې هم په غاړه وو له ښار نه بهر وو. د تنظيمونو مشران يا له هېواد نه بهر وو يا له كابل نه بهر. مولوی محمدنبي په كابل كې وو خو چې د جنرال دوستم له راتلو خبر شو د مريضی په پلمه پغمان ته ولاړ او هلته له سياف

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره تر هغه مېلمه وو چې د رباني له راستنېدو نه وروسته، جنرال دوستم له ارګ نه د مزار په لوري وخوځېدو. د دې کار په هکله په سیاسي حلقو کې درې تعبیره کېدل:

الف: جنرال دوستم پدې ناراض وو چې ولې د جبل السراج د معاهدې مطابق د دفاع وزارت ورنکړې شو، رباني غوښتل د جمهوري ریاست د کفیل په حیث د ده په ټاکلو سره هغه راضی کړي.

ب: رباني د کابل له دفاع نه ډاډه نه وو، په مسعود ئې یا اعتماد نه وو او یا ئې په هغه کې د کابل د دفاع توان او استعداد نه لیدو، له کابل نه د ډاډمني دفاع په خاطر ئې جنرال دوستم کابل ته راوغوښت.

ج: د حزب اسلامي، جنبش او وحدت تر منځ مذاکرات پیل شوي وو، د دې مذاکراتو د مختل کولو لپاره ئې دا کار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شورى هم آهنگي تأسيس

په ائتلاف کي خپل منځى اختلافات، د کلکو جګړو ترحده تشديد شول، د وحدت حزب له ائتلاف نه عملاً ووت، هيئت ئې چهارآسياب ته راغي، زموږ او د وحدت ترمنځ مذاکرات پيل شول او په څو مهمو خبرو مو توافق وکړ:

- د يوه بل په خلاف په جګړو کي برخه نه اخستل.
- د هېواد د بحران د حل لپاره داسي ګډه طرحه چي د مؤقت حکومت او انتخاباتو غوښتنه کوي.
- د هري خوا تر اغېز لاندي سيموکي به د بلي خوا منسوبين په ډاډ او اطمئنان سره تګ راتګ کولی شي.
- په قضاياوو کي ګډ دريځ او د يوه بل ممکنه مرسته.

دا يو ګټور توافق وو چي لاندي نتائج ئې درلودل:

الف: له هغه ائتلاف نه چي زموږ په خلاف جنګېدو، يوه مهمه ډله رابېله شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اوس موږ او هغوی ګډ دریځ لرو.

ب: د شیعه، سني او پښتون او غیر پښتون ترمنځ د جګړې هغه خطرناکه توطئه شنډه شوه چې زموږ د ملي وحدت د ختمولو لپاره دښمنانو جوړه کړې وه.

ج: د وحدت له وتلو نه وروسته، ائتلاف د خپل شته والی فلسفه له لاسه ورکړه او زوال ئې پیل شو.

د: پدې سره د هم آهنګي شوری د جوړېدو اساس کېښودی شو.

د دې توافق نه وروسته د وحدت په خلاف د اتحاد او شورای نظار د هغو سترو عملیاتو په جریان کې موږ د وحدت عملاً مرسته وکړه چې د نوموړی حزب مرکزي دفتر او د افشارو او خوشحال مېنې برخې ترې ونیول شوې.

ائتلافیونو غوښتل چې د امریکا او سعودی حمایت ترلاسه کړي، د همدې لپاره ئې د حزب وحدت په خلا ف جګړه پیل کړه او د ایران پرضد ئې یو په بل پسې مرکې وکړې، غوښتل ئې داسې وښیي چې دا جګړه د شیعه ګانو په خلاف د سنیانو جګړه ده او که غرب یا عرب غواړي په افغانستان کې ایران پلوه حکومت جوړ نشي نو باید د دوی مرسته وکړي!!

د وحدت حزب له جنبش نه دا توقع درلوده چې پدې جګړې کې به حتماً د دوی مرسته کوي، خو داسې ونشول، هغوی فقط څه مهمات ورولېږل او د وحدت یو شمېر مسلح کسان ئې له مزار نه راانتقال کړل.

همدا راز د شیرخان بندر په سر، په ائتلاف کې بله منازعه راولاړه شوه، د کندز مجاهدینو په شیرخان بندر عملیات تر سره کړل او هغه ئې د جنبش له افرادو نه ونیولو، رباني او مسعود له یوې خوا داسې ښودله چې دا عملیات محکوموی او غواړي شیرخان بندر بېرته جنبش ته وسپاري، خو له بلې خوا ئې دا کار ضروري او مفید ګڼلو، ځکه دوی له روسانو سره د مستقیمو ارتباطاتو او له روسیې نه د سړك له لارې د مرستو ترلاسه کولو لپاره، د شیرخان بندر په شان یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندر ته ضرورت درلود. شيرخان بندر له همدې پلوه دواړو طرفونو ته خاص اهميت درلود.

له همدې حادثې نه وروسته، ما له انجنير نسيم مهدی سره د مخابرې له لارې خبرې وکړې او هغه ته مې وويل: وګوره چې د جنبش چارواکي د خپلو سابقه يارانو په هکله څه نظر لري او د حزب اسلامي په اړه اوس د دوی دريځ څنګه دی؟ انجنير مهدی په فارياب کې د حزب اسلامي د جهاد امير وو، خو اوس له جنبش سره يو ځای شوی وو، هغه ډېر ژر احوال راکړ چې جنبش له حزب سره د مذاکراتو غوښتونکی دئ، ما هم له مذاکراتو سره توافق وکړ، په تاشکند کې زموږ او د دوی هيئتونو سره وليدل، دا زموږ ترمنځ د هيئتونو په سطحه لومړنۍ ليدنه کتنه وه چې په هغې کې د مذاکراتو په دوام، له نورو ډلو سره د خبرو آترو او د ګډې جبهې د جوړولو په اړه مقدماتي خبرې وشوې، وروسته، وروسته د بېلا بېلو ليدنو کتنو په نتيجه کې په ګډه اقدام، له اقدام نه وروسته د يوه مؤقت حکومت په جوړولو او بيا د انتخاباتو په اجرا توافق وشو. موږ لدې کار سره پدې خاطر توافق وکړ چې:

الف: له رباني مسعود سره د مذاکراتو د دوام له افاديت نه مأيوس شوي وو، موږ ته عملاً ثابته شوه چې دوی د حزب په خلاف له جګړې نه لاس په سرکېدونکي ندي، د دوی په ژمنو او تعهداتو باور نشي کېدی، د افغانستان د بحران اسلامي حل نه مني او د کمونستانو په ملګرتيا او د روسانو په مرسته په هر قيمت په قدرت کې پاتې کېدل غواړي، مجبور وو د حل په نورو لارو فکر وکړو.

ب: پدې سره په ائتلاف کې شامل دوه ډلي زموږ په خلاف له جګړو نه ګوښه کېدلی، موږ ته دې خبرې خاص اهميت درلود.

ج: همدا راز پدې سره د قومونو د جنګولو توطئه شنډېده او د افغان ولس په مختلفو پرګنو کې د يوه بل په څنګ کې د ورونو په حيث د ژوند کولو احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library



راڅرګندی کېدو.

د: په افغانستان کي د يوه قوي منتخب اسلامي حکومت د جوړولو لاره، فقط همدا وه چي د کابل جګړه مار ائتلافي حکومت ختم شي، ځای ئې مؤقت حکومت ته وسپارلی شي او بيا انتخابات ترسره شي.

د عاجل ګډ اقدام په هکله تر ټولو زيات، د وحدت حزب ټينګار کولو، دا ځکه چي تر ډېره حده د جګړو تر فشار لاندي وو. دوه ځله د اقدام لپاره خاصه نېټه وټاکلې شوه خو دځينو عواملو په وجه اقدام وځنډېدو، بالآخره د ۱۳۷۲ کال د جدي په ۱۲ نېټه د ګډو عملياتو فيصله وشوه، عمليات پيل شول، په لومړی سرکي اکثر مهم او ستراتيژيك ځايونه ونيولی شول او شورای نظار له ټول کابل نه په تيښته وو. د دې عملياتو د بری امکانات ډېر روښانه اود ماتېاحتمال ئې ډېر ضعيف وو، خو د ځينو خاصو عواملو په وجه، د هغه نتائج د انتظار خلاف وو، دا عوامل په لاندي توګه وو:

- د وحدت حزب پداسي حال کي په عملياتو کي ګډون ونکړ چي ترپايه ئې د اقدام په سريع او عاجل پيل کولو اصرار درلود او د عملياتو په ورځ ئې په خپل خاص سمت کي د پلان مطابق د اقدام کولو مکرر ډاډ او اطمئنان ورکولو، د وحدت د تخلف لپاره دوه دلائل په ګوته کېدل:

الف: په مخکنيو جګړو کي له حزب وحدت نه د جنبش عدم دفاع.

ب: د ايران سفير د حزب وحدت له مشرتابه نه وغوښتل چي پدې عملياتو کي برخه وانخلی که نه د ايران هر نوع تعاون به له حزب وحدت سره قطع شي.

- جنبش دا نه غوښتل چي د حزب زيات شمېر مجاهدين کابل ته داخل شي او د عملياتو په دوران کي حساس ځايونه تصرف کړي، په کابل کي د جنبش د مېشته قطعاتو قومندانانو د جنبش مشرتابه ته اطمئنان ورکولو چي دوی يوازي کولی شي له کابل نه شورای نظار وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د جنبش د قطعاتو ځینو قومندانانو په پټه له شورای نظار سره مرسته وکړه، جنرال رحیم پهلوان یو لدغو قومندانانو څخه وو.
- د کابل له شا او خوا نه د نورو تنظیمونو قومندانانو د جنبش په خلاف جګړې ته راودانګل.

هیڅا مخصوصاً د جنبش قومندانانو دا ګمان نه کولو چې په کابل کې به له خاص مقاومت سره مخامخ شي، ځکه له یوې خوا شورای نظار دوی په خپلو ټانکونو کې کابل ته رارسولي وو او ټول حساس ځایونه د دوی په لاس کې وو له بلې خوا په څو مخکنیو نښتو کې دوي ته ثابته شوې وه چې شورای نظار د دوی مخې ته نشي ودرېدی. له همدې اقدام نه څه وخت د مخه، د پل محمود خان په ساحه کې د جنبش او شورای نظار تر منځ یوه نښته و شوه چې په نتیجه کې ئې د دفاع وزارت د ماڼۍ په شمول د خواجه رواش تر هوایي ډګر پورې د شورای نظار ټول مراکز د جنبش ځواکونو ونیول، خبره مزید خرابېده خو رباني له دوستم نه بخښنه وغوښته، جګړه ئې د خپلو افرادو غلطی وګڼله او له هغه نه ئې د جګړې د توقف غوښتنه وکړه، سبا د راډیو او تلویزیون له لارې د دې نوې جګړې په هکله وویل شو چې دا یو سوء تفاهم وو... الحمدلله رفع شو... د کابل خلکو ته اطمئنان ورکوو...!!

خو د کابل خلکو به ویل: که سوء تفاهم دا سې وي نو معلومه نده چې جګړه به څنګه وي، که د سوء تفاهم په نتیجه کې شورای نظار نیمائی کابل د ارګ او دفاع وزارت په شمول تخلیه کوي نو د جګړې په صورت کې به څه کوي؟!

خو په ګډو عملیاتو کې د پورتنیو لاملونو په وجه، نه یوازې عملیات ناکامه شول بلکې جنبش د کابل په ښار کې خپل ټول سنګرونه له لاسه ورکړل، د هوایي ډګر د سقوط په نتیجه کې د دوی ارتباط له مزار سره هم قطع شو، کافي مرګ ژوبله ئې وزغمله، افراد ئې د بګرامیو، هودخیلو او د مرنجان غونډې له لارې زموږ په لورې راووتل. موږ د کابل ـ لوګر پاخه سړك نه په استفادی سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



باروړونکو طيارو د کوزېدو لپاره په دريو ورځو کې هوايي ميدان جوړ کړ او له مزار نه تګ راتګ پيل شو، پدې سره د جنبش د افرادو مړاوی روحيه څه ناحه راژوندی شوه. جنبش د غچ اخستلو لپاره، په مزار، سمنګان، جوزجان، سرپل اوفارياب کې د جمعيت ټول افراد خلع سلاح کړل او په کابل ئې بې ساری بمباري پيل کړه. د جنبش قطعاتو غوښتل چې د سالنګ له لارې، د پروان په لوري مخکې ولاړ شي يا لږ ترلږه د سالنګ له تونل نه تېر شي او اولنګ ته ځان ورسوی چې لدې ځايه په درنو وسلو جبل السراج او د بګرام هوايي ميدان تهديد کړي، خو د شمالي تونل په خوله کې د دوی مخنيوی وشو. د بادغيس له لوري د جنبش په خلاف جګړه پيل شوه او جنرال دوستم دې ته اړ شو چې د جنرال رسول پهلوان قطعات له سالنګ نه د بادغيس په لوري سوق کړي او پدې ترتيب د اسمعيل خان د ځواکونو مخکې تګ متوقف کړي، له همدې سره، د بادغيس په لوري د بالامرغاب سيند د دواړو ترمنځ د جګړې لومړی کرښه شوه او د سالنګ په لوري د تونل شمالي خوله لومړی خط شو.

د سالنګ په استقامت د جګړو په دوران کې يو ځلې د رباني د دولت قطعات، د سيد کيان له زوم، جنرال حسام الدين سره د يوه سازش په نتيجه کې پدې وتوانېدل چې ترکيلګي پوري ځان ورسوي، جنرال دوستم سخت وارخطا وو، د وضعيت په هکله ئې ما ته په تلفون کې وويل:" جنرال حسام الدين د دولت قطعاتو ته لار ورکړه، په پلخمری کې و ضعيت ښه ندي، د بغلان قومندانانو ته هدايت ورکړي چې دفاع وکړي، زه موافق يم چې د حملې له دفع کولو نه وروسته د بغلان اداره د حزب قومندانانو ته وسپارلی شي"، ما ورته اطمئنان ورکړ، په بغلان کې د حزب قومندانانو، بشيرخان، سيدالرحمن، صوفی پاينده محمد او نهضت يار ته مې وويل چې خپل قوتونه د حملې د دفع کولو لپاره لومړی خط ته ولېږي، د دوی د مجاهدينو په رسېدو سره نه يوازې حمله په شا وتمبېده بلکې مخکې تګ پيل شو، د سړك يوې بلې خوا ته ټولې درې تصفيه شوې او جګړه د تونل شمالي خولې ته ورسېده، پدې سره پلخمری د سقوط له خطر نه وژغورلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو او دوستم له حتمي ماتې نه نجات وموند، خو د بغلان د ادارې په هکله ئې په خپلې وعدې وفا ونکړه، موږ هم دا موضوع جدي ونه نیوله.

## د جنرال مؤمن مرګ

په ائتلاف کې د جنرال مؤمن لویه ونډه وه، له یوې خوا دحیرتان په شان مهم بندر چې د کمونست رژیم د مهماتو ستره زېرمه هلته وه او د مسکو له خوا ټولې مرستې له همدې لارې افغانستان ته لېږدول کېدې، د ده په لاس کې وو له بلې خوا ده پدې مرحلې کې د پرچمیانو لپاره د یوه ډاډمن محور حیثیت درلود، هومره چې ببرک کارمل تر پایه لده سره په حیرتان کې پاتې او بالاخره هملته دفن شو، په کمونستو افسرانو کې ترټولو زیات لده سره د ملي ستم روحیه وه او غوښتل ئې د همدې روحیې په اساس غیرپښتنانه کمونستان او مجاهدین ائتلافي جبهه جوړه او د نورو په ضد وجنګېږي، د همدې لپاره هغه له مسعود سره خاص دوستانه تعلقات درلودل، مسعود د ده په اعتماد او د ده په ټانکونو سور کابل ته داخل شو. د ده مرګ، شورای نظار ته هومره سخت ګوزار وو چې ما ته د مسعود یوه خاص ملګري قصه کوله چې مسعود د ټول شمال په تصفیې او په څو ولایاتوکې د شورای نظار د ټغر په ټولېدو، هومره نه وو خفه شوی لکه د جنرال مؤمن په مرګ.

جنرال دوستم د جنرال مؤمن له اړخه ډېر مشوش وو، په حیرتانو ئې د ده تسلط ځانته لوی تهدید ګڼلو، څو ځله ئې ماته پدې هکله د تلفون له لارې خپل شدید تشویش څرګند کړ، بالآخره ئې ماته وویل چې څه خاصه چاره به کوو، څو ورځې وروسته، جنرال مؤمن د هلیکوپتر په یوې پېښې کې په قتل ورسېدو، جنرال دوستم د ده د تدفین شانداره مراسم جوړ کړل او هغه ته ئې د قهرمان لقب ورکړ!! د کابل په جګړو کې د جنرال بابه جان د ۰۵۵ نمبر فرقې ترڅنګ د جنرال مؤمن ۷۰ فرقې لویه برخه وه. دوی د کابل په ښار هومره مسلط وو چې د رباني د

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړنۍ څلورمیاشتنۍ دورې په جریان کي د وطن کمونست حزب خپله عمومي کنګره د کابل په ښار کي دائر او محمود بریالی ئې د منشي په حیث وټاکلو. کاویاني او فرید مزدك به په مستقله توګه د مسکو او ډهلي دوره کوله او مسعود به په هوايي ډګر کي د راتلو په وخت کي د دوی استقبال کولو. دا دواړه د ببرك د پلویانو په لیکو کي تر ټولو زیات د ستمي روحیې په راولاړولو او تبلیغ کي مؤثر ول، له مسکو او ډهلي سره د ارتباطاتو په ټینګولو او هلته د مېشت کمونستانو په تنظیم، د ائتلاف په ګټه د دوی په کارولو کي ئې مؤثره ونډه درلوده. که څه هم لدوی سره کوم نظامي ځواك نه وو خو په فکری لحاظ د کاویاني او مزدك رول تر هرچا زیات او مؤثر وو، په فوځ کي د جنرال مؤمن په شان افسرانو لدوی نه د کمونستي نظریاتو ترڅنګ، د ملي ستم متعصبانه افکار حاصل کړي وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مسعود واکمني

له کابل نه د جنرال دوستم د قطعاتو له وتلو نه وروسته، د کابل د ښار په هغې برخې چې د سیند شمال ته پرته ده او له غوربند نه پرته په پروان د مسعود واکمني پیل شوه. هغه لدې نه وروسته په ځان باور راغی، خولې ئې کږه په سر کیښوده او د مطلق العنان واکمن اکتونه ئې پیل کړل. خو د دې واکمنۍ ساحه ډېره محدوده او موده ئې ډېره لنډه وه، بې ځایه مستي او غرور نه یوازې دې ته وهڅولو چې په یوه وخت کې له حزب اسلامي، حزب وحدت او جنبش سره وجنګېږي، بلکي له رباني او تورن اسمعیل سره ئې هم مخالفت پیل او ورو ورو داسي حد ته ورسېدو چې جمعیت عملاً په دوو متخاصمو ډلو وویشلی شو. د شورای نظار ځینو غړو ته هم د ده حرکات او تصرفات له زغملو ووتل او مجبور شول پدې کړکېچ کې د رباني خواته ودرېږي، خو له مسکو نه باد راوړی پیسې د ده په نامه بګرام ته راتلی او له ایران او مسکو نه راغلي وسلې او مهمات د ده لاس ته ورتلي. اختلافات دې حد ته ورسېدل چې د روغي جوړي لپاره هیئتونه وټاکل شول، د هیئتونو ډېرو هلوځلو نه وروسته، پدې روغه جوړه وشوه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیسې به د رباني په حکم توزیع کېږي او د وسلو او مهماتو د وېش واك به له مسعود سره وي.

له بلې خوا په جګړو کې د دوی ځواکونه یو په بل پسې له رسوا ماتو سره مخامخ شول، د یوه کال په موده کې دوی یوازې د غوربند په لوري د پیسو په زور مخکې تګ وکړ او د حزب مجاهدین ئې له هغې ساحې نه وتلو ته اړ کړل خو په مقابل کې د حزب مجاهدینو د کابل په شا او خوا کې د سکاد د غونډې په شمول ډېر حساس او ستراتیژیك ځایونه فتح کړل.

د جمعیت په افرادو کې له حزب سره د روغې جوړې روحیه ورو ورو تقویه کېده، په جګړو کې ناکامي دې روحیې ته مزید قوت بخښلو، خو مسعود به خپلو اندېوالانو او په پیسو اخستل شوو قومندانانو، مخصوصاً کمونستو جنرالانو ته ویل چې حزب اسلامي په جګړې سره موږ نشي ختمولی، خو د روغې جوړې او په حکومت کې د برخې اخستلو په نتیجه کې حزب اسلامي په اوضاع مسلط کېږي او موږ د هغه په وړاندې خپل شته والی نشو ساتلی. د جمعیت فکری حلقو د مسعود دا دریځ داسې توجیه کولو چې هغه حزب اسلامي د خپلې واکمنۍ لپاره تهدید ګڼي، په کابل کې مخصوصاً په خپله د جمعیت او شورای نظار په لیکو کې د ده په ضد د ټولو شته مخالفتونو سره سره که حزب کابل ته ننووت نو د ده ستوری خامخا تپ کېږي او د ده د بې مهاره تصرفاتو مخنیوی کېږي. که رباني او پلویان ئې نن د ده مخې ته نشي ودرېدی او د څرګند مخالفت جرأت نشي کولی، د حزب اسلامي په راتلو سره به د ده په خلاف ګډه قوي جبهه جوړېږي او په جمعیت به د ده تسلط او په کابل کې به د ده د واکمنۍ شپه پای ته رسېږي. پدې مرحلې کې د مسعود له اظهاراتو، مرکو او پیغامونو نه د ده په ذهني کیفیت او مغشوش او مشوش فکری حالت ښه پوهېدی شي: هغه بې نظیربوتو ته په انتخاباتو کې د بری په مناسبت په خپل پیغام کې لیکي:"د پاکستان په انتخاباتو کې ستاسو بریا په بنیادګرایانو د دیموکراتیکو ځواکونو بریا وه، زه د دې سوبې مبارکي درته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايم، اميد دی په افغانستان کې هم ديموکراتيك ځواکونه ستاسو په مرسته په بنيادګرايانو غلبه ترلاسه کړي!!) امريکائيانو ده ته اطمئنان ورکړي وو چي د بی نظيربوتو په راتلو سره به ستاسو او اسلام آباد مناسبات زموږ په وساطت ښه شي، په همدې طمعی هغه دا پيغام لېږلی وو.

له غربي آژانسونو سره ئې د خپلو مرکو په ترڅ کي د حزب په هکله ويل: حزب ترورستانو ته روزنه ورکوي، د عربی نړۍ تروروستان ئې له ځان سره ساتلی او د روزني مراکز ئې ورته جوړکړي! په جماعت اسلامي به ئې نيوکي کولی او د ايران په خلاف به ئې ويل چي ايران زموږ په کورنيو چارو کي لاس وهني کوي، له حزب وحدت سره د پيسو او وسلو مرستي کوي او د کابل د جګړو باعث دی. دا تبليغات ئې په داسي حالت کي کول چي د ده او د شورای نظار د غړو په غاړی کي به د ايران د سپاه پاسدارانو نښه، (برګ دستمال) ځوړند وو او دريشي به ئې د هغوی په شان برګي وي او هر څوك به پدې پوهېدو چي دوی د سپاه پاسدارانو تقليد کوي. هم دستمالونه هغوی ورکړي او هم برګي دريشي.

په حقيقت کي دحزب اسلامي په خلاف د ځينو ډلو او افرادو د شديد مخالفت وجه دا ده چي ګنده خلکو، په فساد کي پرېوتو سپکو انسانانو او په پرديو پوري تړلو حقيرو حلقو ته د هغي ډلي زغمل ګران وې چي له پاکو شخصيتونو، لوړو ارواحو او ملت ته د منل شوو څېرو نه جوړه شوې وي.

د دغي ډلي د واکمنۍ په دوران کي چي په کابل او نورو سيمو کي کوم فساد، اختلاس، غارت او ظلم شوی د هېواد په تاريخ کي سابقه نلري. که بيرحمه غله په يوه مظلوم کلی مسلط شي ښايي د کليوالو له عزت او ناموس، سر او مال سره به هغسي لوبی کول د خپل غرور او ميړاني منافی وګڼی چي د غو بيرحمه او ذليله واکمنانو له مظلومو افغانانو سره کړي. که ووايو چي ټولو کمونستانو د خپلي څوارلس کلنۍ واکمني په دوران کي په ملي شتمنيو کي هومره خيانت ندی کړي لکه د شورای نظار د واکمنۍ په دوران کي چي هر قومندان او واکمن کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبالغه مو نده کړې. په پاریس، لندن او ډهلي کي شخصي جایدادونه اوکورونه اخستل، په داخل کي قصرونه جوړول، شخصي او دولتي ځمکي غصبول، د خلکو لوڼي په زور نکاح کول، د دفاترو لوازم، فرش، ظرف، میز، څوکۍ غلاکول، د خلکو د کورونو دروازي،کړکۍ او د چت لرګي ایستل، د فساد، عیش، عشرت ریکارډونه قائمول، بدمعاشي، داړه ماري، اخلاقي فساد او د شریفو خلکو په پت او شرف تېري، د دوی ورځیني معمول او عادي کارونه وو، دوی په خپلو رذالتونوسره د ګلم جمانو او کمونستانو مخونه ورسپین کړل، خلکو به د مزار وضعیت سل ځله تر کابل نه غوره ګڼلو، زموږ د ټولني ټول مفسد او بیدینه عناصر، غله، ملېشې او داړه ماران د دوی په څنګ کي د دولتي قطعاتو تر نامه لاندي راغونډ شول، وسلې ئې ترلاسه کړې، هري ډلي ته د واکمني مستقله ساحه وسپارلی شوه او د مظلوم ولس په سر د بیرحمه او قسي القلبه ټولواکانو په څېر مسلط شول. له یوې خوا د قومندانانو اشرافي د عیش او عشرت افسانوي ژوند او د دوی ترمنځ د قصرونو جوړولو، د ښو آسونو، آخرین ماډل موټرو ترلاسه کولو، د ځمکو اخستلو او خارج ته د پیسو په انتقالولو کي بې شرمانه مسابقه او له بلي خوا د عام ولس دردونکي اقتصادي حالت، فقر، لوږه او قیمتي، چي د باد راوړو پیسو د بې دریغه وېش او بازار ته ئې د عرضه کولو په وجه راولاړ شوي وو او ډېري شریفي او باعزته کورنۍ ئې سوال او ګدایي ته اړ کولی، د هر دفتر په خوله کي، د هر قومندان د کور مخي ته او د هر واکمن د ملاقاتونو او دعیش عشرت ځایونو خواته په لسهاوو سوال کوونکې ښځي او ماشومان هره ورځ راغونډېدل او په حسرت سره به ئې په لوکسو موټرو کي د دوی د تګ راتګ نظاره کوله او د زړه له کومي به ئې په دوی لعنت ویلو، په هر کور کي به د ماخستن د ډوډۍ په وخت د دسترخوان په سر، د بیوزلو خلکو د شیرا لاسونه او چتېدل او د دغو ظالمانو لپاره به ئې الله ته دا سوالونه کول چي د دوی په ماشومانو دي همداسي حالت راشي چي پدغو مظلومانو ئې راوستلی.

تر یوه وخته د ارګ وضعیت داسي وو چي د جمهور رئیس په موجودیت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



به مسعود ته د ګارد تشریفاتي قطعه وړاندې کېده، دا کار کمونستو افسرانو د خاص مقصد لپاره کولو، د پاکستان د جماعت اسلامي یوه هیئت ما ته قصه کوله چې "د اختر په ورځ، د ارګ په جومات کې د استاد رباني د وینا اورېدو لپاره ناست وو، هغه د اختر د لمانځه خطبه ویله، ناڅاپي بهر کې د موزیك غږ اوچت شو، څو دقیقې ئې دوام وکړ، موږ هك پك شو، د جمهور رئیس د خطبې په وخت کې د موزیك دوامداره غږ او د تشریفاتي قطعې وړاندې کېدو حیران کړي وو، د جومات تر دړې پورې، د پښو ترپا او د سلامي کېدو غږ، هغې خوا ته ملتفت کړو، که ګورو چې مسعود له څو بریتورو جنرالانو سره جومات ته راداخل شو".!!

طبیعي ده چې رباني ته به دا له اهانت او تحقیر نه ډك سلوك د زغملو نه وو، خو په ځرګنده ئې د څه کولو او څه ویلو جرأت نه درلود، ورو ورو ئې په ارګ کې خپل نفر ځای په ځای کړل، څه موده وروسته د ارګ وضعیت داسې جوړ شو چې له افسرانو نه نیولې تر چای باشي پورې ټول د بدخشان او مخصوصاً د یفتل اوسېدونکی وو، مسعود به په هرې غونډې کې پدې وضعیت نیوکې کولې او ویل به ئې چې استاد له یفتلیانو نه پرته په بل چا اعتماد نلري!!

په جګړو کې د شورای نظار د پنجشیری قطعاتو پرله پسې ماتو، دوی دې ته اړ کړل چې له تخار او بدخشان نه ډېر شمېر افراد کابل ته راانتقال کړي، پدې سره رباني ته په کابل کې د خپلو پلویانو د ځای په ځای کولو او د ځان شته کولو موقع په لاس ورغله، هغه د جمهوري ریاست ۳۲۰۰۰ کسیزه ګارد منظورکړ، د جګړې په لومړی خط کې د ګارد کافي شمېر کسان ځای په ځای شول، د دغه تازه نفس افرادو جنګي روحیه، تر پنجشیریانو پدې خاطر قوي او په جګړو کې ئې ونډه او موثریت زیات وو چې د شورای نظار پنجشیری قطعات، د زیات تالان او غارت په نتیجه کې هومره ماړه شوي وو چې نور ئې د جګړو لپاره انګیزه نه درلوده. د رباني پلویان پدې هم وتوانېدل چې د کوهدامن قومندانان د مسعود په خلاف په یوې داسې شورى کې متحد او تنظیم کړي چې اکمال به ئې اکثراً د

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباني له خوا په فوق العاده توګه کېدو، دې شورى ته د دهمزنګ لوري ته د جګړې لومړى خط وسپارلى شو، نومورې شورى اکثرا د اتحاد او جمعيت له جهادي قومندانانو نه جوړه شوې وه، د کمونستو جنرالانو سره ئې حساسيت درلودو، له شوراى نظار نه زيات متنفروو او له حزب اسلامي سره ئې خواخوږي درلوده.

د دې لپاره چې له مسکو نه راتلونکې وسلې او مهمات به د بګرام په هوايي ډګر کې کوزېدل او په بګرام کې د رباني د پلويانو له ځاى په ځاى کېدو سره مسعود مخالفت کولو، رباني مجبور شو د خاد له لارې په کابل او د کابل په شا او خوا کې، مهمات په پيسو واخلي او له قاچاقى لارو ئې کابل ته انتقال او په ارګ کې ځاى په ځاى کړي خو د نومورو مهماتو ټول ډيپوګان، ديوه ستر انفجار په ترڅ کې په يوه وخت يو په بل پسې منفجر شول، د رباني پلويانو پدې انفجار کې د مسعود د پلويانو لاس دخيل ګڼلو او هغه ئې پدې کار تورن کولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما په کور بمباري

کلکه تبه مې وه، دفتر ته د تلو نه وم، په کورکې پاتې شوم، دوه، درې ځايه مې مخابروی تماسونه درلودل، وروسته د راغلو راپورونو په مطالعی مصروف شوم، د وړی مخابری په ذريعه مې له ورونو نه چاته وويل چې پورته، زما خواته راشي، خاد، همدا مخابروی تماس کشف کړی وو او د ( پورته) له کلمې نه پوه شوی وو چه زه د غره ډډی کور کې يم، له مخکې نه ئې زما په کور د بمبارۍ پلان جوړکړې وو، پنځه طيارې ئې د همدې لپاره تياری کړې وې، موږ ته د طيارو د تيارسی ودرېدو اطلاع راغلې وه خو د بمبارۍ د پلان له څرنګوالی نه دقيقاً مطلع نه وو، د مطالعی په جريان کې مې د اوراګان په شان غږ، د کور خواته احساس کړ، له کور نه راووتم چې و ګورم مرمۍ په کوم ځای لګېدلې، په آسمان کې مې طيارې وليدی چې يو په بل پسې له هوا نه ځمکې ته راکښته توغوی او د کور يوې بلې خواته لګېږي، ګڼ شمېر ۵۰۰ کيلوګرامه بمونه ئې واچول، وروسته ئې خوشه ئې بمونه پرېښودل، موږ تقريباً ۲۰ کسان هلته راغونډ وو، انضباطان، ډريوران او نور. د کور خوا ته غونډۍ ته پورته شوو، يوې خوا بلې خوا ته مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بمونه ولګېدل، د غونډۍ په سر، د بمبارۍ د تماشا لپاره کښېنستلو، ورونو له لاندي نه محاربوی ماشین راووست ترڅو له منطقې نه ووځو، خو هلته پاتې کېدل مو غوره وګڼل، له کور نه د وتلو په وخت کي يو ځل ستر بم په هماغه ځای ولګېدو چي فقط نیمه دقیقه مخکي هلته ولاړ وو، وروسته مومخی ته بم ولګېدو، په تېږو او دوړو کي پټ شوو، زما مخي ته ولاړ، ورور امیرجان په شا باندي د يوې کیلو په اندازه لوټه ولګېده او په اوچت غږ ئې وويل چي انجنیرصاحب ولګېدم! ما ورته وويل، "چره نه وه لوټه وه" په خپلي ملا ئې لاس راتېرکړ او مطمئن شو، د غره ډډې ته ناست وم او د خاد د وړو مخابرو شبکې مي اورېدلې، زړه مي غوښتل، مسعود ته په مخابرې کي ووايم چي دا دی زه له هماغه ځایه خبري کوم چي تاسو ورباندي بمبارۍ کوئ، خپل ټول زور وآزمويئ، زه د خدای په نامه لوړه کوم چي تر پایه به همدلته ناست وم ... خو د دوی د رپيټر مخابره راسره نه وه، بمباري پای ته ورسېده، امیرجان ته مي وويل چي لاندي غږ وکړي او پوښتنه وکړي چي څوك زخمي شوی او که نه، ځواب ئې راکړ چي الحمدلله ټول روغ رمټ دي، هیڅوك ندی زخمي شوی، بې اختیاره خندا راغله، ډېره ډېره عجیبه برېښېده چي په یوه څرګند او ووړ ځای د ۳۲ سترو بمونو، راکټونو او خوښه ئې بمونو له راپرېوتو سره سره دي یوکس هم نه وي زخمي شوی، فقط د کور دوه درې کړکۍ، دروازې او ټولي شیشې ماتې شوې، د کور د احاطی او د يوې خوني دیوار د راکټ په لګېدو نسکور شو او د څو موټرو شیشې ماتې شوې، د زړه په کومي کي مي دا شعور او احساس څپې وهلې چي د بمبارۍ توان او توفیق هم خدای ورکوي او ساتنه هم دی کوي، ډېر ناپوه دی هغه څوك چي له مرګ نه وېرېږي، په خدای باور وکړي چي لدې نه هم خپل ایمان ته شرمنده وم چي ولې له کورنه راووتم او د کور په خوا کي غونډۍ ته پورته شوم.

زه ګمان کوم چي زما د وژلو لپاره چي کوم کوششونه شوي، کوم پلانونه جوړ شوي او کوم مصارف شوي، ښايي د ډېرو کمو انسانانو د وژلو لپاره به دومره هڅې شوې وي، زما عقیده دا ده چي که مرګ له الله نه پرته د بل چا په لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې وی زه به تراوسه سل ځله وژل شوی وم. د سردار داؤد د اقتدار له زمانې نه چې د یوې عسکري کودتا په تور زما د نیولو او وژلو فیصله وشوه او زما په غیاب کې زما د اعدام پرېکړه صادره شوه، بیا تر نن پورې د کابل ټولو واکدارانو او د دوی جاسوسي شبکو او کې جی بی او سي آی ای زما د نیولو، وژلو او د ترور بې انتهاء هڅې کړې دي چې زه دلته د څو نمونو یادول غواړم:

د سردار داؤد په وخت کې دوه ځله زما د اوسېدو ځای محاصره شو، یو ځل په کابل کې د څلورمې فرقې د رئیس ارکان جګتورن شیرعلی خان شهید په کور کې او دوهم ځل په فرزی کې د پاچا صاحب میرصفی الله په کور کې. په لومړی ځل زه د شیرعلی خان شهید کورته مازدیګر په داسې حال کې ورغلم چې دی ئې یو ساعت د مخه نیولی وو، نفر خدمت ئې نه وو پوه شوی چې دی بې دریشې پولیسو له ځان سره بیولی، نفر خدمت راته وویل چې هغه له څو کسانو سره ولاړ، زه په کورکې ورته منتظر پاتې شوم، شپه مې هلته تېره کړه، سهار له کورنه ووتلم، که ګورم د کور یوې خوا بلې خواته څو کسان څرك کوي، ما ته ځیر شول، خو زما لونګۍ په سر وه او جیلکه په اوږو، له پولیسانو سره زما د تحصیل د دوری عکس وو، زه ئې ونه پېژندلم، دوی له بهرنه زما راتلو ته منتظر وو، خو زه د کور په منځ کې وم، پدې ترتیب له محاصرې نه ووتلم.

په فرزی کې زما د اوسېدو د ځای د محاصرې او زما د نیولو پلان جوړ شو، د کوماندو یوه قطعه ئې د همدې منظور لپاره د شپې له خوا، میربچه کوټ او له هغه ځایه د فرزی په لور وخوځوله، د کابل د امنیې قومندان سره له یو شمېر پولیسانو پدې عملیاتو کې برخه درلوده، ما یوه شپه د مخه خوب لیدلی وو چې دا کور محاصره شوی او زه د محاصرې له حلقې نه د ختیځ په لوري ووځم، د همدې لپاره مې هغه شپه په بل کور کې تېره کړه، سهار مې لمونځ په تیاره کې وکړ، د پاچا صاحب د کور په لوري راوخوځېدم، توپك او تفنګچه راسره وه، پدې وخت کې کوماندو او مسلح پولیس کور ته داخل شوي او د کور په تفتیش لګیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو، غیر مسلح کسان د کور مخې ته د حوض د شا او خوا ونو لاندې ولاړ وو، ما گمان وکړ چې دا به د کابل نه راغلې زموږ ملګري وي، چې کله ورنږدې شوم، د میربچه کوټ د ولسوالۍ د امنیې قوماندان له نورو رابېل شو او په مائی غږ وکړ چې دریش ! ما تفنګچه راوایستله او توپک ته مې مرمۍ تېره کړه، هغه ځای په ځای ودرېدو او ماله دېوا نه د یوه باغ خوا ته ټوپ کړل او له محاصرې ووتلم، ټول جریان هماغسې وو چې په خوب کې مې لیدلی وو.

دریم ځل له خالد فاروقی سره یوځای له کابل نه د بس په ذریعه پروان ته روان وم، زما د نیولو لپاره په ټول هېواد کې زما عکسونه خواره شوي وو او د ټولو ولایاتو پولیسو ته زما د نیولو امر شوی وو، په کارته پروان کې پولیس زموږ موټر ته راوختل، زما عکس ئې په لاس کې، ټولې سورلۍ ئې په ځیرځیر له نظره تېرې کړې، د هر چا څېره ئې له عکس سره مقایسه کوله، ما د خپلو سترګو حالت کې معمولی تبدیلی راوستله او د پزې په سر مې ګوته داسې ونیوله چې په قیافې کې تغییر راولي، پولیس له موټر نه کوز شو، زما ملګري دا ګمان کولو چې موږ ئې حتماً پېژندلي یو، خو د نیولو لپاره ترتیبات په بل ځای کې نیول شوي، د دې لپاره پولیس له موټر نه کوز شو، خو موږ سالم خپل هدف ته ورسېدو.

د کمونستانو د اقتدار په دور کې، ډېر زیات ګروپونه د کې جی بی په لاس تربیه او له ضروري وسائلو سره پېښور ته زما د وژلو لپاره راولېږل شول، خو ځیني ئې په داخل کې ونیولی شول، ځیني ئې پېښور ته له رارسېدو سره سم د بمونو سره زموږ اطلاعاتو ته په لاس ورغلل، ځیني په خپله راغلل او موږ ته ئې د پلان، وسائلو او خپلو نورو ملګرو په هکله معلومات راکړل او ونیولی شول، فقط محدود شمېر ئې پدې وتوانېدل چې ځیني انفجارات وکړي.

یو ځلي له کورنه د دفتر په لوري چې په فقیرآباد کې وو وخوځېدم، خو د دې په ځای چې دفتر ته ولاړ شم بل ځای ته د یوې غونډې لپاره ولاړم، په همدې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د دفتر هغه ګاراج ته چې معمولاً به زما موټر پکې ودرېدو، زما د موټر په شان بل موټر داخل شو، لدې سره سم د ګاراج خوا ته بل موټر ودرېدو خو انضباطانو ډرېور مجبورکړ چې موټر له هغه ځايه لېرې کړي، مخکې تېر شو، بېرته راوګرځېدو او د سړك بلې ژۍ ته ئې ودرولو او له موټر نه کوز شو، چې څو شېبې وروسته همدا موټر منفجر شو او يو شمېر کسان ئې مړه او ژوبل کړل.

بيا ئې د همدې دفتر د درۍ خوا ته په هغه ځای کې چې ډېره ګڼه ګوڼه به وه، يو ستر سمتي بلول چې ډېر باروت پکې تعبيه شوي وو، د سهار په تياره کې له ګاډۍ نه کوز اچولی وو، انضباط بې احتياطی کړې وه، ګمان ئې کړي وو چې د بلديې کسانو دا بلول راوړی، بلول له باروتو نه ډك وو، دواړو خواوو ته ئې ختې ورکړې وه، ناڅاپې يو کس بلول ته متوجه کېږي، په ختې کې سيم ګوري، اطلاعاتو ته خبر ورکوي، هغوی بلول لدې ځايه پورته کوي او د سړك بلې ژۍ ته ئې په يوې ويالی کې اچوی او ورپسې پوليس ته اطلاع ورکوي، پدې وخت کې زه هم دفتر ته راورسېدم. سيداجان زموږ د حمايې يوه مجاهد، بم له ويالې راوايست، خنثی کړی شو، ساعتي بم وو چې پنځلس دقيقې وروسته په **۹:۴۵** د انفجار لپاره عيار کړي شوی وو.

بيا ئې زما لپاره په قرآن کريم کې بم تعبيه کړي وو خو راوړونکی له بم سره يوځای ونيولی شو.

يو ځل ئې له باروتو ډك موټر، چې د ريموټ کنټرول په ذريعه به منفجرکېدو، زما لپاره د کبابيانو په بازار کې ودرولی وو، زه په هغو ورځو کې د مرکزي شورۍ د غونډو لپاره ورسك ته هره ورځ په همدې لار تلم راتلم، له موږ نه دا غلطی شوې وه چې څو ورځې پرله پسې مو په يوې لارې تګ راتګ وکړ، بازار ئې د دې لپاره انتخاب کړي وو چې د ګڼه ګوڼې په نتيجه کې عادتاً موټرې سوکه کېږي او څوك د دې پوښتنه نه کوي چې ولې موټر بې ډرېوره ولاړ دی.

چې کله زما موټر هغه ځای ته ورسېدو، ستر انفجار وشو، خو انفجار

(c) ketabton.com: The Digital Library



پداسي وخت کي وشو چي زما موټر، له بم نه څلورپنځه متره تېر شوی وو او راپسې د حمایې موټر له هغه ځایه پنځه متره فاصله درلوده، زما موټر څو سانتي متره له ځمکي نه د فشار په وجه اوچت کړي شو او کلك په ځمکه ولگېدو او ودرېدو، ټولي شیشې ئې ماتې شوي، خو پدې خاطر موټر د بم له چرو نه خوندي پاتې شوي وو چي زموږ د موټر او بم ترمنځ یو سرویس حائل شوی وو. هغه ځایته زموږ له رارسېدو د مخه همدا بس د سړك په ژی کي د موټر بم مخي ته نږدې ودرېدلی وو، چي کله موږ د بس خواته ورسېدو انفجار وشو، چرې ټولي په هغه بس ولگېدې چي زموږ د موټر لپاره سپر شوی وو، په موږ پسې د حمایې موټر په لمبوکي راتاو شو، په موټر کي د ناستو ورونو سر او مخ معمولی وسوزېدل، څوارلس کسان په پېښه کي مړه او پنځه څلویښت کسان ژوبل شوو چي ټول بازار ته راغلي بیگناه خلك وو.

ما په ابتدا کي دا گمان کولو چي دا به د نورو انفجاراتو په شان د KGB کار وي خو ډېر وروسته راته معلومه شوه چي دا کار د CIA له خوا د محاذ ملي د یوه قومندان په لاس شوی وو، د انفجار له ځایه لږ آخوا د محاذ ملي دفتر وو.

زما موټر د انفجار په وجه له تلو لوېدلی وو، له موټرنه کوز شوم، د یوه افغان موټر مي مخي ته ودرېدو چي ما له ځان سره واخلي، زه هم موټر ته وختلم، ډریور مي نه پېژندو، څو متره آخوا د حزب یو موټر راغي، هغه مو ودرولو، له هغه افغان نه مي مننه وکړه او د حزب په موټر کي تر ورسك پوري ولاړم او په غوندي کي مي برخه واخستله، گمان مي کولو چي د غونډي برخه وال به له پېښي خبر وي، یا زما په څېرې کي به د دغي لويي او ناڅاپي پېښي آثار احساس کړي او له ما نه به پوښتنه وکړي خو داسي ونشول، غونډه پیل شوه، وروسته ما په خپله د پېښي په هکله معلومات ورکړل.

د پاکستان پولیس ته د منفجر شوي موټر داسي برخي په لاس ورغلې چي له هغوی نه د موټر او خاوند په هکله معلومات ترلاسه کېدی شو، خو نه پوهېږم چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې پوليسو د تحقيقاتو نتائج له ځان سره وساتل او پدې هکله ئې له څه ويلو نه ډډه وکړه، ډېره موده وروسته ماته داسې معلومه شوه چې انفجار هماغه چا کړی وو چې د پېښې له ځايه د هغه په موټر کې ووتلو، د دې کس د نوم له اخستلو نه پدې خاطر ډډه کوم چې له يوې خوا هغه ژوندی ندی او له بلې خوا د ده خپل اعتراف مې ندی اورېدلی.

خاد د اسلامي دولت ترنامه لاندې هم زما په خلاف خپلو تروريستي هڅو ته ادامه ورکړه چې څو بېلګې ئې دلته يادوم: د اسلام آباد له معاهدې نه وروسته چې کله په سروبي د حملې له نقشې سره جنرال دوستم موافقه ونکړه، خاد د انفجار دوه پلانه ترلاس لاندې ونيول:

۱ - په جلال آباد کې د مشرانو غونډې ته د تلو په ورځ ئې د بني حصار او بګرامي تر منځ، زما مخې ته د انفجار داسې ترتيبات نيولي وو چې د لارې يوه اړخ ته په يوې داسې ژۍ چې له سړك نه تقريباً يومتر لوړه وه، د توپ ۱۱ سرګلولې داسې تعبيه کړې وې چې تقريبا دېرش متره ساحه ئې د سړك په اوږدوکې احتوا کوله او ټولې به په يوه وخت له لېرې منفجر کېدلې، اطلاعاتو جريان کشف کړ، ساحه ئې تصفيه کړه او ټول سامان ئې ترلاسه کړ.

۲ - د پروان يوه کس ته ئې ۲۰۰ مليونه افغاني ومنلې، يو مقدار ئې په ابتدا کې ورته وسپارلې، هغه ته ئې باروت، روسي ريموټ کنټرول او لوازم ورکړل، نوموړي په تعليمي غونډ کې د حزب مرکزي قرارګاه له يوې قطعې سره کارکولو، سامان ئې کم کم له کابل نه راانتقال او په مختلفو ځايوکې پټ کړي وو، موږ ته د دې جريان په هکله د شورای نظار يوه غړي اطلاع راکړه، هغه جهادي سابقه درلوده او د خاد مأمور وو، په پټه چهارآسياب ته راغی او موږ ته ئې وويل چې د خاد له معاون انجنير عارف نه مې واورېدل چې فلاني ته مو باروت او ريموټ کنټرول ورکړي هرڅه ئې انتقال کړي، کار ته تيار دئ، نن سبا به د حکمتيار موټر د هغه پله په سر منفجرکوي چې دی هره ورځ ورباندې تګ راتګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي، د دې خبري په اورېدو سره ډېر پرېشانه شوم، له ځان سره مي وويل چي عجيبه ده زموږ ټول دفاتر په کمونستانو ډك دي، ستر ستر کمونستان په حساسو ادارو کي زغملی شو، خو د حکمتيار په شان جهادي مشر ته پداسي حال کي د ترور منصوبې جوړوو چي آبله ورځ مو په مکه کي له هغه سره د سولي معاهده امضاءکړه اوبنکي ئې په سترگوکي رغړېدلې او ويل ئې چي له تاسونه د دې کار په بدله کي هيڅ نه غواړم او قسم کوم چي د تل لپاره به ستاسو صادقانه مرسته کوم. نوموړی کس د ټول راوړي سامان سره ونيول شو او په هرڅه ئې اعتراف وکړ.

داسي ډېري نوري هڅې زما د وژلو لپاره شوې خو دښمنان ندي توانېدلي چي زما د مرگ ثابته نېټه رامخکي کړي.

## د سولي د هڅو بل دور

ائتلافيونو د تل په شان يو ځل بيا د ماتو په وخت کي د روغي جوړي غوښتنه وکړه، خو دا ځل د دوی وضعيت ډېر، ډېر خراب وو د پوهنتون په شمول د کابل ښار ټوله غربي برخه ئې له لاسه ورکړې وه، پدې سمت کي دهمزنگ لوړی خط وو، د کابل په ختيځ کي د کابل دريا حائل خط وو، په جنوب کي له بالاحصار نه پرته ټول حاکم نقاط د مرنجان غونډېيو په شمول زموږ په لاس کي وو، د تعرضي جنگ توان ئې کاملاً له لاسه ورکړی وو، له شديد داخلي اختلافاتو سره مخامخ ول، د دولت عالی شوری په قاطع اکثريت له رباني نه د استعفی غوښتنه کوله. استاد سياف د پکتيا او غزني له قومندانانو نه وغوښتل چي د مولوی نظام الدين حقاني په مشری د سولي يوه جرگه کابل ته راولېږي، هغوی ته ئې اطمئنان ورکړ چي موږ د رباني استعفی غواړو او له غير ائتلافي مؤقت حکومت او انتخاباتو سره موافق يو، رباني او ټولي عالی شوری لدې سره توافق کړي، که رباني دا ځل د دې کار سره موافقه ونکړي زه له کابل نه وځم او د دوی له ملگرتيا نه لاس اخلم، هيئت له رباني سره وليدل، هغه هم په ډېر تأکېد سره، حتی د لوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يادولو سره هغوی ته وويل چې زه مؤقت حکومت ته د قدرت له انتقال سره موافق يم، حکمتيار صاحب ته زما له خوا سل په سلو کې اطمئنان ورکړې، هغه دې د جمهوري رياست لپاره څو نومونه راولېږي، موږ به يو ترې انتخاب کړو.

موږ د مولوی سلطان عزيز عزيز، استاد شنواری د دعوت او جهاد د پوهنتون رئيس او داکتر فاروق اعظم نومونه ورکړه. خو وروسته نوموړی هيئت د دولتيانو له چلند نه خواشينی شو او په يوې اعلاميې او راډيويي مرکې سره ئې خپل مأموريت ختم کړ، پدې اعلاميې او مرکې کې ئې ټوله پړه په رباني واچوله او هغه ئې د جګړو د دوام عامل وګڼلو.

ورپسې رباني له جنرال حميدګل نه د تلفون له لاري وغوښتل چې منځګړيتوب وکړي، هغه ورته وويل: پدې شرط درځم چې ما ته واك راکړې او لدې نه مې ډاډه کړې چې تاسو د قدرت له انتقال سره موافق ياست، هغه ورته اطمئنان ورکړ جنرال حميدګل له ماسره خبره وکړه، ما ورته وويل چې پدې شرط ستاسو له راتلو سره موافق يم چې رباني د استعفی، مؤقت حکومت او انتخاباتو په هکله تاسو ته کامل اطمئنان درکړي او ستاسو کار يوازې د مؤقت حکومت د غړو په سر د دواړو خواوو تر منځ توافق ترلاسه کول وي. هغه دا خبره ومنله او کابل ته پداسي حال کې راروان شو چې د بينظيربوتو حکومت د ده له سفر او د سولې له هڅو سره شديداً مخالفت کولو. که په همدې شپو ورځو کې د طالبانو په نامه حرکت نه وی پيل شوی او د غزني او کابل په لوري نه وی خوځېدلی، يقيناً چې په يوه مؤقت حکومت حتماً توافق کېدو او جګړه پای ته رسېده. د کابل چارواکو ته له استعفی نه پرته بله هيڅ لاره نه وه پاتې، معاهده ليکل شوې وه، زموږ له خوا د مؤقت حکومت غړي معرفي شوي وو، د معاهدې د امضاء لپاره هيئتونه په جلال آباد کې راغونډ شوي وو، خو د طالبانو جريان دا بهير تخريب کړ او د مسئلی د حل په ځای ئې د جګړې نوی جبهه پرانستله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د طالبانو حرکت

د طالبانو د حرکت د پیدا ایښت په اړه دوه خبرې کېدی شي:

الف: دا حرکت په کندهارکې د ناولی او مفسدی ادارې په خلاف یو طبیعي عکس العمل وو، په کندهار کې د ټولنې ترټولو مفسد، بد اخلاق، بیرحمه او لاابالی عناصر، د کمونستانو او ملیشو په شمول په یوې ائتلافي ادارې کې چې له کابل نه تمویل کېده راغونډ شوي وو او د کندهار په مسلمان او مجاهد ولس ئې بده ورځ راوستې وه، نه د چا سر خوندي وو، نه مال او نه ناموس، هره شېبه د یوه انفجار انتظارکېدو، که هرچا د دې فساد په خلاف غږ اوچت کړي وی عام ولس او صالح مجاهدینو حتماً د هغه ملاتړ کولو. په حرکت انقلاب اسلامي او د مولوی خالص په اسلامي حزب پوري تړلو ځینو قومندانانو په کندهارکې د یوې تبدیلی راوستلو لپاره ملاوتړله، له وضعیت نه د ناراضه قومندانانو په مرسته ئې په کندهار کې ځانته مرکز پرانستلو، د رباني او سیاف له قوندانانو او بیا په خپله لدوی سره ئې تماسونه ونیول او هغوی ته ئې وویل چې زموږ حرکت ستاسو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټه دی او ستاسو د ملګرتیا لپاره راولاړ شوي یو. هغوی د کافي مقدار پیسو مرسته ورسره وکړه، خپلو قوندانانو ته ئې وویل چې د دې حرکت ملاتړ وکړي او له هغه نه د حزب اسلامي په خلاف استفاده وکړي. د همدې لپاره د کندهار په ښار د جګړې نه پرته مسلط شول او په کندهار کې د حزب قومندان حاجی سرکاتب په خلاف ئې جګړه پیل کړه او د هغه مرکز ئې ونیولو. په کندهار له تسلط نه وروسته، د هلمند له داخلي اختلافاتو نه په استفادی سره، هغه ولایت هم پدې شکل د دوی په لاس کې پرېوت چې د باغران د رئیس تر مشری لاندې یوه ډله لدوی سره یوځای شوه او د خپلې حریفی ډلې په خلاف ئې د طالبانو تر نامه او حمایې لاندې جګړه پیل کړه، پس له کافي مرګ ژوبلی ئې خپل مخالفین وټکول، له منطقې نه ئې وایستل او د طالبانو ترنامه لاندې ئې خپله واکمني هلته اعلان کړه. د ارزګان او زابل په لوري هم دې ته ورته تبدیلی راغله او طالبانو د دغو ولایاتو واګې هم په لاس کې ونیولی، لدې نه وروسته د دوی خوا ته د بهرنیو څواکونو پاملرنه راواوښته، پدې حرکت بهرنی پانګه اچول او په وسیع پیمانه د دوی تمویل او اکمال پیل شو.

ب: دا حرکت له ابتدا نه د جنرال بابر په لاس جوړ شو، پلان ئې په اسلام آباد کې د انګلستان پخواني سفیر ورکړ، امریکائیان او سعودیان د بابر او د انګریزانو د ګډو هڅو په نتیجه کې قانع کړي شول چې د دې پروژی سرپرستي او تمویل په غاړه واخلي، انګریزانو چې د دې منطقې د سیاست استادان ګڼل کېږي، امریکائیانو ته همدا مشوره ورکوله چې "د بنسټ پالو مسلمانانو" په خلاف او د دوی له خطر نه دغرب د ګټو د ساتنې لپاره باید له" عنعنوي"، "محافظه کار" "سازش خوښونکي" "او معتدل اسلام!" نه ګټه واخستلی شي، بابر دا دنده په غاړه واخستله، د آی اس آی او مولوی فضل الرحمن له لارې ئې د کندهار ځینې قومندانان ولیدل چې په څو خبرو د دوی ترمنځ توافق وشو:

- د کندهار نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- تر تورغونډې پورې ټوله منطقه تصفیه کول او د تجارتي کاروانونو لپاره تر مرکزي آسیا پورې د تلو لار پرانستل.
- د ولس خلع سلاح کول.
- د ظاهرشاه له راتلو سره موافقه.
- هغه کمونست افسران په خپلو لیکو کې تنظیمول چې د سي آی ای لخوا په پاکستان کې تنظیم شوي او ټول جنګي ماشین هغوی ته سپارل.

پاکستان څو کارونه په غاړه واخستل:

- د افرادو روزنه.
- مالي مرسته، تیل، البسه او غذايي مواد.
- څو سوه تکړه او باتجربه کماندو، د دې لپاره چې په هر ځای کې مقاومت وشي، هغوی د شپې په تیاره کې سوق شي او مقاومت وټکوي او د مخکې تګ لپاره لار پرانېزي.
- په جهادي قومندانانو کې د وسیع کار او له طالبانو سره د دوی د یوځای کولو د هڅو ټول مصارف په غاړه اخستل.

د طالبانو د حرکت په هکله لدې دواړو تحلیلونو نه کوم یو په حقایقو ولاړ او کوم یو سطحي او ذهني دی؟ ښایي لاندې ټکي پدې اړه له تاسو سره مرسته وکړي:

۱ – له بی نظیر بوتو سره دا وېره راولاړه شوه چې احتمالاً فوځ د دې د حکومت د انحلال په هکله له جمهور رئیس فاروق لغاری سره توافق کوي، د یوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې ئې اعلان وکړ چې که د دې حکومت منحل کړې شي نو هغه به ډېر پټ اسرار افشاء کړي. ځینو دا ګمان وکړ چې ښایي لدې خبرې نه د بی نظیر بوتو مقصد د پاکستان د اتمي بم په هکله هغه اسرار افشاء کول وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د پاکستان فوځ ترې وېره لري، خو بې نظیر بوتو په لندن کې له بی بی سي سره د یوې خاصې تلویزیوني مرکې په ترڅ کې د خبریال د دې سوال په ارتباط چې پاکستان څنګه د طالبانو په شان د یوه ارتجاعي ځواك ملاتړ کوي، داسې وویل: پاکستان پدې کار کې یوازې ندي، پلان د انګریزانو، سرپرستي د امریکا، تمویل د خلیج هېوادونو او د طالبانو روزنه پاکستان په غاړه اخستې.

۲ – د یوې ګډې جلسې لپاره اسلام آباد ته په هغه وخت کې بلل شوی وم چې د حزب ځواکونه له چهارآسیاب نه سروبی ته په شا شوي وو، خو طالبان و نتوانېدل چې چهار آسیاب د زیاتې مودې لپاره وساتي، د یوې معمولی حملې په نتیجه کې له چهار آسیاب نه ووتل، په نورو سیموکې هم د دوی وضعیت ښه نه وو، پاکستانیانو غوښتل چې د "جنبش ملي" او " جنبش طالبان" ترمنځ په ګډ کار او ګډې ادارې توافق وشي، خو جنرال دوستم د هم آهنګي شوری د دریو ډلو: حزب اسلامي، وحدت او جنبش او طالبانو ترمنځ په خبرو آترو، ګډ اقدام او ګډ حکومت ټینګار کولو، په همدې اړه په اسلام آباد کې د خبرو آترو لپاره بلنه راکړې شوه، په اسلام آباد کې د امریکا سفیر غوښتل له ماسره وګوري، د ملاقات لپاره دفتر ته راغي، د خبرو په جریان کې کابل ته د ایران له لوري د مهماتو او وسلو د مرستو په ارتباط وویل شو چې هره شپه له شپږو تر لسو طیارو مهمات، وسائل، غذائی مواد او تیل له مشهد نه کابل ته راانتقال کېږي، ما ورته وویل: لدینه معلومېږي چې تهران د افغانستان په اړه تر پاکستان او د پاکستان تر ملګرو ډېر فعال دی، سفیر خپلو ملګرو ته وکتل، مسکی شو او داسې ئې وښودله چې لدې نظر سره موافق ندي!! د دې خبرې معنا دا وه چې له طالبانو سره مرسته ترهغه نه ډېره ډېره زیاته وه چې ایران له کابل سره کوله. ده په خپلې مسکا سره غوښتل ووایي چې له هغې خوا یوازې مهمات راځی خوله دې خوا مسلح افرادهم لېږل کېږي.

۳ – له پاکستان سره د جهاد له امانتونو څخه تقریباً یونیم زر پك اپی او لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاډې پاتې وو ، پدې بهانه ئې هغه له ځان سره وساتل او کابل ته ئې له سپارلو ډډه وکړه چې هلته اختلاف دی، چا ته ئې وسپارو؟ خو له روغې جوړې نه وروسته ئې هم و نسپارل. ما د صدارت په دوران کې څو ځله پدې هکله تأکېد وکړ، خو وروسته معلومه شوه چې د نوموړو موټرو زیاته برخه طالبانو ته سپارل شوي.

۴- پداسې حال کې چې د طالبانو لشکری له پاکستاني مدرسو نه د طالبانو د چارواکو په ذریعه راغونډېدل او د افغانستان په لوري خوځېدل او کافي شمېر پاکستانیان د طالبانو تر نامه لاندې افغانستان ته د جنګ لپاره لېږل کېدل، پاکستاني مربوطه ادارو نه یوازې د دې کار مخنیوی ندی کړي بلکې د طالبانو په غوښتنه ئې مدرسې مؤقتاً او د ضرورت په وخت کې بندولې، ترڅو د نوموړو مدرسو طالبان، افغانستان ته د جګړو لپاره تلو ته وزګار شي، خو د طالبانو مخالف قوندانان او شخصیتونه ئې په یوه بل صورت تهدید کړي چې له پاکستان څخه به د طالبانو په خلاف له هر ډول هڅو نه ډډه کوي، ځیني ئې له پاکستان نه وایستل، ځیني ئې له هوایي میدانونو نه بېرته ولېږل او خپلو کورونو ته ئې له تلو نه منع کړل او ډېر نور ئې دعوت او تشویق کړل، امکانات ئې ورکړل او له طالبانو سره ئې یوځای کړل.

۵ - د پاکستان په پارلمان کې ډېرو غړو او د پاکستان کورني او بهرني سیاسي جریاناتو نه د جنرال میرزا اسلم بیګ په شان مطلع سیاستمدارانو په جنرال بابر تور ولګولو چې هغه د طالبانو لوی درستیز دی. غواړي د "صوبه سند" په شان افغانستان هم د طالبانو په ذریعه فتح کړي. هغه امریکایانو ته اطمئنان ورکړي چې طالبان د ظاهرشاه له راتلو سره موافق دي او دوی کولی شي ټول افغانستان ونیسي.

۶ – په جنوب غرب د طالبانو له تسلط نه وروسته له همدې لارې د جنرال بابر تر مشرۍ لاندې د یوې تجارتي قافلې په شمول، مرکزي آسیا ته د پاکستاني هیئت سفر، یوازې دا خبره په ګوته کوله چې جنرال بابر وتوانېدو له چمن نه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورغندۍ پوري تجارتي مهمه لار پرانېزيا!! پاکستاني مطبوعاتو دا "بري" د جنرال بابر د يوه شهکار په حيث منعکس کړ، ځينو د"يوه باور په څېر" او ځينو د"اعتراض" په توګه!!

۷ – د کابل د سقوط د عواملو په هکله مسعود او د ده التقاطی انډيوالانو دا تحليلونه وړاندي کول چي موږ له بنسټ پالو سره د يووالی قرباني شوو!! دې ته مو توجه ونکړه چي د بنسټ پالني په خلاف ستر طوفان راولاړ شوی، د بنسټ پالني ضد دې بين المللي طوفان په څپو کي موږ هم پدې يووالی سره لاهو شوو، مسعود وايي: ماته رابن رافل وويل چي کابل ته د حکمتيار له داخلېدو وروسته، امريکا د افغانستان لپاره خپله مصرفی بودجه درې چنده کړه، د رابن رافل دا خبري موږ ثبت کړي او اسناد ئې په لاس کي لرو" !!

۸ – د امريکا کانګريس، د ايراني رژيم د تضعيف لپاره شل مليونه ډالر منظورکړل چي لدې څخه يوه برخه د ايران د رژيم ضد ځواکونو ته ورکړي شوه او نوره ئې د جنرال بابر او مولينا فضل الرحمن له لاري طالبانو ته وسپارلی شوه، پاکستاني مطبوعاتو داخبره افشا کړه چي فضل الرحمن د همدې لپاره تقريباً دوه مياشتي په امريکا کي تېری کړي.

۹ - امريکايي رسمي مقاماتو د طالبانو په هکله لاندي رسمي اظهارات کړي:

- طالبان بنسټ پاله ندي.
- لدوی نه د امريکا ګټو ته کوم خطر ندی متوجه.
- دوی د انقلاب په صادرولو باور نلري.
- که څه هم دوی د "بشری حقوقو" ځيني مخالف کارونه کړي خو په مجموع کي دا يو "مثبت حرکت" وو چي په افغانستان کي ئې د سولي د تأمين په اړه مؤثر کارونه کړي دي، " خلك ئیخلع سلاح کړل" دلويو لارو امنيت ئې تأمين کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنستې پاله ډلې ئې په شا وتمبولې.

- که طالبان د ظاهرشاه له راتلو سره رسماً توافق اعلان کړي د افغانستان د بحران په حل کولو کې به د تاریخي ونډې افتخار ترلاسه کړي او امریکا به د دوی حکومت په رسمیت وپېژني !!
- طالبان پدې پوهېږي چې که له بنستې پالو سره اتحاد وکړي خپل اعتبار ته زیان رسوي، له بنستې پالو سره له هر راز یووالی نه ډډه کول د طالبانو د درایت نښه ده !!

۱۰ - جنرال بابر چې د داؤد له زمانې ئې د ظاهرشاه د بېرته راوستلو هڅې کولې، د طالبانو او جنرال دوستم له خوا د اطمئنان تر لاسه کولو نه وروسته، سردار ولي ته بلنه ورکړه چې د ظاهرشاه د راتلو لپاره د لارې آوارولو په خاطر پاکستان ته سفر وکړي، له افغاني او قبایلي مؤثرو شخصیتونو سره لیدني کتنې وکړي او د کندهار، مزار او ننګرهار دوره وکړي. د دې دوری لاندې اړخونه د توجه وردي:

الف: جنبش ملي اعلان وکړ چې سردار ولي ته د مزار د دوری بلنه ورکوي. که دا کارشوی وی موږ د هم آهنګۍ شوری منحل کوله، ما جنرال دوستم ته د تلفون له لارې وویل چې لدې کار نه منصرف شي، هغه داخبره ومنله او دا دوره ترسره نشوه.

ب: پاکستانیانو په اسلام آباد کې زموږ نماینده، حاجی منګل حسین، د سردار ولي د استقبال لپاره هوایي میدان ته ورووست، غوښتل مو د دې غلطی په وجه هغه له حزب نه اخراج کړو، خو د ده د سوابقو په خاطر او پدې دلیل چې پاکستانیانو مجبورکړي وو، یوازې د ده په تبدیلی مو اکتفاء وکړه.

ج: د طالبانو یوې ډلې جنرال بابر ته اطمئنان ورکړي وو چې کندهار ته د سردار ولي د تلو په لاره کې کوم خنډ او مانع نشته، هلته به د ده استقبال کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نورو پدې دلیل مخالفت وکړ چې:

- پدی سره د طالبانو اعتبار په ملت کې سقوط کوي.

- هغه طالبان د دوی له څنګ نه بېلېږي چې د اسلامي نظام او د شریعت د نفاذ په نامه لدوی سره یوځای شوي او پدې سره دوی خپل مهم جنګي طاقت له لاسه ورکوي، ځکه د لومړی خط تعرضي ټولګي له همدغو طالبانو نه جوړ شوي.

- په پاکستان کې د امریکا پلوي حلقو دا ګمان کولو چې له چهارآسیاب نه د حزب اسلامي د وتلو نه وروسته اوس د ظاهرشاه د تحمیلولو په لارکې اصلي خنډ له منځه تللي، بل داسې مؤثر ځواک چې د دې پلان مخالفت وکړي نشته، باید په همدې فرصت کې د هغه د راوستلو جدي او سریع هڅه وشي، د همدې لپاره د پاچا ځوم، سردار ولي ته ئې بلنه ورکړه او پداسې شانداره بڼه کې ئې هغه استقبال کړ چې ګواکې د برحال پاچا استاځی وي. د توجه وړ خبره دا ده چې په اسلام آباد کې د دوی له ښاغلی مېلمه سره د پاکستانیانو د خبرو آترو په ورځ، بل کلنټون د امریکا جمهور رئیس، په سپیني مانۍ کې د ایران مهاجر شهزاده رضا پهلوي خپل حضور ته ومنلو!! د واشنګټن او اسلام آباد دا د یوه وخت او یوه بل ته ورته مذاکراتو دا ښودله چې دواړه د یوه زنځیر بېلې بېلې کړۍ دي او له یوه ځایه تنظیم شوي. په حقیقت کې دواړه مذاکرات سي آی ای تنظیم کړي چې د افغانستان او ایران په هکله د واشنګټن ورته تصمیم په ګوته کوي. امریکا په دواړو هېوادونو کې د شاهی منحط نظام احیاء غواړي او د اسلام په خلاف د شاه پرستانو نه د کار اخستلو اراده لري، دا ځکه چې دوی پدې دواړو هېوادونو کې بل داسې محور نه مومي چې خپل لاس پوځي ورباندې راغونډ کړي او د اسلامي خوځښت په ضد ئې استعمال کړي.

- د طالبانو ځینو نطاقانو د ملاعبدالرازق په شمول له غربي. آژانسونو سره د خپلو مرکو په ترځ کې داسې اظهارات وکړل چې ښودل ئې د طالبانو حرکت د امریکائیانو له هغې منصوبې سره موافق دی چې غواړي مخلوع پاچا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان مسلط کړي. جنرال بابر د بی نظیر بوتو داخله وزیر هم په خپل مطبوعاتي کنفرانس کي وويل: طالبان د ظاهرشاه له راتلو سره موافق دي. د غو ښرگندونو د طالبانو په ليکو کي مخلص (خوله اسرارو نه بې خبر) کسان مشوش کړل، طالب چارواکي مجبور شول چي د دغوکسانو د تشويش رفع کولو لپاره په ماته گوډه ژبه او په مجمل او ذوالوجهين الفاظو داسي ښرگندوني وکړي چي د افغانانو په زعم د مخلوع پاچا له راتلو سره د طالبانو د عدم توافق معنا ورکړي خو د امريکائيانو په نزد کي د پاچا له عودت سره د دوی د موافقې په معنا تعبير شي!! داسي ئې وويل: ظاهرخان کولی شي هېواد ته د يوه افغان په حيث راستون شي خو د هېواد د مشرتابه په هکله به افغان ولس فيصله کوي!! غربي آژانسونو همدا مبهم اظهارات جدي ونيول او يو په بل پسې ئې داسي تبصری وکړي چي گواکي پاکستاني چارواکو د طالبانو د ماهيت او اهدافو په هکله غرب ته غيرمؤثق معلومات او غولونکې ډاډينه ورکړې وه!! د امريکا غږ د دې تبصری سره سم، جنرال بابر يو ځل بيا مطبوعاتي کنفرانس راوغوښت او په هغې کي ئې وويل: د طالبانو په هکله داخبره صحيح نده چي دوی د مخلوع پاچا له راتلو سره مخالف دي، دوی د دې پلان مخالفت نکوي !! د دغو اظهاراتو نه وروسته د طالبانو په هکله د غربي آژانسونو لهجه بدله او خواخوږي کمه شوه، مثبتي تبصری ئې محدودی شوې او حتی د طالبانو تر تسلط لاندي سيمو کي د ځينو" بشری‌حقوقو" دعدم مراعات په هکله اعتراضات پيل شول، خو په ابتداء کي پدې شکل چي که څه هم د طالبانو تر واکمنی لاندي سيمو کي څه ناڅه او په يوه بله بڼه بشری حقوق تر پښو لاندي کېږي خو په مجموع کي دوی پدې خاطر د قدر وړ دي چي وتوانېدل عام ولس د هغه فساد ، ظلم، شوکو او بې امنيتي نه وژغوری چي د مجاهدينو په دور کي ورسره مخامخ وو او داسي "ډاډمن امنيت" رامنځته کړي چي د افغانستان په اوږده تاريخ کي سابقه نلري!! دا اعتراضات ورو ورو زياتېدل او د امريکا له غوښتنو سره د طالبانو د يوه ټولگي د زياتېدونکی مخالفت په تناسب تشديد کېدو، ترهغه چي د امريکا خارجه وزيری البرايت د پاکستان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفر په جریان کې د مهاجرینو یوې غونډې ته وویل: د بشری حقوقو په اړه د طالبانو سلوك د کرکې وړ دی !!

- د ۱۳۷۶ کال په پیل کې د بادغیس په جبهې کې طالبانو زیات تلفات او ډېره مرگ ژوبله ولیده، لومړی خط ئې مات شو، د بادغیس مرکز ته په شاه شول، اکثرو گروپونو له وېری او واهمې نه د بادغیس مرکز هم پرېښود او هرات ته کوز شول د طالبانو یو مسئول (چې پدې جگړوکې ئې فعاله ونډه وه) د سترگو لیدلی حالت داسې بیانوی: زموږ وضعیت ډېر خراب وو، په سلهاوو مړی او زخیمان مو درلودل، د لومړی خط مسئول قومندانان، ملا برادر او ملاعبدالرازق مجبور شول چې مرکز ته د دې پرېشان حالت راپور ورکړي، د هرا ت د امنیه قومندانۍ د مخابری له لارې ئې له ملا محمد عمر سره خبرې وکړې او ورته وئې ویل: فشار ډېر زیات دی، مقاومت نشي کېدی ... په ځواب کې ورته وویل شوو: تر دریو ورځو پورې مقاومت وکړي او دښمن مصروف وساتي، له هغه نه وروسته د لومړی خط قطعات راشاته کړي، موږ لدې ځایه خاص قطعات درلېږو،... درې ورځې وروسته د هرات هوایي ډگر ته ورغلم، ترڅو وگورو چې په جهازونو کې څومره او څنگه قطعات هرات ته رالېږل شوي، هیڅا ته د دې اجازه نه ورکول کېده چې میدان ته داخل شي، خو زما حیثیت داسې وو چې څوك مې مانع نشي، په هوایي میدان کې مې ډېرکسان داسې وموندل چې په نوو او مخکې تلو وسلو سنبال وو، په پښتو او فارسي نه پوهېدل، په نورو ژبو ئې خبرې کولی، ټول مخامخ او فوراً په ترپالونو پټو موټرو کې د بادغیس په لورې وخوځېدل.. د دې صحنې له لیدلو وروسته د دې حرکت په ماهیت پوه شوم او اوس..."

په حقیقت کې د طالبانو حرکت له لاندې ټولگیو جوړ شوی:

الف: هغه مخلص او مجاهد طالبان چې د اسلام په نامه او د یوه اسلامي حکومت د قائمولو په طمع او د مخکنۍ مفسدي ادارې له شر نه د افغان ولس د ژغورنې لپاره لدې حرکت سره یو ځای شوي، د طالبانو اصلي ځواك له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخلصو طلابو نه جوړ شوی.

ب: هغه کسان چي له بهرنيو خطرناکو شبکو سره ټينګي او نږدې اړيکي لري او د پرديو په اشاره او د هغوی دګټولپاره کارکوي.

ج: هغه کمونست افسران چي د کابل رژيم له نسکوريدو وروسته، پاکستان ته راکوز شول او هلته د سي آی ای او آی اس آی لخوا تنظيم او له طالبانو سره يو ځای کړي شول، د طالبانو پيلوټان، ټانکستان، توپچی او ټول تختنيکي پرسونل له همدغو افسرانو نه جوړ شوی او د جګړو د سوق او اداري واګي د دوی په لاس کي او د مجاهدينو په ضد د جګړو سخت ليوال دي، دوی دي چي طالبان د مجاهدينو په خلاف جګړو ته هڅوی.

د: هغه کسان چي د کابل له کمونست رژيم سره ئې ملګرتيا کړي او د همدې ملګرتيا په وجه ئې له مجاهدينو نه صدمه ليدلی او اوس لدوی نه د غچ اخستلو په خاطر د طالبانو په ليکو کي ننوتلی.

هـ: د طالبانو بله ډله له هغو افرادو نه جوړه شوې چي د ځينو متعصبو پاکستاني علماوو د لاس نيالګي دي، فکری روزنه ئې د هغوی په لاس ترسره شوې، لکه چي هغوی د څو پيسو او په حکومت کي د څو ذلتناکو چوکيو د لاس ته راوړو لپاره له هري بې ديني او ملحدی ډلي سره يوځای کيږي خو له اسلامي احزابو سره له ملګرتيا نه ډډه کوي د دوی په غيږ کي روزل شوي طالبان هم له کمونستانو سره ملګرتيا او د مجاهدينو په خلاف جګړه او پدې جګړي کي له کفری ځواکونو نه مرسته غوښتل د ثواب کارګڼي!!

و- د طالبانو يوه ډله داسي ده چي نوم ئې طالب دی خو د دين له الف، ب نه هم خبرندي، دين او مذهب له قومي او محلي دود دستور او عرف رواج سره خلط کوي، په ولس کي موجود افکار، معتقدات او عنعنات داسي ورته بريښي لکه ديني او مذهبي اساسات، د مذهب له اصلي غوښتنو او د دين له اساساتو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هومره بې خبره دي لکه عوام، له دين نه ئې يوازي دومره زده کړي چې وکولی شي په جومات کې امامت وکړي، د ماشوم په غوږ کې آذان وکړي او د ښځې او ميړه نکاح وتړي، له قرآن، حديث، فقه، اسلامي تاريخ، د خپل هېواد تاريخ، ليك لوست، اسلامي نظام، حکومت په اسلام کې، اسلامي اقتصاد، توحيد، معاد، رسالت، قضا او قدر او غوښتنې ئې او له نورو بنيادی مسائلو نه سخت بې خبره دي، اکثراً قرآن د مصحف له مخې نشي لوستلی، د عادي ليك له ليکلو او لوستلو نه عاجز دي، تر هر چا د مخه او له هر چا نه زيات د هر ديني تحول او بدلون مخالفت کوي او د هري اسلامي مبارزی په خلاف په لومړی صف کې ودرېږي، د دوی د مخالفت وجه نه خاصه مذهبي انگېرنه او نه په کوم دليل او سند ولاړ دريځ وي بلکې اقتصادي عوامل لري، گمان کوي چې په ټولنې کې هره مثبته ديني تبديلی، د دوی هغه اقتصادي گټې په خطر کې اچوی چې له دين نه په بې خبري ټولنې کې ئې د دين او مذهب په نامه ترلاسه کوي، لدغو منابعو نه د دفاع په خاطر ده چې له هر بيدينه او بې مذهبه ځواك سره يوځای کېږي او له هر اسلامي ځواك سره نه پخلاکېدونکې دښمني کوي. د اسلامي نظام په هکله د دې ډلې تصورات سخت بې بنياده او د اسلامي عقيدی مغاير او په هغو کيسو او نکلونو ولاړ تصورات دي چې د استبدادی امارتونو زيږنده او د همدې غير اسلامي نظامونو د توجيه او له هغوی نه د دفاع په خاطر در باری ملايانو وړاندې کړي. دوی پدې باور دي چې د واکمن د سلطې يوه جائزه او شرعی طريقه دا هم کېدی شي چې څوك د "تغليب" او "بالقوة تسلط" له لاري په ولس مسلط شي او بيا له خلکو نه اجباری بيعت ترلاسه کړي، د دوی له نظره که هغه واکمن چې د زور له لاري مسلط شوی د خپلې خوښې افراد د "اهل الرأی" او "اهل حل او عقد" په نامه راغونډ کړي، د دوی "بيعت" د ټول ولس بيعت وگڼی او لدې لاري خپلې واکمنۍ ته شرعی بڼه ورکړي او د "اميرالمؤمنين" عنوان ترلاسه کړي نه يوازي څه مانع نلري! او د اسلام خلاف کوم کار ئې ندیکړی بلکې سل په سلو کې ئې جائز او قانوني کارکړي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دوی په مسلك کې د ټول ولس " معلن او بلا اکراه بیعت" هغه بیعت چې د ابوبکر صدیق (رض) او نورو خلفاوو د انتخاب لپاره ترسره شو او اسلام هغه د امارت لپاره "لازمي شرط" ګڼی او له هغه نه پرته د هیچا امارت مسلم او شرعی نه شمېری، نه خاص ځای لري او نه کوم اهمیت. بیعت د دوی په "منطق" کې یوازې " شکلی مراسم" او "تشریفاتي عنعنه " ده چې د امیرله ټاکلو نه " وروسته" ترسره کېږي، نه " مخکې".

د طالبانو حرکت یوازې د جګړې د دوام په صورت کې خپل شته والی ساتلی شي هغه هم پدې شرط چې پدې جګړو کې ئې وړیا بریاوی په برخه شي، د جګړې د پای ته رسېدو او یا د طالبانو ضد ځواکونو د یووالی او په یوې متحدی سیاسي، نظامي جبهې کې د دوی د یوځای کېدو په صورت کې نشي کولی خپل شته والی وساتي. که زموږ ولس وګوري چې د طالبانو مخالف جهادي قوتونه په خپلوکي متحد ندي، د بحران د حل لپاره واضح طرحه نلري، د تېرفاسد نظام د اعادې او په افغان ولس د هغه د تپلو هڅه کوي چې کابل ته تر رسېدو وروسته به یو ځل بیا د دوی ترمنځ خونړی جګړې پیل کېږي، تېر ترخه تجارب به تکرارېږي او د ملي شتمنیو د تالان او غارت بازار به ګرم کېږي، طبیعي ده چې پدې صورت کې به یا طالبانو ته ترجیح ورکوي یا به د دوی مرسته کوي او یا به لږ تر لږه د دوی د مخالفینو له حمایت نه ډډه کوي او د طالبانو د استبدادی او ظالمانه سلطې ستونزی او کړاوونه به ګالی او د یوې مجهولې راتلونکې په امید به شپې ورځې سبا کوي.

خوکه د طالبانو د وړیا بریاوو بهیرمتوقف شي، په څو جبهوکي له جدي ماتو سره مخامخ شي او د دوی مخالفین په یوه ډاډمن محور راغونډ شي او د بحران د حل عادلانه طرحه وړاندې کړي، ملت ته د هېواد د راتلونکې په هکله او د تېرو خونړیو پېښو د نه تکرار ډاډ ورکړي، بې له شکه چې پدې صورت کې به طالبان ډېر ژر او سریع له منځه ځی، دا ځکه چې "دا کم عمره حرکت" د پېښو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو ډلو د اختلاف زيږنده ده چې د وړيا او مسلسل فتوحاتو په نتيجه کې ئې وده وکړه، نه تنظيمي سابقه لري، نه آزمويل شوي افراد او نه داسي متعهدين چې د دې حرکت په شعارونو، اهدافو او تګلارو له زړه نه ټينګ باور ولري، داسي باور چې په هر صورت او هر راز شرائطو کي به د دې "حرکت" مرام او قيادت ته مخلص او وفادار پاتې کېږي او لدې نه په شاکېدل د خپل ايمان او تعهد منافي وګڼي. هغه ډله چې د وړيا فتوحاتو په بستر وده وکړي او غړو ئې د ابتلاءاتو، ستونزو او کړاوونو لوړې ژورې نه وي ليدلې، له ماتو سره د مخامخ کېدو په وخت کي خپل شته والى نشي ساتلى، د جنګي فتوحاتو او برياوو بهير حتماً د پاى يوه نقطه لري، د پاى دا نقطه به د طالبانو لپاره ډېره خطرناکه ثابته شي.

طالبان نه په جګړو د ټول هېواد د نيولو او د ټولو مخالفو ځواکونو د ځپلو توان لري او نه د هېواد د اداري او د يوه صالح اسلامي نظام د قائمولو استعداد، فهم، بصيرت، تجربه او روزل شوى، امتحان شوى پرسونل. همدا اوس اوس او په واکمنۍ کي د لنډې مودې پاتې کېدو نه وروسته، د دوى په ليکو کي فساد، رشوت، د ملي شتمنيو تالان، په ولس ظلم او د هغوى په مال او عزت تېرى، د ناروا امتيازاتو په لاس ته راوړلو کي ناروا مسابقه، له قدرت او نفوذ نه د خپلوانو په ګټه بيدريغه غلطه استفاده په خطرناك ډول پيل شوې او ورځ په ورځ تشديد کېږي.

د طالبانو دا حرکت په اصل کي د هغه ډلي کاپى ده چې د جهاد په دوران کي تر ټولو ډلو ناکامه او وروسته پاتې وه، وسلې ئې خرڅېدلى، مالي امکانات ئې د چارواکو په لاس تالان کېدل، د څو محدودو کسانو ترمنځ وېشل کېدل، د اداري او مالي فساد په وجه د محدود شمېر مجاهدينو له اکمال نه عاجز وه، کمونستانو او بې دينه عناصرو د هغې په ليکو کي ژور نفوذ کړي وو... د طالبانو حرکت په هيڅ صورت کي نشي کولى تردې ډلي غوره ډله جوړه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حزب اسلامي په ضد د طالبانو جنګ

چې کله طالبان د چمن - سپین بولدک له پولې نه د کندهار په لور واوښتل او په میوند کې ځای په ځای شول، له همغې ورځې نه د کابل له ائتلافي اداره، مخصوصاً د جمعیت له قوماندانانو سره د دوی له اړیکو نه څرګنده وه چې د طالبانو ډله د ائتلافي دولت سره د ملګرتیا اراده لري او یا لږ تر لږه تر یوې مودې به د ائتلافیونو په څنګ کې له حزب اسلامي سره جنګېږي.

د حزب اسلامي په لیکو کې او له حزب نه بهر ځینو کسانو دا انتظار درلود چې د طالبانو ډله به حتماً او باید د حزب اسلامي ملګرتیا وکړي که د ټول هېواد په سطحه نه وي لږ تر لږه په کندهار او جنوب لوېدیځ حوزې کې خو دا کار باید وشي، پدې دلائلو:

الف: په کندهار کې د چارو واګې د هغې مفسدې ادارې په واک کې وې چې له کمونستانو، ملیشو او پروتوکولي قوماندانانو نه جوړه شوې جبهه وربانده

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلط وه، نومیالی جهادي قومندانان او صالح شخصیتونه نه یوازي پدې اداري کي شامل نه وو او په هغې کي ئې هیڅ ونډه نه وه بلکي نوموړې ائتلافي جبهې د دوی د رټلو او شړلو هڅه کوله.

ب: د دې اداري مرسته او د هغې کامل تمویل د هغه ائتلافي حکومت په غاړه وو چي طالبان ئې سل په سلو کي غیر اسلامي ګڼي او د هغه په خلاف جنګېدل اسلامي جهاد شمېري.

ج: د دې ائتلافي اداري د چارواکو له فساد، ظلم او غارت نه او له هغې بې امنیتي نه چي دې اداري راولاړه کړې وه او له هغو پاټکونو چي پدې اداري کي شامل قومندانانو د لارو په اوږدو کي قدم په قدم اچولی وو، عام ولس پوزې ته رسېدلی وو، که دوی اسلام غوښتلی او د ولس د ژغورني او د بې امنیتي ختمول ئې هدف وی نو حتماً به ئې د حزب له صالح قومندانانو سره ملګرتیا کړې وه.

طالبانو کندهار ونیولو، د دې مهم ښار د نیولو په دوران کي له کوم خاص مقاومت سره مخامخ نشول، د جمعیت قومندان ملا نقیب الله لدوی سره ملګری شو او خپل ټول وسائل او امکانات ئې دوی ته وسپارل، د ښار له نیولو وروسته ئې د حزب اسلامي د اتل او نومیالی قومندان، حاجی سرکاتب په مرکز له څو خواوو برید وکړ، د ده مرکز ښار ته څېرمه په یوې مهمې سیمې کي پروت وو، له خونړۍ جګړې نه وروسته ئې دا سیمه ونیوله، بی بی سي چي مسلسل ئې د طالبانو په ګټه تبلیغات کول، د جګړې په جریان کي دا جعلي خبر خپور کړ چي حاجی سرکاتب د یو شمېر مجاهدینو په شمول د طالبانو د برید په ترځ کي په قتل ورسېدو، غوښتل ئې پدې راپور سره د حاجی سرکاتب د مجاهدینو روحیه مړاوی کړي، پداسي حال کي ئې دا خبر خپور کړ چي کلکه جګړه روانه وه او د طالبانو ګڼ شمېر حملې په شا تمبېدلی وې او حاجی سرکاتب له هغه وروسته خپل مرکز پرېښود او د ارزګان له لارې د چهار آسیاب په لوري وخوځېدو چي د مرکز حاکم نقاط د طالبانو په لاس کي پرېوتل. د کابل د ائتلافي اداري راډیو او تلویزیون

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مدیریت ئې کاملاً د کمونستانو په لاس کې وو، د طالبانو د برياوو راپورونه ورکول او د حاجی سرکاتب د مرکز نیونه ئې د یوه ستر بری په څېر منعکس کړه، په ائتلافي ادارې پوري تړلي قومندانان ئې هڅول چې د طالبانو له حرکت سره یوځای شي.

رباني د یوې مرکې په ترڅ کې د طالبانو په هکله وویل: "حرکت طالبان، حرکت خود جوش و مردمی است" ګڼ شمېر هیئتونه ئې له بوجیو بوجیو پیسو سره د هرات له لاري کندهار ته ولېږل، په هرات کې د دې هیئتونو تود استقبال وشو، تورن اسمعیل د هرات په جامع جومات کې د خپلي وینا په ترڅ کې له کابل نه د سخیداد فایز په مشری د راغلي هیئت په هکله وویل: دا دی زموږ هیئت کندهار ته درومي ترڅو له طالبانو سره دیو والی وروستۍ خبري وکړي !!

په کندهار له تسلط نه وروسته، په هلمند کې د جمعیت قومندان، مولوی عبدالواحد، چې د باغران د رئیس په نامه شهرت لري او یوه موده له حزب اسلامي سره هم پاتې شوی، له طالبانو سره یوځای شو. طالبانو ته ئې بلنه ورکړه ترڅو هلمند ته راکوز شي، دی وتوانېدو چې له طالبانو نه دخپلو مخکنیو رقیبانو په ضد استفاده وکړي، مخکې پدې نه توانېدو چې له خپلي منطقې ووځي او د هلمند په نورو برخو کې د رقیبانو مقابله وکړي، خو د طالبانو په مرسته او د یوې خونړۍ جګړې نه وروسته د دې ولایت د مرکز په نیولو موفق شو، د حزب اسلامي مجاهدین چې زیاته موده ئې دا ولایت په لاس کې وو او پدې سیمې کې ترټولو ځواکمن او منظم قوت وو، د ولایت له مرکز، لشکرګاه نه وتلوته اړ شول، کابل راډیو دا ځل تر مخکې نه زیات او په ډېر حدت او شدت سره د طالبانو فتوحات منعکس کړل، د هلمند په لوري د طالبانو فتوحاتو او برياوو له څو لحاظه د کابل ائتلافي ادارې مخصوصاً جمعیت اسلامي ته اهمیت درلود:

الف: پدې سره حزب اسلامي په جنوب لوېدیځ کې یو مهم مرکز له لاسه ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: جمعیت ته نږدې قومندانان د طالبانو په پرده کې وتوانېدل پدې سیمې کې خپل رقیبان په شا وتمبوی او د هلمند په راتلونکې کې د فعالی او مؤثری ونډې مجال ترلاسه کړي. له طالبانو سره د باغران د رئیس یو ځای کېدل او د دوی په لیکو کې حساس موقعیت لاس ته راوړل او په لشکر گاه د ده تسلط، د رباني او مسعود له نظره لویه بریا او سوبه گڼل کېده، دا گمان ئې نه کولو چې له حزب نه وروسته به په خپله د دوی په خلاف جنگېږي.

د هلمند له سقوط نه وروسته د طالبانو په لوري د دوی پاملرنه زیاته شوه، یو په بل پسې ئې هیئتونه له کافي مقدار پیسو سره ورولېږل، د دوی په گټه د کابل د اداري تبلیغات تشدید شول، د وسلو او مهماتو ورلېږل هم پیل شول.

په زابل او ارزگان کې هم کندهار او هلمند ته ورته پېښې ترسره شوې، په ائتلاف کې د شامل ډلو قومندانان له طالبانو سره یو ځای شول او د حزب اسلامي مجاهدین د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شول، محمدنبي خان د ارزگان قومندان او حمیدالله خان د زابل قومندان له خپلو مجاهدینو سره چهار آسیاب ته ولاړل.

## د غزني سقوط

د حرکت انقلاب اسلامي قومندان، قاری بابا ترمشری لاندې، د غزني هغو قومندانانو چې د کابل ائتلافي اداري اکمالول او د ائتلاف له لارې د غزني په مرکز مسلط شوی وو، لدې خبرې سره موافق نه وو چې د کابل او طالبانو ترمنځ په گډې جبهې او له یوه بل سره په مرستې او تعاون کار وشي، برعکس پدې ئې ټینگار کولو چې د طالبانو په خلاف دې د جهادي ډلو گډه جبهه جوړه شي، پدې خبرې د دوی ټینگار هلته زیات شو چې طالبانو لدوی نه وغوښتل: باید طالبانو ته تسلیم شي او خپلې وسلې هغوی ته وسپاری. قاری بابا د مأمور عبدالجبار په لاس حزب اسلامي ته داسې احوال ولېږو چې په هغه کې ئې د گډې جبهې د جوړولو او له غزني نه د دفاع په خاطر د حزب اسلامي د ځواکونو د لېږلو هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرګنده کړې وه، د همدې مقصد لپاره کابل ته راغی، له ماسره ئې د لیدو غوښتنه وکړه، خو رباني او مسعود هغه ته اجازه ورنکړه چې چهار آسیاب ته راشي، مجبور شو هیئت راولېږي او له موږ نه وغواړي چې پر غزني باندې د طالبانو د محتمل برید د مخنیوی لپاره کافي شمېر مسلح ځواکونه هغه ولایت ته ولېږو.

غزني ته د قواوو د لېږلو په هکله د حزب په داخل کې د قومندانانو په سطحه او په اجرائیه شورى کې تفصیلي بحثونه وشول، موږ نه غوښتل چې خپل مسلح ځواکونه له کابل نه پرته په بل ځای کې مصروف کړو، که څه هم حزب اسلامي دا توان درلود چه په ډېرو شرقی، جنوبي او جنوب شرقی ولایاتو کې د ائتلافي دولت پلویان خلع سلاح او دا ساحی تصفیه کړي، خو موږ نه د مخالفینو په خلع سلاح او تصفیې باور درلود، نه موجګړه د حل لاره ګڼله، په کابل کې جګړه په موږ تحمیل شوې وه او مجبور وو له ځانه د فاع وکړو، نورو ولایاتو ته د جګړو انتقال مو د ائتلافي ادارې په ګټه ګڼلو، په همدې خاطر مو لدې کارنه ډډه کوله. خو د غزني وضعیت داسي وو چې هلته د ځینو قطعاتو لېږلو ته مجبور شوو، پدې دلائلو:

الف: د غزني قومندانانو له موږ نه د قواوو د لېږلو غوښتنه وکړه ترڅو په ګډه لدې ولایت نه دفاع وکړو.

ب: که غزني پداسي حال کې د طالبانو په ګټه سقوط کړی وی چې د حزب اسلامي او د کابل ائتلافي ادارې ترمنځ کومه روغه جوړه نه وه شوې، حزب ته ګرانه وه چې په دوو جبهو کې له ځان نه دفاع وکړي، مجبور وو له کابل نه لېږي، د طالبانو مخنیوی وکړي او د غزني د سقوط مانع شي.

ج: د وحدت حزب هم دې نتیجې ته رسېدلی وو چې د کابل په لوري د طالبانو مخکې تګ باید په غزني کې متوقف شي، د همدې لپاره ئې یو شمېر قطعات غزني ته ولېږل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غزني ته د حزب اسلامي او حزب وحدت د ځواکونو له رسېدو وروسته، د غزني هغه قومندانان چې له کابل نه اکمالېدل له خپلو ژمنو نه په شا شول او د رباني او مسعود په وینا له طالبانو سره ملګري شول او د دوی په ملګرتیا ئې زموږ په ضد جګړه پیل کړه، د جګړو په لومړیو ورځو کې ئې د خپل اټکل خلاف یو شمېر مهم مراکز له لاسه ورکړل، د یونټ په نامه د روسي قواوو مهم مرکز ئې هم له لاسه ووت، د ټول ولایت د فتح کېدو احتمال لحظه په لحظه راڅرګندېدو، که پاتې نقاط هم نیول شوي وی نو د طالبانو راتلونکې حملې په وړاندې له ولایت نه د دفاع کار آسانه کېدو، خو دځینو خاصو عواملو په وجه دا کار ونشو او زموږ ځواکونه دې ته اړ شول چې له غزني نه په شا شي، هغه عوامل دا دي:

- د کابل ائتلافي اداري زموږ سنګرونه د طالبانو په ګټه تر شدید بمبارد لاندې ونیول.
- پداسې شرائطو کې ئې دا کاروکړ چې له حزب اسلامي سره ئې مذاکرات پیل کړي وو، د روغې جوړې طرحه د وروستۍ موافقې او امضاء لپاره تیاره شوې وه، د دواړو خواوو پلاوی د معاهدې د امضاء لپاره په جلال آباد کې راغونډ شوي وو، موږ ته ئې له جلال آباد او کابل نه مسلسل اطمئنان راکولو چې:

  الف: موږ لدې معاهدې سره موافق یو او هغه امضاء کوو.

ب: له طالبانو سره د مقابلې په دوران کې به هیڅلکه ستاسو په خلاف کوم حرکت ونکړو، (این نامردی را نخواهیم کرد!!) دا نامردی هیڅلکه نه کوو !!

- طالبانو زیات شمېر تازه نفس قوتونه غزني ته راولېږل او د دولتي قومندانانو په څنګ کې ئې په جګړې لاس پوري کړ.
- زموږ مجاهدین په منطقې کې نابلده وو، د ځای په ځای کېدو او د مناسبو دفاعی تدابیرو نیولو فرصت ئې نه وو ترلاسه کړي.
- د ژمي سخته یخني وه، واوری ورېدلی، د اوسېدو ځایونه مونه درلودل، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



سروازو مورچلو کې دوامداره دفاع ګرانه وه.

د غزني له سقوط او دلوګر او میدانشهر په لوري د حزب د ځواکونو له په شا کېدو نه وروسته مور دوه بدیله په مخکې درلودل:

۱- یا باید لدې دواړو خواوو (طالبانو او کابل ادارې) له یوې سره توافق ته ورسېږو، پداسي حال کې چې یوه هم داسي کوم معقول توافق ته چمتو نه برېښېده چې جګړه د تل لپاره پای ته ورسوی. له طالبانوسره توافق ممکن نه وو، دوی د حزب په خلاف صحنې ته راایستلی شوي وو، داسي ګمان ئې کولو چې له حزب سره د توافق په نتیجه کې بهرنۍ مرستې ورباندې قطع کېږي. د کابل ائتلافي ادارې منافقانه تګلاره غوره کړې وه، له یوې خوا ئې مخامخ له طالبانو سره تماس وو او د دوی مرسته ئې کوله، له بلې خوا امریکائیانو د دوی دواړو ترمنځ وساطت کاوو، امریکائیانو دوی ته اطمئنان ورکړی وو چې پرېږدی طالبان ستاسو اصلي حریف (حزب اسلامي) وټکوي، د جنوب تصفیه ستاسو په ګټه ده، چې کله طالبان کابل ته ورسېږي، مور منځګړیتوب کوو او ستاسو ترمنځ د معقول توافق شرائط برابروو. له بلې خوا ئې له حزب اسلامي سره خبرې آترې پیل کړې وې او داسي ئې ښودله چې د روغې جوړې او د طالبانو په خلاف د ګډې جبهې جوړولو غوښتونکی دی.

۲- یا دا چې په دوو جبهو کې د جګړې په ځای، مؤقتاً د جګړې له میدان نه په شا شي، پرېږدی چې طالبان او د کابل اداره له یوه بل سره مخامخ شي، دا مخامخ کېدل به یا د دوی ترمنځ شته یووالی او تنسیق ختموی او یا لږ تر لږه د دوی خپل منځی تفاهم ټولو ته بربنډوی.

وضعیت داسي وو چې د حزب غړې ئې د دوهم بدیل انتخاب ته اړ کول او دا احساس ئې پدوی کې راولاړولو چې په دوو جبهو کې جنګېدل هم ورته ګران دی او هم بې فایدې، ولې باید د طالبانو مخه ونیسي او پدې کار سره له کابل نه دفاع وکړي، پداسي حال کې چې د کابل واکداران عملاً له حزب اسلامي سره جنګېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د طالبانو مرسته کوي؟! دا احساس پدې منتج شو چې د غزني له سقوط نه وروسته وردګ او میدانشهر هم سقوط وکړي که څه هم د دې ولایت په ډېرو برخو مخصوصاً د میدانشهر په شا او خوا کې سختې جګړې او کلك مقاومت وشو.

د طالبانو د حرکت له ماهیت او د راخوټېدو له اصلي لاملونو نه بې خبره کسانو دا ګمان کولو چې د میدانشهر له سقوط نه وروسته به طالب جګړه ماران حتماً د کابل له ادارې سره ونښلي او له همدې لارې به د مرکز په لوري د مخکې تګ هڅه وکړي، دا ئې هیڅکله په خیال کې نه ګرځېده چې د طالبانو جنګیالی به د کابل پولو ته له رسېدو وروسته پداسې حال کې چې د پلازمینې له مرکز نه یوازې ۲۰ کیلومتره لېرې وو، پدې پاخه سرك مخکې تګ متوقف کړي، له حزب اسلامې سره نورو جګړو لپاره دې پنځوس کیلومتره په شا راشي او له سیسی نه دې د لوګر په لوري وخوځېږي !! دوی ته دا کار نه مفید برېښېدو او نه معقول. دوی نه پوهېدل چې د طالبانو ډله په اصل کې د حزب اسلامې په خلاف جوړه شوې، لومړنی مأموریت ئې دا دی چې له حزب سره به جنګېږي او جنوب به له هغو ځواکونو نه تصفیه کوي چې پدې سیمې کې د واشنګټن د طرحو او پلانونو په وړاندې خنډ دی. بی بی سي او امریکا غږ مسلسل او له مخکې نه دا انګېرنه کوله چې طالبان به لدې لارې مخکې نه ځی او د کابل له ادارې سره به نښته نکوي، بلکې د لوګر په لوري به خوځېږي او د حزب اسلامې په خلاف به بله لویه حمله ترسره کوي. ځینو دا تبصرې هسې انګېرنې ګڼلې خو په حقیقت کې لدې لارې دوی ته لارښودنه کېده. دا انګېرنه ( په حقیقت کې لارښوونه) عملي شوه.

ځینې بیا داسې ګمان کوي چې دا څرخېدل او د استقامت بدلول د دې لپاره ترسره شول چې مسعود په یوه هلیکوپټر کې له دوه دریو انضباطانو سره د طالبانو استقبال ته میدانشهر ته ورغی، د ملا وسله ئې د طالبانو په وړاندې په ځمکه کېښوده او وئی‌ویل: زه تسلیم یم، کابل ستاسو دی، په کومه ورځ چې د کابل جنوب تصفیه کړې او د مزاری او اهل تشیع مشکل حل کړې او کابل د شیعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګانو له خطر نه وژغوري، کابل تاسوته تسليموم!! ګواکې طالب چارواکي د مسعود پدې خبرو وغولېدل، د کابل په لوري له مخکې تګ نه منصرف شول، لومړی د غرب په لوري پنځوس کيلومتره په شا شول او له هغه ځايه د لوګر په لوري وخوځېدل. ساده زړی خلك همدا د طالبانو د نوموړی حيرتناك څرخېدو لامل ګڼي خو حقيقت بل څه وو، بي بي سي او امريکا غږ ترې خبر وو او د همدې لپاره ئې په ډېر ډاډ او قاطعيت سره ويل چې لوګر ته به د حزب اسلامي په مرکزونو د حملې لپاره خوځېږي !!

طالب جګړه ماران له ميدانشهر نه د لوګر په لوري وخوځېدل، څو ځايه په شيخ آباد او سيسی کې ناڅاپي ترحملې لاندې راغلل، له سختو نښتو سره مخامخ شول، وضعيت ئې ډېر پرېشانه شو، خو پدې وتوانېدل چې له پرېشانه حالت نه ځان وباسي او خواره شوي ځواکونه بېرته راغونډ کړي او په سيسی کې د مؤقت ځنډ او توقف نه وروسته، لومړی د دولتي قومندانانو په مرسته ځيني کسان په پټه د برکي برك په حساسو ځايونو کې مستقر کړي او وروسته خپل قطعات په هغه لوري وخوځوی، بي بي سي عمداً او زموږ د مجاهدينو د روحيې د تضعيف لپاره په دروا غو دا خبر خپور کړ چې د لوګر مرکز، پل علم، د طالبانو په لاس کې پرېبووت، پداسې حال کې چې طالبان له پل علم نه ډېر لېرې او د برکي برك په ولسوالی کې له سختو نښتو سره مخامخ وو او هلته جګړه په ډېر شدت سره روانه وه، دوه ورځې وروسته ئې دا خبر تکذيب کړ او د خپل خبريال له خولې ئې وويل چې په برکي برك کې سخته جګړه روانه ده، د لوګر ولايت د حزب اسلامي په لاس کې دی، د حزب بيرغونه په ټول ولايت کې رپېږي او د حزب غړي ئې ليدلی چې توپکونه ئې دېوال ته تکيه کړي او په خپلو منځونو کې په خبرو بوخت وو. کابل راډيو د لوګر د نښتو او جګړو په هکله ويل: د جمعيت، اتحاد ، حرکت انقلاب اسلامي او په دولت کې د شامل ډلو قومندانان له طالبانو سره يو ځای او اوږه په اوږه د حزب اسلامي په خلاف جنګېږي او د حزب اسلامي قطارونو ته ځای په ځای کې کمينونه نيسي او يو په بل پسې بريدونه کوي. دولتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومندانان ئې دې ته هڅول چې په ټول توان طاقت د طالبانو مرسته وکړي، خاد ځینو حرفه ئې داړه مارانو ته وظیفه ورکړې وه چې د جګړو په جریان کې د شپې لخوا، پداسي موټرو ډزې وکړي چې یوازې او له خاص امنیتي تدابیرو نه پرته درومي. یوازې په یوې نقطې کې پدې کار وتوانېدل، د شهید عالم زیب په موټر ئې د بابوس په دشتي کې دشپې په تیاره کې ډزې وکړې، په بریدکې هغه په شهادت ورسېدو او موټر ئې وسوځېدو، شهید عالم زیب د لومړي خط لیدو لپاره هلته تللی وو او یوازې بېرته راستو ن شوی وو.

زموږ پرېکړه دا وه چې که د برکي برك خط مات شو، د کابل اداري له طالبانو سره مرستوته ادامه ورکړه او د جلال آباد مذاکرات بې نتیجې پاتې او تیار شوي اسناد امضاء نشول، باید چهارآسیاب تخلیه کړو او سروبی ته کوز شو.

سروبی ته له تلو د مخه مو په جلال آباد کې د حزب پلاوی ته وویل چې باید معاهده امضاء شي که نه نو مذاکرات قطع کړي. مقابل طرف منافقت کولو، په معاهدې امضاء ته نه وو تیار، د طالبانو مزید مخکې تګ ته په طمع وو.

د وحدت حزب پدې ټینګار کولو چې حزب اسلامي او جنبش دې خپل مراکز د کابل لوېدیځ، د وحدت حزب تر سلطې لاندې سیمې ته ولېږدوي. ائتلافیونو له هغوی سره هم منافقت کولو، حزب وحدت ته ئې د یوه هیئت په ذریعه اطمئنان ورکړي وو چې نه غواړي د طالبانو د حملې په صورت کې پدوی برید وکړي، برعکس د طالبانو په خلاف د ګډې جبهې غوښتونکی دی. پداسي حال کې چې دوی له طالبانو سره د حزب اسلامي او حزب وحدت په ضد د ګډو عملیاتو پرېکړه کړې وه.

د حزب وحدت مشر، ښاغلی مزاری ته مي وویل: د کابل په لوېدیځ کې دفاع ګرانه ده، له دواړو خواوو تر برید لاندې راځو، محاصره کېږو، د اکمالاتو لاري مو بندېږي، ائتلاف او طالبان به په یوه وخت له دوو خواوو په موږ حمله کوي، باید په لوګر کې دفاع وکړو او کافي شمېر قوتونه هلته ولېږو. خو هغه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوګرته د ځواکونو له لېږلو سره موافقه وکړه او نه د کابل له غرب نه وتلو سره.

د دوستم جنبش، د طالبانو له جنبش سره د پاکستانيانو له لاري تفاهمات درلودل، د طالب ضد جګړو کي ئې له برخي اخستلو نه ډډه کوله، د دې په ځای چي لوګر ته ځوك ولېږي، د کابل له جنوب نه د حزب وحدت لوري ته کده شو، د حزب په خلاف د طالبانو د جګړو له پيل نه د جنبش دريځ داسي وو چي هر چا دا انګېرله چي پاکستانيانو او امريکائيانو دا دواړه جنبشونه په خپلو کي سره جوړ کړي.

ددغو ټولو عواملو په وجه حزب اسلامي دې ته اړ شو چي د برکي د خط له ماتېدو وروسته په ۲۵/ ۱۱/ ۱۳۷۲ د روژې په اولسمه، د شپې لخوا د کابل له جنوب نه خپل ځواکونه وباسي او په سروبی کي مستقر شي.

د سروبی په لوري د حرکت په دوران کي د کابل طيارو زمونږ په قطار باندي يو په بل پسې بمونه وورول او په څو نقطو کي ئې خوشه ئې بمونه واچول او د تګاب له استقامت نه ئې په سروبی باندي بريد وکړ چي په شا وتمبېدو.

د هغې شپې په سبا د ۱۰ـ ۱۱ بجو شا اوخوا کي دولتيان چهارآسياب ته ننوتل او دا خبر ئې هري خواته مخابره کړ چي د حزب اسلامي مرکز د دوی په لاس فتح شو، دا فتحه ئې د خپلي توري نښه او د ځان لويه سوبه او بريا وګڼله او هرچا ته ئې د هغې زيری ورکړ او د کابل په ښار او خپلو نورو مراکز و کي ئې د بې شمېره ډزو په ترڅ کي دا فتحه ولمانځله. خو لمانځنه لا نه وه تکميل شوې، د دوی د خوشحالی شېبې لانوی پوره شوې چي ناڅاپي د طالبانو څو (پك اپی) له څو (زی ـ يو) سره چهارآسياب ته راورسېدی او سمدلاسه ئې د دوی په خلع سلاح کولو پيل وکړ او ټول ئې له چهارآسياب نه وايستل او ورپسې د چهار آسياب د سقوط خبر خپور شو، دا خبر د ائتلافيونو په بې ځايه ځوږ او ځوښ او بې مورده مستي باندي د سړو اوبو توئېدو په څېر وو او دا تشويش ئې پدوی کي راولاړ کړ چي ښايي په کومي لومي کي ننښتی، مبادا د حزب اسلامي غيرمترقبه او ناڅاپي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شاتګ د دې لپاره ترسره شوي وي چې د ائتلافي ادارې او د دوی د نوي دوست (جنبش خود جوش طالبان) ترمنځ موجود بیوالی او تنسیق ختم کړي او په خپلو منځونو کي ئې په جګړه بوخت کړي، خو حقیقت داسي نه وو، بلکي دوی په خپلي لومي کي نښتی وو، په خپله د هغې کندي په لور د شپې په تیاره کي روان وو چي د بل لپاره ئې کیندلی وه. له چهارآسیاب نه د ائتلافیونو سریع وتلو په نتیجه کي د طالبانو او دوی ترمنځ جګړه وځنډېده.

ائتلافیونو د هغې پرېکړي سره سم چي له طالبانو سره ئې په میدانشهر کي کړې وه، د کابل په غرب باندي پراخ او وحشتناك عملیات پیل کړل. د دې عملیاتو حدت او شدت هومره وو چي د کابل مظلومو اوسېدونکو دې ته ورته عملیات هیڅکله (حتی د روسانو او کمونستانو لخوا) نه وو لیدلی. په زرهاوو ټُنه بم او باروت ئې د کابل د غرب په ګڼ مېشته سیمو باندي وورول، په سلهاوو کورونه ئې وران کړل، په زرهاوو بې وزله او بې وسلې کسان ئې په خپلو وینو کي لت پت کړل، خو لدې سره سره د دوی ټول بریدونه په شا وتمبولی شول، نه یوازي دا چي د کومي سیمي په نیولو بریالی نشول بلکي ښه ډېر سنګرونه ئې له لاسه ورکړل. انسان نه پوهېږي په کومو الفاظو دا رذالت او دنائت، دوه مخي او منافقت او بیرحمي او قساوت تعبیرکړي. که د وحدت په حزب باندي له دوارو خواوو برید نه وی شوي، ائتلافیون هیڅکله پدې نتوانېدل چي د دوی سیمي ونیسي او له دهمزنګ نه مخکي ولاړ شي.

طالبانو له حزب وحدت نه وغوښتل چي دوي ته لار ورکړي، هغوی بله چاره نه درلوده، له طالبانو سره توافق ته ورسېدل، طالبانو غوښتل چي د ریشخور او چهل ستون له لاري د دهمزنګ په استقامت مخکي ولاړ شي، د وحدت حزب دا خبره ومنله، طالبان د دهمزنګ په لوري وخوځېدل، د دولتیانو پوستې د خاص مقاومت نه پرته یوه په بل پسې د دوی په لاس کي پرېوتې. طالبان چي پدې وړیا بریاوو مست شوی وو په پوره بې باکۍ او بې پروائۍ مخکي تلل، ناڅاپي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورمې کارتې کې له هغې معاهدې نه د تخلف په وجه چې د وحدت له حزب سره ئې کړې وه، نښته وشوه، چې لمن ئې په ډېره چټکتیا هرې خواته خوره شوه او ټوله سیمه ئې ونیوله. په طالبانو له هرې خوا او له هرې درې، دروازې او دېوا نه ډزې پیل شوې، ډېره مرګ ژوبله ورواوښته، زیات شمېر ئې اسیر شول، پاتې کسان ئې له منطقې نه ووتل، دا د طالبانو لومړی ستره ماتې وه. لدې خونړۍ پېښې نه وروسته یو ځل بیا د طالبانو او د وحدت حزب ترمنځ خبرې آترې پیل شوې، هیئتونه تبادله شول، د مذاکراتو په یوه پړاوکې مزاری د یوه لوړ رتبه هیئت سره چهارآسیاب ته ولاړ، معلومه نده چې هغه په کوم اطمئنان او په څه دلیل دا کار وکړ؟ ولې له منطقې نه ونه ووت؟ ولې کابل ته نه ولاړ؟ آیا دائی انګېرله چې په طالب اعتماد کېدی شي خو د کابل په ادارې نه؟ د دې پرېکړې لامل چې هرڅه وو هغه په ۱۳۷۳ /۱۲/۲۱ د طالبانو سره د مذاکراتو لپاره چهارآسیاب ته ولاړ او د طالبانو له خوا په ډېره بې مروتي او نامردی ونیولی شو او له خپلو ملګرو سره یوځای د هلیکوپټر په ذریعه د کندهار په لوري وخوځولی شو. لدوی سره د طالبانو درې کسه، دوه مسلح او یو غیر مسلح انضباط هم ولېږلی شو، چې کله هلیکوپټر د غزني ښار ته نزدی شو، د مزاری کسانو پداسې حال کې چې لاسونه ئې تړل شوي وو په مسلح انضباطانو ناڅاپي یرغل وکړ، لدوی نه ئې وسلې واخیستې، پیلوټان ئې تهدیدکړل چې همالته په یوې دشتې کې کوز شي، هلیکوپټر په ځمکه کېښناست او دوی د خواجه عمری په لوري حرکت وکړ، ناڅاپي د طالبانو یوه ډله د پك اپ په سورلی له هغه سیمې تېرېده، په هلیکوپټر ئې سترګې ولګېدی، راتاو شول، مړی ئې ولیدل، له هلیکوپټر نه لېرې څوك په نظر ورغی، ورغلل او له هغه نه ئې د پېښې په هکله پوښتنه وکړه، هغه ورته وویل: دلته هلیکوپټر کوزه شوه، ډزې وشوې او سورلی ئې پدې لوري وخوځېدل، هاغه دي روان دي، پسې ورغلل، ډزې تبادله شوې، ځیني په قتل ورسېدل چې مزاری هم پدې ډله کې وو، ځیني ژوندي په لاس ورغلل چې هغوی ئې وروسته ووژل، د مزاری له نیول کېدو او بیا وژل کېدو نه وروسته د حزب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحدت د جنګيالو روحيه مړاوې شوه، د ائتلاف ځواکونو د دوی په سيمې له دريو خواوو لوی بريد پيل کړ، سيمه ئې ونيوله، د بريد په ترڅ کې او د سيمې له نيولو نه وروسته ئې بې شمېره کسان په خپلو وينو کې ورغړول، په هيڅ ئې رحم ونکړ، د دې منطقې په مظلوموکسانو ئې هومره ظلمونه کړي چې په اورېدو ئې د انسان ويښتان نيغ شي.

## د چهارآسياب مجدد سقوط

له يوې خوا د کابل په غرب کې د طالبانو لومړی لويه ماته او بې شمېره تلفات، د دوی روحيه مړاوی کړه له بله پلوه د ائتلافيونو برياوو او د کابل په غرب تسلط د دوی مورال اوچت کړ او مستي ئې زياته کړه او د طالبانو په خلاف ئې بريد ته ذهناً چمتو کړل، شرائط د دوی په ګټه وو، په طالبانو ئې له دريو خواوو د ځمکني او هوايي بريد فيصله وکړه، په ۱۳۷۳/۱۲/۲۸ حمله پيل شوه، طالبان د مقاومت په دريغ کې نه وو، د لنډ مقاومت نه وروسته لوګرته په شا شول، له ټول چهارآسياب، موسيي او د سقاوی له دشتي نه ووتل، که د ائتلاف په ځواکونوکې د مخکې تګ توان وی نو طالبان په لوګر کې هم نشو تم کېدی، خو جګړه متوقف شوه او طالبانو ته فرصت په لاس ورغی چې د سفيد سنګ په تنګي کې دفاعی خط جوړکړي، لدې ماتې نه د طالبانو اعتبار ته سخته صدمه ورسېده، په ټول جنوب او جنوب غرب کې دا ذهنيت راولاړ شو چې طالبان د ائتلافي ادارې د مقابلې توان نلري، دا حزب وو چې د دوی مخې ته ودرېدلی وو او څو کاله ئې د دوی د حملو په وړاندې مقاومت وکړ. د دې ماتو څو طبيعي نتائج وو:

۱ـ د پښتنو په سيموکې د طالبانو پلويانو له هغوی نه دا غوښتنه پيل کړه چې بايد له حزب اسلامي سره روغه جوړه او د ائتلاف په خلاف ګډه جبهه جوړه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ تورن اسمعیل ئې دې ته وهڅولو چې د طالبانو په خلاف له هغه استقامت نه عملیات پیل کړي.

۳ـ د طالبانو بهرني حامیان ئې دې ته متوجه کړل چې طالبان په یوازې سر د ائتلاف په وړاندې مقاومت نشي کولی باید لدوی سره د نورو ځواکونو د یو ځای کولو هڅه وشي.

امریکائیانو د ترکیې او ازبکستان له لارې او پاکستان مخامخ په جنرال دوستم کار وکړ او هغه ئې دې ته تیار کړ چې له طالبانو سره مرسته وکړي. د دوی ترمنځ د پاکستانیانو په وساطت خبرې پیل شوې، طالبانو او د دوی پاکستاني ملګرو غوښتل چې خبرې آترې یوازې له جنبش سره وي له نورو سره ئې د توافق امکانات ضعیف ګڼل، خو جنرال دوستم د دوی دواړو ائتلاف کافي نه ګڼلو او پدې ئې ټینګار کولو چې حزب اسلامي او حزب وحدت هم پدې مذاکراتو کې شرکت وکړي او همدا څلور ځواکونه دې ګډه جبهه جوړه کړي. پدې مرحلې کې څو مهمې پېښې رامنځ ته شوې:

الف: د ائتلاف ځواکونو له سروبی نه پرته د کابل ټولې سیمې تصرف کړې، دې فتوحاتو سخت مغرور کړي وو، د سروبی د نیولو لپاره ئې هڅې پیل کړې، ټول توان طاقت ئې دې طرف ته متوجه کړ، ګڼ شمېر حملې ئې وکړې، خو ټولې حملې ئې په شا وتمبېدې، د جلال آباد په قومندانانو ئې کار وکړ، ډېرې پیسې ئې ورکړې. حاجی قدیر ئې دې ته چمتو کړ چې د حزب اسلامي په خلاف اقدام وکړي، په یوې مرحلې کې ئې د جلال آباد له لارې د حزب اسلامي د مجاهدینو د تلو راتلو په وړاندې خنډونه راولاړ کړل، خو د دې کار ادامه او په ډاګه د ائتلاف په څنګ کې د حزب په خلاف ودرېدل ئې ځانته ګټور ونه ګڼل، همدا راز ائتلاف، له حزب نه وتلی ځیني کسان دې ته وهڅول چې د دولت نه د دفاع په خاطر قومي قطعات جوړکړي، د حزب په لیکو کې په ضعیف النفسه قومندانانو کار وکړي ترڅو سروبی، تګاب او لغمان دوی ته تسلیم کړي. دې کسانو ته ډېرې پیسې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وسلې ورکړې شوې خو په څه کولو ونتوانېدل. د سروبی د نیولو هڅې که څه هم د ائتلافي ادارې یوه اړتیا او مجبوریت وو، دوی ګمان کولو چې اصلي حریف ئې حزب دی که حزب له صحنې ووځي د طالبانو چاره په آساني سره کولی شي، خو دې کار له یوې خوا طالبانو ته فرصت ورکړ چې ځان ښېرته جوړکړي، له بلې خوا ئې په ټولو پښتنو کې جذبات راوپارول او هغوی ئې د ائتلافي خواکونو د خطرناك مخکې تګ عواقبو ته متوجه کړل او دفاع ته ئې وهڅول.

ب: د هرات ځواکونو د طالبانو په خلاف خپل عملیات تشدید کړل، لومړی خط ئې مات کړ، د فراه او نیمروز ولایتونه ئې ونیول، د لشکرګاه په لوري وخوځېدل، طالبانو لشکرګاه تخلیه کړه، د طالب چارواکو وضعیت ډېر خراب وو. ماته د طالبانو د مرکزي شوری یوه غړي قصه کوله چې: ډېر بد حالت وو، د شوری اکثر غړي دې نتیجې ته رسېدلی وو چې مقاومت ممکن ندی، باید له حزب اسلامي سره خبره وکړو او له هغوی نه وغواړو چې راوړاندې شي او د دښمن مخه ونیسي، اکثرو خپلې بسترې ټولولی او د تیښتې په لټه کې وو، خو څو داسې کارونه وشول چې قطعی او حتمي ماته ئې په بریا او فتحی بدله کړه:

لومړی: د جنبش طیارو د تورن اسمعیل په ځواکونو سخته بمباري پیل کړه او د بادغیس له لوري ئې ځمکني بریدونه شروع کړل.

دوهم: د تورن اسمعیل په ځواکونو کې د هراتیانو، فراری کندهاریانو او هلمندیانو ترمنځ شخړه راولاړه شوه، په یوه بل بې اعتماده شول.

دریم: طالب چارواکو قومي مشران او سابقه قومندانان او عام خلك راغونډ کړل او هغوی ته ئې وویل: که دفاع ونکړي سر، مال او ناموس مو په خطر کې دي، یوازې ملایان نه بلکه هیڅوك به خوندي پاتې نشي، د قومونو احساسات راوپارېدل، دفاع ته چمتو شول.

د تورن اسمعیل په ځواکونو ځمکنۍ حمله پیل شوه، د جنبش هوایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بريدونو د دوی مرسته کوله، لومړی خط مات شو، په تعرضي ګروپونو کې بې نظمي خوره شوه، ټول په تيښته شول، په غربي ولاياتو کې د تورن اسمعيل هغو مخالفانو چې دی ورسره تل او څو څو ځله جنګېدلی وو، د طالبانو ملګرتيا وکړه، ځای په ځای ئې د تورن اسمعيل په قطعاتو حملې پيل کړې، پدوی کې ډېره مرګ ژوبله وشوه، تورن اسمعيل د لومړي خط شاته دفاعی تدابير نه وو نيولی، ډاډه وو چې سبا بله ورځ به هرومرو کندهار ته ننوځي او د لوی کندهار د فاتح لقب به ګټي. پدې طمع وو چې طالبان د ده په وړاندې مقاومت نشي کولی، په لنډو ورځوکې به د کندهار دفتحې جشن لمانځي او د ده په غاړه کې به د ګلانو هارونه اچول کېږي!! د همدې لپاره د ده خواره واره قطعات په لومړی خط کې له ماتې نه وروسته په هيڅ ځای کې تم نشول، له فراه، شينډنډ او بالآخره له هرات نه پداسې حالت کې د اسلام قلعه له لارې مشهد ته ووتل چې طالبان لا هرات ته نه وو رارسېدلی.

شينډنډ او هرات د طالبانو په لاس کې پرېوتل، په بادغيس او غورکې هم د دوی بيرغونه اوچت شول. د دې سيمې قومندانانو له تورن اسمعيل نه ډېره بده خاطره درلوده، څو څوځله ئې د دوی په سيمو لويې حملې کړې وې، داسې ورځې ته سترګې په لاره وو.

د دې سوبې په نتيجه کې پنځه ولايتونه، د تورغندۍ او اسلام قلعه دوه ستر بندرونه، له ايران او ترکمنستان سره ټول سرحدات د شينډنډ او هرات هوايي ډګرونه، ډېرې پيسې او کافي وسايل، طالبانو ته په لاس ورغلل.

ج: د څلورو خواوو (حزب اسلامي، د وحدت حزب، جنبش ملي او طالبان) ترمنځ په اسلام آباد کې د پاکستانيانو په وساطت، مخامخ مذاکرات پيل شول. سعودی او امريکا هم د دې مذاکراتو ملاتړ کولو، د سعودی سفير مذاکره کوونکو استاځو ته مېلمستيا ورکړه او هغوی ته ئې وويل: که تاسو په کوم حکومت توافق وکړ، موږ ئې په رسميت پېژنو!! امريکائيانو هم دې ته ورته اشاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



کولی. په مذاکراتو کې د بحث محورونه دا وو:

- ګډ عملیات.
- د ګډ حکومت ترکیب.

طالبانو په لومړي سر کې یوازې په ګډو عملیاتو ترکیز کولو او ویل ئې چې د کابل له نیولو نه وروسته به د حکومت په هکله خبره کوو، خو دنورو خواوو د ټینګار په نتیجه کې د حکومت په سر خبرو ته تیار شول. پاکستانیانو په څو خبرو ټینګار کولو:

الف: ګډ عملیات، خو داسې چې د حزب اسلامي ځواکونه به د کابل په لوري نه، بلکې د تګاب په لوري عملیات کوي!!

ب: په حکومت کې د دفاع وزارت باید جنرال دوستم ته وسپارلی شي.

ج: د مشرقي قوتونه به پدې عملیاتو کې برخه اخلي، حاجی قدیر لدوی سره پدې هکله ژمنه کړې وه.

د حکومت او د وزارتونو د وېش په هکله توافق وشو، نیمایي وزارتونه د جمهوري ریاست په شمول طالبانو ته او پاتې د دفاع وزارت په شمول نورو ته ورکړي شول. پاکستانیانو هڅه کوله چې د دفاع وزارت دوستم ته ورکړي شي.

د مذاکراتو او توافق خبر، په ناڅاپي او غیر رسمي توګه، ورځپاڼو ته ورسېدو، سبا ته وربانديٍ تبصرې وشوې، د طالبانو رسمي نطاق دا خبر تکذیب کړ او وئی ویل: موږ نه له چا سره مذاکرات کړي او نه کوم توافق !!

د طالبانو دې درواغجن تکذیب مشوش کړو، د دوی له هیئت او د دوی له پاکستاني انډیوالانو نه مو پدې هکله پوښتنه وکړه، د دوی ځواب مزید مشوش کړو، دوی ته مو وویل: که غواړئ پدې معاهدې عمل وشي، باید هغه رسماً اعلان شي، خو طالبان او د دوی انډیوالان له اعلان سره موافق نه وو او پدې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټينګار کولو چې له اعلان نه پرته دې ګډ عمليات پيل شي. خو داسې چې د حزب اسلامي ځواکونه به کابل ته د ننوتلو نه ډډه کوي، د کابل ښار به يوازې طالبانو ته پرېښودل کېږي!! موږ به د تګاب په استقامت عمليات کوو!! د دې خبرو مقصد واضح وو، دې نتيجې ته ورسېدو چې په دغو مذاکراتو کې اخلاص او صداقت نشته، طالبان ولس ته دروا غ وايي او له موږ سره ټګي کوي.

ايراني ډيپلوماتانو دا انکشافات څارل، د دې معاهدې عواقب ورته خطرناک برېښېدل، د ائتلافي ادارې پرېشانه وضعيت ورته داسې معلومېدو چې يوازې د طالبانو مقابله نشيکولی، د يوې ګډې جبهې مقابله خو آخواته پرېږده. د حزب له ځينو کسانو سره ئې تماس ونيولو، يو کس ئې تهران ته وبللو، د کابل استاځي ئې هم تهران ته وغوښت، دوی ئې په ډېره بيړه او عجله سره کښېنول، د تفاهم يو قرارداد ئې پدوی امضاء کړ او همدا خبره ئې ورځپاڼو او راډيوګانو ته وايستله.

ځيني کسان داسې ګمان کوي چې پدې کار سره د اسلام آباد مذاکرات مختل شول او له طالبانو سره خبري آترې په حساس پړاو کې په ټپه ودرېدې، حال دا چې د اسلام آباد مذاکرات د طالبانو د درواغجنو څرګندونو او د بې نظيربوټو حکومت د چارواکو د غلط سياست په وجه لادمخه مختل شوی وو، موږ د تهران له اعلان نه وروسته هم طالبانو ته وويل: که په خپلو ژمنو او تعهداتو ودرېږئ او د معاهدې اعلان ته تيار وئ، موږ تيار يو، زموږ له لوري هيڅ مانع او اشکال نشته، خو هغوی دې ته تيار نشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له رباني او مسعود سره مذاکرات

د کابل اداره له بدی ورځي سره مخامخ وه، له هره اړخه ئې وضعیت خراب او پرېشانه وو، په سالنګ کي له جنبش سره، په بامیان کي د وحدت له حزب سره، د کابل په جنوب او لوېدیځ کي له طالبانو سره او په ماهیپر او لته بند کي له حزب اسلامي سره په جګړو بوخت وه. په جنوب شرق، غرب او شمال غرب کي ئې جرړی وتلی وې، له چهارآسیاب نه هم د یوې ناڅاپي حملې په نتیجه کي په شا شوي وو، د جمعیت او شورای نظار ترمنځ اختلافات انتهاء ته رسېدلی وو، نه یوازي د رباني د پلویانو په لیکو کي د مسعود په خلاف سخته کرکه او شدید نفرت لیدل کېدو، بلکي د شورای نظار په منځ کي هم د ده په ضد مخالفتونه په زیاتېدو وو، ډېرو دی د بې مقصده او بې نتیجې جګړو د دوام عامل او د ټولو ماتو باعث ګڼلو، د ده له خام او ماشومانه سیاستونو نه ستړی شوي وو. د کابل په ښار کي د امنیت چاری او د جګړو سوق او اداره د فهیم په لاس کي وه، د کابل اصلي واکمن دی وو چي له مسعود نه بېل شوی او له رباني سره ملګری شوی وو. داکتر عبدالرحمن د شورای نظار معاون هم د رباني خواته تللی وو. له مسعود سره د دوی د اختلاف یوه مسئله دا وه چي دوی له حزب اسلامي سره د تفاهم او روغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړي غوښتونکي وو، مخصوصاً د طالبانو د زیاتېدونکي فشار نه وروسته، خو مسعود لدې نه وېره درلوده چې د حزب اسلامي ځواکونه کابل ته داخل شي، دا کار ئې د ځان لپاره په هغه متزلزل موقعیت کي خطرناك ګڼلو، ګمان ئې دا وو چې پدې سره له یوې خوا د کابل په منځ کي د ده په خلاف جوړه شوې جبهه تقویه کېږي، له بلې خوا حزب اسلامي ته د مؤثر او رغنده رول ادا کولو فرصت په لاس ورځي. خو د ده له مخالفت سره سره رباني او د ده ملګرو او د رباني د دولت عالی شوری دا پرېکړه وکړه چې د ایرانیانو په وساطت له حزب اسلامي سره روغه جوړه وکړي او یوه توافق ته ورسېږي.

د هیئتونو تګ راتګ پیل شو، زه په سپیني شګي کي اوسېدم، له هغه ځایه جلال آباد ته ولاړم او هلته مستقر شوم، مذاکرات داسي پړاو ته ورسېدل چې باید د حزب اسلامي له خوا وروستۍ پرېکړه شوې وی، د مرکزي شوری موجود غړي مو د اهل الرأی په شمول د بحث لپاره راغونډ کړل، درې ورځي طولاني غونډه وه، تفصیلي بحثونه وشول، د هېواد حالات، د جګړو وضعیت، بهرنۍ مداخلې، د متحاربو ډلو ماهیت، اهداف او بهرنۍ اړیکي ئې په تفصیل سره وڅېړل شوې، په پای کي له ورونو نه وغوښتل شول چې له لاندي وړاندیزونو نه یو غوره کړي او له هغه نه د ملاتړ په خاطر خپل لاسونه اوچت کړي:

- له طالبانو سره توافق.
- له جمعیت او ملګرو سره ئې موافقه.
- بی طرفی او مناسب فرصت ته انتظار.

د غونډې ټولو غړو د رأیو په اتفاق سره دا پرېکړه وکړه چې له جمعیت سره په څو خبرو توافق وشي:

الف: مؤقت حکومت.

ب: ملي اردو جوړول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: انتخابات.

د غونډې ټول غړي دې نتیجې ته رسېدلی وو چې له طالبانو سره نه پدغو اساسي او ضروري ټکو توافق ممکن دی او نه په کومې بلې معقولې طرحې، د همدې لپاره په ټولې غونډې کې هیچا له طالبانو سره د مذاکراتو پلوي ونکړه. د حزب اسلامي په خلاف د طالبانو مسلسل جګړو، د دوی خصمانه سیاستونو، له مذاکراتو نه انکار، په جګړو ټینګار او د نورو ډلو د حذفولو او ختمولو هڅه، دوی همدې قطعي نتیجې ته رسولي وو. د کابل له چاروا کو سره د پرله پسې خبرو اترو او د ګڼ شمېر پلاوو د تلو راتلو نه وروسته پدغیطرحی توافق وشو:

## د معاهدې متن

د ګران اسلام د مصالحو په خاطر او د هېواد د رواني حساسي وضعې په پام کې نیولو او د هغو خطرناکو توطئو د شنډولو لپاره چې زموږ ملي یووالی او د هېواد ځمکنۍ بشپړتیا تهدیدوی، د حزب اسلامي او جمعیت اسلامي پلاوو د ۱۳۷۴ کال د حوت په ۱۳ په لاندې موادو توافق وکړ چې د دواړو خواوو د مشرانو له امضاء او رسمي اعلان نه وروسته به نافذ او مرعی الاجرا وي:

۱ـ افغانستان یو داسې اسلامي هېواد دی چې په هغه کې به د وګړو د ژوند ټول اړخونه د اسلامي شریعت په رڼا کې تنظیم کېږي.

۲ـ د دې هېواد ټول قوانین او مقررات به له اسلام نه اقتباس کېږي، هیڅ داسې قانون او لایحه به د اعتبار وړ نه ګڼل کېږي چې د اسلام له اساساتو سره مغایرت ولري.

۳ـ پدې هېواد کې به ټولې شخړې او مشاجرات شریعت ته محول کېږي، د شریعت پرېکړه به وروستۍ پرېکړه ګڼل کېږي.

۴ـ د افغانستان اسلامي دولت له هیڅ طرف سره د هېواد د کورنیو او بهرنیو چارو په اړه داسې پرېکړه او معاهده نشي ترسره کولی چې د اسلامي اساساتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغاير وي.

**۵**ـ د افغانستان د اسلامي دولت جمهور رئيس د هېواد مشر او د ملي يووالی نښه ګڼل کېږي چې د هېواد چارې به د اسلامي احکامو سره سم مخکې بيايي.

**۶**ـ د وزيرانو شورې به د افغانستان د اسلامي دولت د يوازني او متحد اجرايي هيئت په حيث د صدراعظم ترمشرتابه لاندې کار کوي.

**۷**ـ د دولت رئيس او صدراعظم به د خپلو صلاحيتونو په محدوده کې د هېواد چارې په مخ بيايي، په کومې قضيې کې د عدم توافق په صورت کې به نوموړې قضيه د دولت رئيس، صدراعظم او د کابينې ګډې غونډې ته وړاندې کېږي.

**۸**ـ کابينه د تعيين شوو صلاحيتونو په چوکات کې د صدراعظم تر مشرتابه لاندې په ټولو سياسي، اداري او اجتماعي چارو کې د پرېکړو مرجع ده.

**۹**ـ د انتخاباتو د څرنګوالي او کيفيت په هکله به د انتخاباتو مستقل او باصلاحيته کميسيون وروستۍ پرېکړه کوي.

۱۰ـ د مؤقت حکومت په دوران کې به د حکومت تګلاره، دهېواد کلنۍ بودجه، اداري لوائح اومقررات د کابينې په غونډو کې تصويب کېږي.

۱۱ـ د حکومت د تګلارې، د هېواد دکلنۍ بودجې او د اداري لوايحو او مقرراتو په اړه د کابينې پرېکړې به د منظورۍ او توشيح لپاره جمهوري رياست ته وړاندې کېږي.

۱۲ـ د کابينې پرېکړې او د مأمورينو د عزل او نصب هغه وړانديزونه چې د جمهوري رياست منظورۍ ايجابوي، يوازې تر يوې مياشتې پورې د مجدد بحث او بياکتنې لپاره ځنډېدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳ـ د بانك نوټونو طبع او مربوطه قرارداد ئې د ماليې وزارت په وړانديز، د کابينې په پرېکړه او د جمهوري رياست له موافقې نه وروسته ترسره کېږي.

۱۴ـ د ملکي او عسکري لوړ رتبه مأمورينو د عزل او نصب صلاحيت به د جمهور رئيس په واك کې وي چې د مربوطه وزارت په وړانديز او د صدراعظم له تائيد نه وروسته به ترسره کېږي، د دغو مأمورينو د عزل او نصب مراتب به د صدارت د دفتر له لارې د منظورۍ لپاره جمهوري رياست ته محول کېږي.

## د جمهور رئيس صلاحيتونه

۱ـ د سترې محکمې د قضاتو عزل او نصب، د هېواد د مقرراتو مطابق.

۲ـ جمهور رئيس د هېواد د مسلح ځواکونو اعلى قوماندان ګڼل کېږي چې د سولې او جنګ حالت به د کابينې يا اسلامي شورى په مشوره اعلانوي.

۳ـ د اسلامي شورى د غونډو افتتاح او اختتام.

۴ـ د ملي يووالى تحکيم، د هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه، د هېواد او ولس له ګټو نه دفاع، د افغانستان د استقلال، خپلواکي او اسلامي هويت حفاظت.

۵ـ د شريعت له احکامو سره سم د مجرمينو د اعدام له پرېکړو سره موافقه يا د هغوى لغو.

۶ـ د دې معاهدې له روحيې سره سم په نورو هېوادونو کې د افغانستان د سياسي استاځو او په بين المللي ټولنو کې د هېواد د دائمي استاځو ټاکل او په افغانستان کې د نورو هېوادونو د سياسي استاځو اعتبار ليك منل.

۷ـ د دې معاهدې مطابق د لوايحو او مقرراتو توشيح او د بين المللي معاهدو امضاء.

۸ـ د جمهور رئيس د وفات په صورت کې به د سترې محکمې رئيس، د نوى

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهور رئیس تر ټاکل کېدو د جمهوري ریاست چارې په مخ بیائي.

۹- جمهور رئیس کولی شي د خپلو صلاحیتونو ځیني برخي نورو قانوني مراجعوته انتقال کړي.

۱۰- د پاتې هغو صلاحیتونو ممارست چي قانون په ګوته کړي.

## د صدراعظم او کابینې صلاحیتونه

۱- د حکومت د داخلي او خارجي تګلاري تسوید، تصویب او تطبیق، د دې معاهدې مطابق.

۲- د وزارتونو، مستقلو ریاستونو او اجتماعي ادارو د چارو اداره، تنظیم او نظارت.

۳- د مقرراتو مطابق اداري او اجرائی تصامیم نیول او د تطبیق چارې ئې سنبالول.

۴- د دې معاهدې مطابق د هېواد کلنۍ بودجه تصویبول، د مالي چارو اداره، د هېواد د اقتصادي انکشاف لپاره مناسب تصامیم نیول او له ټولو مالي زېرمو نه پدې اړه سمه استفاده کول او ډاډمن او با اعتباره مالي سیستم ایجادول.

۵- په بین المللي ټولنوکي د هېواد له اوچتو ګټو نه دفاع او د ملکونو په سطحه د قراردادونو، موافقو او د اقتصادي او عمراني توافقاتو مناقشه او تصویب. ټولي هغه موافقې به د صدراعظم له خوا امضاء کېږي چي د موافقې بل طرف حکومت وي.

په حکومت کي د هري ډلي موقعیت

- په مؤقت حکومت کي جمعیت اسلامي ته لاندي اداري سپارل کېږي:

جمهوري ریاست، خارجه وزارت، داخله وزارت، لوی درستیزوال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- حزب اسلامي ته.

عظمی صدارت، د دفاع وزارت، د ماليې وزارت، د خارجه وزارت معينيت، د داخله وزارت معينيت.

- د دواړو خواوو هر هغه متحد تنظيم ته دوه وزارتونه منل کېږي چي پدې تړون او نوی نظام کي شاملېږي.
- د مؤقت دولت د کار موده له شپږو مياشتو نه تر يوه کاله پوري ده، چي په همدې مودې کي به انتخابات ترسره کېږي. مؤقت دولت مؤظف دی چي د همدې مودې په ترڅ کي، د انتخاباتو د باصلاحيته او مستقل کميسيون په ذريعه د انتخاباتو کار تکميل کړي، پدې کميسيون کي به د دواړو خواوو استازي او د اعتماد وړ کسان غړيتوب لري.
- که مؤقت دولت د خاصو معاذيرو په وجه د انتخاباتو په اجرا بريالی نشو نو د دواړو خواوو په توافق به نوی اداره جوړېږي او قدرت به له مؤقت دولت نه هغې ته انتقالېږي.
- د هر ولايت اداره به هغه تنظيم ته سپارل کېږي چي ترنورو په هغه ولايت کي زيات نفوذ لري، نور تنظيمونه به د چارو په سنبالولو کي له هغه سره مرسته کوي.
- اسلامي اردو او د پليسو قطعات به د دواړو خواوو له افرادو نه جوړېږي، د کابل ښار او نورو مهمو ښارونو او د لويو لارو امنيت به د دواړو طرفونو دګړو امنيتي ځواکونو له خوا تأمين کېږي.
- اسلامي شوری به جوړېږي ترڅو په عبوری مرحلې کي د هېواد د پارلمان په حيث عمل وکړي. د دې شوری مربوط لوايح به د دواړو خواوو له استاځو نه جوړ کميسيون تصويبوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دحکمتیار امضاء                د ربانیامضاء

هیئتونو فیصله وکړه چې دا معاهده به د جمعې په ورځ د **۱۳۷۵** کال د جوزا د میاشتې په **۴** نېټې په ماهیپر کې امضاء کېږي. زه د غونډې ځای ته په خپل وخت ورسېدم، مسعود غوښتل چې له رباني نه مخکې له ما سره وګوري، د لیدنې څو برخې د یادونې وړدی:

- غوښتل ئې د دفاع وزارت ده ته وسپارلی شي او د امنیت وزارت په خپل حال پاتې شي او د ده د ډلې په واک کې وي.
- که دا دواړه وزارتونه ده ته ورکړی شي نو دی به خپل صداقت او اخلاص ثابت کړي او د یوه سپاهي په حیث به عمل کوي.
- د خبرو په وخت کې څو ځله ژړه غونی شو او په سترګو کې ئې اوښکې ورغړېدی.
- ویل ئې: ماکه ښه کړي وي که بد خو توانېدلی یم چې له کابل نه دفاع وکړم.

ما ورته وویل:

- ویش د هیئتونو له خوا شوی، له دوو برخو نه د یوې انتخاب تاسوته سپارل شوی وو، تاسو د جمهوري ریاست برخه انتخاب کړه، که وزرات دفاع غواړئ نو دوهمه برخه غوره کړئ، زموږ له خوا هیڅ مانع نشته، خو د دفاع وزرات او جمهوري ریاست یوه تنظیم ته نشو ورکولی.
- د امنیت وزارت انحلال او د یوه اطلاعاتي ریاست ترسطحی د هغه محدودول ضروري ده، په همدې خبرې هیئتونو توافق کړی، دا وزارت له یوې خوا په ولس کې ډېر بد نوم لري، له کمونست رژیم نه پاتې اداره ده، ټول پرسونل ئې کمونستان دي، له بلې خوا د همدې ادارې شرارتونو دا جګړې راولاړې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما ته ووایه چي تا له کابل نه د چا په مقابل کي دفاع کړې، د کوم خارجي ځواك په مقابل کي؟ راځه اوس د دې خبرو وخت ندی، دفاع کوونکي او جنګ کوونکي معلوم دي!!
- موږ په ماتې کښتی کي درسره سوربېږو، له خطرسره د ګډي مقابلې لپاره کابل ته درومو، نه د څه امتیازاتو لاس ته راوړو لپاره، که پدې طرحی قانع نیاست حکومت ئې ستاسو، راشئ په ګډي جبهې او شپږ میاشتي وروسته انتخاباتو باندي توافق وکړو.

د خبرو په دوران کي څو ځله نفر راغی چي استاد راغلی او منتظر دی، هر ځل د مسعود له خوا په ډېره بې اعتنائی ځواب شو چه صبر وکړئ، زموږ خبري ندي تمامي شوې. د ده ځواب د دوی د واړو د مناسباتو ښه غمازي کوله!!

د معاهدې د امضاء په وخت کي د جګړي له لومړی خط نه مسلسل مخابره کېده چي د بند غازی په لوري زموږ لومړی خط مات شوی، د طالبانو ځواکونه مخکي راروان دي، قطعات خواره شوي، څوك مقاومت نه کوي. د رباني او مسعود حالت ډېر زیات پرېشانه وو، داسي معلومېده چي طالب ځواکونه به یو ځل بیا بندغازی او بتخاك نیسي او تر پلځرخي پوري به رسېږي. مخکي ځل هم طالبانو دا سیمه نیولی وه او جګړه پاخه سرك ته رسېدلی وه خو ناڅاپي د طالبانو مشهور تعرضي قومندان، ملا مشر، په بتخاك کي د زاړه ګمرك په سرای د بمبارۍ په ترڅ کي په قتل ورسېدو، د ده ناڅاپي مرګ د طالبانو لپاره سترګذار وو، په همدې سره د طالبانو د تعرضي ټولګیو روحیه ماته شوه، له جګړي ئې لاس واخست او له سیمي نه په شا شول.

د دې وېروونکو راپورونو په اورېدو سره مسعود ما ته مخ کړ او وئی ویل: زه دقیقه اطلاع لرم ... په خپله طالبانو راته ویلي چي بت خاك ته له رسېدو وروسته موږ په کابل د حملې اراده نلرو، د لته بند له لاري په سروبی حمله کوو... تاسو باید خپل قوتونه بتخاك ته راولېږئ ترڅو د دوی مخنیوی وشي!! ماورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: که ستا راپور دقیق وي که نه! موږ له کابل نه دفاع کوو، خو د دې امکان ډېر ضعیف دی چې طالبان به د بتخاك له لاري په سروبي حمله کوي، زه دا غوره ګڼم چې د چکرۍ او خرد کابل له لاري په طالبانو حمله وشي، پدې سره د دوی اکمالاتي لار قطع کېږي او د لومړي خط ګروپونه ئې محاصره کېږي.

په هماغه شپه، د بي بي سي او امریکا غږ له خوا د" ماهیپر معاهده" اعلان شوه، طالبانو ګمان نه کولو چې حزب او جمعیت دې په خپلو منځونو کې روغه جوړه وکړي. دوی تل د نورو ډلو له اختلافاتو نه استفاده کړې، کله له یوه سره ملګری شوي بل ئې ټکولی او کله له بل سره یوځای شوي د پروني ملګري د ټکولو لپاره! پدې اعلان سره د دوی روحیه هومره مړاوې شوه چې په سبا ئې د چکرۍ له خوا د حزب اسلامي د مجاهدینو د یوه معمولي حرکت په نتیجه کې ټوله سیمه پرېښوده، له بندغازی نه **۴۵** کیلومتره په شا شول، له "مس عینك" نه هم ووتل، که پدې ورځ د چهارآسیاب له لوري عملیات شوي وی او د دوی تښتېدونکي قطعات تعقیب شوي وی تر لوګر پوري له ټولي سیمي نه وتل.

## کابل ته تګ

دکابل چاروا کو ټینګار کولو چې موږ ډېر ژر کابل ته راشو، خو موږ غوښتل چې لومړی د حزب اسلامي کافي شمېر قطعات ځای په ځای شي بیا موږ ولاړ شو. د قطعاتو دځای په ځای کېدو په هکله مسعود خندونه راولاړول، د هغو ځایونو له خالي کولو ئې ډډه کوله چې د خبرو آترو په ترڅ کې په نښه شوي وو.

مسعود د دفاع وزارت غوښتو، رباني د خپل جمهوري ریاست لپاره هغه برخه انتخاب کړه چې د دفاع وزارت پکې شامل نه وو، مسعود لدې معاهدې نه ناراضه وو، په خپل هیئت هومره غوصه وو چې د داکتر عبدالرحمن د نیولوحتی ترور فیصله ئې کړې وه، غوښتل ئې دا معاهده تخریب کړي، د رباني پلویانو د ده له شر نه د خلاصېدو لپاره پدې ټینګار کولو چې موږ ژر کابل ته ورشو. ویل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د قطعاتو د ځای په ځای کېدو مشکل به ورو ورو حل شي.

د ایران ګڼ شمېر هیئتونه جلال آباد او بیا لغمان ته راغلل، دوی له یوې خوا د روغې جوړې پلوي کوله خو له بله پلوه پدې ناراضه وو چې د اهل تشیع احزاب په مذاکراتو کې شامل ندي او په حکومت کې په زړه پورې برخه نده ورکړې شوې. حدادی د ایران سفیر ما ته په لغمان کې وویل:

- مسعود د دفاع له وزارت نه لاس نه اخلي.
- شیعه احزابو ته اعتنا نده شوې، هغوی د زراعت او امور اجتماعي په شان وزارتونو باندې نه قانع کېږي !!
- ما ورته وویل: پکاره ده د دې معاهدې د مخالفت په ځای ملاتړ وکړې، ځکه ستاسو د هلو ځلو په نتیجه کې ترسره شوې. مسعود قانع کړئ چې د دې معاهدې مخالفت ونکړي او دا آخري چانس له لاسه ورنکړي. د اهل تشیع د تنظیمونو قانع کول د رباني کار دی، هغه کولی شي داخله وزارت یا کوم بل کلیدي وزارت ورکړي. که تاسو مرسته وکړې د هغوی مشکل په آساني حل کېږي.

د مسعود له سرغړونو او د ایراني سفیر له څرګندونو نه مې احساس کړه چې د دې معاهدې په وړاندې ډېر خنډونه شته او ښایي په کابل کې له ډېرو ستونزو سره مخامخ شو. خو ما بله چاره نه درلوده، په خدای مې توکل وکړ او کابل ته د تلو فیصله مې وکړه. د **۱۳۷۵** کال د سرطان **۲** د چهارشنبې په ورځ، کابل ته زما د تلو او استقبال بندو بست شوی وو، د کابل ښاریانو ډېر تود او بې نظیره استقبال وکړ، په زرهاوو کسان د ماهیپر تنګي له خولې نه د ښار ترمنځ پورې د سړك دواړو خواوو ته ولاړ وو، لاسونه ئې خوځول او د تکبیر ناری ئې وهلې.

پدې ورځ د طالبانو له خوا، د کابل ښار په ګڼ مېشتو سیمو او هغو ځایونو چې خلك استقبال ته راوتلی وو ډېرې راکټې وورېدې او ډېره مرګ ژوبله وشوه، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئولینو نه مي د ویشتل شوو راکټو د شمېر او د مرګ ژوبلې د اندازې په هلکه پوښتنه وکړه د دوی له څرګندونو او له وروستیو راپورونو نه راته معلومه شوه چې:

الف: مرګ ژوبله هومره نه وه چي کابل راډیو او تلویزیون ویلي وو.

ب: په اصل کي طالبان د کابل له لوري د راکټونو ویشتلو ته هڅول شوي وو.

ج: د کابل له څو خاصو ځایونو نه چي د مسعود خاص قطعات پکي مستقر وو، هم د طالبانو لوري ته راکټونه ویشتل شوي وو (او هغوی ئې عکس العمل ته هڅولی وو) او هم د کابل په لوري، ترڅو د طالبانو په خلاف حساسیتونه مزید تحریك کړي. ما هیڅکله ګمان نه کولو چي د کابل چارواکي به داسي رذالتونه هم جائز ګڼي او د تبلیغاتي اهدافو لپاره به د هغو مظلومو کسانو قرباني کول روا ګڼي چي د دوی په څنګ کي او د دوی ترتسلط لاندي ژوند کوي.

زه په کابل کي درې میاشتي پاتې شوم، د سرطان له ۲ نه د میزان تر ۴ پوري او د میزان په ۵ کابل د طالبانو په لاس کي پرېووت، د دې لنډي مودې مهمي پېښي دا وې:

۱ـ ما د حکومت تګلاره په کابینې کي مطرح کړه، د رأیو په اتفاق تصویب شوه، د رباني له نظره تېره شوه، دوه اساسي ملاحظات ئې درلودل، غوښتل ئې د کشمېر او چچین په اړه څه ونه ویلی شي، ترڅو د ده دوستان، مسکو او ډهلي ناراضه نشي، ما دا برخي حذف کړې او په عوض کي مي په عامه صیغه چي ده ته هم د منلو وړ وي څه ولیکل، د راډیو او تلویزیون له لاري خپره شوه، سبا ته مسعود له بی بی سي سره مرکه وکړه او وئی ویل: دا "تګلاره" د حکمتیار شخصي نظر وو، له موږ سره پدې هکله مشوره نده شوې...!! پدې مرکې سره مسعود د خپل زړه براسي بهر راوایستې او خلکو ته څرګنده شوه چي دی لدې یووالی ناراضه دی او د معاهدې ماتول غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا غوره ګڼم چې د تګلاري مکمل متن ستاسو مخې ته کېږدم:

## د تګلاري بشپړ متن

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

الحمدلله و کفی و سلام علی عباده الذین اصطفی و بعد:

ان الحکم الالله امرالا تعبدوا الا ایاه ذلك الدین القیم و لکن اکثر الناس لا یعلمون.

تلك الدار الآخرة نجعلها للذین لایریدون علوا فی الارض ولا فسادا والعاقبة للمتقین. صدق الله العظیم.

درنو هېواد والو!

د الله د دین سرتېرو سپاهیانو !

وروڼو او خویندو!

زموږ ګران هېواد ، یو ځل بیا د خپل لرغوني تاریخ یو بل حساس پړاو پیل کوي. جګړه ورو ورو خپل ځای د سولې بهیرته پرېږدي، په جګړې د اصرار او ټینګار منطق خپل پلویان له لاسه ورکوي او د سولې په کاروان کې ځانته ځای لټوي، لکه څنګه چې پرون زموږ مؤمن ملت د جګړې په هغه لوی تاریخي آزمېښت کې، اتلو جنګیالیو ته اړ وو ، نن د سولې، روغې جوړې او د هېواد د بیا رغوني اتلانو ته ضرورت لري.

د جګړې له کرغېړنو نتائجو نه د هېواد ژغورنه او په ملك کې د داډمن امنیت تأمینول او د سولې په ډګرکې اتلولی، بې له شکه تر جګړې دروند او ګران کار دی او تر جګړې زیات همت او شهامت غواړي. ډېرکسان جګړه کولی شي خو د هغو کسانو شمېر ډېر کم دی چې د سولې او خبروآترو له لارې د خپل مقدس جهاد د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهدافو د ترلاسه کولو درایت او حوصله مندي ولري.

حقیقت دا دی چي د جګړو په وجه نن زموږ ملت له سترو سترو کړاوونو سره مخامخ دی، که په هېواد کي بې امنیتي ده، لویې لارې خوندي ندي، د شر او فساد ځواکونه د بې وزلو خلکو په سر، مال، پت او عزت د تېری جرأت کوي، ظالمان زړه ور او مظلومان په خوف او وېره کي دي، فقر، لوږه، قحطی او قیمتي انتهاء ته رسېدلی، د واحد افغانستان د تجزیې لپاره هڅې رواني دي، له بهرنه زموږ په کورنیو چاروکي لاسوهني کېږي، داسي منظمه اسلامي ملي اردو نلرو چي بهرنۍ لاسوهني دفع کړي او د هېواد د کامل یووالی ساتنه وکړي، د بېلو بېلو مستقلو سیاسي، اجتماعي او فوځي ځواکونو هغه هڅي شنډې کړي چي غواړي ترخپل تسلط لاندي خپلواکي سیمي ولري، مستقل داخلي او خارجي سیاست اعمال کړي، ځانګړي فوځونه ولري او د یوه قوي مرکزي حکومت د جوړېدو مخنیوی وکړي. که مجاهدین ندي توانېدلی سالمه اداره جوړه کړي، اسلامي نظام قائم کړي، اجتماعي عدالت تأمین کړي، د هېواد د بیا ودانولو لپاره اقدام وکړي، مفسد عناصر په خپل ځای کښېنوی، د ولس په زخمونو پټې کېږدي او د دوی دردونه دوا کړي، د دې ټولو مصیبتونو اصلي عامل جګړه ده.

ورونو او خویندو!

لا تراوسه زموږ د یونیم ملیون شهداوو لوی آرمان ندی تر سره شوی، زموږ په هېواد کي هغه اسلامي نظام ندی قائم شوی د کوم لپاره چي زموږ باایمانه مجاهدینو د څوارلس کلني نابرابری جګړي ټولي ستونزی او کړاوونه وګالل او خپل سرونه ئې د الله په لاره کي د همدې آرمان لپاره نذرانه کړل. دا به لویه اشتباه وي چي څوك یوازي هغې ټولني ته اسلامي ټولنه ووایې چي واکداران ئې مسلمان وي او شعارونه ئې اسلامي. په حقیقت کي اسلامي ټولنه هغه ده چي هلته د الله دین حاکم وي، شریعت نافذ او حدود جاري وي، داسي ډاډمن امنیت تأمین شوی وي چي هیڅوك د چا په سر، مال او عزت د تېری جرأت ونشي کړي، حاکم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



محکوم د خدای دین ته منقاد وي او شخړې الله او د هغه رسول ته راجع او د شریعت مطابق حل او فصل شي، واکداران د ولس په خوښه له جبر، زور او تزویر نه پرته د ملت د څرګند بیعت په نتیجه کې وټاکل شي، د قدرت واګې ئې د صالح، متقی او امین او ترټولو د غوره کسانو په لاس کې وي، واکداران د ولس باداران نه بلکې خادمان وي، بیت المال وړیا غنیمت ونشمېری، بلکې هغه ستر الهی امانت وګڼی او په هغه کې ناروا تصرف د ځان یا د خپلې ډلې په ګټه حرام وګڼی، واکمنان خلك د ځان غلامان ونګڼی او د هغوی په سر، مال او عزت د لوبی کولو حق ځانته ورنکړي، هیڅوك د شرعی محکمې د واضح حکم نه پرته تعقیب، زنداني او مجازات نشي، د جرم په مقابل کې یوازې مجرم مؤاخذه شي او مجرم ته یوازې هغه جزا ورکړې شي چې شریعت ورته ټاکلې او شرعي محکمې ئې حکم ورکړي، ملت له واکدارانو نه د ټولو تصرفاتو او کړو وړو په هکله د پوښتنې او محاسبې حق ولري او د ولس فرد فرد د دوی په غلطو او ناروا اجراءاتو د اعتراض کولو او د حق څرګندولو له کاملې آزادۍ نه برخمن وي، د استبداد، اختناق او تبعیض ټول مظاهر ختم او د انسانانو ترمنځ د ژبی، رنګ، نسب او اجتماعي حیثیت په وجه تفرق او امتیاز حرام وګڼلی شي او ټول وګړی د یوه بل ورونړه او د شریعت په وړاندې برابر وشمېرلی شي.

ورونړو خویندو!

په کومې ټولنې کې چې د بې وزلی او مظلوم حق تر پښو لاندې شي، د هغه غږ په سینه کې خفه شي، د هغه په سر، مال او عزت تېری وشي، خو د استغاثی لپاره رؤف او زړه سوانده مرجع ونشي موندلی، د زور او د زر خاوندان د فرد او د اجتماع په حقوقو له څرګند تېری سره سره له مواخذی او نیونې نه خوندي او واکمنان له دوی نه وېره ولري او د دوی د ارضا لپاره سیاسي، اجتماعي او مالي رشوتونو ورکولو ته اړ وي او چیرته چې د الله دین په کامله توګه او د ژوند په ټولو اړخونو کې حاکم نه وي، الهی عدالت او ډاډمن امنیت نه وي تأمین شوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



كه څه هم د داسې ټولنې زعما او واكداران ځانته مسلمان ووايي او په خپل شخصي ژوند كې په اسلام عمل وكړي، خو دې ټولنې ته په هيڅصورت كې اسلامي ټولنه نشو ويلى.

زما د ايمان او عقيدې وروڼو!

راځئ چې د يوې واقعي اسلامي ټولنې د جوړولو لپاره ملا وتړو، صادقانه تعهد وكړو چې خپل مظلوم او بې وزلى ولس به له روانو دردونكو ستونزو او كړاوونو څخه ژغورو، جگړه به د تل لپاره پاى ته رسوو، تل پاتې داېمنه سوله به په خپل جنگ ځپلى هېواد كې تأمينوو، د شر او فساد د ځواكونو په خلاف به د صالح متقي او مؤمنو قوتونو مستحكم او ټينگ صف جوړوو او د خپل وران ملك د ودانولو لپاره به يوه بل ته د ورورى او گډ كار لاس وركوو، د الله په نامه ژمنه وكړو چې له دې نه وروسته به زموږ رقابت او تنافس، د وسلې په زور د قدرت او امتيازاتو تر لاسه كولو لپاره نه، بلكه خپل دردېدلي ولس ته د خدمت او په هېواد كې د سولې د تأمين په لاركې وي.

درنو وطنوالو!

ما غوښتل چې په يوه غير منتخب حكومت كې هيڅكله برخه وانخلم، تل مې وړانديز دا وو چې د ټولو ترمنځ د تفاهم له لارې دې په يوه داسې مؤقت حكومت توافق وشي چې له منل شوو با ايمانه شخصيتونو څخه جوړ شوى وي، مشران په كې برخه وانخلي، د همدې حكومت تر اشراف لاندې، د سولې او امنيت په فضا كې، په همدې مؤقتي مودې كې انتخابات ترسره شي او قدرت يوه منتخب اسلامي حكومت ته انتقال شي او پدې ترتيب زموږ په هېواد كې د مسلحو رقابتونو ځاى، مسالمت آميز سياسي رقابتونه ونيسي، د جگړو، كودتاگانو اومسلح انقلابونو سلسه د تل لپاره پاى ته ورسېږي. خو لكه څنگه چې خبر ياست د اوږدو خبرو آترو نه وروسته، د جوزا د مياشتې په څلورمې نېټې، پر يوې داسې معاهدې امضاء وشوه چې د هغې په اساس به د مؤقت نظام د دولت

(c) ketabton.com: The Digital Library



رئیس محترم استاد برهان الدین رباني او دعظمي صدارت دنده به زما په غاړه وي، په مؤقت حکومت کي به ټولو ډلو ته د شرکت بلنه ورکول کېږي، ګډ فوځ او ګډ امنیتي ځواك به جوړېږي، پدې مودې کي به د مؤقت حکومت تر نظارت لاندي، د یوه مستقل انتخاباتي هیئت په ذریعه، د سولې او امنیت د تأمین په صورت کي انتخابات ترسره کېږي او که انتخابات وځنډېدل، نو د مؤقتي مودې په پای کي به قدرت یوه نوی حکومت ته انتقالېږي. په اصل کي مؤقت حکومت د ضرورت په وجه د منتخب اسلامي حکومت لپاره د مقدمې په حیث منل شوی. موږ د راتلونکي منتخب اسلامي دولت لپاره په لاندي میثاق توافق کړي:

- د افغانستان په اسلامي دولت کي مطلق حاکمیت الله لره مختص دی او د قضایاوو د حل او فصل یوازینی او وروستی مرجع د الله(ج) کتاب او د رسول الله (ص) سنت دی.
- په اسلامي افغانستان کي یوازي د هغه چا سلطه او واکمني جایز او قانوني ګڼل کېږي چي:

الف: په ما انزل الله حکم وکړي.

ب: د ولس د اکثریت له تائید نه برخمن وي او د هغي انتخاباتي عملیې له لاري د ملت د اکثریت په رأیه انتخاب شوی وي چي اساسي قانون به ئې مشخص کوي، هیڅ فرد او ډله حق نلري د زور له لاري، د وسلې د استعمال او د داخلي او یا بهرني ځواك په اتکاء قدرت ترلاسه او په ولس حکومت وکړي.

- د افغانستان اسلامي دولت به شورایي نظام لري چي منتخب رئیس به ئې د ملي یووالی رمز او د هېواد د اجرائیه قوې رئیس وي.
- د هېواد د مقرراتو او لوایحو وضع، د دولت د بودجې او خط مشی تصویب او د هغه په اجراءاتو نظارت د شورى د غونډې له صلاحیتونو څخه دي.
- په اسلامي دولت کي د ټولو قوانینو، مقرراتو، مناهجو او سیاستونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازنۍ مرجع اسلامي شريعت دی.

- د افغانستان په اسلامي دولت کي قضائيه قوه کاملاً مستقله ده چي وظيفه ئې د شريعت تنفيذ ، د عدالت تأمين او د فرد او اجتماع له حقوقو نه دفاع ده.

- قضائيه قوه حق لري چي د هري هغي فيصلې او قرار ابطال اعلان کړي چي د شريعت مخالف وي او يا د وګړو او اجتماع مسلم حقوق تر پښنو لاندي کړي، هر فرد او ډله کولی شي د داسي فيصلو او پرېکړو د ابطال لپاره محاکموته مراجعه وکړي.

- د اسلامي دولت ټول اتباع د هېواد د قوانينو په وړاندي مساوی او يو شانته حيثيت او اعتبار لري او له هر راز تبعيض او امتياز نه پرته له ټولو هغو سياسي او مدني حقوقو او امتيازاتو څخه برخمن دي کوم چي بين المللي اعلاميې او پرېکړي ئې د وګړو او احزابو لپاره لازمي ګڼي او اسلامي شريعت ئې تائيدوی.

- د افغانستان په اسلامي دولت کي د هېواد ټولو اتباعو ته هر راز سياسي آزادي، د بيان آزادي او د اجتماعاتو د تدوير او د احزابو او ټولنو د تشکيل د آزادۍ په شمول، د شريعت په حدودو کي مکفول او مضمون ده، خو هيڅا ته به د دې اجازه نه ورکول کېږي چي لدې حق نه په استفادی سره د ملي يووالی د تضعيف او د هېواد د استقلال او خپلواکي د تهديد او د افغاني ټولني اسلامي هويت ته د تاوان رسولو په لار کي ناوړه استفاده وکړي.

- د افغانسان اسلامي دولت او د هېواد مؤمن اتباع په کلکه هڅه کوي ترڅو د اسلامي جهاد اهداف تحقق ومومي او د ملت جهادي روحيه حفظ او هغې ته مزيد ارتقاء ورکړو. د هېواد د استقلال او خپلواکي نه د دفاع په خاطر او د ټولني د ملي يووالی او د اسلامي هويت د ساتني لپاره به د افغاني جامعی فرد فرد مکلف وي چي د عسکري خدمت قانوني دوره تر سره کړي.

- درنو هېوادوالو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مؤقت حکومت ته چي د نوموړی معاهدې د تطبيق ترڅنگ کوم ستر ستر فوری وظايف په مخکي دي او پکار ده د خپل لنډ عمر په موده کي ئې تر سره کړي، کولی شم پدې ډول ئې راخلاصه کړم:

## د امنيت د تأمين په برخه کي

د جگړې فوری او دائمي خاتمه، په مرکز او اطرافو کي د ډاډمن امنيت تأمين، د لارو پرانيستل او د دولتي منظمو ځواکونو له خوا په لارو کي د مصئون تگ راتگ شرايط برابرول. د دې اهدافو د تحقق لپاره غواړو چي:

الف: ټولي ډلي د سولي لدې بهير سره يو ځای شي، دا معاهده تائيد کړي او په مؤقت حکومت کي عملاً برخه واخلي.

ب: گډه ډاډمنه امنيتي قوه جوړه شي ترڅو د ښارونو او لويو لارو امنيت د همدې قوې په ذريعه تأمين شي.

ج: ښارونه او کلی له وسله والو ډلو څخه تخليه شي.

د: هغو کسانو ته سخته سزا ورکړي شي چي خلك زوروی، وېره او خوف اچوی، شوکي کوي او د بې وزلو خلکو آرام ژوند تهديدوی.

## د دفاعی چارو په برخه کي

د هېواد د خپلواکۍ، استقلال، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي حاکميت نه د دفاع لپاره مکلف يو چي منظم اسلامي فوځ جوړکړو. په کار ده ملي فوځ د پخوا په شان د مکلفيت د دوری له لاري جوړ شي او په دې ترتيب د افغان ولس د هر فرد عسکري روزنه وشي او له خپل هېواد نه د دفاع په مقدس کارکي برخه واخلي، خو لدې لاري د فوځ جوړول داسي قوي مرکزي حکومت غواړي چي په ټول ملك ئې تسلط قائم وي او د افرادو جلب او احضار ورته ممکن وي، حکومت داسي يوې مرحلې ته تر رسېدو پوري دې ته اړ دی چي محدود فوځ ولري او هغه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



استخدام له لارې او د مناسبو حقوقو او امتیازاتو په بدله کې، پدې هکله د حکومت پالیسي دا ده چې:

الف: د مرکز په شمول به هر ولایت ته د هغه د موقعیت، نفوس او نظامي اهمیت په نظر کې نیولو سره مناسب قطعات منظور شي.

ب: دا قطعات به په هر ولایت کې د همدې ولایت د جهادي شورى په مشوره، د همدې ولایت د افرادو نه جوړېږي، د اولویت حق به هغو مجاهدینو ته ورکول کېږي چې د هېواد د آزادۍ په قیام کې ئې مخلصانه برخه اخیستې ده.

ج: د دفاع وزارت به د نوموړو قطعاتو د اکمال او د پرسونل د روزنې دنده په غاړه لري.

د: د ولایاتو ادارې به مکلفې وي چې په لنډه موده کې شرایط داسې برابرکړي چې د جلب او احضار له لارې د فوځ د جوړېدو امکانات میسر شي.

هـ: فوځ به په سیاسي مبارزاتو کې له برخې اخستلو نه ډډه کوي، نظامي افسران به دا حق نلري چې د سیاسي ډلوغړیتوب ترلاسه کړي. تېرو ترخو تجربو دا ثابته کړه چې په سیاست کې د فوځ مداخله او په تنظیمي روحیې د فوځ د قطعاتو تشکیل د خونړیو پېښو باعث، د توپ او ټانك په زور په ولس د حکومت کولو او مخالفین مسلحانه مقاومت ته د رابللو وسیله ده.

و: موږ د ولس د بې وسلې کولو طرفدارنه یو، نه غواړو چې وړه وسله له خلکونه راغونډه شي، دې ته ترجیح ورکوو چې د قانوني سند په مقابل کې هر څوك وکولی شي مجاز وسله د ځان سره وساتي، دنورو ملکونو تجربو همدا ښودلې چې د ولس په لاس کې د وړې وسلې شته والی هیڅکله بې امنیتي نه راولاړوي.

په اداري برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ته له کمونستي رژيم نه يوه کړکېچنه، ناسالمه او د هېواد د حالاتو سره نامتناسبه اداره په ميراث پاتې ده، د دې اداري اصلاح، محدودول او د هېواد له اقتصادي وضعيت سره سم، په هغې کې ژوره تبديلي راوستل، يو اهم او ضروري کار دی، لدې کبله چې د دولت امکانات هومره محدود دي چې حتی د مأمورينو د معاشاتو د اجراء لپاره څه په لاس کې نه لري، موږ مجبور يو په محدودو تشکيلاتو اکتفاء وکړو او اضافي غير ضروري تشکيلات حذف کړو او هغو مأمورينو ته چې د تشکيلاتو د تقليل په وجه وزګار پاتې کېږي، د توليدی دندو د تر لاسه کولو شرايط برابر کړو. د مأمورينو معاشات بايد هومره وي چې د دوی ورځيني حياتي ضرورتونه رفع کړي او رشوت او خيانت ته اړ نشي.

کار اهل ته سپارل، د خلکو کارونه له هر راز ځنډ او تأخير نه پرته او د هر راز سفارش او رشوت د اغېزې نه ليری په سمه توګه او په خپل وخت تر سره کول، د اداري فساد په کلکه مخنيوی او د مفسدو او خائنو مأمورينو شديد مجازات، د سالمې اداري لومړنۍ غوښتنې دي.

د يوې معتبرې درنې مقننه قوې احياء او د ملت رأيې ته د رجوع له لارې د منتخبې شورى تشکيل او د يوې داسې معتمدې قضائيه قوې جوړول چې د ټولنې فرد فرد د هغې پرېکړو ته په درنښت وګوري او د ټولنې د ټولو فردي او اجتماعي پېښو په هکله د وروستۍ پرېکړې صلاحيت او جرأت ولري، زموږ د حکومت له مهمو اهدافو څخه دي.

اجازه نه ورکوو چې په دولتي محافلو کې بې ځايه مصرفونه وشي، د توجيه وړ نده چې عام ولس دې وچه ډوډۍ نشي موندلی خو د واکدارانو په دسترخوان دې رنګ رنګ طعامونه پراته وي. بايد په دولتي محافلو کې داسې ساده ګي غوره شي چې د عام ولس د اقتصادي ابتر حالت سره متناسب وي.

## په اجتماعي برخه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام ټول انسانان برابر او د یوه بل ورونه ګڼي او هغه ژبني، قومي او مذهبي تعصبات حرام شمېرې چې اجتماعي عدالت تهدید کړي او د رنګ، ژبې او مذهب په اساس د چا انساني حقوق تلف کړي. ټول افغانان او د افغان ولس ټولي پرګنې او اقشار، د واحد ملت غړي دي چې اسلامي حکومت به دوی ته په سیاسي، اجتماعي او اقتصادي لحاظ یو شانته شرایط برابروي او د هر راز تعصب او تبعیض جرړې به باسي.

په اسلام کې ښځو ته تر بل هر مسلك نه زیات امتیازات او حقوق منل شوي، باید د ښځو ټول اسلامي حقوق احیاء او تضمین شي او د افغانستان په نوي اسلامي ټولني کې خپل اسلامي رول ترلاسه کړي. امید دی زموږ نوی اساسي قانون د ښځو د اسلامي حقوقو او اجتماعي فعال رول په هکله واضحه فیصله وکړي. موږ غواړو ښځې او نارینه خپل اسلامي هویت او شخصیت وساتي او د پردیو د سپك تقلید پرځای د یوه مستقل، تاریخ جوړونکي قوم د قهرمانو ځامنو په څېر نړیوالو ته نمونه او د تقلید وړ شخصیتونه وړاندي کړي. حقیقت دا دی چې د ښځې سقوط، د ټولني د سقوط مقدمه ده، که ښځه د ایمان او علم په ګڼې سنبال شوه، په خپلي غېږ کې به د تاریخ ستر ستر قهرمانان روزي.

موږ د اسلام په چوکات کې د مذهب په آزادي او د جومات او قضائیه قوې په آزادي باور لرو. همدا راز پداسي حال کې چې د احزابو تر منځ د شخړو او منازعاتو د سوله ایز حل طرفداری کوو، په احزابو کې د سالم سیاسي رقابت او ولس ته د انساني خدماتو په وړاندي کولو او خپل مرام، تګلاري، سیاسي او اجتماعي پروګرام ته د ولس د رابللو او د خیر په کارکې له یوه بل سره د تنافس خورا مساعد شرایط برابرول غواړو. د احزابو د سیاسي فعالیت د کاملي آزادي طرفدار یو. اسلامي سیاسي احزاب کولی شي د قانون سره سم، اخبار، مجلې او نور تبلیغاتي وسایل ولري. دوی حق لري چې د حکومت په کړو وړو او تصرفاتو نظارت وکړي او خپل اعتراض او انتقاد ولس ته وړاندي کړي. په هیڅ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاسي او نشراتي فعالیت تر هغه بندیز نشي لګېدی چېد چا په عزت اوکرامت ئې تېری نه وي کړی، د رښتیا په ځای ئې دروغ نه وي خواره کړي او د هېواد د ګټو په خلاف او د امنیت د مختل کولو لپاره ئې هڅوني او تحریکات نه وي کړي. هیڅ ډله حق نلري دولتي تبلیغاتي وسایل، راډیو او تلویزیون په خپل انحصارکي او د خاصي ډلي په ګټه وڅرخوی، دا وسایل په ټول ملت پوري مربوط دي، واکمن او مخالف احزاب له هغه نه د مساوی استفادی حق لري.

یتیمانو او د شهداوو کورنیو ته جدي پاملرنه، د جهاد له معلولینو سره دوامداره مرسته او د مهاجرینو د بېرته راستنېدو او په خپل ټاټوبی کي د دوی اسکان ته خاصه توجه د دولت د لومړنیو دندو څخه دي.

## د ښووني او روزني په برخه کي

موږ په ټول جدیت سره هڅه کوو چي د هېواد د ښووني او روزني نظام په سالمي او اسلامي بڼه کي ډېر ژر فعال کړو. تعلیمي نصاب اصلاح او زموږ د اسلامي ټولني د نوو مقتضیاتو سره سم عیار شي، داسي چي زموږ د تعلیمي مؤسساتو نه د ایمان او عقیدی په وسله سمبال مؤمن افسران، داکتران، انجنیران، د خدای نه وېرېدونکي حاکمان او قاضیان او باایمانه فني او مسلکي پرسونل فارغ شي.

حکومت به خپل طویل المدت تعلیمي پلان داسي جوړوي چي د هېواد په ټولو ولایاتو کي د ابتدایي او عالی زده کړي مناسب شرایط برابر شي، د هېواد د ننه او بهر د ځوانو زده کوونکو د سالمي فکری روزني او ښه تنظیم او د دوی له ځوان ځواك او استعداد نه د اسلامي انقلاب د اهدافو د تحقق په لاره کي ګټه اخستل او د دوی د فکری ودی لپاره داسي مناسب شرایط برابرول چي زموږ ځوان نسل د راتلونکي اسلامي افغانستان لپاره سالم او مؤمن قیادت او مشرتابه وړاندي کړي، د حکومت د سترو اهدافو څخه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روغتیا په برخه کې

روغتیا او صحت ته پاملرنه ترهغه په زړه پورې نتیجه نشي ورکولی او د ناروغیو د خپرېدو مخه نشي نیولی ترڅو چې د فقر د معالجې لپاره متوازنه هڅه ونشي. فقر د اخلاقي او اجتماعي مفاسدو ترڅنګ د ناروغتیا او رنځ د خپرېدو ستر عامل دی. د روغتونونو او کتنځیو بیا ودانول او د دوا درمل د تسهیلاتو د برابرولو ترڅنګ څنګ، دولت په دې مکلف دی چې د خلکو د اقتصادي ستونزو د حل او د ولس د ژوندانه دسطحې د لوړولو په هکله ګامونه واخلي.

## د کرهنې په برخې کې

د څوارلس کلنې جګړې په ترڅ کې د هېواد کرهنې، بندونو، نهرونو، کاریزونو او ځنګلونو ته سخته صدمه رسېدلې او په همدې تناسب مالداری زیانمنه شوې، د هېواد دې اړخ ته جدي پاملرنه د حکومت له مهمو دندو څخه ده. متأسفانه تېرو مفسدو حکومتونو د هېواد د اوبو غني زېرمو، وسیع حاصل خیزو دشتو او د حاصل وړ شاړو ځمکو ته هیڅ پاملرنه نده کړې. زموږ د اوبو زیاته برخه بهرنیو ملکونو ته درومي، د اوبو د مهارولو او له هغه نه دشاړو ځمکو د آبادولو په برخه کې هیڅ استفاده نده شوې، زموږ هېواد د کرهنې په برخه کې د ډېرې کمې توجه په نتیجه کې د افغانستان د موجوده نفوس په پرتله څو چنده نفوس ته غله او میوه ورکولی شي، د هېواد لومړنی ضرورت همدا دی چې د غلې له خوا په خپلو پښو ودرېږي، نه یوازې دا چې له بهرنه د غلې او غوړیو او نورو حیواني محصولاتو له واردولو نه وژغورلی شو، بلکې خپلو ګاونډیو هېوادو ته ئې هم صادر کړو. دې هدف ته د رسېدو ټول امکانات شته، په لږ پاملرنه او زحمت سره دا اهداف ترلاسه کېدای شي.

## د اقتصاد او تجارت په برخه کې

زموږ هېواد د جګړې او د کمونستانو د تسلط نه د مخه له اقتصادي پلوه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنيا تر ټولو وروسته پاتې هېواد وو. د جګړې په نتيجه کي زموږ محدود اقتصادي تأسيسات هم له منځه ولاړل، د بې امنيتي په وجه تجارت کلکه صدمه وليدله، تجارانو او بډايانو خپلې شتمني بهرته انتقال کړې. نن نن زموږ ناداره هېواد له اقتصادي پلوه له سختو ستونزو سره مخامخ دی، د جګړې له پيل نه ترنن پوري دولت د بانك نوټونو د چاپولو له لاري خپل مشکلات حل کړي، پدې سره د افغاني نرخ ورځ په ورځ راټيټ شوی او پدې تناسب قيمتونه لوړ تللي، اتلس کاله د مخه د يوې ډوډۍ نرخ (۲) افغاني وو خو اوس د هغې بيه تر پنځه سوه افغانيو لوړه شوې، له دې دردوونکي حالت نه د هېواد ژغورل دا ايجابوی چي:

الف: د بانك نوټونو د بې دريغه چاپولو نه ډډه او د جعلی نوټونو مخنيوی وشي.

ب: په ملك کي داسي امنيتي شرايط برابر شي چي افغاني تجاران او بډايان خپلې پانګې هېواد ته راانتقال کړي او بهرني پانګې اچوونکي دې ته تشويق شي چي زموږ په ملك کي سرمايه ګوزاری وکړي. موږ د اقتصاد په برخي کي په آزاد بازار باور لرو، دولت په بازار او خصوصي تشبثاتو صرف دومره کنټرول لګولی شي چي له ناجايزو او حرامو تصرفاتو، احتکار، سود، جعلکاری، قمار او دوکې نه مخنيوی وشي او پری نږدې چي په ټولنه کي هغه حرامه راکړه ورکړه رايج شي چي د اسلام د اوچتو اخلاقی معيارونو منافی او بازارته د هغه څه د عرضه کېدو باعث شي چي د انسان صحت او روغتيا ته صدمه رسوی. بايد په شرابو او مخدره موادو کلك بنديز ولګولی شي او ولس ته د مخدره موادو د توليد او تجارت په ځای د معيشت د تأمين پتمني او حلالی لاري پرانستلی شي. زه خپل مؤمن ولس ته بلنه ورکوم چي د مخدره او نشه ئي موادو په خلاف په پراخ جهاد کي له حکومت سره لاس يو کړي.

موږ له بهرنه د پور د ترلاسه کولو له لاري د دولتي پانګې اچولو په ځای دې ته ترجيح ورکوو چي کورني او بهرني پانګه لرونکي دې ته تشويق کړو چي زموږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هېواد کې په مثمره او عام المنفعه پروژوکې پانګې واچوی. غواړو چې دولتي تصدیو ته یا انتفاعی بڼه ورکړو او یا ئې خصوصي سکتورته انتقال کړو، په تجارت او پانګې اچونې باندې د دولت هر راز انحصار پای ته ورسېږي او دولتي پانګه اچونه یوازې د ثقیله صنایعو په محدوده کې راخلاصه کړو.

پدې کې شك نشته چې د شوروي اتحاد د زوال او په نویو مستقلو جمهوریتونو د هغه د تقسیم په نتیجه کې زموږ هېواد یو ځل بیا خاص تجارتي او اقتصادي اهمیت ترلاسه کړې. که موږ پدې موفق شو چې ډېر ژر په ملك کې امنیت تأمین کړو او د نوو لارو په پرانستلو سره د مرکزي آسیا نوی جمهوریتونه د افغانستان له لارې له نورې نړۍ سره وصل شول، زموږ هېواد لدې نه د اقتصادي ودې په لار کې په زړه پورې ګټه او چتولی شي.

د نفت، ګاز او نورو معدنونو د اکتشاف او استخراج او د صنایعو د تأسیس په ساحه کې پانګې اچولو ته په لومړې درجه کې اهمیت ورکوو، خو دا لازمه ګڼو چې لومړې دې نفت او ګاز په نازله بیه د هېواد والو د استفادی لپاره عرضه شي او بیا دې بهرته د صادرولو لارې ولټولی شي.

## د بهرنۍ سیاست په برخه کې

په بهرني سیاست کې هم په اسلامي اصولو ولاړ، فعال او مؤثر سیاست غوره کول غواړو. له حق نه دفاع، د مظلوم مرسته، د تېرې او تجاوز غندنه، د نړۍ ټول وګړی د یوې ستري کورنۍ غړي ګڼل او د ټولو هېوادونو ترمنځ د ښو اړیکو ټینګول، له اسلامي ملکونو سره د دوستي او ورورولی ترټولو ښه روابط ساتل، په نړۍ کې د جګړې، تجاوز او تېرې خاتمه، د سولې او اجتماعي عدالت تأمین او ولسونو ته د خپلې عقیدې او ملي مصالحو په رڼا کې د خپل برخلیك د ټاکلو او د خپلې خوښې سیاسي نظام د غوره کولو حق ورکول، د استکباری ځواکونو له خوا په مظلومو بې وزلو ولسونو باندې د پردیو د خوښې د حکومتونو په کلکه غندنه، د نورو په کورنیو چارو کې عدم مداخله او د دوی استقلال، آزادي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارضي تماميت ته په درنښت کتل او د بين المللي ستونزو په سوله ايز حل تأکېد کول، زموږ د بهرني سياست اساسي او اصلي کرښې جوړوي.

موږ له اسلامي هېوادو مخصوصاً پاکستان، ايران او سعودي عربستان او ټولو هغو ملکونو سره چي زموږ د اسلامي جهاد ملاتړ ئې کړي، زموږ مهاجرينوته ئې پناه ورکړي، زموږ په هېواد کي ئې د جګړي د پای ته رسېدو او د سولې د اعادې په لارکي مرسته کړي، د دوستانه اړيکو لازيات ټينګښت غواړو.

د بين المللي سازمانونو غونډو کي به افغانستان د يوه فعال او مؤثر غړي په حيث د خپل اسلامي رول ادا کولو هڅه کوي، داسي چي بين المللي سازمانونه د سترو ځواکونو د اغېزې نه آزاد او د بين المللي شخړو په آوارولو، د جګړو په پای ته رسولو او د بډای او نادارو ملکونو ترمنځ د ژوري فاصلې په راکمولو کي مؤثر نقش ترسره کړي او دنيا ته د يوه نوي عادلانه نظام په وړاندي کولو مؤفق شي.

متأسفانه نن د نړۍ ټولي جګړي په اسلامي ملکونو کي او د مسلمانانو په خلاف رواني دي، د دې جګړو په ترڅ کي په اروپا، افريقا او آسيا کي مسلمان مري، د مسلمان کور ورانېږي، مسلمان هجرت ته مجبورېږي او د هغه په ملك کي د جګړي لمبې اوچتي دي. اسلامي هېوادونه د صنعتي ملکونو د وسلو د خرڅلاو او د مصنوعاتو د عرضې په مارکيټ بدل شوي، په اسلامي هېوادونو کي د جګړو، عدم استقرار او سياسي تشنج ستره وجه همدا ده. لدې دردوونکي حالت نه د امت د ژغورني لپاره موږ د اسلامي نړۍ د مزيد يووالي طرفداريو.

بايد په بين المللي پېښو او مخصوصاً هلته چي پر يوه مسلمان هېواد تېري کېږي او د اسلامي امت ګټې تهديدېږي، ټول اسلامي هېوادونه واحد، قاطع او فعال دريځ غوره کړي.

موږ د کشمېر د آزادي د تحريك سياسي او اخلاقي ملاتړ کوو او پدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تأکېد کوو چې د کشمېر ولس ته د خپل برخليك د ټاکلو حق ورکړل شي او په هغه ملك کې دې د بې وزله کشمېريانو په خلاف د تشدد او خشونت سلسله بنده شي.

موږ د فلسطين په آزادي او له ټولو اشغال شوو ځمکو څخه د اسرائيلو په وتلو تأکېد او د فلسطينيانو د روا مقاومت ملاتړکوو. په تاجکستان کې د کورنۍ جګړې پای ته رسېدل او د برمايي مسلمانانو په خلاف د تشدد اوخشونت خاتمه زموږ د بهرني سياست عاجلې غوښتنې دي.

لکه څنګه چې موږ په خپل هېواد کې سوله، ثبات او استقرار غواړو، پدې سيمې او ټولې نړۍ کې د ثبات او امنيت غوښتونکي يو او له هرهغه حرکت سره مخالفت کوو چې د نورو ملکونو سوله او امنيت او سياسي ثبات تهديد کړي.

ګرانو هېوادوالو!

زه د افغاني ټولنې فرد فرد ته او ټولو هغو ډلو او ځواکونو ته چې پر خپل مظلوم ولس ترحم او عاطفه لري او له خدای نه وېرېږي بلنه ورکوم چې د جګړې د پای ته رسولو او په هېواد کې د تل پاتې سولې د تأمين لپاره لاس يو کړي، د يوې واقعي اسلامي ټولنې دجوړولو لپاره ملا وتړي او د ځوارلس کلن اسلامي جهاد هغه مقدس اهداف ترسره کړي د کوم لپاره چې زموږ زړه ور ولس يونيم مليون شهيدان ورکړل.

په ګران هېواد افغانستان کې د سولې د تأمين او د منتخب اسلامي حکومت د جوړېدو په هيله.

اقول قولی هذا استغفرالله لی و لکم و السلام علیکم و رحمة الله وبرکاته.

• د مسعود انډيوالانو په ټول کابل کې دا افواه خوره کړه چې د حزب اسلامي لخوا معرفي شوي د دفاع وزير د بګرام هوايي ميدان ته د تلو شوق کړي وو خو په نظام قراول کې انضباطانو ودرولو او ورته وئی ويل: دريش: شاګرځ ! غوښتل ئې خلکو ته ووايي چې د ده انډيوالان نه دا معاهده مني او نه د دفاع وزير.

(c) ketabton.com: The Digital Library



• له مانه د مخه چي ځوك كابل ته تللي وو متأسفانه خلكوته ئې د ويلو لپاره څه نه درلودل، له ولس سره نشو مخامخ كېدی، د كمونستانو تر تأثير لاندي تللي وو، په ځينو باندي خوكمونستانو داسي لوبی كړي وې چي نور نو د خلكو په وړاندي د اسلام او مسلماني په يادونه شرمېدل، ما دا اراده وكړه چي د هري جمعی لمونځ به د كابل بېلو بېلو جوماتونو ته رسوم، هلته به له خلكو سره يوځای لمونح كوم، امامت او خطابت به هم په خپله كوم، په مهمو مسائلو به بحث كوم، د خلكو پوښتنو او سوالونوته به ځواب وايم، زياتره وخت به غونډو، جلسو، وينا گانو، ليدنو او كتنو ته وركوم، له ځوانانو سره تفصيلي غونډې، له مأمورينو سره جلسې، د كابل ښځينه مأمورينو ته ويناگاني، د مختلفو سيمو له قومندانانو، سپيين ږيرو، مخورو او استاځو سره يوه په بل پسې غونډې. د دې غونډو، لمونځونو، خطبو او ويناگانو راپورونه د راډيو او تلويزيون له لاري خورېدل، په خلكو كي د هغو اغېزې ډېري ځرگندي وې. مسعود او رباني لدينه سخت وېرېدل، كوشش ئې وكړ چي د راډيو او تلويزيون له لاري د هغوی د انعكاس مخه ونيسي خو د دوی دا هڅه شنډه شوه، د مسعود زړه هومره پړسېدلی وو چي آخر ئې د بی بی سي له لاري زما د هغې وينا مخالفت وكړ چي د كورنيو چارو د وزارت په لوی تالار كي مي د دولت مأمورينو ته درلوده او په هغې كي مي وويل: د دولت ټول نارينه او ښځينه مأمورين بايد په كلكه او جدي توگه د اسلامي آدابو مراعات وكړي، هغه مأمور چي د اسلام په نسبت التزام نلري، د اسلامي دولت په اداراتو كي د كاركولو حق نلري، ښځي بايد خپل اسلامي هويت وساتي او د دښمنانو تقليد ونكړي، اسلامي حجاب مراعات كړي، په كابل كي بايد كامل امنيت وي، د خلكو سر، مال او عزت بايد خوندي وي، غصب شوي كورونه او املاك بايد خپلو خاوندانو ته مسترد شي، هيڅوك حق نلري د باصلاحيته او شرعی محكمې له حكم نه پرته څوك بندي كړي. شخصي بندي خانې بايد ختمي شي ... د دې وينا د ځينو ټكو په هكله بی بی سيحساسه شوه، له مسعود سره ئې مركه غوښتهء خو هغه د لومړی ځل په خبر د خلكو د حساسيت او مخالفت د راپارېدو له وېری خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



نطاق معرفي کړ چې هغه وويل: دا د حکمتيار شخصي نظرات وو، موږ ورسره موافق نه يو...!!

- د وحدت سره زموږ په وساطت خبري وشوې په اوربند او د اسراوو په تبادلې او په حکومت کې د شاملېدو په سر توافق وشو او پدې ترتيب د باميان په لورې جګړه متوقف شوه.

- له جنبش سره مو خبرې وکړې، جنګي اسراء تبادله شول، د کابل ـ حيرتان لويه لار پرانستلې شوه، پس له څو کلونو د شمال ولس وتوانېدو چې د سالنګ له لارې کابل ته راشي او له کابل نه شمال ته ولاړ شي.

- له وحدت او دوستم سره د مذاکراتو په هکله مو په کاريزميرکې جلسه وه، رباني او سياف هم حاضر وو، زما کوشش دا وو چې مسعود پدې قانع کړم چې په يوه وخت کې په څو استقامتونو جګړه نه ګټوره ده او نه ممکن، د خبرو په دوران کې هغه ما ته مخ کړ او وئی ويل: همدرد ته وظيفه ورکړه چې دوستم ترور کړي!! دوستم د ده له منطقې نه جوزجان ته ځی راځی، ډېر په آساني سره د هغه چاره کولی شي!! دا خبره ئې په داسې وخت کې کوله چې هيئت ئې له دوستم سره په مذاکراتو بوخت وو!! ما ورته وويل: موږ هغه خلك نه يو چې د دوستي په جامه کې دښمني کوي، زموږ دوستي او دښمني څرګنده وي. "ماهمدلته مسعود ښه وپېژندو! خدای خبر چې د څومره کسانو په هکله به هغه په همدې شکل له نورو نه غوښتي وي چې څه چاره ئې وکړي او څومره کسانو ته به ده د مذاکراتو په وخت کې د ترور منصوبې جوړې کړې وي" له هيڅ افغان نه ما د داسې چلند انتظار نه کولو.

- د مخلوع پاچا نطاق وزيری اعلان وکړ چې اعليحضرت غواړي په لنډو راتلونکو ورځو کې وطن ته ستون شي او د خپل ولس خدمت وکړي. دا اعلان پدې خاطر د پاملرني وړ وو چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: د لومړۍ ځل لپاره د مخلوع پاچا نطاق د دې خبرې د کولو جرأت کوي.

ب: یوه امریکائي هیئت پدغو ورځو کې د افغانستان او پاکستان دوره کړې وه، له طالبانو، دوستم او مسعود سره ئې لیدلی وو، امریکائي هیئت له ستنېدو وروسته په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې ټولو هغو افغاني مشرانو د ظاهرشاه له ستنېدو او د مؤقت حکومت له ریاست سره موافقه کړې کوم چې دوی پدې سفر کې ورسره لیدلی.

ج: جنرال بابر د بی نظیر بوتو د حکومت داخله وزیر چې له امریکائیانو سره ئې ډېره نږدې او زړه دوستي وه هر چا ته ویل چې طالبان د ظاهرشاه لشکر دی.

د: طالبانو ټول غربي او جنوبي ولایات نیولی وو او اوس ئې په کابل د یوه برید لپاره ځان تیارولو.

هـ: په ټولو باخبره حلقو کې دا تبصره کېده چې امریکائیانو د طالبانو، دوستم او مسعود نه دا موافقه ترلاسه کړې چې په کابل کې د ظاهرشاه تر مشرۍ لاندې ائتلافي حکومت جوړ شي.

ما د دولت دعالی شورې په غونډې کې له مسعود نه پوښتنه وکړه چې د ظاهر خان نطاق په کوم جرأت او اطمئنان داخبره کوي، څنګه امریکایي هیئت وایي چې ټولو افغاني مشرانو د پاچا په هکله دوی ته اطمئنان ورکړې، امریکایي هیئت له تا سره هم لیدلی، پدې هکله څه وایې؟ ده په ماته ګوډه ژبه او لالهانده لهجه وویل: له ما نه امریکایي هیئت څوڅو ځله د پاچا په هکله پوښتنه وکړه، ما په پای کې ورته وویل چې که مشران موافقه وکړې زه اعتراض نلرم! د شورۍ نورو غړو ته مې مخ کړ او ومې ویل: زما وړاندیز دا دی چې د دې تشویشونو د رفع کولو لپاره باید رسماً د بدنام پاچا په هکله خپل دریځ څرګند کړو او ولس ته اطمئنان ورکړو چې موږ د پاچا د بیا مسلط کولو د امریکایي پلان په کلکه مخالفت کوو. د عالی شورۍ اکثرو غړو د دې وړاندیز ملاتړ وکړ خو د شورای

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظار غړو لدې سره مخالفت وکړ، د دوی له مخالفت نه څرگنده وه چې دوی په پټه کې له امریکائیانو سره پدې ارتباط ژمنه کړې وه، د دې ژمنې په اساس وو چې شورای نظار د رټل شوي پاچا له پلویانو سره په روم، آلمان او ترکیې کې داسې غونډې جوړې کړې چې ریاست ئې د شاه پرستانو په لاس کې وو.

- د شوروي اتحاد له زواله وروسته د افغانستان په اړه د مسکو ستراتیژی دا وه چې پدې هېواد کې باید جگړه دوام وکړي او د سولې او ثبات د قائیمدو او د یوه اسلامي حکومت د جوړېدو مخه ونیسي، د دې لپاره چې د مرکزي آسیا نوی آزاد شوي هېوادونه د افغانستان له لارې له نوري نړۍ سره وصل نشي او د تیلو ستري زېرمې ئې د روسي کمپنیو په واك کې پاتې شي او دې هېوادونو ته د اسلامي پاڅون څپانده بهیر راانتقال نشي، باید په افغانستان کې جگړه دوام وکړي. کې جی بی مسعود د جگړو د ادامې لپاره د یوې ښې وسیلې په حیث انتخاب کړي وو. د نوی حکومت په دوران کې کې جی بی د سابق په څېر مسعود ته پیسې او وسلې لېږلې او پدې سره ئې غوښتل چې له هغه نه د دې حکومت د تضعیف او ړنگولو په لارکې کار واخلي. د شمال د جبهې ځیني نورو حامي هېوادونو هم له حکومت سره د تعامل په ځای د خپلې خوښې ډلو سره مخامخ معامله کوله او پدې سره ئې د حکومت د کمزوری کولو هڅه کوله.

- مسعود او رباني د معاهدې بند بند نقض کړ، رباني دې ته تیار نه وو چې زموږ مأمورین په دولتي اداراتو کې توظیف شي، د دولت د سقوط تر ورځې ئې د خارجه وزارت او داخله وزارت لپاره زموږ معینان قبول نکړل. مسعود نه غوښتل چې زموږ مسلح قطعات د معاهدې مطابق په کابل کې ځای په ځای شي، په ځای شوي مجاهدین ئې په مختلفو پلمو تنگول.

- د کابل له سقوط نه څو اونۍ مخکې ما د کابینې غونډې وځنډولی او په وروستۍ غونډې کې مې وزیرانو ته وویل: تاسو او دا تالار دې شاهد وي چې دا نظام به حتماً او ډېر ژر نسکورېږي، دې نظام د پاتې کېدو ټول مقومات له لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي، که سقوط ونکړي باید تعجب وکړو، ما ته وضعیت داسي معلومېږي چي که په کابل حمله وشوه له هغو ۴۵۰ زره کسانو نه چي اوس ئې مسعود اکمالوی ۴۵۰ کسان به هم د کابل دفاع ته چمتو نشي، زه پدې حالت کي د کابینې د غونډو دائرول عبث او بیهوده کارگنم. تاسو په خدای سپارم!!

له څو اونیو وروسته طالبانو د ازرې له لاري خپل عملیات پیل کړل، له سختي جگړې نه وروسته ازره د دوی په لاس کي پرېوته، ورپسې جلال آباد د خاص مقاومت نه پرته سقوط وکړ، د جلال آباد په سقوط کي د دې ولایت د مشهورو او نومیالیو قومندانانو په شمول د ۷۲ کسانو یو ځائی وژني لویه ونډه درلوده، دوی له طالبانو سره د خبرو آترو په پلمه تورخم ته وغوښتلی شو، تورخم ته نږدې د مرحوم شمالي خپلوانو او مجاهدینو ورته کمین نیولی وو او ټول ئې د سړك په سر یوځائی په قتل ورسول. حاجی عبدالقدیر پېښور ته وتښتېدو، د حزب په مجاهدینو کي دا توان وو چي له جلال آباد نه دفاع وکړي. خو مسعود دا نه غوښتل چي دحزب ځواکونه فعال شي او د جلال آباد د دفاع قومنده په لاس کي واخلي، هغه د حضرت علی په لاس چي یو غیر پښتون او د مولوی خالص د حزب غړی وو د دې کار تر سره کېدل غوښتل، خو دا کار ممکن نه وو. جلال آباد په ۲۱ / ۲/ ۱۳۷۵ د طالبانو په لاس کي پرېووت.

له کابل نه چي د جلال آباد د دفاع په خاطر کوم دولتي قطعات لېږل شوي وو د درونټې د بند دوو خواوو ته مستقر شول، د لغمان مجاهدین لا د مخه په درونټې کي ځای په ځای وو، طالبانو په جلال آباد کي د لنډ تم کېدونه وروسته په لومړۍ خط خپل برید پیل کړ، د ډېرکم مقاومت نه وروسته دولتي قطعات په تیښته شول، د دوی خوا ته لومړی خط مات شو، د لغمان مجاهدین له دوو خواوو نه محاصره شول، ډېره مرگ ژوبله ورواوښته، په پای کي دا مهمه سیمه د طالبانو په لاس کي پرېوته، ورپسې ئې په دولتي قطعاتو حمله وکړه، د دې حملې په نتیجه کي پدغو قطعاتو کي داسي بدنظمي او گډوډی خوره شوه چي د تیښتي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت کې ټانکستانو څو کسان تر چاینونو لاندې کړل، له تنګي ابریشم او له سروبی نه هم ووتل. سروبی ئې پداسې حال کې پرېښود چې د حزب اسلامي مجاهدین د ازرې او بادپښن په سنګرونوکې پاتې وو او د سروبی له تخلیه کېدو نه خبر نه وو.

دولت خپل جنګي قطعات جلال آباد او سروبی ته لېږلی وو، له ماتو نه وروسته پدوی کې نه د مقاومت شیمه پاتې وه او نه روحیه. پدې ترتیب طالبانو ته د کابل د فتحی لار پرانستلې شوه. د سروبی له نیولو نه وروسته له دوو لارو، لته بند او ماهیپر نه د کابل په لورې وخوځېدل، مسعود خپلو کسانو ته په مخابرې کې ویل چې د ماهیپر تنګی منفجر کړې، پل والوزوی او لاره بنده کړې، هر ځلې هغوی ورته ویل: صیب باروت مې تیارکړل، دا دی موټر هم تیار شو، همدا اوس خوځېږې، مطمئن اوسئ لار بندوو، خو تر پایه ئې دا کار ونه کړ. طالبان له دواړو خواوو پل څرخي ته راورسېدل. په پل څرخي کې محدود شمېرکسانو د څو محدودو ساعتونو لپاره مقاومت وکړ، کابل عملاً تخلیه شوی وو، ټول قومندانان او مسئولین وتلی وو، زه په صدارت کې وم، ورونو د مسئولینو د وتلو اطلاع راکړه، ارګ ته ولاړم، په ارګ کې له څو انضباطانو نه پرته هیڅوك نه وو، راته وویل شول چې استاد په بلنداژونو کې ستاسو انتظار کوي، هلته ورسېدم، ګورو چې ټولو بار بستره تړلې او د جبل السراج په لورې د خوځېدو لپاره تیاری نیسي. لدوی سره یوځای په هغه لورې وخوځېدو او پدې ترتیب مظلوم کابل په **۱۳۷۵/۷/۵** د پنجشنبې په ورځ د طالبانو په لاس کې پرېووت او د کابل منحوس ائتلافي حکومت رانسکور شو.

رابن رافیل د امریکا د خارجه وزارت معیني د طالبانو په لاس د کابل د سقوط په اړه وویل: موږ د هغه حکومت په نسکورېدو اوښکې نه تویوو چې حکمتیار ئې صدراعظم وو. هغې مسعود ته په یوې لیدنې کې ویلي وو: له کومې ورځې چې حکمتیار کابل ته ننووت موږ د افغانستان په اړه خپله مصرفي بودجه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درې برابره کړه، مسعود وايي: د دې دا خبره مورږ ثبت کړي او کست ئې راسره ده. مس د رابن رافيل په همدې خبري استناد کولو او ويل ئې: د کابل د سقوط اصلي عامل دا وو چې مورږ د حکمتيار په شان له يوه داسې بنسټ پال سره روغه جوړه وکړه چې امريکا په هيڅ صورت کې هغه نشو زغملی، د همدې لپاره امريکائيانو له طالبانو سره خپلې مرستې درې برابره کړې او کابل د دوی په لاس کې پرېووت.

نور بيا

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مات وزرو خېل کي

هغه شپه مي هېره نه ده
آ سره، تیاره اوږده
ټول په ژور خوب وو ویده
هره خوا چوپه چوپتیا
هد بري شانته فضا
*****
د ژوندو دي هد بري کي
نه خوځښت شو چا لیدلی
نه ئي ځوږ شو اورېدلی
د مات ځلي په سر ناست کونگ
وازو سترگو سره ویښ وو
خو ساکت او یخ وهلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



****

سپینکۍ فاختې وې غلې
برگ کارغان شور نه لوېدلي
وزر مات د عقابانو
جگ پرواز نه وو لوېدلي

*****

سیلۍ یخې د سرې شپې
که هیبت د دې تیارې شپې
د ویدو د خوځولو په خاطر چا
د پرتو د هڅولو په غرض چا
نه پوهېږم چا راویښ کړم؟
نه پوهېږم څنگه ویښ شوم؟

****

د ویدو د ویښولو
د پرتو د هڅولو
د کاروان د خوځولو
په دې هیله او خاطر مې
خپل وزرونه وڅنډل کلك
په وار وار مې په اوچت غږ
په هرچا او په هر لوري
دا نارې کړلې اوچتې:
که په منډه راویښ نشو خوبولو
که خوځښت ته تیار نشو یخ وهلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول وزرونه کرخت کېږي
لندې پښې مو کنګل کېږي
تنګين مرګ را ته کمين کي
سور صياد را ته مرصاد کي
*****

باري ربه!
زما دا هيلې دي شېرازه
زما خوبونه دي رښتيا کړل
زما وزرونه دي پياوړي
زما غږونه دي رسا کړل
*****

چي په چا کي څه شيمه وه
په کوم زړه کي د الوت چي تلوسه وه
په وزر کي ئې چي توان د الوتو وو
چي ئې عزم له تيارو نه د وتو وو
زما په غږ شو رابيداره
خپل وزر به ئې څنډلو
د الوت لپاره څرك او ناقراره
*****

د تياره سباوون هغه شور او ځوږ
د الوت لپاره هغه تياری
د يوه بل د هڅولو هغه هڅي
هله هله له هر لوري په جګ غږ
نه شور ځوږ د دې سحر د هېرېدو دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه داستان د دې سفر د هېرېدو دئ

*****

زه اوچت شومه له ځمکي،
د سرلوړو خیل په ما پسې
څنډ نه پرته ټول اوچت شوو په هوا کي
هر یو پوه چي اوږد سفر لرو په مخکي
جګو غرو نه اوښتل لرو په مخکي
خړي وربځي مو په لار کي
د رڼا په لوري تګ دئ له تور تم نه
د خپلواك او ډاډه ژوند او تودې هیلي
ګران سفر دئ له ټاټوبي د ماتم نه

*****

ما ویل له دغو تورو غرونو آخوا
آ د سره شامار د ځالي،
جګي څوکي د مغرور غره
سر کوو بل لور ته اوړو
د سفر یاران هك پك شوو
لکه څوك چي خپل وزر کي
نه د لوړ پرواز زور ګوري
نه سینه کي د اوږده سفر شور ګوري
خو نه کوز شول نه په شا شول
نه له خیل څخه جلا شول

*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنګ دنګ غرونه ټول زمونږ تر نظر لاندي
لوړې څوکې ټولې زمونږ تر وزر لاندي
ټولو غرونو نه تېر شوي
مزل پای ته نږدې شوی
سرمنزل را ته له لرې ځان ښودلو
زړونه شوق نه دربېدلو
رڼې اوښکې د شادۍ مو
په لېمو کې رغړېدلې
*****
ناڅاپي له یوې ګوښې نه
یوه بوډا ، ضعیف، طماع
په پریوتي غږ نارې کړې
د سفر ستړو ملګرو!
نور وزر نشو وهلی
نور مزل نشو کولی
په یوې ساه خو اوږد مزل نشو وهلی
مګر نګورئ چې لاندي په دې خوړ کې
د مرغانو سیل کوز شوی
که له رنګه تور تور برېښي
خو زمونږ له خېله بریښي
*****
اندېښنې ئې را پیدا کړې
دې بلنې د ستړیا او کوزېدا
له ضعیف زړه خوټېدلې دې وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ مې واړاوو ملګرو ته چې پام کړئ
د سفر صبور ملګرو اوچت ګام کړئ
نه دا ځای د کوزېدو دئ
نه دا خیل د ملګرتیا
نور نو یو وزر وهل دئ تر هدفه
نور نو یوه ساه اخستل دئ تر تم ځایه
****
د ضعیف په رفاقت کي
د طماع متابعت کي
یو په بل پسې داسي کوز شول
چي ئې نه کتل زما خوا ته،
نه ئې غوږ وو زما وینا ته
نه ئې پام وو د دې ډلي دود دستور ته
چي له خپل امام نه مخکي کوزېدل ئې
حرام کړي دي هر چاته
*****
له ناچاري ورځي زه هم
هلته کوز شوم
پریشانۍ او اندېښنې کي
د سپېره ډاګ یوې ګوښې کي
*****
کله زړه راته ویل چي دا خېل پرېږده
له درنې کرکي نفرت سره اعلان کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې زاري د نيمي لارې له يارانو
يا پرواز کړه د الله په لور يوازي
يا په لټه د بل خېل شه
د ملګرو مصممو وفادارو
*****
زه لا نه وم فارغ شوی له دې فکره
چي ناڅاپه ډزې پيل شوې
له ښي لوري، له کيڼ لوري
له شماله، له جنوبه
له ختيزه، له لوېديزه
له هغو لوريو هم
چي پناه ځای به مو ګڼلو
ځينې پرېوتل په ځمکه
ځينو وخوړل سرونه
د چا ماتې دواړه پښې شوې
د چا مات شولو وزرونه
ځيني والوتل پښې ماتې، وزر مات
سرو مرميو ئې بڼکي سوځولې،
د دښمن ناڅاپه ډزو وېرولي
زه هم والوتم ناچاره
د مات زړو، مات وزرو په دې خېل کي
دا دئ ګورئ د هدف په لوري درومو
*****
په دې هيلي چي دا خېل به بيا جوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وفا صفا یاران به بیا غونډېږي
تش ځایونه به ډکېږي
دا کاروان به روانېږي
هغه ټول به ئې په لیکو کي ودرېږي
چي پیاوړي ئې وزرونه
له شوق او میني ډک ئې تاوده زړونه
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې رحمه ګاونډي

ګاونډیه خو بې رحمه!
له مېړاني او حیاء نه عاري خصمه!
د مظلوم ګاونډ په ضد دي
له ظالم سره لاس مل کړ
د خپل قصر له جګ بام دي
زما جونګړې کي اور بل کړ
د دې اور د لګولو اورلګیت دي
زما ناپوه ماشوم په جیب کي واچولو
د تالان لپاره راغلې
په پلمه د اور وژلو
*****
د دې میني په ویجاړو سردرو کي
سوځېدلي ئې کورونه
نسکور شوي دېواونه
د یوه مات ځلي په څنګ کي
د یوې وچې وني لاندي
ورانې شوې خوني خوا کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو شېبې مې آرام پرېږده
لږ د غور فرصت راکړه
یا د کرکې د اظهار لږ مهلت راکړه
له هغو چې ملك ئې وران کړ
په خپل ولس کې ئې د وینو سیل روان کړ
زما د کلیو ورانولو په بها ئې
زما د ورونو د وژلو په قیمت ئې
د غلیم پوره ارمان کړ

*****

لږ مې پرېږده د ستومانه خلکو خوا کې
چې جګړو ځورولي،
فقر وېرې کړولي
ځوریدلي لږ د زړه خواله ته پرېږده
شړل شوي لږ خپل کور کاله ته پرېږده
له یوه بل نه ئې د درد پوښتو ته پرېږده
د زخمونو د علاج پوښتو ته پرېږده
پلار د زوی د پرهارو لیدو ته پرېږده

*****

هغه وران هیواد چې تل ئې په لمن کې
کله ګورو طوفانونه له ختیځه
کله تېزې سیلۍ راشي له لویدیځه
کله سره سیلونه راشي له ښې لوري
کله واورو د مرګ چیغې له چپ لوري
ټول کورونه راویجاړ کړي
ټولې ځالې کړي راورانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ موقع راکړه چې وو ایو په جګ غږ
لږ خاموش شئ سرو اورونو
لږ آرام شئ طوفانونو
ترڅو جوړې ورانې ځالې
ترڅو جوړ کړو وران کورونه
ترڅو وخنډو له مخ نه تور ګردونه
*****
ما تاوده سلام ته پرېږده
د سر لوړې سروې پښو کې
چې ئې سر وي تل اوچت
مخ ئې تل د آسمان لور ته
چې ئې نشي طوفانونه لړزولی
نه سیلۍ ئې شي د ملا تیر کږولی
نه سیلاب ئې شي له ځایه خوځولی
*****
د پښو ماتو وزر سوو په دې خېل کې
چې ئې ځالې طوفانونو ورانې کړې
سرو اورونو ئې منګولې وریتې کړې
نه د ونو په شاخونو کښېنستی شي
نه وهلی شي وزرونه
نه ګامونه اخیستی شي
پرېږده واورو فریادونه یو د بل
پرېږده پاك کړو سره وزرونه یو د بل
د دعا او اسوېلیو په څپو
اووم اسمان کې د عرش ور وټکوو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په چيغو چيغو وغواړو له خدايه
دا تياره شپه مو سبا کړې
د دښمن دا سرې لښکرې ټول په شا کړې
زمونږ دا مېنه نور خوندي کړې
له سيليو له طوفانه
د دې مېنې زيړی منی
ته تلپاتې پسرلی کړې
او سمسوره پسرلی ئې
ته ايمن کړې له خزانه
*****

زما گيله له غليم نشته
زه که ژاړم نو د دوست نادودي ژاړم
آ چې غوږ کې ورته وويل غليم پټ:
که ښيرازه ژوند دې خوښ وي زما خوا کې
که له غچ نه مې ځان غواړې په پناه کې
د ياغيانو د باغيانو قطار پرېږده
د سرتېرو، بې پرواوو قمار پرېږده
د غليم په وينا بېل شو له دوستانو
په غوږو ئې کړه حلقه د غلامانو
دښمن خپل ټوپك د ده په اوږه کېښود
زمونږ په لوري ئې خپل لاس په ماشه کېښود
دا دئ زمونږ وزرونه پښې ئې کړې راماتې
وروستي نسل ته ئې تور تاريخ کړ پاتې
*****

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**